د افغانستان اسلامي جمهوري دولت
د لوړو زده کړو وزارت
د خصوصي پوهنتونونو رياست

سلام پوهنتون
د شرعياتو او قانون پوهنځی
د تفسير او حديث د ماسترۍ پروګرام

موضوع:

# «په قرآن کريم کې اولوالعزم پيغمبران»

د ماسترۍ تيزس

محصل: اسلام الله (مسلم)
لارښود استاد: دوکتور فصيح الله (عبدالملکي)

کال: ۱۳۹۷ هـ ش

د افغانستان اسلامي جهموري دولت
د لوړو زده کړو وزارت
د خصوصي پوهنتونونو ریاست

سلام پوهنتون
د شرعیاتو او قانون پوهنځی
د تفسیر او حدیث د ماستري پروګرام

موضوع:

# ((په قرآن کریم کې اولوالعزم پیغمبران))

د ماستري تیزس

محصل: اسلام الله (مسلم)

لارښود استاد: دوکتور فصیح الله (عبدالباقي)

کال: ۱۳۹۷ هـ ش

بسم الله الرحمن الرحیم

# سلام پوهنتون

## د شرعیات اوقانون پوهنځی

### د تفسیر او حدیث دیپارتمنټ

### د ماستری بورډ

# تــــصـــديـق نـــــامــــــه

ښاغلی اسلام الله (مسلم) د نصر الله خان زوی د ID: Sh-mst-96-291 نمبر لرونکی، د تفسیر او حدیث د دریمي دورې محصل د ماستری مرحلې رساله چې عنوان یې:په قرآن کریم کې اولوالعزم پیغمبران دی،د پنجشنبې ورځ په ۱۳۹۸/۱۲/۱۵هـ ل نېټه یې په بریالیتوب سره دفاع کړه او د حکم پلاوي د ارزونې پر اساس د 75 (نمرو په عدد) پنځه اویا (نمرو په حروفو) مستحق وګرځید، له الله تعالی څخه ورته د لازیاتې بریا غوښتونکي یو.

حکم پلاوی:

| شماره | داستاذ نوم | عضویت | لاسلیک |
|---|---|---|---|
| ۱ | استاذ شکر الله مخلص | دحکم پلاوي عضو | |
| ۲ | دکتور محمد اسماعیل احدي | د حکم پلاوي عضو | |
| ۳ | دکتور فصیح الله عبد الباقي | لاربنود او دحکم پلاوي مشر | |

دماستری د بورډ آمر.................... علمی مرستیال ....................

## ډالۍ

دغه لیکنه په خورا درنښت سره خپلو والدینوحترمو استادانو او ټولو لوستونکو ته ډالۍ کوم.

**لنډيز**

اولو العزم پيغمبران د پيغمبرانو هغه ډله ده، کوم چې الله جل جلاله دوی د صبر او عزم د خاوندانو په نوم سره ياد کړي دي او د سورت الاحقاف په ۳۵ آيت کې الله جل جلاله فرمايي: «فَاصْبِرْ كَمَا صَبَرَ أُوْلُوا الْعَزْمِ مِنَ الرُّسُلِ وَلاَ تَسْتَعْجِل لَّهُمْ كَأَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَ مَا يُوعَدُونَ لَمْ يَلْبَثُوا إِلاَّ سَاعَةً مِّن نَّهَارٍ بَلاَغٌ فَهَلْ يُهْلَكُ إِلاَّ الْقَوْمُ الْفَاسِقُونَ»

ژباړه: نو (اې پيغمبره! صلی الله عليه وسلم) صبر وکړه لکه څرنګه چې د ټينګ عزم او هوډ خاوندو پيغمبرانو صبر کړی دی. او د دوی په باب (د عذاب غوښتلو) بېړه مه کوه، په کومه ورځ چې دوی هغه څه ويني چې ځينې ويرول کېږي، نو داسې به ورته ښکاره شي لکه چې په دنيا کې يې د ورځې له يوه ساعت څخه زياته استوګنه نه وې کړې. دا (قرآن) پند رسوونه ده نو آيا له نافرمانو کسانو څخه پرته بل څوک هلاک شي؟

د پورتني آيت تشريح د سورت الاحزاب په اووم آيات سره ښه روښانه کېږي لکه چې الله جل جلاله فرمايي: «وَإِذْ أَخَذْنَا مِنَ النَّبِيِّينَ مِيثَاقَهُمْ وَمِنكَ وَمِن نُّوحٍ وَإِبْرَاهِيمَ وَمُوسَى وَعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ وَأَخَذْنَا مِنْهُم مِّيثَاقًا غَلِيظًا»

د څېړنې له پای ته رسيدو وروسته په يقيني توګه روښانه شوه چې دغه پيغمبران پنځه نفره دي چې عبارت دي له حضرت نوح، حضرت ابراهيم، حضرت موسی، حضرت عيسی او حضرت محمد عليهم السلام څخه کوم چې الله جل جلاله د سورت شوری په ۱۳ آيت کې هم ذکر کړي دي: « شَرَعَ لَكُم مِّنَ الدِّينِ مَا وَصَّى بِهِ نُوحًا وَالَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ وَمَا وَصَّيْنَا بِهِ إِبْرَاهِيمَ وَمُوسَى وَعِيسَى أَنْ أَقِيمُوا الدِّينَ وَلاَ تَتَفَرَّقُوا فِيهِ»

لومړی: حضرت نوح عليه السلام: د اوږد عمر لرونکی پيغمبر دی، او تر ټولو زيات وخت يې خپل ګمراه قوم ته چې پنځوس کم زر کاله يې تبليغ وکړ او د اتياوو په شاوخوا کې نفرو پرې ايمان راوړ[1]، او قوم يې له زياتې سرکښۍ وروسته په الهي طوفان سره هلاک شو. د نوح عليه السلام نوم د قرآن کريم په مختلفو سورتونو او آيتونو کې راغلی دی چې په راتلونکو صفحو کې به روښانه شي.

دوهم: حضرت ابراهيم عليه السلام: له نوح عليه السلام وروسته لوی او د قوي عزم څښتن پيغمبر و چې په خليل الله[2] سره هم يادېږي، خپل بت پرست قوم ته چې د نمرود او د بتانو او نورو الهه و عبادت يې کاوو راولېږل شو، خو قوم يې په لوی اور کې واچاوو، ابراهيم عليه السلام د درې ګونو دينونو د اتباعو لپاره لوړ منزلت لري، دريو واړو دينونو يهوديت، مسيحيت او اسلام ته محترم دی، تل يې نوم په اکرام، عزت او دعا

---

۱ تفسير القرطبي ج ۹، ص ۳۵: په کښتۍ کې د نجات موندونکو شمېر ۷۹ نفر وو، چې د نوح عليه السلام په ګډون ۸۰ نفره کېږي او لکه څرنګه چې اتيا (۸۰) عدد ته په عربي کې ثمانين ويل کېږي نو دوی چې د موصل په کوم ځای کې کښته شوی وو هلته يې د ثمانين په نوم کلی اباد کړ.

۲ سورت النساء: ۱۲۵ ايت: وَمَنْ أَحْسَنُ دِينًا مِّمَّنْ أَسْلَمَ وَجْهَهُ لله وَهُوَ مُحْسِنٌ واتَّبَعَ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا وَاتَّخَذَ اللّهُ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلاً.

سره یادیږي، د یوه خدای عبادت او یووالي ته په دعوت کې یې ډیر جهادونه کړي. د حضرت ابراهیم علیه السلام نوم د قرآن کریم په مختلفو سورتونو او آیتونو کې راغلی او هم یو پوره سورت دده په نوم سره نازل شو دی.

دریم: حضرت موسی علیه السلام: هغه د ځمکې د مخ تر ټولو ظالم انسان فرعون ته رالیږل شوی وو، الله جل جلاله په داسې حال کې موسی علیه السلام پیداکړ، چې په دنیا کې ډیر لوی سرکښ؛ فرعون په واک وو چې په طغیان او تیري سره خورا مشهور وو تر داسې بریده چې د خپل وزیر یې امر تر څو یوه دنګه ماڼۍ جوړه کړي او دی (فرعون) پرې د موسی علیه السلام خدای ووینی[1]. د خپل قوم د هدآیت په موخه یې لومړی لس صحیفي[2] او بیا وروسته لومړی اسماني کتاب تورات ورکړ.د حضرت موسی علیه السلام یادونه د قرآن کریم په مختلفو سورتونو او آیتونو کې راغلی خو کوم خاص سورت د موسی علیه السلام په نوم نه دی نازل شوی.

څلورم: حضرت عیسی – علیه السلام : لوی رب په خپل کامل قدرت بې پلاره د بې بې مریمي له بطنه پیدا کړ، په کم عمر ۳۰ کلنۍ کې نبوت ته ورسیدو، خو خپل قوم یې ددې لپاره چې خپل پیغمبر (عیسی علیه السلام) ووژني خپل ملګری وواژه او عیسی علیه السلام لوی رب جل جلاله په خپل فضل ترې وساته او اسمان ته یې پورته کړ. په قرآن کریم کې د حضرت عیسي علیه السلام «عیسی» لفظ د قرآن کریم په مختلفو سورتونو او آیتونو کې ذکر شوی دی او د عیسي علیه السلام نوم د المسیح او ابن مریم په نوم سره هم د قرآن کریم په ځینو سورتونو کې راغلی دی.

وروستی اولو العزم پیغمبر حضرت محمد – صلی الله علیه وسلم دی، هغه یتیم چې په صادق او امین مشهور وو، خلکو به خپل امانتونه ورسره ایښودل خو کله چې همدغه قوم ته د هدایت بلنه ورکړه هغو مختلف نومونه پرې کېښودل؛ ساحر، دروغجن، لیونی او نور، بیا ترې مهاجر شو خپلو انصارو وروڼو ته ورغی له خپل قوم سره یې لویې جګړې وکړې تر دې چې خپل مبارک غاښونه یې شهیدان شول، د ۲۳ کلني نبوت په دوران کې یې د اسلام مبارک دین د نړۍ په مختلفو قومونو ومانه او هغوی یې د اسلام دایرې ته داخل کړل. د حضرت محمد صلی الله علیه وسلم یادونه که څه هم په قرآن کریم په یوازې ځان (محمد) څلور ځایه او د (احمد) په نوم یو ځای یاد شوی دی.

---

۱ سورت القصص: ۳۸ ایت: وَقَالَ فِرْعَوْنُ يَا أَيُّهَا الْمَلأُ مَا عَلِمْتُ لَكُم مِّنْ إِلَهٍ غَيْرِي فَأَوْقِدْ لِي يَا هَامَانُ عَلَى الطِّينِ فَاجْعَل لِّي صَرْحًا لَّعَلِّي أَطَّلِعُ إِلَى إِلَهِ مُوسَى وَإِنِّي لأَظُنُّهُ مِنَ الْكَاذِبِينَ

۲ الدر المنثور: ج ۸، ص ۴۸۹

**مننلیک**

له هر څه وړاندې د خپل رب جل جلاله شکر ادا کوم چې ماته یې ددې رسالې د لیکلو توفیق را په برخه کړ.

په دوم قدم کې د سلام پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي محترم رئیس صاحب، د تفسیر او حدیث څانګې له آمر او قدرمنو استادانو او د ماسټري بورد محترمو غړیو څخه، د زړه له تله منــنه کوم چې د خپل خواږه ژوند یوه لویه برخه یې د شرعـــي علومو د خدمت او د ګران هیواد د راتلونکي لپاره د لوړو کدرونو د روزلو لپاره وقف کړېده، په ځانګړې توګه د خپل لارښود څخه د زړه له تله مننداوی یم، چې له خپلو مصروفیتونو او بوختیاوو سره سره یې، زما د رسالې په لیکلو کې خپلې لارښوونې او بې سارې همکارۍ نه دي دریغ کړې، چې د همدې همکاریو له برکته یې زما د تحصیلي دورې رساله بشپړه شوه، د لوی الله ﷻ له دربار څخه یې د تل لپاره موفق او سر لوړی غواړم.

په درنښت

# د مطالبو لړلیک

## سریزه


لومړی مطلب: د څیړنې موخې ........ ۲
دوهم مطلب: د څیړنې ضرورت او اهمیت ........ ۲
درېیم مطلب: د څیړنې شالید ........ ۲
څلورم مطلب: د څیړنې پوښتنې ........ ۳
پنځم مطلب: د څیړنې میتود ........ ۳


## لومړی فصل


**د اولوالعزم او پیغمبر کلمو مفهوم ........ ۵**

تمهید ........ ۵
لومړی مبحث: د اولوالعزم مفهوم ........ ٦
دوهم مبحث: د پیغمبر مفهوم ........ ۹
درېیم مبحث: د رسول او نبي تر منځ فرق ........ ۱۱


## دوهم فصل


**حضرت نوح علیه السلام ........ ۱٦**

تمهید ........ ۱٦
لومړی مبحث: تفصیلي پېژندنه ........ ۱۷
دوهم مبحث: په پیغمبري مبعوث کېدل او د دعوت پیل ........ ۲۱
درېیم مبحث: له قوم سره مناقشې ........ ۲۵
څلورم مبحث: کتاب او معجزې ........ ۳۱
پنځم مبحث: وفات ........ ۳۵


## درېیم فصل


**حضرت ابراهیم علیه السلام ........ ۳٦**

تمهید ........ ۳٦
لومړی مبحث: تفصیلي پېژندنه ........ ۳۷
دوهم مبحث: په پیغمبري مبعوث کېدل او د دعوت پیل ........ ٤۳
درېیم مبحث: له قوم سره مناقشې ........ ٤٦
څلورم مبحث: کتاب او معجزې ........ ٥۱
پنځم مبحث: وفات ........ ٥٤


## څلورم فصل


**حضرت موسیٰ علیه السلام ........ ٥٦**

تمهید ........ ٥٦
لومړی مبحث: تفصیلي پېژندنه ........ ٥٦
دوهم مبحث: په پیغمبري مبعوث کېدل او د دعوت پیل ........ ٦۷
درېیم مبحث: له قوم سره مناقشې ........ ۷۰

ځلورم مبحث: کتاب او معجزې ..... ۷۷
لومړی مطلب: تورات ..... ۷۷
پنځم مبحث: وفات ..... ۸۲

## پنځم فصل

**حضرت عیسی علیه السلام ..... ۸۳**
تمهید ..... ۸۳
لومړی مبحث: تفصیلي پېژندنه ..... ۸۳
دوهم مبحث: په پیغمبري مبعوث کېدل او د دعوت پیل ..... ۸۹
دریم مبحث: له قوم سره مناقشې ..... ۹۱
ځلورم مبحث: کتاب او معجزې ..... ۹۲
پنځم مبحث: وفات؛ د ژوند پای ..... ۱۰۱

## شپږم فصل

**حضرت محمد صلي علیه وسلم ..... ۱۰۵**
خخ ..... ۱۰۵
لومړی مبحث: تفصیلي پېژندنه ..... ۱۰۵
دوهم مبحث: په پیغمبري مبعوث کېدل او د دعوت پیل ..... ۱۱۷
دریم مبحث: له قوم سره مناقشې ..... ۱۲۰
ځلورم مبحث: کتاب او معجزې ..... ۱۲۶
پنځم مبحث: وفات ..... ۱۳٤
**نتیجه ګیري ..... ۱۳۹**
**وړاندیزونه ..... ۱٤۲**

## فهارست

الف: د قرآني ایتونو فهرست ..... ۱٤۳
ب: د نبوي حدیثونو فهرست ..... ۱٤٦
ج: د اعلامو فهرست ..... ۱٤۹
د. د کتابونو فهرست ..... ۱۵۰
**ABSTRACT ..... ۱۵۳**

## سريزه

په قرآن کريم کې الله جل جلاله ځينې پيغمبران د اولوالعزم په توگه معرفي کړي او قرآن د نورو ځانگړتياوو او صفاتو له مخې د هغوی شخصيت ته د نورو په پرتله ډير درناوی کړی.

په قرآن کريم کې د ذکر شويو پيغمبرانو له جملې پنځه تنه د اولو العزم پيغبرانو په توگه معرفي شوي لکه څرنگه چې الله جل جلاله پيغمبر صلی الله عليه وسلم ته فرمايي: ( فَاصْبِرْ كَما صَبَرَ أُولُو الْعَزْمِ مِنَ الرُّسُلِ وَ لا تَسْتَعْجِلْ لَهُمْ)[1]، نو (اې پيغمبره صلی الله عليه وسلم) صبر وکړه لکه څرنگه چې اولوالعزم پيغمبرانو صبر کړی دی او د دوی (دښمنانو) په باب د (عذاب غوښتلو) بيړه مه کوه.

په پورتني آيت کې الله جل جلاله پيغمبر صلي الله عليه وسلم ته فرمايي چې د اولوالعزم پيغمبرانو په څير صبر وکړه، چې د هغوی له جملې حضرت نوح عليه السلام د خپل قوم د هدايت په موخه نهه نيم سوه کلونه صبر وکړ، ابراهيم عليه السلام د قوم د هدايت په موخه د نمرود په بل شوي اور کې صبر وکړ، موسی عليه السلام او حضرت عيسی عليه السلام هم همداسې په سختيو صبر کړی وو.

د اولو العزم پيغمبرانو شمېر[2] پنځه نفر ښودل شوی دی او هغه عبارت دي له: حضرت نوح عليه السلام، حضرت ابراهيم عليه السلام، حضرت موسی عليه السلام، حضرت عيسی عليه السلام او حضرت محمد صلی الله عليه وسلم.

دوی ځکه د اولوالعزم په نوم ونومول شول چې دوی د نورو پيغمبرانو په نسبت قوي اراده، کلک هوډ او خپلواک شريعت درلود. په دې توگه چې هر هغه پيغمبر چې د نوح عليه السلام وروسته راغلی د هغه د شريعت او د هغه د کتاب تابع و د ابراهيم عليه السلام تر زمانې پورې. بيا همداسې د ابراهيم عليه السلام وروسته ټول پيغمبران د هغه د شريعت تابع و لکه حضرت اسحاق عليه السلام، يعقوب عليه السلام، يوسف عليه السلام او نور. بيا چې د موسی عليه السلام وخت راغی نو د موسی عليه السلام معاصر ټول پيغمبران او د هغه وروسته د عيسی عليه السلام تر بعثت پورې د هغه د قانون پيروي کوله. د عيسی عليه السلام پيغمبران او له هغه وروسته زموږ د پيغمبر حضرت محمد صلی الله عليه وسلم تر زمانې پورې د عيسی عليه السلام او د هغه د کتاب او شريعت تابع وو. دا پنځه پيغمبران اولوالعزم پيغمبران دي او د محمد صلی الله عليه وسلم دين به تر قيامت پورې له منځه ولاړ نه شي.

[1] سورت احقاف: ۳۵

[2] دا موضوع په لومړی څپرکي کې روښانه شوې

**لومړی مطلب: د څېړنې موخې**

د دې څېړنې عمده موخې عبارت دي له:

په قرآن کریم کې د اولوالعزم پیغمبرانو یادونه

د اولوالعزم پیغمبرانو ښه پیژندنه

د اولوالعزم پیغمبرانو د کتابونو، معجزو او دینونو پیژندنه

**دوهم مطلب: د څېړنې ضرورت او اهمیت**

په قرآن کریم کې د اولو العزم پیغمبرانو د حالاتو یادونه او د هغوی له حالاتو د وروستیو قومونو خبرول یوه غوره موضوع ده، چې له یوه ښه اهمیت څخه برخمنه ده او ددې تر څنګ پوهای ورباندې ضروري هم ده.

د نبوت بحث او د پیغمبرانو ماموریت د دیني مسائلو په ډګر کې ځانګړی ځای لري. دیني عالمانو، پوهانو او عارفانو هم په دې برخه کې ارزښتناکې څېړنې تر سره کړېدي. او دا یې روښانه کړې ده چې پیغمبرانو د خپل رسالت په دوران کې څومره ستونزې او مشکلات زغملي او څومره صبر یې کړی دی.

په قرآن کریم کې د الله جل جلاله د ځینو پیغمبرانو ډله د اولوالعزم په توګه معرفي شوې، او قرآن کریم د نورو ځانګړتیاو او صفاتو له مخې د هغوی شخصیت ته د نورو په پرتله درناوی کړی.

اولو العزم پیغمبران چې له کومې درجې څخه برخمن وو، نور پیغمبران هغې مرتبې ته نه وو رسیدلي لکه څرنګه چې الله جل جلاله فرمايي: (وَ لَقَدْ عَهِدْنا إِلى آدَمَ مِنْ قَبْلُ فَنَسِيَ وَ لَمْ نَجِدْ لَهُ عَزْماً )[1]:

ژباړه: موږ له دې وړاندې آدم علیه السلام ته یو حکم کړی و، خو هغه هېر کړ او موږ په هغه کې تصمیم و نه موند.

نو په آخر کې هیله ده چې موږ نړۍ ته د الهي انبیاوو د توحید پیغام په رسولو او خلکو ته د خوښۍ لپاره یوه کوچنۍ مرسته کړې وي.

**دریم مطلب: د څېړنې شالید**

ددې لپاره چې څېړنه په ښه توګه سرته ورسیږي او پایلې یې دقیقې او د منلو وړ وي باید په څېړنه کې د هغو کتابونو یادونه وشي کوم چې دې ته په ورته موضوع باندې لیکل شوي وي، چې د هغو له جملې څخه د شیخ محمد علي الصابوني کتاب (تاریخ النبوة و الانبیاء) چې په پښتو ژبه د مولوي صاحب عبدالهادي حماد لخوا ژباړل شوی د (نبوت او د انبیاوو تاریخ) په نوم یو ښه کتاب دی او په دری ژبه د محمد ابرار فتحي

---

١ سورت طه: ١١٥

غزنوي لخوا ژباړل شوی. او همدا شان په پښتو ژبه ليکل شوي (قصص الانبياء) چې د مختلفو کسانو لخوا ژباړل شوي چې موږ په دې څېړنه کې د ابن کثير له قصص الانبياء څخه استفاده کړې کوم چې محمد احمد حقاني په (۱۴۲۸ هـ ق) کې ترجمه کړی او د تفاسيرو له جملې په پښتو ژبه د عزيز التفاسير تفسير چې اړوند زيات قصايص لري او داسې نور. نو په همدې اساس ما هم په دغه څيړنه کې کوشش وکړ چې د ورته موضوع په هکله نور ليکل شوي کتابونه پيدا کړم او په خپله څيړنه کې ور څخه ګټه واخلم.
لکه څرنګه چې په همدې عنوان او دې ته ورته عنوان سره په بيلابيلو ژبو مختلف کتابونو شتون لري، چې په ځينو کې په خورا تشريحي توګه سره د پيغمبران تاريخ بيان کړی او د پيغمبرانو د ژوند بيلابيل اړخونه يې بيان کړي دي، زموږ موضوع له هغوی سره په دې ډول توپير لري چې موږ د پيغمبرانو له جملې يوازې د پنځو (اولوالعزم) پيغمبرانو بيان د قرآن کريم په رڼا کې تر سره کړې چې د نورو کتابونو له محتوی سره توپير لري.

## څلورم مطلب: د څيړنې پوښتنې

ددې څيړنې اصلي پوښتنه عبارت ده له:
قرآن کريم اولوالعزم پيغمبران څنګه معرفي کوي؟
د څيړنې فرعي پوښتنې عبارت دي له:
په قرآن کريم کې د ذکر شويو پيغمبرانو له جملې يې کوم اولوالعزم پيغمبران دي ؟
په قرآن کريم د اولوالعزم پيغمبرانو د معجزو او کتابونو يادونه شتون لري؟

## پنځم مطلب: د څيړنې ميتود

په دغه څيړنه کې له توصيفي ميتود څخه کار اخيستل شوی.
او د معلوماتو د راټولولو کړنلاره يې کتابخانه اي کړنلاره ده؛ په دې توګه چې ددې څېړنې په تر سره کولو کې له شاوخوا ۴۰ مختلفو کتابونو څخه استفاده شوې او د هغوی په معلوماتو کې بحث او مناقشه شوې او يوې دقيقې نتيجې ته په کې رسيدلې يو.
يوه يادونه بله هم لازمه بولم هغه دا چې د آيتونو ژباړه مې د قرآن کريم له MQB آپليکيشن څخه راخېستې چې تر ټولو ژباړو يې غوره ژباړه کړې (ځکه چې مفهوم ترې اسانه اخېستل کېږي، د نورو ژباړو په څېر قوسونه او بندونه نه لري او هم يې په معياري ژبه ژباړه کړې د کندهارۍ او پېښورۍ لهجې خيال نه دی په کې ساتل شوي) په دې آپليکشن کې چې په څلورو ژبو (پښتو، دري، اردو او انګليسي) يې د قران کريم روانه ژباړه کړې د پښتو ژباړه يې د هېواد لوی او نامتو عالم مرحوم مولوي صاحب قيام الدين کشاف کړې،

دا چې په ساپټویر کې د صفحو ذکر نه دی شوی نو ځکه مو د ژباړو له حوالو ډډه کړې. نو هر پاراګراف په وروستۍ کرښه کې فوټنوټ لري چې په لمن کې یې حواله ذکر شوې.

# لومړی فصل

## د اولوالعزم او پیغمبر کلمو مفهوم

**تمهید**

« فَاصْبِرْ كَمَا صَبَرَ أُوْلُوا الْعَزْمِ مِنَ الرُّسُلِ وَلاَ تَسْتَعْجِل لَّهُمْ كَأَنَّهُمْ يَوْمَ يَرَوْنَ مَا يُوعَدُونَ لَمْ يَلْبَثُوا إِلاَّ سَاعَةً مِّن نَّهَارٍ بَلاَغٌ فَهَلْ يُهْلَكُ إِلاَّ الْقَوْمُ الْفَاسِقُونَ »[1]

ژباړه: نو (اې پیغمبره صلی الله علیه وسلم) صبر وکړه لکه څرنګه چې اولوالعزم پیغمبرانو صبر کړی دی او د دوی (دښمنانو) په باب د (عذاب غوښتلو) بېړه مه کوه. په کومه ورځ چې دوی هغه څه ویني چې ځینې وېرول کېږي، نو داسې به ورته ښکاره شي لکه په دنیا کې چې یې د ورځې له یوه ساعت څخه زیاته استوګنه نه وي کړې، دا (قرآن) پند رسوونه ده، نو آیا له نافرمانو کسانو څخه پرته به بل څوک هلاک شي؟

د دې آیت د تفسیر په برخه کې علماء کرام په دوو برخو ویشل شوي دي[1].

الف: ځینې علماء وایي چې ټول پیغمبران د عزم او او ثبات خاوندان دي، نو د «من» توری په ذکر شوې جمله کې د بیان د پاره دي، یعنې اې پیغمبره! نو ته د کفارو په اذیت باندې داسې صبر او استقامت وکړه لکه څنګه چې پرې د عزم او ثبات خاوندانو صبر او استقامت خپل کړی و، چې دغه ډله د ټولو پیغمبرانو څخه عبارت دی.

ب: مشهوره داده چې اولو العزم پیغمبران پنځه نفره دي چې په (الاحزاب سورت: ۷ آیت) کې ورته اشاره شوې ده نو په دې تقدیر د «من» ذکر شوی توری د بعضیت معنی ورکوي یعنې نو ته د پیغمبرانو د جملې څخه د هغه ټولګي غوندې صبر وکړه کوم چې د ډېر ثبات او حوصلې او هم د عالي همت او عالي شان خاوندان دي چې ته هم په همدغه ډله کې شامل یې.[2]

د « وَلاَ تَسْتَعْجِل لَّهُمْ» له جملې څخه معلومېږي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم د کفارو په دنیوي عذاب باندې عجله کوله، حال دا چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم د یوه پیغمبر څخه په حکآیت کې فرمایلي دي: چې یو پیغمبر خپل قوم وهلی او زخمي کړی وو نو د خپل مخ څخه یې وینې پاکولې او په خوله یې دا سوال جاري وو. چې «رَبِّ اغْفِرْ لِقَوْمِىْ فَاِنَّهُمْ لَا يَعْلَمُوْن»[3] یعنې اې ربه! ته زما قوم ته مغفرت وکړې (او دنیوي عذابورباندې په عجله سره مه نازلوې) ځکه چې یقیناً دوی نه پوهېږي. نو دلته ویل کېږي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم د اولو العزمو پیغمبرانو یوه خاصیت ته اشاره کړې ده چې پخپله هم په همدغې ډله کې شامل و؟

---

۱ سورت الاحقاف: ۳۵ ایت

په ذکر شوې جمله کې کفار په غوږ وهل شوي دي چې که بالفرض نبي کریم – صلی الله علیه وسلم د عذاب په نزول سره عجله وکړي نو ډېر ژر به ورباندې نازل کړی شي، خو د الله جل جلاله د پلوه ورته توصیه کېږي چې په عذاب باندې عجله نه کولو ته ادامه ورکړه تر څو د کفارو د ایمان راوړلو فرصت ښه اوږد شي. همدغه د مهلت ورکولو او ایمان راوړلو د د فرصت ورکولو مضمون د قرآن کریم په زیاتو ځایونو کې راغلی لکه د سورت الطارق ۱۷ آیت او داسې نور.[٤]

ددې لپاره چې د موضوع اصلي متن ته داخل شو ښه به دا وي تر څو موضوع په دریو مبحثونو چې لومړی مبحث یې اولو العزم پېژندنې، دوهم مبحث یې پیغمبر پېژندنې او وروستی یا درېیم مبحث یې د رسول او نبي تر منځ توپیر ته ځانګړی کړو د لا ښې روښانتیا لپاره لومړی او دوهم مبحثونه په دوو دوو مطلبونو ویشل شوي دي.

**لومړی مبحث: د اولوالعزم مفهوم**

د اولوالعزم کلمه په قرآن کریم کې یو ځل ځل د سوره احقاف په ۳۵ آیت کې ذکر شوې ده، خدای جل جلاله فرمایي: فَاصْبِرْ كَمَا صَبَرَ أُوْلُوا الْعَزْمِ» یعنې "د اولوالعزم رسولانو په څېر صبر وکړی او په قرآن کریم کې الله جل جلاله د پیغمبرانو په واسطه د دین تشریع کولو ته اشاره کړې، او د څلورو پیغمبرانو نومونه ذکر کوي پرته د اسلام د پیغمبر څخه چې آخری الهی دین د هغه په واسطه راوړل شوی او په دې آیت کې یې یادونه شوې: « شَرَعَ لَكُم مِّنَ الدِّينِ مَا وَصَّى بِهِ نُوحًا وَالَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ وَمَا وَصَّيْنَا بِهِ إِبْرَاهِيمَ وَمُوسَى وَعِيسَى أَنْ أَقِيمُوا الدِّينَ وَلاَ تَتَفَرَّقُوا فِيهِ»[٥]

ژباړه: (الله) ستاسې لپاره د دین همهغه کړنلاره ټاکلې ده، چې د هغې حکم یې نوح علیه السلام ته کړی و؛ او چې اوس [اې محمده!] تا ته مو د وحیې په وسیله درلېږلی دی او د هغه حکم مو ابراهیم، موسی او عیسیٰ علیهم السلام ته کړی دی، په دې سپارښت سره چې دغه دین برقرار کړئ او ده کې تیت پرک کېږئ مه.

یوازې پنځه پیغمبران ورته ځانګړتیاوې لري؛ یعنې دوی هم دعوت، شریعت، او الهي کتاب ولري. چې هغه پنځه تنه، حضرت نوح علیه السلام ، حضرت ابراهیم علیه السلام ، حضرت موسی علیه السلام ، حضرت عیسی علیه السلام او حضرت محمد صلی الله علیه و سلم دي. چې له جملې یې د حضرت نوح علیه السلام

١ عزیز التفاسیر، ج ١١، ص ٣۴٠، مولف: سلطان عزیز. لومړی چاپ، پېښور: رشیدیه کتابخانه. چاپ کال، ١٣٧٧

٢ پورتنی مرجع، ٣۴٠ مخ

٣ صحيح البخاري، محمد بن إسماعيل أبو عبدالله الجعفي، (سنة النشر: ١۴٢٢هـ ق) الجامع المسند الصحيح المختصر من أمور رسول الله صلى الله عليه وسلم وسننه وأيامه صحيح البخاري، المحقق: محمد زهير بن ناصر الناصر، الناشر: دار طوق النجاة.، ج ٢، ص ١٠٢۴؛

٤ عزیز التفاسیر، ج ١١، ص ٣۴١

٥ سورت شوریٰ: ١٣ ایت

او حضرت ابراهیم علیه السلام کتابونه د صُحُف په نوم یاد شوي او تورات د حضرت موسی علیه السلام کتاب، انجیل د عیسی علیه السلام کتاب او قرآن کریم د اسلام د پیغمبر صلی الله علیه و سلم کتاب دی.[1]

د عزیز التفاسیر لیکوال محترم مولوي صاحب سلطان عزیز ددې آیت په تشریح کې لیکي چې (مونږ د دغو ټولو څخه د تشریع د ابلاغ په هکله ډېر غلیظ او پیړ عهد اخېستی و، نو له همدې کبله نه پخوانیو خلکو د تشریع حق درلود (له پیغمبرانو پرته) او نه ستا په زمانه کې(له تا پرته) څوک د تشریع حق لري)[2]

**لومړی مطلب: د اولوالعزم مفهوم**

د اولو العزم کلمه چې په قران کریم یو ځل یاده شوې اصلاً مرکبه کلمه ده چې له دوو برخو اولو او العزم څخه جوړه شوې ده. چې دغه دواړې خپلواکي کلمې دي یعنې هره یوه په یوازې ځان هم معنی لرلای شي او که سره یو ځای شي بیله معنی ترې جوړېږي، په لغوي توګه په لاندې ډول تشریح شوې:

**اولو**: جمع کلمه ده او د «ذو» صاحب چې په پښتو کې ورته لرونکی وایي په معنیٰ، چې مونث یې «اولات» او مفرد یې ذات دی. لکه په دې جمله کې « جاءَ ني اولو العلم و اولات الفضل» یعنې ما ته علم لرونکي نارینه او فاضلې زنانه راغلې[3].

**عزم**: عربي کلمه او مصدر دی، په دې شکلونو لیدل کېږي؛ عَزما، عُزما، عزمه، عزیمه او داسې نور لاندې ماناګانې لري[4]:

- تصمیم، او پریکړه
- اراده او نیت
- د هغه څه نیت ته وایي چې باید تر سره شي.
- ثبات او پایداري په هغه څه کې چې اراده یې شوې وي.
- وفا کوونکي په وعده.

لکه په دې جملو کې « مَا لَهُ عزمة» یانې په هغه څه کې چې اراده یې کړې وې ثبات نه لري)

څرنګه چې د اولو او العزم دواړو کلمو معنی ګانې په ښه توګه روښانه شوې اوس کولای شو د مرکبې کلمې اولوالعزم معنی په اسانه توګه په پښتو ژبه ومومو، عزم لرونکي خلک، با عزمه خلک.

اولو العزم: عزم لرونکي خلک، د عزم او ارادې لرونکي[5]

---

۱ قصص الانبیاء، فرید احمد،(۱۴۴۰)، کابل، جدید مکتبة رشیدیه، ص ۱۷

۲ عزیز التفاسیر، ج ۱۰، ص ١٦

۳ تهذیب اللغة الازهري ۱۹۰/۱

٤ لسان العرب، لابن منظور ۳۹۹/۱۲

۵ معین، محمد، فرهنگ فارسی، چاپ هفتم، تهران: سرایش،۱۳۸۲هـ ش. ص ۲۱۱

د عزيز التفاسير ليكوال ددې آيت شريف په تفسير کې مشوره او عزم دواړه بيان کړي او د عزم په اړوند يې يوه عجيبه نقطې ته پام کړی، هغه دا چې عزم د يوه نفر د کار پريکړه او تصميم دی او له مشورې سره اړه نه لري (( زموږ نظر دادی چې په نبي کريم – صلی الله عليه وسلم – باندې د مشورې قبول ضرور نه وه، او دا ځکه چې که بالفرض د مشورې قبول ورباندې ضرور وای نو د مشاورينو نظر به په عزم کې دخل پيدا کړی وي، نو په کار وه چې د «و شاورهم فی الامر» په نتيجه کې داسې عبارت نازل شوی وای چې «فاذا عزمتم فتوکلوا علی الله» نو کله چې تاسو عزم وکړ نو په الله – جل جلاله باندې توکل وکړئ، حال دا چې الله – جل جلاله د عزم په مرحله کې مشاورين نه دي شريک کړي او دغه مرحله يې يوازې په نبي کريم – صلی الله عليه وسلم پورې مختصه کړې چې « فَإِذَا عَزَمْتَ فَتَوَكَّلْ عَلَى اللَّهِ» يعنې نو کله چې يوازې ته (اې پيغمبره!) عزم وکړې نو په الله – جل جلاله باندې توکل وکړه.))[1]

همدا شان د مصر د الازهر پوهنتون د اسلامياتو څانګې استاد دوکتور محمد قادوس د لازهر په سايټ کې د انبياو د پېژندنې په سلسله کې داسې ليکلي:[2]

(( من هم اولو العزمِ من الرسل؟ و ما هو سبب التسميه؟

اولو العزم هم اهل الصبر و قوة تحمل المشاق من المرسلين الذين ذكرهم الله في القران كريم فی قوله تعالی [فَاصْبِرْ كَمَا صَبَرَ أُولُو الْعَزْمِ مِنَ الرُّسُلِ] و قد قال العلماء فی تحديد اولی العزم من الرُّسل بانهم: نوح، ابراهيم، موسی، عيسی، و محمد عليهم السلام. فهم خمسة رسل كرام تحملوا اشد انواع الئذی من اقوامهم، ولكنهم صبروآ اجمل الصبر و اكمله، فكانو اهلاً للعزم و الصبر والجد...))

ژباړه: اولو العزم رسولان کوم دي، او د نوم اېښودلو سبب يې څه دی؟ اولو العزم د صبر اهل او ستونزو په تحمل کې د قوت لرونکو رسولانو څخه دي او هغه کسان دي چې الله جل جلاله په قران کريم کې په دې توګه ذکر کړي [فَاصْبِرْ كَمَا صَبَرَ أُولُو الْعَزْمِ مِنَ الرُّسُلِ] او په تحقيق سره د علماوو له تحقيق څخه جوتېږي چې دوی پنځه نفره دي او عبارت دي له: نوح، ابراهيم، موسی، عيسی او محمد عليهم السلام، دوی له خپلو قومونو څخه سخت مشکلاتو او ستونزې تحمل کړې خو د ستونزو په مقابل کې دوی پوره او جميل صبر وکړ، دوی د عزم، صبر او نيکو اهل وو.

[1] عزيز التفاسير، ج ۲، ص ۵۲۸- ۵۲۹

[2] قادوس، محمد (۲۰۱۷)، قصص الانبياء، پښتو ژباړه، عبدالکريم راحل. ۱۴ ديسامبر/ د الازهر عمومي سايټ ص ۱۱

**دوهم مبحث: د پیغمبر مفهوم**

لوی او متعال رب جل جلاله د خپلو مخلوقاتو له جملې انسان غوره او اشرف المخلوقات کړ، بیا یې د همدغو انسانانو له جملې ځینې تر نورو غوره او د نورو د هدایت مرجع وګرځول، او هغوی یې د کمال په صفتونو مشرف کړي وي او د لارښود او رهبر په توګه یې بللي:[1]

الله جل جلاله فرمایي: ((وَجَعَلْنَاهُمْ أَئِمَّةً يَهْدُونَ بِأَمْرِنَا وَأَوْحَيْنَا إِلَيْهِمْ فِعْلَ الْخَيْرَاتِ وَإِقَامَ الصلاَةِ وَإِيتَاء الزَّكَاةِ وَكَانُوا لَنَا عَابِدِينَ))[2]

ژباړه: او موږ هغوی لارښوونکي وګرځول، چې زموږ په امر سره یې لارښوونه کوله؛ او موږ ورته د وحیې په وسیله د غوره چارو، لمانځه قایمولو او زکات ورکولو هدآیت ورکړ او هغوی زموږ عبادت کوونکی ول.

دغه ځانګړې شوې او غوره شوې ډله ((انبیاء او پیغمبران)) هغه کسان دي چې الله – جل جلاله – هغوی په نبوت مشرف کړي او هغوی ته یې حکمت او د عقل قوت ورکړی او هغوی یې غوره کړي تر څو د بنده ګانو او لوی رب – جل جلاله تر منځ واسطه شي او الهي اوامر بندګانو ته تبلیغ کړي... او بندګان د دوی په واسطه له خپل قهر او غضب څخه وبیروي او بندګان د خیر او نیکبختي په لور رهنمایي کړي، دغه ډله د اشرف المخلوقاتو هغه غوره کسان دی، له دوی (پیغمبرانو) پرته هیڅوک په هیڅ ډول هڅه، قوت او .... سره دغه مقام ته نه شي رسیدلی، دغه مقام په هڅو، کوښښونو، عبادت، عزم او قدرت سره نه تر لاسه کېږي، بلکې دغه مقام یوازې په الهي انتخاب او غوره کولو پورې اړه لري.[3]

همداشان د پیغمبرانو له ځانګړو او نورو انسانانو سره د هغوی د توپیر لپاره باید وویل شي چې د وحیې راتلل او عصمت د پیغمبرانو ځانګړتیاوې دي. ډیری اسلامي عالمان په دې باور دي چې پیغمبران د ژوند په ټولو مراحلو کې د ګناه او خطا څخه معصوم دي، لدې امله په قرآن کریم کې د پیغمبرانو د شفاعت او د خدای جل جلاله بښنه لکه د حضرت موسی علیه السلام لخوا د مصري سړي وژنه، د حضرت یونس علیه السلام لخوا د درسالت پریښودل او د حضرت آدم علیه السلام لخوا د منع شوي میوو خوړل یاد شوي دي.. د دې برعکس، ځینې دینی عالمان د پیغمبرانو عصمت یوازې د نبوت په چارو کې اړین ګڼي، او د ژوند په روانو چارو کې، دوی د پیغمبر په سهوه باور لري.[4]

لکه چې الله جل جلاله فرمایي: «اللَّهُ أَعْلَمُ حَيْثُ يَجْعَلُ رِسَالَتَهُ»[5]

ژباړه: الله جل جلاله ډېر ښه پوهېږي چې د خپلې پیغمبري کار له چا څخه واخلي او په څه شان یې واخلي.

---

١ صابوني، محمد علي، (ب، ت )، النبوة و الانبیاء فی القرآن ، ژباړه ملازاده محمد. د عقیدې له سایت څخه ډاونلوډ شوی. ص ۳۲- ۳۳

۲ سورت الانبیاء: ۷۳ ایت

۳ پیغمبری و پیغمبران در قران کریم، محمد علي صابوني، ص ۳۴

٤ قصص النبیا، فرید احمد، ص ۳۴

۵ سورت الانعام: ۱۲۴ ایت

همد شان الله – جل جلاله  فرمايي: ((وَمَا أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن رَّسُولٍ إِلاَّ نُوحِي إِلَيْهِ أَنَّهُ لاَ إِلَهَ إِلاَّ أَنَا فَاعْبُدُونِ))[1] ژباړه: موږ ستاسو څخه وړاندې کوم پيغمبر نه ليږو، پرته لدې چې موږ هغه ته وحيه کړې وي: له ما پرته بل هيڅ معبود نشته. "نو يوازې زما عبادت وکړئ."

## د پيغمبر لغوي او اصطلاحي مفهوم

غواړم د پيغمبر د لفظ لغوي مفهوم يو څه ساده او عام فهمه وڅېړم.

**پيغمبر**: چې د دري/فارسي ژبې لفظ دی او اصليي بڼه يې پيام بر او يا پيغام بر دی خو په اوښتې بڼه ترې پيغمبر جوړ شوی چې د قاموس معين له مخې يې معنی پيک (خبر رسان)، استازی او برنده پيام دی. خو اوس دغه لفظ په پښتو، دری/ فارسي او اوردو ژبه کې کارېږي. د پيغمبر اړوند لغتونه چې په عربي ژبه کې کارېږي هغه رسول او نبي چې جمع حالتونه يې ، رُسُل، مرسلين او د نبي جمع، انبياء او نبيون دي.[2]

که څه هم د رسول او نبي تر منځ توپير په دريیم مبحث کې په پوره توګه څېړل کېږي خو دلته يوازې دا خبره لازمي بولم چې هر رسول نبي وي خو هر نبي رسول نه وي مطلب دا چې نبي عام شو يعنې هر پيغمبر ته نبي ويلای شو دا چې اوس د پيغمبر معادله کلمه نبي کاروو نو په ښه توګه د پيغمبر د کلمې تعريف کولای شو:

١- په عربي ژبه کې «نبي» له «نبا» څخه اخېستل شوی دی چې معنی يې خبر دی لکه چې الله جل جلاله فرمايي: «عَمَّ يَتَسَاءلُونَ، عَنِ النَّبَإِ الْعَظِيمِ»[3]

ژباړه: دغه خلک د څه په اړه يو له بله پوښتنه کوي؟ له خبرې لويي، د قيامت د ورځې پوښتنه کوي.

٢- د نبي د نوم اېښودلو علت دا دی، چې هغه ته خبره شوې وي يا وحی ورته شوې وي يا باخبره وي لکه الله جل جلاله چې فرمايي: « قَالَتْ مَنْ أَنبَأَكَ هَذَا قَالَ نَبَّأَنِيَ الْعَلِيمُ الْخَبِيرُ»[4]

ژباړه: هغې وويل: چا ته له دې موضوع خبر کړې؟ پيغمبر وويل: الله – جل جلاله چې پوه او باخبر ذات دی زه يې خبر کړم.

٣- د الله جل جلاله له خوا د پيغام او امر ابلاغولو ته لېږل شوی وي يعنې خبر وړونکی وي لکه چې الله جل جلاله فرمايي: « نَبِّىءْ عِبَادِي أَنِّي أَنَا الْغَفُورُ الرَّحِيمُ»[5]

---

١ سورت الانبياء: ٢٥ ايت

٢ لسان العرب لابن منظور: ١١٦٦/٢ او ١١٦٧

٣ سورت النباء: ١- ٢ ايتونه

٤ سورت التحريم: ٣ ايت

٥ سورت الحجر: ۴۹ ايت

ژباړه: اې پیغمبره! زما بنده ګان خبر کړه چې زه ډېر بښوونکي او مهربان یم، ( د هغوی کسانو په حق کې توبه وکاږي او ایمان راوړي او نیک کارونه وکړي.)
یا هم لکه په دې آیت کې چې الله جل جلاله فرمایي« وَنَبِّئْهُمْ عَن ضَيْفِ إِبْرَاهِيمَ»[1]
ژباړه: او هغوی د ابراهیم له میلمنو چې د انسان په جامه کې ملائیکې وې خبر کړه.
دا چې د نبي په اصطلاحي مفهوم پوه شوو اوس غواړم د ځینو قراني آیتونو په مرسته د رسول په اصطلاحي مفهوم هم څېړنه وکړو:
د رسول لفظ د لېږل شوي په معنیٰ دی، یعنې کله چې یو څوک د یو کار د سرته رسولو لپاره یو ځای ته لېږل کېږي نو په حقیقت کې هغه رسول او خبر وړونکی دی لکه چې په قرآن کریم کې الله جل جلاله فرمایي[2]:
«وَإِنِّي مُرْسِلَةٌ إِلَيْهِم بِهَدِيَّةٍ فَنَاظِرَةٌ بِمَ يَرْجِعُ الْمُرْسَلُونَ»[3]
ژباړه: زه یو هئیت له تحفې سره ولېږم، بیا ګورم چې زما له ځانګړی استازی له څه ځواب سره راستنېږي.
نو له دې کبله پیغمبران د رسول په نوم سره یاد شوي یا بلل شوي دي چې دوی د الله جل جلاله لخوا لېږل شوي کسان دي لکه په دې مبارک آیت کې چې فرمایي:
«ثُمَّ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا تَتْرَا كُلَّ مَا جَاء أُمَّةً رَّسُولُهَا كَذَّبُوهُ»[4]
ژباړه: بیا موږ پرلپسې خپل پیغمبران ولېږل، هر قوم ته چې په هر دور کې د هغو پیغمبر راغی هغه یې درواغجن و ګاڼه.
په اصطلاحي توګه پیغمبر یا نبي هغه څوک دی چې له انساني مداخلې پرته د خدای جل جلاله خبر مخلوق ته رسوی او د خدای او مخلوق تر مینځ منځګړی دی او مخلوق ته د خدای طرف ته دعوت ورکوي[5].
پیغمبران لکه د نورو په څیر، انسانان دي، دوی ژوندي دي او دوی مړه کیږي، او توپیر یې دا دی چې دوی ته وحي شوي. قرآن کریم په دې باره کې فرمایي: ووایه: (قُلْ إِنَّمَا أَنَا بَشَرٌ مِّثْلُكُمْ يُوحَى إِلَيَّ)[6]
ژباړه: زه هم ستاسی په شان بشر یم، چې ماته وحی کیږی.

**دریم مبحث: د رسول او نبي تر منځ فرق**

که څه هم ډیری کسان په دې باور دي، چې نبي او رسول فرق نه لري، د دوی دغه خبره په دې بې اساسه ده چې په خپله رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي (د الهي پیغمبرانو شمېر یو لک او څلور ویشت زره دی،

---

١ سورت الحجر: ٥١ ایت
٢ اشقر، عمر سلیمان، (۱۴۰۱)پیامبري و رسالت، ژباړه د حرمینو فرهنګي کمیټه، چاپ کویټ دار الاخلاص. ص ۱۸
٣ سورت النمل: ۳۵ ایت
٤ سورت المؤمنون: ۴۴ ایت
٥ عزیز التفاسیر، ج ۲، ص ۵۳۱
٦ سورت الکهف: ۱۱۰ ایت

او د رسولانو شمېر درې سوه دیارلس نفره دی)[1] همدا شان په قران کریم «نبي» پر «رسول» عطف شوی او تر منځ یې دلیل دغه آیت شریف کېدای شي:[2]

«وَمَا أَرْسَلْنَا مِن قَبْلِكَ مِن رَّسُولٍ وَلاَ نَبِيٍّ إِلاَّ إِذَا تَمَنَّى أَلْقَى الشَّيْطَانُ فِي أُمْنِيَّتِهِ فَيَنسَخُ اللَّهُ مَا يُلْقِي الشَّيْطَانُ ثُمَّ يُحْكِمُ اللَّهُ آيَاتِهِ وَاللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيم»[3]

ژباړه: او (اې محمده! صلی الله علیه وسلم) ستا څخه مخکې موږ نه کوم رسول داسې لېږلی دی او نه نبي (چې له هغه سره داسې معامله نه وي رامنځته شوې) چې کله هغه تمنا وکړه، شیطان د هغه په تمنا کې خلل واچوه، نو شیطان چې هر څه خلل اچوي، الله جل جلاله هغه له منځه وړي او خپل آیتونه محکموي، الله د علم او حکمت څښتن دی.

ددې لپاره چې د نبي او رسول تر منځ فرق تر ټولو په ښه توګه وڅېړم د عزیز التفاسیر ۷ ټوک د سورت مریم تفسیر کې دغه موضوع تر ټولو په ښه توګه تشریح شوې ده لکه څرنګه چې الله جل جلاله فرمايي:

« وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ مُوسَى إِنَّهُ كَانَ مُخْلَصًا وَكَانَ رَسُولاً نَّبِيًّا»[4]

ژباړه: او په دې کتاب کې د موسی علیه السلام یادونه وکړه. هغه یو غوره کړای شوی شخص و او استازی پیغمبر وو.

په « وَكَانَ رَسُولاً نَّبِيًّا» کې موسی علیه السلام په دوو لقبونو باندې یاد شوی دی، همدارنګه اسماعیل علیه السلام ته هم ذکر شوي دواړه لقبونه ورکړل شوي دي، حال دا چې هارون علیه السلام یوازې د نبي په نامه باندې یاد شوی دی چې « أَخَاهُ هَارُونَ نَبِيًّا) نو په دې هکله چې ذکر شوي دواړه لقبونه څه فرق لري او که نه، علماء کرام په لاندې ګروپونو ویشل شوي دي.[5]

أ. ځینې وايي چې رسول او نبي یوازې په مفهوم کې فرق لري چې د یوه مفهوم لېږل شوی دی او د بل مفهوم خبر ورکوونکی دی، خو په مصداق کې دواړه یو برابر دي.

ب. رسول هغه څوک دی، چې د الله جل جلاله له لوري رالیږل شوي او وحیه ورته کېږي او نبي هغه څوک دی چې رالېږل شوی وي نه او وحیه ورته نه کېږي بلکې د الهام خاوند وي او په خوب کې په ځینو احکامو باندې پوهولی کېږي.

---

١ رواه احمد: ٢٦٥/٥ [٢٢٣٤٢] من حديث ابى امامه رضى الله عنه. و الحديث ضعفه ابن كثير فى (البدايه و النهاية) ١٤٠/٢، و قال الهيثمي في (مجمع الزوايد) ١/ ١٦۴ : مداره على علي بن يزيد و هو ضعيف: [ لايصح قول من ذهب الى انه ال فرق بين الرسول و النبي، و يدل على بصلان هذا القول ما ورد فى عدة الانبياء و الرسول، فقد ذكر الرسول صلى الله عليه وسلم ان عدة الانبياء مائة و اربعة و عشرون الف نبى، و عدة الرسل ثلاثمائة و بضعة عشر رسولا]

٢ پیامبري و رسالت، ص ١٩

٣ سورت الحج: ٥٢ ايت

٤ سورت مريم: ٥١ ايت

٥ عزيز التفاسير، ج ٧، ص ٥١۴

ج. خو ډېره قوي خبره داده چې نبي د رسول څخه عام دی، هر څوک چې رسول وي نو هغه به نبي هم وي، خو هر نبي رسول نه دی.

پاتې شوه دا خبره چې هغه کوم قید دی چې رسول ته یې د نبي څخه تخصیص ورکړی دی؟ نو په هغه قید کې علماوو کرامو متعدد اقوال بیان کړي دي چې لاندې مثالونه راوړو:[1]

أ. په رسول کې د مجدد (نوي) کتاب درلودل ضروري دي او په نبي کې دا قید نشته.

ب. د رسول شریعت باید د مخکني شریعت ناسخ وي او نبي دغه قید ته ضرورت نه لري.

ج. رسول باید مستقل امت ولري او په نبي کې د مستقل امت درلودل ضروري نه دي لکه چې د بني اسرائیلو پیغمبرانو به په تورات باندې دعوت کاوو او د یوه امت (د موسی علیه السلام د امت) ارشاد یې په غاړو باندې اخېستی وو.

د. په رسول کې په ښکاره ډول سره د وحي د پاره د پرښتې ورتلل ضرور دي او په نبي کې یې ضرورت نشته.

د نبي د عمومیت لپاره به علماوو کرامو هر یوه یو یو مثال ښودلی وی او حصر به یې مطلب نه وي. نو په دې صورت کې به یې حاصلی داسې راوځېږي چې رسول هغه څوک دی چې څه امتیازي وصف ولري لکه نوی کتاب او ناسخ شریعت، مستقل امت او په ډاګه وحیه، د الله جل جلاله سره مناجات او یا معراج ته ختل او داسې نور، او نبي هغه څوک دی چې د امتیازې صفت خاوند وي او یا نه وي، د مثال په توګه یوشع علیه السلام نبی دی او رسول نه دی چې په کوم امتیازي صفت باندې نه دی مشهور شوی خو د موسی علیه السلام سره د خضر علیه السلام په علمي سفر کې ملګری وو، اما اسماعیل علیه السلام برسېره په نبوت رسول هم دی چې په «صادق الوعد» باندې شهرت لري چې یو امتیازي صفت دی که څه کتاب ورباندې نه دی نازل شوي.[2]

نبي هغه څوک دی، چې الله جل جلاله د شرعي احکامو د رسولو له پاره و نورو بنده ګانو ته رالېږلئ وي او دده سره نوی شریعت او نوی اسماني کتاب نه وي، بلکې دی د مخکني شریعت او اسماني کتاب تابع وي.

دوهم فرق:

۱. نبي: هغه کس ته ویل کېږي،چې الله جل جلاله شریعت ورته وحي کړی وي مګر دهغه په تبلیغ کولو یې مکلف کړی نه وي.

۱ پورتنی مرجع ص ۵۱۵

۲ عزیز التفاسیر، ج ۷، ص ۵۱۵

۲. رسول: هغه کس ته ویل کېږي،چې الله جل جلاله شریعت ورته وحي کړی وي مگر دهغه په تبلیغ کولو يې مکلف کړی وي.

نو پر دې بنسټ رسول د مرتبې له مخې پر نبی لوړ دی ځکه هر رسول نبي دی، مگر هر نبي رسول نه دی، په قران کریم کې د ذکر شویو انبیاوو شمېر پنځویشت ته رسیږي.[1]

پر دغه انبیآؤ علیه السلام باندي تفصیلي ایمان راوړل لازمي دي ځکه د دوی پر رسالت باندي تصدیق د دوی د شخصیتونو او نومونو په مټ راتلای شي او دغه نومونه په قرآنکریم کې ذکر شوي دي، البته پر پاته انبیاؤ علیه السلام باندي اجمالي ایمان راوړل لازمي دی دا په دې معنیٰ، چې یوازې دومره تصدیق کول، چې نور انبیاء علیه السلام هم سته پرته د هغو انبیاؤ علیه السلام څخه، چې الله جل جلاله يې په قرآن کې نومونه ذکر کړي دي ځکه الله جل جلاله فرمایي :

( وَرُسُلًا قَدْ قَصَصْنَاهُمْ عَلَيْكَ مِنْ قَبْلُ وَرُسُلًا لَمْ نَقْصُصْهُمْ عَلَيْكَ وَكَلَّمَ اللّٰهُ مُوسَى تَكْلِيمًا)[2]

ژباړه: لکه،چې مو رسولان لېږلي دي قصه مو يې تاته بیان کړې ده مخکي داسي رسولان شته،چې قصه مو تاته نه ده بیان کړې او الله جل جلاله دموسي علیه السلام سره خبري وکړې په خبرو کولو سره.

دا چې نبوت د رسالت څخه په دې کې توپیر لري، چې نبي په دعوت سره مکلف نه دی او رسول په دعوت سره مکلف دی داهم دنبي او رسول ترمنځ دتوپیر اساسي ټکی دی ځکه ددلیل په موخه لاندنی آیت کریم ویلای شو:

(الَّذِينَ يُبَلِّغُونَ رِسَالَاتِ اللّٰهِ وَيَخْشَوْنَهُ وَلَا يَخْشَوْنَ أَحَدًا إِلَّا اللّٰهَ وَكَفَى بِاللّٰهِ حَسِيبًا) [3]

ژباړه: هغه کسان،چې دالله جل جلاله پیغام تر نورو پوري رسوي دالله جل جلاله څخه بیریږي او دالله جل جلاله پرته دبل هیچا څخه نه بیریږي او الله جل جلاله په ښه حساب کونکي سره بس دئ.

همدا ډول ددلیل په ډول لاندنی ایت هم ویلای سو، چې الله جل جلاله وبهترین پیغمبر حضرت محمد(صلی الله علیه و سلم) ته خطاب کړی دی او فرمایي :

---

۱ رواه ابن حبان: ج۲، ص ۷٦: [ذکر الله في کتابه خمسة و عشرون نبياً و رسولاً، فذکر فی مواضع متفرقه آدم و هوداً و صالحاً و شعيباً و اسماعيل و ادريس و ذالکفل و محمداً عليهم السلام. قال تعالى (ان الله اصطفى آدم ..)[ال عمران : ۳۳]، و قال (و الى عادٍ اخاهم هوداً) [هود: ۵۰] و (الى ثمود اخاهم صالحا) [هود: ٦١] (و الى مدين اخاهم شعيباً) [هود ۸۴]، و اسماعيل و ادريس و ذالکفل کل من الصابرين) [الانبياء: ۸۵] (محمد رسول اللهِ ....) [الفتح: ۲۹]، و ذکر ثمانيه عشر منهم في موضوع واحد في سورة الانعام (وَتِلْكَ حُجَّتُنَا آتَيْنَاهَا إِبْرَاهِيمَ عَلَى قَوْمِهِ نَرْفَعُ دَرَجَاتٍ مَّن نَّشَاء إِنَّ رَبَّكَ حَكِيمٌ عَلِيمٌ ۸۳ وَوَهَبْنَا لَهُ إِسْحَقَ وَيَعْقُوبَ كُلاًّ هَدَيْنَا وَنُوحًا هَدَيْنَا مِن قَبْلُ وَمِن ذُرِّيَّتِهِ دَاوُودَ وَسُلَيْمَانَ وَأَيُّوبَ وَيُوسُفَ وَمُوسَى وَهَارُونَ وَكَذَلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ ٨٤ وَزَكَرِيَّا وَيَحْيَى وَعِيسَى وَإِلْيَاسَ كُلٌّ مِّنَ الصَّالِحِينَ ۸۵ وَإِسْمَاعِيلَ وَالْيَسَعَ وَيُونُسَ وَلُوطًا وَكُلاًّ فضَّلْنَا عَلَى الْعَالَمِينَ)

۲ سورت النساء: ١٦۴ ايت

۳ سورة الأحزاب، ۳۹ آيت

(يَا أَيُّهَا الرَّسُولُ بَلِّغْ مَا أُنْزِلَ إِلَيْكَ مِنْ رَبِّكَ وَإِنْ لَمْ تَفْعَلْ فَمَا بَلَّغْتَ رِسَالَتَهُ وَاللّٰهُ يَعْصِمُكَ مِنَ النَّاسِ إِنَّ اللّٰهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الْكَافِرِينَ) [1]

ژباړه: اې رسوله ! کوم څه چې ستا رب پرتا نازل کړي دي هغه تر نورو پوري ورسوه که دي دا کار ونه کړ،خپل رسالت به دي بشپړ کړی نه وي او الله جل جلاله تا دخلکو څخه ساتي، الله جل جلاله وظالم قوم ته هدایت نه کوي.

د پیغمبرانو د شمېر په اړه هم لکه څرنګه چې پورته بحث وشو دلته غواړم لږ څه نور هم مخکې لاړ شم هغه دا چې د ابوذر رضي الله عنه نه روآیت دی چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه مې د انبیاوو د شمېر په اړه پوښتنه وکړه ویې فرمایل:

«مِائَةُ أَلْفٍ وَأَرْبَعَةٌ وَعِشْرُونَ أَلْفًا، الرُّسُلُ مِنْ ذَلِكَ ثَلاثُ مِائَةٍ وَثلاث عَشَرَ »[2]

ژباړه: یو لک او څلورویشت زره وو، ۳۱۳ ترې رسولان وو.

له پورتني حدیث څخه دا څرګندېږي چې د زیاتو پیغمبرانو ژوند او حالات موږ ته نه دي څرګند ځکه په دومره زیات شمېر کې موږ یوازې ۲۵ تنو نومونه او اړوند څه نا څه معلومات لرو، لکه په دې اړه الله جل جلاله فرمایي:

« وَرُسُلاً قَدْ قَصَصْنَاهُمْ عَلَيْكَ مِن قَبْلُ وَرُسُلاً لَّمْ نَقْصُصْهُمْ عَلَيْكَ وَكَلَّمَ اللّٰهُ مُوسَى تَكْلِيمًا»[3]

ژباړه: او موږ پر هغو پیغمبرانو هم وحیې نازله کړې ده، چې د هغو یادونه مو له دې څخه مخکې تاته کړې ده او پر هغو پیغمبرانو هم چې د هغو یادونه مو تاته نه ده کړې، الله جل جلاله له موسی سره داسې خبرې کړې وې خبري کول.

---

۱ سورت المائده، ٦٧ ایت

۲- ابن کثیر، ارشاد الفقیه، ج ۲، ص ۳۳٦: [عن ابو ذر الغفاري – قلت یا رسول الله کم الانبیاء؟ قال: مائة الفٍ و اربعةٌ و عشرون الفاً قال: قلت: کم الرسلُ من ذلک؟ قال ثلاثمائةٌ و ثلاثة .....] خلاصة حکم المحدث: غریب جداً و من وجه آخر عن ابی ذر باسناد لا باس به.

۳ سورت النساء: ١٦۴ ایت

## دوهم فصل

## حضرت نوح علیه السلام

**تمهید**

الله جل جلاله فرمايي: [وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَى قَوْمِهِ فَلَبِثَ فِيهِمْ أَلْفَ سَنَةٍ إِلَّا خَمْسِينَ عَامًا فَأَخَذَهُمُ الطُّوفَانُ وَهُمْ ظَالِمُونَ ][1]

ژباړه: بېشکه موږ نوح علیه السلام و خپل قوم ته ولېږه په خپل قوم کې نهه نیم سوه کاله واوسېده د ده قوم طوفان غرق کړ، دوی ظالمان ول.

له قرآن کریم څخه د نوح علیه السلام د ظاهري خصوصیاتو په اړه ښه پوهیدای شو چې هغه څومره صبر او د دعوت حوصله لرله هغه په یو یوازې ځان خپل مشرک قوم ته د هدآیت کولو په موخه ۹۵۰ کاله تبلیغ وکړ، ستړی نه شو او نه یې حوصله ختمه شوه. چې په دې صفت سره الله جل جلاله ده ته د آدم، ابراهیم او آل عمران علیهم السلام درجه ورکړې لکه چې الله جل جلاله فرمايي: [إِنَّ اللّٰهَ اصْطَفَى آدَمَ وَنُوحًا وَآلَ إِبْرَاهِيمَ وَآلَ عِمْرَانَ عَلَى الْعَالَمِينَ][2]

ژباړه: الله جل جلاله  آدم، نوح او د ابراهیم اولاده او د عمران اولادې پر نورو ټولو نړیوالو پورته کړي او (د خپل رسالت لپاره یې) غوره کړل.

نوح علیه اسلام لومړی پیغمبر دی چې نوی شریعت یې درلود. لومړی پیغمبر دی چې عمر یې تر نوور ټولو پیغمبرانو زیات وو، نوح علیه اسلام د شیخ المرسیلین[3] په نوم هم یادېږي اولین کس ده چې له شرکه بېزاره او د شرک په مقابله کې یې خپل رسالت پیل کړ[4].

لومړی دعوت کوونکی دی، الله جل جلاله هغه د میثاق په اخېستلو کې له رسول الله صلی الله علیه وسلم وروسته یاد کړی او د شکر کوونکي بنده په نوم یې یاد کړی لکه چې فرمايي: [ذُرِّيَّةَ مَنْ حَمَلْنَا مَعَ نُوحٍ إِنَّهُ كَانَ عَبْدًا شَكُورًا][5]

ژباړه: تاسې د هغو خلکو اولاد یاست چې موږ له نوح سره په بیړۍ کې سپاره کړي ول او نوح یو شکر کوونکی بنده و.

---

۱ سورت العنکبوت: ۱۴ آیت

۲ ال عمران: ۳۳ ایت

۳ روح المعاني، ج ۲۹، ص ٦٧

٤ عزیز التفاسیر، ج ۱۲، ص ۴٥٦ او ۴٥۷

۵ الاسراء: ۳ ایت

## لومړی مبحث: تفصیلي پېژندنه

### لومړی مطلب: نسب

نوح د لامک زوی، لامک د متوشلخ زوی دی، متوشلخ د اخنوع (ادریس) زوی دی. ادریس د نوح غور نیکه دی د نوح علیه السلام نسب، شیث علیه السلام ته؛ چې د ادم علیه السلام زوی دی رسیږي.[1]

امام طبری رحمه الله په تفسیر کې[2] لیکي چې د آدم علیه السلام او نوح علیه السلام تر منځ لس پیړۍ فاصله موجوده وه او په دغه موده کې ټول خلک مسلمانان وو. څرنګه چې نوح علیه السلام د خپل امت د ګناهونو ډېر ژړل، نو د نوح ( ژړا کوونکی) لقب ورکړل شو، یا کیدای شي له دې وجي ورته د نوح لقب ور کړل شوی وي چې ده مبارک به د خپل نفس په لغزش کې ډېر ژړل. او یا هم دغه کیسه ذکر شوې چې نوموړی یو ځل په یوه پمن سپي باندي تېرېده، په زړه کې یې وویل چې دا څومره بد شکله سپی دی. الله جل جلا له ورته وحي وکړه چې آیا ته په ما عیب وایې، او که زما په مخلوق (سپي). آیا ته یې له دې ښه پیدا کولای شي. چې نوح [علیه السلام] په خپله غلطي ډېر وژړل. [3]

نوح علیه السلام لومړنی لیږل شوی رسول دی[4] ځکه له ده وړاندې ادم علیه السلام او شیث علیه السلام صرف د ښوونکو حیثیت درلود ځکه هلته بت پرستۍ موجوده نه وه، خو نوح علیه السلام د ښوونې سربېره د مشرکانو او کفارو د شرک او کفر په مخنیوي کې هم نه ستړې کېدونکې هلې ځلې وکړې.

نوح علیه السلام لومړنی پیغمبر دی، چې آن تر نهه نیم سوه، کلونو یې د کفار په مقابل کې مقاومت وکړ او هغوی یې دعوت کړل، ټول عمر یې ۱۴۵۰ ښودل شوی چې د طوفان وروسته هم د ۲۵۰ کلونو لپاره ژوندی وو.[5]

### دوهم مطلب: مېرمن او اولادونه

الف: مېرمن: د نوح علیه السلام د مېرمنې په اړه قرآن کریم کې الله جل جلاله فرمایي [ضَرَبَ اللَّهُ مَثَلاً لِّلَّذِينَ كَفَرُوا امْرَأَةَ نُوحٍ وَامْرَأَةَ لُوطٍ كَانَتَا تَحْتَ عَبْدَيْنِ مِنْ عِبَادِنَا صَالِحَيْنِ فَخَانَتَاهُمَا فَلَمْ يُغْنِيَا عَنْهُمَا مِنَ اللَّهِ شَيْئًا وَقِيلَ ادْخُلاَ النَّارَ مَعَ الدَّاخِلِينَ][6]

---

١ البیهقي، احمد بن الحسین، (۱۴۰۵)، دلایل النبوه و معرفة احوال صاحب الشریعه، بیروت: دار الکتب العلمیة، ۱۷۹/۱

٢ تفسیر الطبري، ج ۴، ص ۲۷۵.

٣ پورتنی مرجع قصص الانبیاء ص ۵۴

٤ صحیح البخاري: ج ۲، ص ٦٥٨ [... فإنه أول رسول بعثه الله إلى أهل الأرض،.... ]

٥ روح المعاني، ج ۸، ص ۱۴۹

٦ سورت التحریم: ۱۰ آیت

ژباړه: الله جل جلاله د کافرانو په باب د نوح علیه السلام او لوط علیه السلام میرمنې د مثال په توګه وړاندې کوي، هغوی زموږ د دوو صالحو بنده ګانو میرمنې وې، خو د خپلو میړونو سره یې خیانت وکړ، او دوی (دوو پیغمبرانو هم) د هغو لپاره د الله د عذاب په مقابل کې هیڅ په درد ونشول خوړای، دواړو ته وویل شول ځئ اور ته د ننوتونکو سره تاسې هم لاړې شئ.

د پورتني آیت په تفسیر کې عبدالله بن عباس رضي الله عنه وایي[1]: چې د نوح علیه السلام د میرمنې خیانت دا وو چې خپل خاوند ته یې د نورو کفارو غوندې د مجنون (لیونی) لقب ورکاوو.

ب: اولادونه: د نوح علیه السلام څلور اولادونه وه چې نومونه یې په لاندې ډول دي: حام، سام، یافث او کنعان د نوح علیه السلام هغو درو زامنو د طوفان څخه خلاصون پیدا کړ، د مځکې پر مخ چې کوم انسانان اوسیږي هغه ټول د نوح علیه السلام د دغو درو زامنو اولادونه دي له همدې امله ټول انسانان د نوح علیه السلام دغه درو زامنو ته منسوبیږي. په دې ترتیب ټول عرب د سام زامن دي، حام د ټولو حبشیانو پلار دی او یافث د ټولو رومیانو پلار دی.[2]

په دغو څلورو کې کنعان په طوفان کې غرق شو ځکه دی مسلمان نه وو او د پلار سره په کښتۍ کې سپور شوی نه وو ځکه ده ویل: زه به غره ته وخیژم هر څومره اوبه چې راشي ما نشي غرقولای خو سره ددې چې لوی غره ته وخوت خلاصون یې پیدا نه کړ، هلاک شو.

الله جل جلاله د ده لپاره په تقدیر کې سعادت نه وو لیکلی او د پلار غوښتنې ته یې مثبت جواب نه ووایه کله چې هغه ورته وویل: راسه زویه! په کښتۍ کې سپور سه د کافرانو څخه مه جوړیږه؟ ده بدبخته په جواب کې ورته وویل: زه به لوړ غره ته وخیژم که اوبه راغلې د هغه غره پر سره به ودریږم او د طوفان څخه به ځان خلاص کړم. اخر دا چې ورغ یې توره شوه او د تل لپاره د بدبختۍ پر ټغر کښیناست هلاک شو. لکه چې الله جل جلاله فرمایي: [وَهِيَ تَجْرِي بِهِمْ فِي مَوْجٍ كَالْجِبَالِ وَنَادَى نُوحٌ ابْنَهُ وَكَانَ فِي مَعْزِلٍ يَا بُنَيَّ ارْكَب مَّعَنَا وَلاَ تَكُن مَّعَ الْكَافِرِينَ ٤٢ قَالَ سَآوِي إِلَى جَبَلٍ يَعْصِمُنِي مِنَ الْمَاء قَالَ لاَ عَاصِمَ الْيَوْمَ مِنْ أَمْرِ اللّهِ إِلاَّ مَن رَّحِمَ وَحَالَ بَيْنَهُمَا الْمَوْجُ فَكَانَ مِنَ الْمُغْرَقِينَ][3]

حال دا چې نوح علیه السلام د ده په اړه دعا وکړه او وې وفرمایل: [وَنَادَى نُوحٌ رَّبَّهُ فَقَالَ رَبِّ إِنَّ ابْنِي مِنْ أَهْلِي وَإِنَّ وَعْدَكَ الْحَقُّ وَأَنْتَ أَحْكَمُ الْحَاكِمِينَ ][4]

---

١ تفسیر ابن کثیر، ج ۴، ص ۳۹۳

٢ رواه الهیثمی، فی مجمع الزاوید، عن سمره بن جندب، ۱۹۸/۱

٣ سورت هود: ۴۲-۴۳ آیتونه

٤ سورت هود: ۴۵ آیت

ژباړه: نوح علیه السلام اواز وکړ او وې ویل: اې زما ربه! بېشکه زما زوی زما د کورنۍ څخه دی او بېشکه ستا وعده حقه ده او ته ښه د حکم کونکو څخه یې .

کله چې نوح علیه السلام دغه دعا وکړه د الله جل جلاله د لوري څخه ملامتیا ورته وویل شوه او الله جل جلاله ورته وفرمایل [قَالَ يَا نُوحُ إِنَّهُ لَيْسَ مِنْ أَهْلِكَ إِنَّهُ عَمَلٌ غَيْرُ صَالِحٍ فَلَا تَسْأَلْنِ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ إِنِّي أَعِظُكَ أَنْ تَكُونَ مِنَ الْجَاهِلِينَ ][1]

ژباړه: الله جل جلاله وفرمایل: بېشکه دی ستا د کورنۍ څخه نه دی ده لره نا صالح عملونه دي، ته زما څخه د هغه شي په اړه پوښتنه مه کوه، چې تا لره علم نه وي زه تا ته پند درکوم ددې لپاره چې ته د جاهلانو څخه جوړ نه شي.

**درېیم مطلب: د زیږیدنې ځای او تاریخ**

حضرت نوح علیه السلام د ادم علیه السلام د وفات څخه یو سل او شپیته او یا یو سل او شپږ ځلویښت کاله وروسته زیږیدلی دی، خو ابن حبان په خپل صحیح کې د روایانو لویه سلسله بیان کړې او اخر یې ابو امامه رضي الله عنه ته خبره رسولې چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه یې نقل کړی دی، چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه مې وپوښتل چې د نوح علیه السلام او ادم علیه السلام تر منځ څومره موده وو، هغه صلی الله علیه وسلم راته وفرمایل: شل پېړۍ.[2]

او موږ له ډېرې پلټنې سره سره په دې ونه توانېدو چې د هغه ځان نوم ومومو په کوم کې چې نوح علیه السلام پیدا شوی دی.

**څلورم مطلب: په قرآن کې یادونه**

د حضرت نوح علیه السلام د ژوند او دعوت او بلاخره د قوم د غرقېدو او د نوح علیه السلام او اصحابو د نجات ډېری بیان د قرآن کریم په مختلفو ځایونو کې شوی خو زیات تفصیلي بحث چې پرې شوی هغه هغه د سورت الاعراف له ۵۹ آیت نیولې تر ۶۴ آیت پورې او هم پخپله د نوح سورت چې ټول بحث یې د نوح علیه السلام اړوند دی. الله جل جلاله فرمایي:

«لَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَى قَوْمِهِ فَقَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُواْ اللّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَـهٍ غَيْرُهُ إِنِّيَ أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ ۵۹ قَالَ الْمَلأُ مِن قَوْمِهِ إِنَّا لَنَرَاكَ فِي ضَلاَلٍ مُّبِينٍ ۶۰ قَالَ يَا قَوْمِ لَيْسَ بِي ضَلاَلَةٌ وَلَكِنِّي رَسُولٌ مِّن رَّبِّ الْعَالَمِينَ ۶۱ أُبَلِّغُكُمْ رِسَالاَتِ رَبِّي وَأَنصَحُ لَكُمْ وَأَعْلَمُ مِنَ اللّهِ مَا لاَ تَعْلَمُونَ ۶۲ أَوَعَجِبْتُمْ أَن جَاءكُمْ ذِكْرٌ مِّن رَّبِّكُمْ عَلَى رَجُلٍ

[1] سورت هود: ۴٦ آیت

[2] رواه ابن حبان، فی صحیح ابن حبان، عن ابو امامه الباهلی، الصفحه او الرقم ٦١٩٠

مِّنكُمْ لِيُنذِرَكُمْ وَلِتَتَّقُواْ وَلَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ ٦٣ فَكَذَّبُوهُ فَأَنجَيْنَاهُ وَالَّذِينَ مَعَهُ فِي الْفُلْكِ وَأَغْرَقْنَا الَّذِينَ كَذَّبُواْ بِآيَاتِنَا إِنَّهُمْ كَانُواْ قَوْماً عَمِينَ»[1]

ژباړه: يقيناً موږ نوح عليه السلام خپل قوم ته استولی و، نو ورته ويې ويل چې اې زما قومه (صرف) د الله جل جلاله عبادت وکړئ ځکه تاسو لره له ده جل جلاله پرته بل معبود نشته. بې شکه زه په تاسو باندې د لويې ورځې د عذاب څخه ډارېږم، د ده د قوم څخه مشرانو وويل چې يقيناً موږ هرو مرو تا په ښکاره ګمراهۍ کې ګورو (چې د پلرونو لار دې پرېښې او د رسالت مدعي ګرځېدلی يې)، نوح عليه السلام وويل چې اې زما قومه! په ماپورې هيڅ ډول ګمراهۍ نشته مګر زه د رب العالمين استول شوی يم، زه تاسو ته د خپل رب پيغامونه در رسوم او زه ستاسو خير غواړم او زه د الله جل جلاله د پلوه په هغه شي باندې پوهېږم چې تاسو وربانديې نه پوهيږي (چې د غټ خطر په لور روان ياست)، ايا (تاسو زما د رسالت څخه انکار کوئ؟) او ددې څخه په تعجب کې ياست چې تاسو ته ستاسو د رب د پلوه ستاسو د جملې څخه په يوه سړي باندې (چې تاسو ته يې صداقت شه معلوم دی) څه پند درشي (ددې د پاره در استول شو چې تاسو د راتلونکي غټ خطر څخه وډاروي او چې تاسو (د خپل رب د مناهيوو څخه) پرهېز وکړئ او ددې لپاره چې شايد په تاسو د الله جل جلاله مهرباني وشي، نو (نتيجه دا شوه چې) دوی نوح عليه السلام ته د دروغو نسبت وکړ (چې پيغمبر نه يې) نو موږ ده ته او هغو کسانو ته چې دده سره په بيړۍ کې وو نجات ورکړ او هغه خلک مو غرق کړل چې ده او زمو آيتونو ته يې د دروغو نسبت کړی وو، بې شکه چې دوی (په زړونو باندې) ړوند قوم وو ( چې پوپنا کول ورته مناسب کار وو.

ددې آيتونو له تفسير سره مفسرينو د نوح عليه السلام ځينې ځانګړنې بيان کړې دي چې په لاندې ډول دي. همدا شان د نوح عليه السلام او د هغه د قوم اړوند بحث د ۲۹ سيپارې په نوح سورت کې په مکمل ډول سره شوی دی: دغه سورت چې په زيات اتفاق سره مکي سورت دی او له هجرت وړاندې نازل شوی دی چې له پيل څخه تر پايه پورې ټول سورت د نوح عليه السلام په حالاتو مشتمل دی او ۲۸ آيتونه لري.[2]

نوح عليه السلام ۴۳ ځلې[3] د قرآن کريم په آيتونو کې ذکر شوی چې په لاندې جدول کې ښودل کېږي:

| شماره | د سورت نوم | د آيت شمېره | شماره | د سورت نوم | د آيت شميره |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | ال عمران | ۳۳ | ۲۳ | الفرقان | ۳۷ |
| ۲ | النساء | ۱۶۳ | ۲۴ | الشعراء | ۱۰۵ |
| ۳ | الانعام | ۸۴ | ۲۵ | الشعراء | ۱۰۶ |

۱ سور الاعراف: ۵۹- ٦٤ ايتونه

۲ البغوی، ابو محمد الحسين بن مسعود، (۱۴۰۹)، معالم التنزيل ( تفسير البغوی)، بيروت: دار الطيبه.، ج ۴، ص ۳۹۷

۳ دغه د جدولونو معلومات او د پيغمبرانو د شمېر معلومات اړوند د Quran in word فايل څخه د پلټنې او بيا د هر يوه د ځای/ سورت او ايات معلومولو لپاره هره نقطه بيرته له قرآن کريم سره کتل شوې ده.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۴ | الاعراف | ۵۹ | ۲۶ | الشعراء | ۱۱۶ |
| ۵ | الاعراف | ۶۹ | ۲۷ | العنکبوت | ۱۴ |
| ۶ | التوبه | ۷۰ | ۲۸ | الاحزاب | ۷ |
| ۷ | یونس | ۷۱ | ۲۹ | الصافات | ۷۵ |
| ۸ | هود | ۲۵ | ۳۰ | الصافات | ۷۹ |
| ۹ | هود | ۳۲ | ۳۱ | ص | ۱۲ |
| ۱۰ | هود | ۳۶ | ۳۲ | غافر | ۵ |
| ۱۱ | هود | ۴۲ | ۳۳ | غافر | ۳۱ |
| ۱۲ | هود | ۴۵ | ۳۴ | الشوری | ۱۳ |
| ۱۳ | هود | ۴۶ | ۳۵ | ق | ۱۲ |
| ۱۴ | هود | ۴۸ | ۳۶ | الذاریات | ۴۶ |
| ۱۵ | هود | ۸۹ | ۳۷ | النجم | ۵۲ |
| ۱۶ | ابراهیم | ۹ | ۳۸ | القمر | ۹ |
| ۱۷ | الاسراء | ۳ | ۳۹ | الحدید | ۲۶ |
| ۱۸ | الاسراء | ۱۷ | ۴۰ | التحریم | ۱۰ |
| ۱۹ | مریم | ۵۸ | ۴۱ | نوح | ۱ |
| ۲۰ | الانبیاء | ۷۶ | ۴۲ | نوح | ۲۱ |
| ۲۱ | الحج | ۴۲ | ۴۳ | نوح | ۲۶ |
| ۲۲ | المومنون | ۲۳ | | | |

## دوهم مبحث: په پیغمبري مبعوث کېدل او د دعوت پیل

### لومړی مطلب: د نوح علیه السلام د قوم عقیده

د نوح علیه السلام په قصه کې ایاتونه دې خبري ته اشاره کوي چې نوح علیه السلام خپل قوم ته لېږدول شوی وو په داسې حال کې چې دده قوم مشرکان او بت پرستان وو، دغه بتان یې په خدایانو نیولي وه، عقیده یې درلوده چې دغه بتان لیدل کولای شي، اورېدل کولای شي، موږ ته خیر راجلبولای شي او شر زموږ څخه گرځولای شي یعني د خیر او شر توانایي لري، همدا ډول دوی عقیده درلوده چې که موږ و دغو بتانو ته عبادت کوو نو د الله جل جلاله عبادت ته اړتیا نشته. د نوح علیه السلام قوم لومړي خلگ وه چې بت پرستي یې پیل کړه او د الله جل جلاله سره یې بتان شریکان ونیول .

دا چې د نوح علیه السلام تر قوم وړاندې ټول خلگ مسلمانان وه هیڅا شرک نه کاوه هغه ایت پر دلیل چې د الله جل جلاله د نبیانو دبعثت په اړه نازل کړی دی او فرمایي:[كَانَ النَّاسُ أُمَّةً وَاحِدَةً فَبَعَثَ اللَّهُ النَّبِيِّينَ

مُبَشِّرِينَ وَمُنْذِرِينَ وَأَنْزَلَ مَعَهُمُ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ لِيَحْكُمَ بَيْنَ النَّاسِ فِيمَا اخْتَلَفُوا فِيهِ وَمَا اخْتَلَفَ فِيهِ إِلَّا الَّذِينَ أُوتُوهُ مِنْ بَعْدِ مَا جَاءَتْهُمُ الْبَيِّنَاتُ بَغْيًا بَيْنَهُمْ فَهَدَى اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا لِمَا اخْتَلَفُوا فِيهِ مِنَ الْحَقِّ بِإِذْنِهِ وَاللَّهُ يَهْدِي مَنْ يَشَاءُ إِلَى صِرَاطٍ مُسْتَقِيمٍ ][1]

ژباړه: خلګ یوه ډله وه بیا الله جل جلاله انبیاء علیهم السلام پکې ولېږل چې (په جنت سره) زېری ورکونکي وو او(د دوزخ څخه د خلګو) بېرونکي وه او الله جل جلاله د دوی سره یو ریښتنی کتاب را ولېږه څو د دوی د خپل منځیو اختلافونو په منځ کې پرېکړه وکړي، په دې کې یوازې هغو خلګو اختلاف وکړ، چې کتاب ورکړل شوی وو (یهود او نصاریٰ) وروسته تر دې چې دوی ته ښنبې څرګندې شوې د خپل منځي حسد له جهته، الله جل جلاله په اراده خپله سره هغه کسانو ته لار وښوده چې ایمان یې راوړی د هغه حق په اړه چې دوی اختلاف پکې کاوه، الله جل جلاله و هغه کسانو ته د سیده لارې هدایت کوي چې خوښه یې شي.

د دغه ایت په ارتباط د عبدالله بن عباس رضی الله تعالی عنه څخه روایت دي[2]، چې فرمايي: د آدم علیه السلام او نوح علیه السلام تر منځ دوې پېړۍ (دغه پیړۍ په ۱۰۰۰ کلونو تعبیر شوې) زمانه وه په دغه ټول زمانه کې ټول خلګ د حق دین تابع او ټول مسلمانان وه وروسته تر دې په دوی کې اختلاف پېښ شو الله جل جلاله د دوی د تنذیر او تبشیر لپاره نبیان ولېږل څو دوی د حق لوري ته دعوت کړي. په دې اړه ابن عباس رضی الله تعالی عنه فرمايي: د عبدالله په قرائت کې داسې دي: (کان الناس امة واحدة فاختلفوا) او د حضرت قتادة رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی، چې فرمايي: ټول خلګ د هدایت پابند وو وروسته په دوی کې اختلاف پیدا شو نو ځکه الله جل جلاله وېرونکي او زېري ورکونکي رسولان په دوی کې ولېږل چې لومړی رسول یې نوح علیه السلام ؤ.

**دوهم مطلب: د نوح علیه السلام بعثت**

کوم کسان چې تر نوح علیه السلام وړاندې وه د فطرتي دین پیروان ول، د یوه خدای جل جلاله عبادت یې کاوه، د الله جل جلاله سره یې هیڅوک شریک نه نیو آن تر دې چې بیخې یې بت نه پېژنده، ټول مؤمنان وو او د الله جل جلاله په وحدانیت باندې یې اقرار کاوه. له همدې امله الله جل جلاله حضرت نوح علیه السلام د ده د قوم د وېرولو لپاره ولېږل شو ځکه چې دوی شرک پیل کړ او دغه قوم په ګمراهۍ، عناد او سرکښۍ کې بیخي تر حد تېر شوي وه.

---

۱ سورت البقره: ۲۱۳ آیت

۲ السیوطی، عبدالرحمن بن ابوبکر، (۱۴۰۳)، الدر المنثور فی التفسیر الماثور، بیروت: دار الفکر، ج ۲، ص ۴۹۶

لکه چې الله جل جلاله فرمايي: [قَالَ رَبِّ إِنِّي دَعَوْتُ قَوْمِي لَيْلاً وَنَهَارًا (٥) فَلَمْ يَزِدْهُمْ دُعَائِي إِلَّا فِرَارًا (٦) وَإِنِّي كُلَّمَا دَعَوْتُهُمْ لِتَغْفِرَ لَهُمْ جَعَلُوا أَصَابِعَهُمْ فِي آذَانِهِمْ وَاسْتَغْشَوْا ثِيَابَهُمْ وَأَصَرُّوا وَاسْتَكْبَرُوا اسْتِكْبَارًا (٧) ثُمَّ إِنِّي دَعَوْتُهُمْ جِهَارًا (٨) ثُمَّ إِنِّي أَعْلَنْتُ لَهُمْ وَأَسْرَرْتُ لَهُمْ إِسْرَارًا][١]

ژباړه: نوح علیه السلام وويل: اې زما ربه! زه خپل قوم سهار او ماښام دعوتوم زما دعوت يوازې د دوی تېښته زياتوي (د حق څخه لیري کيږي) بېشکه کله چې زه دوی ته د عوت ورکوم چې ته مغفرت ورته وکړې دوی خپلې ګوتې په غوږو کې ونيسي، خپلې جامې وپېچي، پر کفر باندې ټينګ شي او پوره کبر وکړي، بيا زه دوی ته دعوت د حق لوري ته ورکړم په لوړ اواز سره، بيا زه دوی ته دعوت په ښکاره او پوره پټ دواړو ډولو سره ورکړم.

نو ځکه الله جل جلاله د دوی د بېرولو او تخويف لپاره حضرت نوح عليه السلام مبعوث کړل لکه الله جل جلاله چې فرمايي: [إِنَّا أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَى قَوْمِهِ أَنْ أَنْذِرْ قَوْمَكَ مِنْ قَبْلِ أَنْ يَأْتِيَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ][٢]

ژباړه: بېشکه موږ نوح علیه السلام و خپل قوم ته ددې لپاره لیږلی وو چې خپل قوم وبېروي مخکې تر دې چې سخت عذاب ورته راسي.

په بل ځای کې فرمايي: [لَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَى قَوْمِهِ فَقَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُمْ مِنْ إِلَهٍ غَيْرُهُ إِنِّي أَخَافُ عَلَيْكُمْ عَذَابَ يَوْمٍ عَظِيمٍ][٣]

ژباړه: بېشکه موږ نوح علیه السلام و خپل قوم ته ولیږه نو ده خپل قوم ته وويل: اې زما قومه! تاسو د يوه الله جل جلاله عبادت وکړي ستاسو لپاره د الله جل جلاله پرته بل خدای نشته، زه پرتاسو بېرېږم د لوی ورځې د عذاب څخه.

**درېيم مطلب: د بت پرستۍ لامل**

مخکې مو وويل چې د نوح علیه السلام قوم لومړي کسان وه چې بت پرستي يې پيل کړه تر دوی وړاندې ټول خلګ مؤمنان وه او ديوه الله جل جلاله عبادت يې کاوه آن تر دې چې بيخي يې بت پرستي نه پېژندل.

دا چې د نوح علیه السلام قوم بت پرسته شو دليل يې لاندنی آيت دی چې الله جل جلاله فرمايي:[قَالَ نُوحٌ رَبِّ إِنَّهُمْ عَصَوْنِي وَاتَّبَعُوا مَنْ لَمْ يَزِدْهُ مَالُهُ وَوَلَدُهُ إِلَّا خَسَارًا (٢١) وَمَكَرُوا مَكْرًا كُبَّارًا (٢٢) وَقَالُوا لَا تَذَرُنَّ آلِهَتَكُمْ وَلَا تَذَرُنَّ وَدًّا وَلَا سُوَاعًا وَلَا يَغُوثَ وَيَعُوقَ وَنَسْرًا (٢٣) وَقَدْ أَضَلُّوا كَثِيرًا وَلَا تَزِدِ الظَّالِمِينَ إِلَّا ضَلَالًا][٤]

---

١ سورت نوح : ٥-٩ آيتونه

٢ سورت نوح: ١ آيت

٣ سورت الاعراف: ٥٩ آيت

٤ سورت نوح: ٢١-٢٤ آيتونه

ژباړه: نوح علیه السلام وویل: اې زما ربه! دوی زما نافرماني کوي د هغه چا تابعداري کوي چې نه د دوی په مال کې زیادت راوستلای شي او نه یې په اولاد کې راوستلای شي مګر تاوان. دوی چل کوي په لوی چل کولو سره، دوی وایي: تاسو خپل خدایان مه پرېږدئ، تاسو ود، سواع، یغوث، یعوق او نسر بتان مه پرېږدئ، بېشکه ډېر یې ګمراهان کړه، ظالمانو ته هیڅ نه زیاتیږي پرته د ګمراهۍ څخه.

دوی دغه بتان د نېکو خلګو او مقربو ملائکو په نومونو سره نومولي وه دوی داسې فکر کړی وو چې د دغو سپېڅلو خلګو او ملائکو کارونه چې د دوی په زړونو کې پاته شي د دې لپاره به د دغو سپېڅلو خلګو مجسمې جوړوي، دغه مجسمو ته به ګوري نو به دوی هم سپېڅلي کارونه کوي خو بدبختانه دغه کړنه د وخت په تېرېدو سره په شرک بدله شوه هغه دا چې آخر به دوی دغه مجسمو ته سجدې کولې او په خدایانو سره یې نیولي ول.

د ادام – علیه السلام – له وفات وروسته د نوح – علیه السلام تر بعثت پورې دغه دوره هم په ایمان او هم په فساد موجود کسان لرل د هغه ایمان لرونکو له جملې پنځه نفره ډېره غوره، با ایمانه او په خدای باور لرونکی کسان ول چې هغه له «ود، یغوث، یعوق، سواع او نسر څخه عبارت وو، دغو پنځو نفرو د بیلو بېلو خاصو قومونو مشري په غاړه لرله په دغو پنځو کې ود تر ټول مشر او د زیات احترام او قدر وړ پاک او صالح انسان و، پس کله چې وفات شو نو په قومونو کې غم او خفګان شروع شو، خلک به شپه ورځ د هغه قبر ته چې د بابل شاوخوا وو راتلل او هغه به یې ناستې کولې او په غم به یې ژړل، شیطان بیا موقع مناسبه ولیده ځان یې د انسان په شکل کړ او دوی ته یې وویل زه ستاسو په غم غمجن یم او غواړم تاسو له دې غمه خلاص کړم که موافق یاست نو د هغه مجسمه به درته جوړه کړم هغوی وویل هو موافق یو. بس په همدغه ځای کې شیطان د ود مجسمه جوړه او شپه او ورځ یې په عبادت خلک مشغول شول. شیطان په همدې یوه بت بسنه ونه کړه بیا یې خلکو ته وویل تاسو له لیرې لیرې ځایونو همدلته راځې زه به درته په خپله خپله سیمه کې د ود مجسمه جوړه کړم خلک په خوښي راضي شول، خلک نه یوازې په دې نه پوهیدل چې دا کار ګناه لري بلکې دا یې غوره او نیک کاره باله.[1]

دغه شرایط او د بت پرستي لومړی پیل و، او لومړی ځل وو چې شیطان خلکو ته د بت پرستي او شرک لاره وښودله له دې سره الله جل جلاله پیغمبران راولېږل تر څو خلکو ته د دوزخ او جنت زیري ورکړي او لومړی پیغمبر چې دغه لوی رسالت ور وسپارل شو هغه نو نوح – علیه السلام وو.[2]

له پورتنیو روایاتو او کیسو څخه دې نتیجې ته رسیږو چې د نوح – علیه السلام د بعثت ځای شام اوسنۍ

---

۱ تفسیر ابن کثیر د ابن عباس په قول ج ۴، ص ۴۲۶

۲ طبري تاریخ، ج ۱، ص ۱۷۸

سوریه او د هغې شاوخوا سیمې وې، لکه څرنګه چې پورته یادونه وشوه د ود د بت ځای بابل ښار شاوخوا و او د نوح – علیه السلام کیشتۍ وروسته له طوفانه د موصل ښار په جودي غره ودرېدله.

**درېیم مبحث: له قوم سره مناقشې**

کله چې نوح علیه السلام د خپل قوم منځ ته راغی او دوی یې د الله جل جلاله لور ته راوبلل قوم یې پرې را تېول شو او هغه له سختو وهلو او ټکولو وروسته په یوه بوریا کې واچاوو چې ژر به مړ شي خو الله جل جلاله هغه بیا په ښه صورت سره دوی ته راوست. تر ډیره به یې ورته د هدایت غوښتلو دعاوې کولې او تل به یې داسې ویل: یا الله جل جلاله زما قوم ته هدآیت وکړې زما قوم نه پوهیږي[1]. خو کله چې یې هیله پوره کیدو ته ونه رسیده او پوه شو چې قوم یې ایمان نه راوړي نو یې الله جل جلاله ته دعا وکړه.

«وَلَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِۦ فَلَبِثَ فِيهِمْ أَلْفَ سَنَةٍ إِلَّا خَمْسِينَ عَامًا فَأَخَذَهُمُ الطُّوفَانُ وَهُمْ ظَٰلِمُونَ فَأَنجَيْنَٰهُ وَأَصْحَٰبَ السَّفِينَةِ وَجَعَلْنَٰهَآ ءَايَةً لِّلْعَٰلَمِينَ»[2]

ژباړه: موږ نوح علیه السلام د هغه قوم ته ولیږه او هغه پنځوس کم یو زر (۹۵۰) کاله د هغو په منځ کښې واوسېدی. په پای کښې هغه خلك طوفان ونیول، پداسې حال کې چې هغوی ظالمان ول.بیا نوح علیه السلام او د کښتۍ خلك موږ وژغورل او هغه مو د نړیوالو لپاره د عبرت یوه نښانه وګرځوله.

حضرت نوح علیه السلام به ورته د دین بلنه ورکوله او دوی به ترې تښتېدل، پټېدل او مخونه به یې ترې اړول.

اخر نوح علیه السلام الله تعالی ته سوال وکړ چې «ای الله ته خو عالم او خبردار یې په هر څه باندې. ما خو دوی ته ډېره زیاته بلنه ورکړه، ددې لپاره چې دوی په سمه لاره لاړ شي او د بدې لارې څخه را واوړي، خو دوی له ماسره ډېر زیاتی کوي، ستا په حق کې نالایقه خبره کوي او هره ورځ را سره ظلم کوي او ځما نه د ظلم لاس نه اخلي.»[3]

یوه ورځ چې کله ده مبارک خپل قوم ته بلنه ور کړه، دوی راغلل مبارک یې دومره وواهه چې جامې یې په وینو ورته رنګ کړې. د نوح علیه السلام ښځه چې هغه هم کافره وه، دوی ته وویل چې ای قومه مه یې وهۍ، دی خو لېونی دی،[4] دا چې هر څه وایې دا د خپل لېونتوب نه وایې او دی خو په څه نه پوهېږي. اخر

---

۱ تاریخ طبري، ج ۱، ص ۱۷٦

۲ سُورَةُ العَنكبوت: --۱۴-۱۵ ایتونه

۳ نبوت او د انبیاوو تاریخ، د محمد علي الصابوني اثر د عبدالهادي حماد ژباړه، ص ۲۳۲

٤ نبوت او د انبیاو تاریخ، ص ۲۳۳- ۲۳۴ ٤

نوح – عليه السلام – مجبور شو او ويې ويل: [«وَقَالَ نُوحٌ رَّبِّ لَا تَذَرْ عَلَى الْأَرْضِ مِنَ الْكٰفِرِينَ دَيَّارًا، إِنَّكَ إِن تَذَرْهُمْ يُضِلُّوا عِبَادَكَ وَلَا يَلِدُوٓا إِلَّا فَاجِرًا كَفَّارًا»[1]

ژباړه: او نوح وويل: "زما ربه! له دغو کافرانو څخه هيڅ يو د ځمکې پر مخ استوګن مه پرېږده که تا دوی پرېښودل، نو ستا بندګان به ګمراه کړي او د دوی له ځوځات څخه چې هر څوك پيدا شي بدعمله او سخت کافر به وي.

**لومړی مطلب: هغه تهمتونه چې پر نوح عليه السلام باندې به يې لګول**

لومړی: نوح عليه السلام به يې په ګمراهۍ او بې عقلۍ سره تورناوه لکه الله جل جلاله چې فرمايي:[قَالَ الْمَلَأُ مِنْ قَوْمِهِ إِنَّا لَنَرَاكَ فِي ضَلَالٍ مُبِينٍ (٦٠) قَالَ يَا قَوْمِ لَيْسَ بِي ضَلَالَةٌ وَلَكِنِّي رَسُولٌ مِنْ رَبِّ الْعَالَمِينَ (٦١) أُبَلِّغُكُمْ رِسَالَاتِ رَبِّي وَأَنْصَحُ لَكُمْ وَأَعْلَمُ مِنَ اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ [2]

ژباړه: يوې ډلې د نوح عليه السلام د قوم څخه وويل: بېشکه موږ تا په څرګنده ګمراهي کې وينو، نوح عليه السلام وويل: اې زما قومه! په ماسره ګمراهي نشته مګر زه د عالمونو د پالونکي رسول يم، تاسو ته الهي احکام رسوم او زه تاسو ته نصيحت کوم او زه په هغه څه د الله جل جلاله د لوري څخه پوهېږم چې تاسو نه پوهېږئ.

دوهم: دا چې په ليوني سره يې متهم کړ لکه الله جل جلاله چې يې حکايت کړی دی:[كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ فَكَذَّبُوا عَبْدَنَا وَقَالُوا مَجْنُونٌ وَازْدُجِرَ ][3]

ژباړه: تر دوی وړاندې د نوح عليه السلام قوم تکذيب وکړ، نو دوی زموږ بنده (نوح عليه السلام) درواغجن وباله يا يې خبرې جوړونکی وباله.

په بل ځای کې الله جل جلاله د دوی د خولې وينا بيانوي:[إِنْ هُوَ إِلَّا رَجُلٌ بِهِ جِنَّةٌ فَتَرَبَّصُوا بِهِ حَتَّى حِينٍ ][4]

ژباړه: دغه نوح عليه السلام نه دی مګر داسې څوک دی چې ليونتوب ورته پېښ شوی دی تاسو تر يو وخته پورې انتظار ورته وکړئ.

دريم: دا چې نوح عليه السلام يې په زياته جګړه کولو، پر الله جل جلاله باندې په افتراء کولو باندې تورن کړ، لکه چې الله جل جلاله يې بيان کوي:[قَالُوا يَا نُوحُ قَدْ جَادَلْتَنَا فَأَكْثَرْتَ جِدَالَنَا فَأْتِنَا بِمَا تَعِدُنَا إِنْ كُنْتَ مِنَ الصَّادِقِينَ][5]

---

١ سورة نوح ٢٦-٢٧ ايتونه

٢ سورت الاعراف: ٦٠-٦٢ آيتونه

٣ سورت القمر: ٩ آيت

٤ سورت المؤمنون: ٢٥ آيت

٥ سورت هود: ٣٢ آيت

ژباړه: دوی وویل: اې نوحه! تا زموږ سره مجادله وکړه ډېره مجادله دې وکړه اوس موږ ته په هغه عذاب سره راتلل وکړه چې تا زموږ سره وعده کړې ده، که ته رښتینی یې.

څلورم: دا چې نوح علیه السلام یې په سنګسارولو باندې تهدید کړ، لکه چې الله جل جلاله یې بیان کوي:[قَالُوا لَئِنْ لَمْ تَنْتَهِ يَا نُوحُ لَتَكُونَنَّ مِنَ الْمَرْجُومِينَ][1]

ژباړه: د نوح علیه السلام قوم وویل: اې نوحه! که ته منعه نشې نو د سنګسار شوو خلګو څخه به شې.

پنځم: دا چې پر ده به یې مسخرې کولې او پسخندونه به یې په وهل لکه چې الله جل جلاله یې بیان کوي:[وَيَصْنَعُ الْفُلْكَ وَكُلَّمَا مَرَّ عَلَيْهِ مَلَأٌ مِنْ قَوْمِهِ سَخِرُوا مِنْهُ قَالَ إِنْ تَسْخَرُوا مِنَّا فَإِنَّا نَسْخَرُ مِنْكُمْ كَمَا تَسْخَرُونَ][2]

ژباړه: نوح علیه السلام کښتۍ جوړوله، کله چې به دده د قوم څخه یوه ډله تېرېدل نو پرده باندې به یې مسخرې کولې، نوح علیه السلام وویل: که تاسو مسخرې کوي نوموږ ښایي مسخرې وکړو لکه تاسې چې یې کوي.

**دوهم مطلب: د نوح علیه السلام کښتۍ جوړونه او د طوفان راتګ**

کله چې نوح علیه السلام تر دې اوږدې مودې وخت تېرېدو وروسته د خپل قوم د ایمان راوړلو څخه ناهیلی شو، الله جل جلاله وحي ورته وکړه چې د دغه کوچنۍ ډلې پرته د نورو کسانو د ایمان راوړلو هیله مه کوه یعني نور کسان ایمان نه راوړې لکه چې الله جل جلاله فرمایي: [وَأُوحِيَ إِلَى نُوحٍ أَنَّهُ لَنْ يُؤْمِنَ مِنْ قَوْمِكَ إِلَّا مَنْ قَدْ آمَنَ فَلَا تَبْتَئِسْ بِمَا كَانُوا يَفْعَلُونَ][3]

ژباړه: و نوح علیه السلام ته وحي وشوې چې بېشکه ستا د قوم څخه بل څوک ایمان نه راوړي مګر هغه څوک چې ایمان یې راوړی دی نو ته په هغه څه باندې مه غمګینه کېږه چې دوی یې کوي.

همدا وخت وو چې نوح علیه السلام د خپل خدای جل جلاله څخه وغوښتل چې دده قوم هلاک او تباه کړي. الله جل جلاله دده دعا قبوله کړه او الله جل جلاله وحي ورته وکړې چې ډېر ژر به ستا قوم د طوفان په وسیله هلاک شي، د دوی څخه به یو هم پاته نه شي. الله جل جلاله نوح علیه السلام ته امر وکړ، چې یوه کښتۍ جوړه کړي څو دی او دده سره ملګري مسلمانان پکې سپاره شي. نوح علیه السلام په کښتۍ جوړولو نه پوهېدی او نه د بل چا زده وه نو ځکه الله جل جلاله د کښتۍ صنعت ده ته د وحي په ذریعه وروښود لکه چې الله جل جلاله فرمایي:[وَاصْنَعِ الْفُلْكَ بِأَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا وَلَا تُخَاطِبْنِي فِي الَّذِينَ ظَلَمُوا إِنَّهُمْ مُغْرَقُونَ][4]

---

١ سورت الشعراء: ١١٦ آیت

٢ سورت هود: ٣٨ آیت

٣ سورت هود: ٣٦ آیت

٤ سورت هود: ٣٧ آیت

ژباړه: زموږ په حضور کې کښتۍ جوړه کړه او زموږ په وحي سره يې جوړه کړه (بيا الله جل جلاله ورته وفرمايل) ته د هغه چا په اړه ماته خبري مه کوه چې ظلم يې کړی وي بېشکه دوی غرقيږي.
الله جل جلاله نوح عليه السلام ته امر وکړ، چې د خپل قوم څخه د عذاب د پورته کېدو لپاره رجوع ونه کړې ځکه پر مجرمانو چې کله عذاب راشي بيا نه پورته کيږي. کېدای شي چې نوح عليه السلام کله الهي عذاب مشاهده کړي چې دده پر قوم باندي به راشي، دده په زړه کې به نرمي پيدا شي او د الله جل جلاله څخه به وغواړي چې د ده قوم خلاص کړي ځکه اوريدلي داسي نه وي لکه ليدلي.
نوح عليه السلام د الهي امر سره سم د الهي وحي په ښودنه په کښتۍ جوړولو پيل وکړ. دده قوم چې دی وليد چې کښتۍ جوړوي نو په ده باندي يې پسخندونه وهل او مسخرې کول شروع کړه، ده ته به يې ويل: اې نوحه! ته تر پرون پوري پيغمبر وې نن بيا نجار شوې[1]. دده د قوم ټول خلګ راټول شوه پرده باندې به يې خندل خو دی په خپل کار په جدي ډول بوخت وو دوی ته به يې ويل :که تاسو مسخرې کوي نو تاسو ته به د مسخرو سزا درکول شي، ډېر ژر به تاسو پوه شئ چې پر چا باندي عذاب راځي او څوک د تل لپاره په عذاب باندي اخته کيږي.
کله چې نوح عليه السلام د کښتۍ جوړولو څخه فارغه شو نو الله جل جلاله امر ورته وکړ، چې خپله کورنۍ، مؤمنان او د حيوانانو څخه يوه جوړه يعني يو نر او يوه ښځه په کښتۍ کې سپاره کړي. په همدې اساس الله جل جلاله نوح عليه السلام ته امر وکړ، چې دټولو حيوانانو څخه هر ډول چې وي يعني که يې غوښي خوړل کيږي او که يې غوښي نه خوړل کيږي په کښتۍ کې سپاره کړي څو نسل يې پاته سي. بيا الله جل جلاله نوح عليه السلام ته د طوفان دراتګ لپاره يو ه نښه ورښودل هغه داچې کله دغه تنور اوبه وکړې نو طوفان راتلونکی دی. لکه چې الله جل جلاله فرمايي: [حَتَّى إِذَا جَاء أَمْرُنَا وَفَارَ التَّنُّورُ قُلْنَا احْمِلْ فِيهَا مِن كُلٍّ زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ وَأَهْلَكَ إِلاَّ مَن سَبَقَ عَلَيْهِ الْقَوْلُ وَمَنْ آمَنَ وَمَا آمَنَ مَعَهُ إِلاَّ قَلِيلٌ ٤٠ وَقَالَ ارْكَبُواْ فِيهَا بِسْمِ اللّهِ مَجْرَاهَا وَمُرْسَاهَا إِنَّ رَبِّي لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ][2]
ژباړه: او تر دې پورې چې کله زموږ حکم راغی او هغه تنور راوخوټېده (کوم چې د معجزې په توګه هغه ته ښودل شوی وو) نو موږ (نوح ته) وويل: د هر ډول ځناورو يوه يوه جوړه په بيړۍ کې واچوه، خپله کورنۍ هم پرته له هغو کسانو چې مخکې د هغو په باب وينا (د ډوبېدو حکم) شوی دی او هغه کسان هم کښېنوه چې ايمان يې راوړی دی او لږ غوندې خلک ول چې له نوح سره يې ايمان راوړی و. نوح عليه

---

[1] البحر المحيط: ج ٦، ص ١٥٠
[2] سورت هود: ۴۰-۴۱ آيتونه

السلام وویل: سپاره شئ په دې (بېړۍ) کې د الله په نوم سره هم ددې روانېدل دي او هم ددې درېدل، زما رب ډېر بښونکي او رحم کوونکی دی.
دغه نښانه ددې څخه عبارت وه چې کله د مځکې پر سطحه باندې اوبه راپورته سوې نو دغه وخت د کښتۍ سپرېدو دی غرقونکی طوفان راتلونکی دی[1]، ټول ظالمان به هلاکېږي يوازې به هغه کسان پاتيږي چې په کښتۍ کې سپاره شي نور به ټول هلاکيږي. کله چې د هغه نښانه ښکاره شوه کومه چې الله جل جلاله ورته ښودلې وه نوح عليه السلام د خپلو ملګرو سره يو ځای کښتۍ ته وخوت دستي باران شروع شو داسې باران وو چې تر اوسه په مځکه کې داسې باران نه وو اورېدلی نه به واوريږي. الله جل جلاله مځکې ته امر وکړ، څو هر چيري چې د مځکې په کنارو کې اوبه دي هغه ټولې راوباسي. داسې اوبه پر مځکه راغلې لکه د ژې خوله چې ايله کړې او يو مخ اوبه را رواني وي. الله جل جلاله يې داسې بيان کړی دی:[فَدَعَا رَبَّهُ أَنِّي مَغْلُوبٌ فَانْتَصِرْ (١٠) فَفَتَحْنَا أَبْوَابَ السَّمَاءِ بِمَاءٍ مُنْهَمِرٍ (١١) وَفَجَّرْنَا الْأَرْضَ عُيُونًا فَالْتَقَى الْمَاءُ عَلَى أَمْرٍ قَدْ قُدِرَ (١٢) وَحَمَلْنَاهُ عَلَى ذَاتِ أَلْوَاحٍ وَدُسُرٍ (١٣) تَجْرِي بِأَعْيُنِنَا جَزَاءً لِمَنْ كَانَ كُفِرَ][2]
ژباړه: خپل رب ته يې دعا وکړه چې زه مغلوبه يم زما انتقام را واخله نو موږ د اسمان دروازې خلاصې کړې په ډېرو اوبو تويېدلو سره د مځکې ټولې چينې مو راوبهيولې د هر لوري څخه اوبه راغلې د داسې کار په وجه چې مقدر وو موږ دی په کښتۍ کې سپور کړ، چې د تختو او ميخو لرونکې وه دغه کښتۍ زموږ په حضو رکې چلېده او سزا د هغه کسانو لپاره چې کفر يې کړی وو.
دغه طوفان ټولو لوړو او ژورو ته ورسېده يعني ټوله مځکې ته لوړه سيمه وه که کښته وه، لاندې او باندې ټول ځايونه اوبو ونيول هيڅ داسې ځای پاته نشو چې اوبه نه وي ورسېدلې. هر ژوندی شی اوبو لاندې کړ، او په هلاکت يې ورساوه . يوازې هغه کسان او حيوانان پاته شوو چې په کښتۍ کې سپاره وه له همدې امله نوح عليه السلام ته دوهم پلار ويل کيږي ځکه د مځکې د مخ ټول خلګ هلاک سوه يوازې هغه کسان نه دي هلاک شوي چې د نوح عليه السلام سره په کښتۍ کې سپاره ول. د مځکې پر مخ کې چې کوم انسانان شته ټول د هغه کسانو اولادونه دي چې د نوح عليه السلام سره په کښتۍ کې سپاره ول آن تر دې چې د نوح عليه السلام زوی چې ايمان يې نه وو راوړی د پلار سره په کښتۍ کې سپور نه شو هغه هم هلاک شو لکه چې الله جل جلاله فرمايي:[وَهِيَ تَجْرِي بِهِمْ فِي مَوْجٍ كَالْجِبَالِ وَنَادَى نُوحٌ ابْنَهُ وَكَانَ فِي مَعْزِلٍ يَا بُنَيَّ ارْكَبْ مَعَنَا وَلَا تَكُنْ مَعَ الْكَافِرِينَ (٤٢) قَالَ سَآوِي إِلَى جَبَلٍ يَعْصِمُنِي مِنَ الْمَاءِ قَالَ لَا عَاصِمَ الْيَوْمَ مِنْ أَمْرِ اللَّهِ إِلَّا مَنْ

١ تفسير الطبري، ج ١٢، ص ٤٠
٢ سورت القمر: ١٠-١٤ آيتونه

رَحِمَ وَحَالَ بَيْنَهُمَا الْمَوْجُ فَكَانَ مِنَ الْمُغْرَقِينَ (۴۳) وَقِيلَ يَا أَرْضُ ابْلَعِي مَاءَكِ وَيَا سَمَاءُ أَقْلِعِي وَغِيضَ الْمَاءُ وَقُضِيَ الْأَمْرُ وَاسْتَوَتْ عَلَى الْجُودِيِّ وَقِيلَ بُعْدًا لِلْقَوْمِ الظَّالِمِينَ ][1]

ژباړه: دغه کښتۍ خپل سپاره خلگ ببول په داسې څپو کې چې لکه غرونه داسې وې، نوح علیه السلام خپل زوی ته اواز وکړ، چې په یوه کناره کې وو راشه زموږ سره سپور شه د کافرانو له ډلې څخه مه جوړېږه. زوی یې ورته وویل: زه به غره ته پناه یوسم چې د اوبو څخه وساتل شم. پلار ورته وویل: نن ورځ پرته د هغه چا څخه چې الله جل جلاله رحم باندې کوي د بل چا خلاصون نشته او یوه څپه د دوی په منځ کې واقع شوه د نوح علیه السلام زوی غرق شو. مځکې ته وویل سوه: اې مځکې! اوبه راوباسه، اې اسمانه! اوبه راتوی کړه. اوبه کمې شوې هغه کار پای ته ورسېدئ چې فیصله یې شوې وه، او کښتۍ پر جودي غره باندې ودرېده. هلاکت دې وي ظالم قوم لره.

**درېیم مطلب: د طوفان پای**

وروسته تر دې چې د مځکې د مخ اوسېدونکي ټول غرق شول، ټول کافران هلاک شوو الله جل جلاله اسمان ته امر وکړ، چې باران ودروي، مځکې ته یې امر وکړ، چې خپلې اوبه دننه کړي. الله جل جلاله فرمان صادر کړ، څو په مځکه کې ببرته هغسې ژوند پیل شي څنگه چې مخکې وو د الله جل جلاله لاندنی قول هم دې خبرې ته اشاره ده چې فرمايي: [وَقِيلَ يَا أَرْضُ ابْلَعِي مَاءَكِ وَيَا سَمَاءُ أَقْلِعِي وَغِيضَ الْمَاءُ وَقُضِيَ الْأَمْرُ وَاسْتَوَتْ عَلَى الْجُودِيِّ وَقِيلَ بُعْدًا لِلْقَوْمِ الظَّالِمِينَ][2]

ژباړه: مځکې ته وویل شو: اې مځکې! اوبه راوباسه، اې اسمانه! اوبه راتوی کړه. اوبه کمې شوې هغه کار پای ته ورسېدی چې فیصله یې شوې وه، کښتۍ پر جودي غره باندي ودرېده او وویل شوه هلاکت دی ظالم قوم لره.

**څلورم مطلب: د کښتۍ څخه را کښته کېدنه**

کله چې کښتۍ پر جودي[3] غره باندې لنگر واچاوه الله جل جلاله نوح علیه السلام او دده ملگرو ته امر وکړ، چې په سلامتیا او امن سره د کښتۍ څخه راکښته شئ لکه الله جل جلاله چې فرمايي:[قِيلَ يَا نُوحُ اهْبِطْ بِسَلَامٍ مِنَّا وَبَرَكَاتٍ عَلَيْكَ وَعَلَى أُمَمٍ مِمَّنْ مَعَكَ ][4]

۱ سورت هودد: ۴۲- ۴۴ آیتونه

۲ سورت هود: ۴۴ آیت

۳ د عراق په موصل ښار کې د یوه غره نوم دی؛ اوس هم په دې نوم یادېږي په google earth کې هم ثبت دی او معلومېږي

٤ سورت هود: ۴۸ آیت

ژباړه: وویل شول اې نوحه! کښته شه د هغه سلامتیا او برکتو سره چې زموږ د لوري څخه دي او پر هغه امتونو باندې چې ستا سره دي.

کله چې دوی راکښته کېده د عاشوراء ورځ وه یعني د محرم د میاشتې لسمه نېټه وه[1]، نوح علیه السلام د شکر په موخه په دغه ورځ روژه ونیول او خپلو ملګرو ته یې هم د روژې نیولو امر وکړ، له همدغې ورځې څخه بني اسرائیلو ته ددغه ورځې روژه نیول په میراث پاته سوي دي کله چې اسلام راغلی همدغه روژه پر خپل ځای پاته سوه ځکه کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مدینې منورې ته تشریف راوړی یهودو د عاشورا په ورځ روژه نیول رسول الله صلی الله علیه وسلم پوښتنه ځیني وکړه چې تاسو ولې په دې ورځ روژه نیسئ؟ دوی په جواب کې ورته وویل: دا نېکه ورځ ده په دې ورځ باندې الله جل جلاله بني اسرائیلو ته د دښمن څخه نجات ورکړی دی، موسی علیه السلام په دې ورځ روژه نیول رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: زه ستاسو په نسبت تر موسی علیه السلام وړ یم. رسول الله صلی الله علیه وسلم له همدې امله په دې ورځ روژه نیول او په دې ورځ باندې روژه نیول رواج شوه.

د ترمذي په یوه روایت کې راغلي دي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: زه الله جل جلاله ته امید لرم چې ددغه ورځې روژه به د یوه کال دګناهونو لپاره کفاره ش[2]ي.

## څلورم مبحث: کتاب او معجزې

### لومړی مطلب: کتاب؛ صُحُف

نوح علیه السلام لومړنی رسول دی چې د ځمکې خلکو ته رالیږل شوی تر څو د هغه وخت د ځمکې اوسیدونکي یا خپل قوم له الهي عذاب څخه وبېروي[3]. لکه چې الله علیه السلام فرمایي:[«إِنَّآ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِۦٓ أَنْ أَنذِرْ قَوْمَكَ مِن قَبْلِ أَن يَأْتِيَهُمْ عَذَابٌ أَلِيمٌ»[4]
ژباړه: موږ نوح علیه السلام د هغه قوم ته (له دې هدایت سره) ولېږه چې د خپل قوم وګړو ته دې اخطار ورکړه مخکې له هغه چې یو درد ناك عذاب ور باندې راشي.
نوح علیه السلام لومړی رسول وو چې په تبلیغ سره مامور شوی وه دلته یوه پوښتنه را پورته کیږي چې له ده وړاندې ادریس او شیث علیهم السلام هم پیغمبران وو، څنګه بیا دی لومړنی رسول بلل کیږي؟

---

۱ الدر المنثور: ج ۴، ص ۴۳۵

۲ ترمذي: ج ۱، ص ۵۱۱، [۷٤۹ - حَدَّثَنَا قُتَيبَةُ وأَحْمَدُ بنُ عَبدَةَ الضَّبِّيُّ قَالا أَخبرنَا حَمَّادُ بنُ زيدٍ عن غَيلاَنَ بنِ جَرِيرٍ عن عَبدِ الله بنِ مَعْبَدٍ الزِّمَّانيِّ عن أَبي قَتَادَةَ: - أَنَّ النَّبيَّ صَلَّى الله عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: "صِيامُ يَومِ عَاشُوراءَ إِنِّي أَحتَسبُ عَلَى الله أَنْ يُكَفِّرَ السَّنَةَ الَّتي قَبلَهُ".

۳ عزیز التفاسیر، ج ۱۲، ص ۴۵۷

٤سورت نوح: ۱ ایت

ځواب دادی چې هغوی نبیان ول او نوح علیه السلام رسول چې له نوی شریعت او نوي امر سره د خپل قوم د هدآیت په منظور ځمکې ته رالیږل شوی وو[1].

له پورتنیو خبرو علاوو، موږ په لومړی څپرکي کې دا خبره روښانه کړه چې د اولو العزم کېدو یو شرط دا ښودل شوی وو چې پیغمبر به نوی دین او نوی شریعت راوړي او کتاب به هم لري، لکه څرنګه چې نور څلور واړه اولو العزمه پیغمبران کتابونه لري او تېرلو ته واضح دي او موږ به هم په راتلونکو څلورو بحثونو کې هغه روښانه کړو اوس سوال دادی چې د نوح علیه السلام کتاب شته او کنه؟ که شته نو کوم دی؟

د پورتنۍ پوښتنې د حل لپاره موږ لاندې دلایل د علماوو په اقوالو سره وړاندې کوو:

الف: د نوح علیه السلام د شریعت او صحیفو د شتون یو دلیل د لاندې آیت شریف تفسیر ته په کتو سره مخ معلومېږي: «أَمْ لَمْ يُنَبَّأْ بِمَا فِي صُحُفِ مُوسَى ٣٦ وَإِبْرَاهِيمَ الَّذِي وَفَّى»[2]

د پورتنیو آیتونو په تفسیر کې علماء لیکي، که فرضاً څوک ووایي چې دلته ولې د موسی او ابراهیم علیه السلام په نومونو باندې صراحت شوی، چې د دوی دواړو په صحیفو کې دا خبره نازل شوې ده چې د یو کس د ګناه پیتې بل کس په اوږو نه شي اخېستی.

نو ددې خبرې ځواب دادی چې د نوح علیه السلام په شریعت کې په دنیا کې یو کس د بل کس په ګناه باندې نیول کېدی شو، خو دغه حکم د ابراهیم علیه السلام په شریعت کې منسوخ شو او د همدغه منسوخ حکم د موسی علیه السلام په تورات کې هم ادامه پیدا کړه.[3]

ب: کوم کتابونه چې ځمکې ته د بشر د لارښوونې په منظور نازل شوي دي دوه ډولونه لري، لومړی ډول ډول یې هغه دي چې نوي او تازه احکام ولري او نوی شریعت پکې راغلی وي لکه د همدغه پنځه اولو العزمه پیغمبرانو کتابونه یا صحف، دوهم یې هغه ډول دي چې نوي او تازه احکام ونه لري لکه د ادریس علیه السلام صحیفې، او یا د حضرت داود علیه السلام زبور چې دواړو یې نوي احکام نه لرل. نو له دغه دلیل څخه د نوح علیه السلام د صحیفو یو شتون معلومېدای شي.[4]

ج: په دې آیت شریف کې هم د نوح علیه السلام د شریعت او کتاب د شتون څرک معلومېږي لکه چې الله جل جلاله فرمایي:

« شَرَعَ لَكُم مِّنَ الدِّينِ مَا وَصَّى بِهِ نُوحًا وَالَّذِي أَوْحَيْنَا إِلَيْكَ وَمَا وَصَّيْنَا بِهِ إِبْرَاهِيمَ وَمُوسَى وَعِيسَى أَنْ أَقِيمُوا الدِّينَ وَلاَ تَتَفَرَّقُوا فِيهِ»[5]

---

۱تفسیر ابن کثیر، ج ۴، ص ۴۲۴
۲سورت النجم: ٣٦ او ٣٧ ایتونه
۳البحر المحیط ج ۱۰، ص ۲۳
٤پیام قرآن، ج ۷، ص ٣٦۴
۵ سورت شوریٰ: ۱۳ ایت

ژباړه: هغه ستاسې لپاره د دين هممغه کړنلاره ټاکلې ده، چې د هغې حکم يې نوح – عليه السلام ته کړی و؛ او چې اوس [اې محمده!] تا ته مو د وحيې په وسيله درلېږلی دی او د هغه حکم مو ابراهيم، موسی او عيسیٰ عليهم السلام ته کړی دی، په دې سپارښت سره چې دغه دين برقرار کړئ او ده کې تيت پرک کېږئ مه.
ج: د نوح عليه السلام د صحفو د شتون يو دليل دا هم کېدای شي، چې د ټولو انبياو دين اسلام وو، لکه څرنګه چې دې خبرې ته الله جل جلاله د قرآن کريم په سورت البقره ۲۱۳ آيت کې اشاره کړې، [کان الناس امة واحدة] يعنې ټول انسانان يو امت وو، بيا يې تر منځ اختلافات پيدا شول او د همدې اختلافاتو د له منځه وړلو لپاره هغوی ته پيغمبران راولېږل شوی او له همدې پيغمبرانو سره اسماني کتابونه ول، مطلب دا چې ټول پيغمبرانو په نيکۍ امر او له بدۍ اجتناب امر کړی دی، ټولو د الله جل جلاله د وحدانيت، په کتابونو، ملائيکو، اخرت په ورځ ايمان تشريح کړی او له شرک څخه يې بېزاري ښودلې.[1]

**دوهم مطلب: معجزې**

د حضرت نوح عليه السلام د معجزو اړوند بايد يادونه وشي چې د نوح عليه السلام ټول ژوند معجزه و، د کشتۍ جوړول او په هغې که د هر نوع حيواناتو جوړه او ورسره د خپل مسلمان قوم تر ۸۰ پورې کسان او په لوی طوفان کې ددې کشتۍ ساتنه خپله يو معجزه وه او د معجزو پيل يې له هغې خبرې نه شروع کېږي چې کله الله جل جلاله دی عليه السلام خبر کړ چې نو ستا له قوم څخه څوک ايمان نه راوړي او ته غمجن کېږه مه لکه چې فرمايي:
«وَأُوحِيَ إِلَى نُوحٍ أَنَّهُ لَن يُؤْمِنَ مِن قَوْمِكَ إِلاَّ مَن قَدْ آمَنَ فَلاَ تَبْتَئِسْ بِمَا كَانُواْ يَفْعَلُونَ»[2]
ژباړه: او موږ نوح ته وحی وکړه چې نور ستا له قوم څخه څوک ايمان نه راوړي، مګر هغه چې ايمان يې راوړی دی، نو ته مه غمجن کېږه په هغه څه چې دوی يې کوي.
رښتيا هم چې نوح عليه السلام ۹۵۰ کاله دعوت سترې کړی که څه هم نا اميده نه وو، خو الله جل جلاله ته يې داسې عرضونه پېښ کړل:
«وَقَالَ نُوحٌ رَّبِّ لاَ تَذَرْ عَلَى الأَرْضِ مِنَ الْكَافِرِينَ دَيَّارًا»[3] يعنې، او نوح وويل اې زما ربه په ځمکه باندې د کافرانو څخه يو اوسيدونکی هم ژوندی مه پرېږده (ټول هلاک کړه).
او بل ځای يې د خپل مغلوبيت په اړه وويل: [فَدَعَا رَبَّهُ أَنِّي مَغْلُوبٌ فَانتَصِرْ][4] يعنې اې زما ربه يقيناً زه مغلوم يم نو (د کفارو څخه راته) انتقام واخله.

---

۱ جبير، عبدالغفار،(۲۰۱۲)، زما مناظره له يوه عيسوي راهب سره، کندهار: صديقي خپرندويه ټولنه. ص ۱۳-۱۴
۲سورت هود: ۳۰ ايت
۳سورت نوح: ۲٦ ايت
٤سورت القمر: ۱۰ ايت

له پورتنيو خبرو وروسته الله جل جلاله نوح عليه السلام ته وحيه وکړه چې کښتۍ جوړه کړه، له دې وروسته نو د معجزې پيل دی:

«وَاصْنَعِ الْفُلْكَ بِأَعْيُنِنَا وَوَحْيِنَا وَلاَ تُخَاطِبْنِي فِي الَّذِينَ ظَلَمُواْ إِنَّهُم مُّغْرَقُونَ **٣٧** وَيَصْنَعُ الْفُلْكَ وَكُلَّمَا مَرَّ عَلَيْهِ مَلأٌ مِّن قَوْمِهِ سَخِرُواْ مِنْهُ قَالَ إِن تَسْخَرُواْ مِنَّا فَإِنَّا نَسْخَرُ مِنكُمْ كَمَا تَسْخَرُونَ»[1]

ژباړه: او زموږ په سترګو او زموږ په وحی (الهام او تعليم) سره بېړۍ جوړه کړه او په راتلونکي کې زموږ سره د هغو خلکو په هکله خبرې (سوالونه) مه کوه کومو چې ظلم اختيار کړی دی، يقيناً دوی غرق شوي دي (ډېر ژر به غرق شي)، او نوح عليه السلام بيړۍ جوړوله او هر کله به چې په ده باندې د خپل قوم يو ټولګی تېريده نو په ده باندې به يې خندل (او ټوکې ټکالې به يې ورباندې کولې خو) نوح عليه السلام به ورته ويل چې که تاسو په موږ پورې خاندئ نو يقيناً موږ په تاسو پورې خاندو لکه څرنګه چې تاسو (په موږ پورې خاندئ (خو تاسو د خندا وړ ياست او موږ نه يو)

علماء کرامو[2] ليکلي چې قوم ورپورې ځکه خندل چې په دغه وختونو کې د اوبو دومره کمبود وو چې چاته د ضرورت وړ اوبه نه پيدا کېدې حال دا چې نوح عليه السلام په اوبو کې د غرقېدو له ويرې کشتۍ جوړوله، نو ځکه به يې قوم ورته ويل چې اې نوحه تر اوسه پورې دې د نبوت دعوه کوله اوس نجار شوې او نجاري کوې او بله دا چې په وچ بيابان کې دې د بيړۍ جوړول پيل کړي، نو ددې کشتۍ انتقال اوبه ته بيخي تعجب کار دی، او همدارنګه دوی بيړۍ نه پېژندله او نوح عليه السلام لومړی سړی وو، چې د الله جل جلاله په هدآيت سره يې د بيړۍ صنعت اختراع کړ. نو مشرکانو به ترې پوښتنه کوله چې دا څه شی جوړوې نوح عليه السلام به ورته ويل چې کوټه جوړوم چې د اوبو په سر به ګرځي راګرځي.[3]

بلاخره د الله جل جلاله د عذاب او د نوح عليه السلام د معجزې وخت راورسيده، کښتۍ تياره وه او د الله جل جلاله په امر له انسانانو او حيواناتو بار شوه الله جل جلاله فرمايي:

«حَتَّى إِذَا جَاء أَمْرُنَا وَفَارَ التَّنُّورُ قُلْنَا احْمِلْ فِيهَا مِن كُلٍّ زَوْجَيْنِ اثْنَيْنِ وَأَهْلَكَ إِلاَّ مَن سَبَقَ عَلَيْهِ الْقَوْلُ وَمَنْ آمَنَ وَمَا آمَنَ مَعَهُ إِلاَّ قَلِيلٌ **٤٠** وَقَالَ ارْكَبُواْ فِيهَا بِسْمِ اللّهِ مَجْرَاهَا وَمُرْسَاهَا إِنَّ رَبِّي لَغَفُورٌ رَّحِيمٌ»[4]

ژباړه: ترې دې پورې چې زموږ حکم راغی او هغه تنور (د اوبو له ځيڅه) راوخوټېده، نو موږ نوح ته وويل: د هر ډول ځناورو يوه يوه جوړه په بيړۍ کې واچوه خپله کورنۍ هم - پرته له هغو کسانو چې چې مخکې د هغو په باب وينا (د ډوبيدو حکم) شوی دی او هغه کسان هم کښېنوه چې ايمان يې راوړی دی او لږ غونډې

[1] سورت هود: ۳۷ او ۳۸ ايتونه
[2] روح المعاني ج ۱۲، ص ۵۰
[3] تفسير البغوي ج ۲، ص ۳۸۳
[4] سورت هود: ۴۰ او ۴۱ ايتونه

خلک ول چې له نوح علیه السلام سره یې ایمان راوړی وو. نوح علیه السلام وویل: سپاره شئ په دې بیړۍ کې د الله جل جلاله په نوم سره ددې روانېدل او درېدل دي، زما رب ډېر ښنونکی او رحم کوونکی دی.

د تنور کلمه چې په پورتني آیت کې ذکر شوی ده په مختلفو ډولونو یې تفسیر شوی دی یو تفسیر یې د تولې ځمکې مخ بلل شوی او بل یې د لمر په معنی کارول شوی[1]

یو تفسیر یې داسې شوی چې تنور همدا په عجمو او عربو کې مشهور تنور کوم چې ډوډۍ په کې پخېږي.[2]

له تنور څخه مطلب هغه تنور دی کوم چې بي بي حوا رضي الله عنها څخه پاتې وو او له ډبرې څخه جوړ شوی وو، یعنې کله چې له دغه تناره څخه اوبه راوخوټیدلې.[3]

خو تر ټولو راجح قول چې د زیاتو مفسرینو پرې باور دی دادی چې نوح علیه السلام خپل قوم ته ورښودلی وو د معجزې په توگه یعنې کله چې له دغه تناره څخه د اوبو را خوټېدل پیل شول نو تاسو به بیړۍ ته پورته شئ، ځکه همدا د طوفان پیل دی.[4]

## پنځم مبحث: وفات

نوح علیه السلام وروسته تر دې چې ۹۵۰ کاله عمر یې په خپل قوم کې تبلیغ او دعوت وکړ، د قوم تر هلاکت وروسته دی وفات شوی دی، د ابن عباس رضی الله عنه په قول نوح علیه السلام د خپل قوم له هلاکیدو وروسته وفات شو او عمر یي ۱۴۵۰ کاله وو، په دې توگه چې په ۴۰ کلنۍ شاوخوا کې پیغمبر او ۹۵۰ کاله یې خبل قوم ته تبلیغ وکړ چې ټول ۹۹۰ کاله کېږي او طوفان وروسته تر ۴۵۰ کلونو پورې ژوندی وو چې دغه ټول یې ۱۴۴۰ کاله کېږي دا لس کلونه ممکن د تاریخي روآیتونو تر منځ د سهوې په ترتیب سره کم او زیات شوي وي چې ۱۴۵۰ کلونه یاد شوي دي[5]. او همدارنگه ابن کثیر په البدایة و النهایة کې د ابن عباس په روآیت سره وایي چې ټول عمر ۱۷۸۰ کاله وو[6]. او د مکې مکرمې په شاوخوا کې خاورو ته و سپارل شو[7].

---

١تفسیر القرطبي، ج ۹، ص ۳۳
۲عزیز التفاسیر، ج ٦، ص ۱۲۷
۳البحر المحیط، ج ٦، ص ۱۵۱
٤تفسیر الطبري، ج ۱۲، ص ۴۰
۵ عزیز التفاسیر، ج ۱۲، ص ۴۵۷
٦ البدایة و النهایة ج ۱، ص ۱۰۲
۷ البدایه و النهایة ج ۱، ص ۱۱۲

## دریېیم فصل

## حضرت ابراهیم علیه السلام

**تمهید**

الله جل جلاله فرمايي: [وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّهُ كَانَ صِدِّيقًا نَبِيًّا][1]

ژباړه: او په دې کتاب کې د ابراهیم علیه السلام کیسه یاده کړه، بېشکه هغه یو رښتینی نبي و.

ابراهیم علیه السلام د درې ګونو دینونو د اتباعو لپاره لوړ منزلت لري، دریو واړو دینونو یهودیت، مسیحیت او اسلام ته محترم دی، تل یې نوم په اکرام، عزت او دعا سره یادیږي، هغه د اولوالعزمو رسولانو له جملې څخه د ترتیب په حساب دوهم دی، د یوه خدای عبادت او یووالي ته په دعوت کې یې ډیر جهادونه کړي، د خپلې عقیدې په لاره کې یې ځان هلاکت ته وړاندې کړی، ژوند یې د خپل رب په وړاندې د قربانیو سلسله ده، د ده په اخلاص او خدای ته په محبت سره راتلونکو ملتونو ته مثال وړاندې کیږي.
لکه څرنګه چې د هغه لوړ منزلت په دې سره هم جوت دی چې هغه د نبیانو پلار دی (هر اسماني کتاب چې وروسته له ابراهیم علیه السلام څخه په کوم نبي له نبیانو نازل شوی، نو هغه رسول د ده د اولادې څخه دی) دا دومره لوړه رتبه ده چې ساری یې نه لیدل کیږي. د ابراهیم علیه السلام دوه زامن اسماعیل او اسحق الله جل جلاله د نبوت لپاره غوره کړي، اسماعیل د محمد صلی الله علیه وسلم او د حجاز د عربو نیکه ګڼل کیږي.
قرآن هم ابراهیم علیه السلام ته د عربو د پلاروالي اشاره کړې، چې عربو مؤمنانو ته په خطاب کې وايي:[وَمَا جَعَلَ عَلَيْكُمْ فِي الدِّينِ مِنْ حَرَجٍ مِّلَّةَ أَبِيكُمْ إِبْرَاهِيمَ هُوَ سَمَّاكُمُ الْمُسْلِمِينَ مِن قَبْلُ][2]
ژباړه: او په دین کې یې په تاسې څه تنګي نه ده راوستلې، د خپل پلار ابراهیم علیه السلام پر ملت ثابت اوسئ، الله مخکې هم ستاسې نوم (مسلمان) ایښی وو.

---

۱ سورت مریم: ۴۱ آیت

۲ سورت الحج: ۷۸ ایت

## لومړی مبحث: تفصيلي پېژندنه

### لومړی مطلب: نسب او زېږېدنه

حضرت ابراهيم عليه السلام بن تارخ (چې آزر هم ورته وايي) بن ناخور ساروغ بن أرغو بن فالغ بن غابر بن شالخ بن قينان بن ارفخشذ بن سام بن نوح عليه السلام، حضرت ابراهيم عليه السلام د سوس په نوم د اهواز په يوه کلي کې د نمرود د حکمراني په مهال زيږيدلی[1]. کوم چې د عراق د بابل ښار سره نږدې يې موقعيت درلود يا هم دغه ښار د کلدانيانو په نامه مشهور و.

د ابراهيم عليه السلام پلار آز ر ده، لکه چې الله جل جلاله فرمايي:[وَإِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ لِأَبِيهِ آزَرَ أَتَتَّخِذُ أَصْنَامًا آلِهَةً إِنِّي أَرَاكَ وَقَوْمَكَ فِي ضَلَالٍ مُبِينٍ (٧٤) وَكَذَلِكَ نُرِي إِبْرَاهِيمَ مَلَكُوتَ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضِ وَلِيَكُونَ مِنَ الْمُوقِنِينَ][2]

ژباړه: ياده کړه هغه وخت چې ابراهيم عليه السلام خپل پلار آزر ته وويل: ايا ته بتان په خدايۍ نيسې؟ بېشکه زه تا او ستا قوم په ښکاره ګمراهي کې وينم همدا ډول موږ ښکاره کړې وه ابراهيم عليه السلام ته ملکوت د اسمانو او ځمکې او ددې لپاره چې دی دپوره يقين کونکو څخه شي.

د بخاري شريف په يوه روايت[3] کې هم ذکر شوي دي. چې د پلار نوم يې آزر دی.

د ابراهيم عليه السلام د زيږيدو د نيټې په اړه دومره ويل کېږي چې د هغه او نوح عليه السلام تر منځ يوازې د هود عليه السلام او صالح عليه السلام قومونه تېر شوي دي[4]. دېرو تائيد کړی هغه داده چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم د پيدا کېدو او رسالت د دورې څخه نږدې ۲۵۸۵ کلونه وړاندې د ابراهيم عليه السلام دوره وه.[5]

### دوهم مطلب: مېرمن او اولاد يې

ابراهيم عليه السلام دوې مېرمنې او دوه اولادونه لرل چې د اولادنو نومونه يې اسماعيل او اسحق عليهم السلام و، مېرمنې يې يوه بي بي ساره او بله بي بي هاجره نومېدې. بي بي سارا د حضرت ابراهيم عليه السلام د

---

١ الکامل في التاريخ، ابن اثير، ج ١، ص ٨٦

٢ سورت الانعام: ۷۴-۷۵ آيتونه

٣صحيح البخاري، (٣١٠١ - حَدَّثَنَا إِسْمَاعِيلُ بْنُ عَبْدِ اللَّهِ قَالَ أَخْبَرَنِي أَخِي عَبْدُ الْحَمِيدِ عَنْ ابْنِ أَبِي ذِئْبٍ عَنْ سَعِيدٍ الْمَقْبُرِيِّ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَنْ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ يَلْقَى إِبْرَاهِيمُ أَبَاهُ آزَرَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ....

٤ اکامل في التاريخ، ابن اثير، ج ١، ص ٨٦

٥ پيغمبري و پيغمبران در قران کريم، محمد على صابوني، فارسي ژباړه: ملا علي زاده. ص ۲۴۰

تره هاران الاكبر لور او لوط عليه السلام د ابراهيم عليه السلام د بل تره هاران الاصغر زوی وو[1]. كله چې د ابراهيم عليه السلام عمر ځواني ته ورسيدو د سارا په نوم له يوې ميرمنې سره يې واده وكړ، خو لكه څرنگه چې هغه شنډه وه نو سارا ورته د هاجرې په نوم بله مېرمنه هم وكړه، خدای پاک جل جلاله د سپينږيرتوب په عمر كې له نازولې مېرمن سارا څخه ورته اولاد( اسحق وركړ)[2] لكه چې الله جل جلاله فرمايي:[«وَامْرَأَتُهُ قَآئِمَةٌ فَضَحِكَتْ فَبَشَّرْنَاهَا بِإِسْحَقَ وَمِن وَرَاء إِسْحَقَ يَعْقُوبَ،قَالَتْ يَا وَيْلَتَى أَأَلِدُ وَأَنَاْ عَجُوزٌ وَهَذَا بَعْلِي شَيْخًا إِنَّ هَذَا لَشَيْءٌ عَجِيبٌ، قَالُوا أَتَعْجَبِينَ مِنْ أَمْرِاللهِ رَحْمَتُ اللهِ وَبَرَكَاتُهُ عَلَيْكُمْ أَهْلَ الْبَيْتِ إِنَّهُ حَمِيدٌ مَّجِيدٌ»[3]

ژباړه: د ابراهيم مېرمن (سارا) هم ولاړه وه، هغې ددې په اوريدو سره وخندل، بيا موږ هغې ته د اسحق او له هغه وروسته د يعقوب زيری وركړ، هغې وويل های زما شاميته! آيا اوس به زما اولاد وشي؟ په داسې حال كې چې زه ډېره زړه شوې يم او دغه زما مېړه هم زوړ شوی دی دا خو ډېره حېرانوونكې خبره ده. پرښتو وويل د الله په حكم باندې حيرانېږئ؟ اې د ابراهيم كورنۍ! پر تاسې باندې خو د الله جل جلاله رحمت او بركتونه دي او په باوري ډول الله د ډېرې ستاينې وړ او د ستر شان څښتن دی.

ابراهيم عليه السلام له دې زيرې خوښ او داسې لاس په دعا شو، الله جل جلاله فرمايي:[(الْحَمْدُ لِلّهِ الَّذِي وَهَبَ لِي عَلَى الْكِبَرِ إِسْمَاعِيلَ وَإِسْحَقَ إِنَّ رَبِّي لَسَمِيعُ الدُّعَاء»[4]

ژباړه: د هغه خدای شكر دی چې ماته يې په دې زوړ والي كې اسماعيل او اسحاق غوندې زامن راكړ، حقيقت دادی چې زما رب هرو مرو د دعا اوريدونكی دی.

حضرت ابراهيم عليه السلام چې كله د خلكو ايمان راوړلو څخه ناهيلی شو نو ويې فرمائيل چې زه د خپل رب په طرف ځم يعنې چې چيرته زما د رب حكم وشي اوس زه هلته ځم او د هغه ځای خلكو ته د الله پاک حكم اوروم، لكه فرمايي: «وَقَالَ إِنِّي ذَاهِبٌ إِلَى رَبِّي سَيَهْدِينِ»[5]

ژباړه: او وئيل چې زه ځم د خپل رب په طرف هغه به ماته لار اوښائی.

له ده سره دده وراره حضرت لوط عليه السلام هم وو، دوی د فرات په مغربي طرف كلدانين ښار په طرف روان شول او حران يا حاران ته يې تشريف يوړو، په تفسير عزيزي كې ليكلی دي چې په حران ښار كې د حضرت ابراهيم عليه السلام تره هاران اوسيدو او هغه ډير مالدار وو، بي بي ساره يې لور وه، بي بي ساره يې د حضرت ابراهيم عليه السلام په نكاح كې وركړه او ورسره يې ډير مال او دولت هم وركړو هغه د حضرت ابراهيم عليه السلام سره ډير محبت كاوو هغه غوښتل چې حضرت ابراهيم عليه السلام نوې دين پريږدي،

---

١ تاريخ الطبري، ج ١، ص ١٧١

٢ قصص الانبياء ابن كثير، ص ١٢٥

٣ هود: ٧١- ٧٣ ايتونه

٤ ابراهيم: ٣٩ ايت

٥ الصافات: ٩٩ ايت

دې لپاره یې د بي بي ساره نکاح ورسره وکړه، لیکن بي بي ساره پخپله مسلمانه شوه، او حضرت ابراهیم علیه السلام د خپل تره نه تنګ شو او د هغه ځای نه یي هم هجرت اوکړو.[1]

په دې سفر کې د مصر متکبر پاچا بې بې سارا رضي الله عنها ته د ناکاره عمل قصد وکړ، مګر الله جل جلاله هغې ته په خارق العاده توګه نجات ورکړ، په داسې توګه چې هغه پاچا ددې قصد کولو وروسته له غټ مصیبت سره مخ شو، خو دغه مصیبت یې د بې بې سارا رضي الله عنها په دعا سره پورته شو، نو هغه د خپلې بدنیتۍ د پښېمانتیا په سبب بې بې سارا ته یوه وینځه (بې بې هاجره) ورکړه.[2] څرنګه چې بې بې سارا اولاد نه درلود نو بي بي هاجره یې ابراهیم علیه السلام ته هبه کړه په دې امید چې که الله جل جلاله ورته اولاد ورکړ، کله چې شام ته ورسیدل نو هلته بې بې هاجرې ته الله جل جلاله یو زوی (اسماعیل علیه السلام) وبانبه. بیا الله جل جلاله ابراهیم علیه السلام ته امر وکړ تر څو همدغه زوی او مور یې هغه ځای ته بوزه کوم ځای چې اوس کعبه ودانه ده؛ حضرت ابراهیم علیه السلام بې بې هاجره او حضرت اسماعیل علیه السلام ځان سره مکې مکرمې ته بوتلل او کوم ځای چې اوس هلته د زم زم اوبو چینه ده هلته یې پرېښودل[3]، او داسې دعا یې وویله؛ لکه چې په قران کریم کې راځي: [«رَّبَّنَا إِنِّي أَسْكَنتُ مِن ذُرِّيَّتِي بِوَادٍ غَيْرِ ذِي زَرْعٍ عِندَ بَيْتِكَ الْمُحَرَّمِ رَبَّنَا لِيُقِيمُواْ الصلياَةَ فَاجْعَلْ أَفْئِدَةً مِّنَ النَّاسِ تَهْوِي إِلَيْهِمْ وَارْزُقْهُم مِّنَ الثَّمَرَاتِ لَعَلَّهُمْ يَشْكُرُونَ»[4]

ژباړه: اې زمونږ رب ما خپل بچې په داسې ځای کې چې پټی نشته، آباد کړل ستا د عزت مند کور په خوا کې، اې ربه دې لپاره چې ستا عبادت وکړي پس د خلکو زړونه د دوی په طرف مائل کړه، او دوی ته هر قسم د خوراک او څښاک څیزونه ورکړه ددې لپاره چې ستا شکر ادا کړي.

**درېیم مطلب: په قرآن کریم یادونه**

د حضرت ابراهیم علیه السلام اړوند چې کوم ذکر په لومړي سیپاره سورت البقره ۱۲۴ آیت کې راغلی او هغه داسې کلمات دي چې الله جل جلاله فرمایي:

«وَإِذِ ابْتَلَى إِبْرَاهِيمَ رَبُّهُ بِكَلِمَاتٍ فَأَتَمَّهُنَّ قَالَ إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامًا قَالَ وَمِن ذُرِّيَّتِي قَالَ لاَ يَنَالُ عَهْدِي الظَّالِمِينَ»

ژباړه: او هغه وخت یاد کړه، چې کله ابراهیم لره خپل رب په څو کلماتو سره امتحان کړ نو ابراهیم دا (ارشادات) پوره کړل (او په امتحان کې کامیاب شو)، ابراهیم ته خپل رب وویل چې (اې ابراهیم) یقیناً زه د خلکو لپاره تا امام ګرځوونکی یم. ابراهیم وویل چې (اې ربه!) ته زما د اولادې څخه (هم د ځینو کسانو

۱ عزیز التفاسیر، ج ۱۰، ص ۲۸۵
۲ صحیح البخاري ج ۱، ص ۲۹۵
۳ عزیز التفاسیر، ج ٦، ص ۴۹۹
٤ سورت ابراهیم: ۳۷ ایت

امام جوړونکی) شه، د ابراهیم رب وویل چې (دا کار به وکړم خو ) زما وعده ظالمانو ته نه رسیږي (د ظالمانو په کې برخه نشته)

د پورتني آیت په تفسیر کې علماء کرام داسې نظریات لري:

الف: د «کلمات» کلمه په دې مقام کې د اوامرو او نواهیو (شرعي ارشاداتو) څخه عبارت ده.[١]

ب: هغه کلمات چې ابراهیم علیه السلام ورباندې امتحان شوی وو ۱۶ ته رسیږي.[٢]

ج: هغه ارشادات چې ابراهیم علیه السلام ته پرې امر شوی وو لس یې دغه کلمې یا اوامر وو: (۱) خوله وینځل (۲) پوزه وینځل (۳) د بریتونو لنډول (۴) د مسواک وهل (۵) د ږیرې پرېښودل (۶) د نوکانو کمول (۷) د نامه لاندې وېښتان کمول (۸) د تخرگونو ویښتان لیري کول (۹) استنجا کول (۱۰) ختنه کول.[٣]

د: د «کلمات» په کلمې سره لاندې ارشاداتو ته اشاره ده.[٤]

اول: د توحید د پاره اور ته د ور اچولو زغمل چې په دې آیت کې ورته اشاره شوې.

«قَالُوا حَرِّقُوهُ وَانصُرُوا آلِهَتَكُمْ إِن كُنتُمْ فَاعِلِينَ»[٥]

دوهم: د خپل زوی د ذبحه کولو ماموریت تر سره کول چې په لاندې آیت کې ورته اشاره شوې:

«قَدْ صَدَّقْتَ الرُّؤْيَا إِنَّا كَذَلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ»[٦]

دریم: د الله جل جلاله د رضامندۍ د پاره هجرت کول چې په لاندې آیت کې ورته اشاره ده:

«فَآمَنَ لَهُ لُوطٌ وَقَالَ إِنِّي مُهَاجِرٌ إِلَى رَبِّي إِنَّهُ هُوَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ»[٧]

څلورم: د الله جل جلاله په امر خپله مېرمن (هاجر رضي الله عنها) او خپل زوی (اسماعیل علیه السلام) د مکې په بیدیا کې پرېښودل چې په لاندې آیت کې ورته اشاره شوې:

«رَّبَّنَا إِنِّي أَسْكَنتُ مِن ذُرِّيَّتِي بِوَادٍ غَيْرِ ذِي زَرْعٍ عِندَ بَيْتِكَ الْمُحَرَّمِ رَبَّنَا لِيُقِيمُواْ الصلياَةَ فَاجْعَلْ أَفْئِدَةً مِّنَ النَّاسِ تَهْوِي إِلَيْهِمْ وَارْزُقْهُم مِّنَ الثَّمَرَاتِ لَعَلَّهُمْ يَشْكُرُونَ»[٨]

---

١ تفسیر ابن کثیر، ج ۱، ص ۱۶۴

٢طبري، ابی جعفر محمد ابن جریر. ( ۱۳۷۰). تفسیر طبري. کابل: المکتبة الطریق جاده میوند. ج ۱، ص ۵۲۴

٣ عزیز التفاسیر، ج ۱ ص ۲۴۱

٤ تفسیر ابی مسعود ج ۱، ص ۱۵۵، محمد عیسوي (۱۹۸۰) الناشر: مرکز الملک فیصل للبحوث و الدراسات الاسلامیه.

٥سورت الانبیاء: ٦٨ ایت

٦سورت الصافات: ۱۰۵ ایت

٧سورت العنکبوت: ٢٦ ایت

٨سورت ابراهیم: ٣٧ ایت

همدا شان د حضرت ابراهیم علیه السلام ذکر په یوه ځانګړي صورت چې د ابراهیم په نامه نومول شوی هم راغلی چې د سورت په وروستیو آیتونو کې هغه سوالونه کوم چې ده د الله جل جلاله په درباره کې وړاندې کړي راغلي دي، د ابراهیم سورت ۵۲ آیتونه لري او د اکثره علماوو په نزد مکي دی.[۱]

د حضرت ابراهیم علیه السلام نوم په قرآن کریم کې ی ۶۸ ځلې ذکر شوی دی او هم یو پوره سورت دده په نوم سره نازل شو دی دا کلمه «ابراهیم» چې د حضرت اسماعیل علیه السلام او حضرت اسحاق علیه السلام پلار او زموږ د خواږه پیغمبر صلی الله علیه وسلم ۳۱ نیکه ده.[۲]

د ابراهیم کلمه اعجمي ده او په اعجمي او عرب دواړو کې د «أب رحیم» ډېر مهربان پلار معنی ورکوی.[۳]

په قران کریم کې په لاندې ځایونو کې دغه کلمه راغلې:

| شماره | د سورت نوم | د آیت شمېره | شماره | د سورت نوم | د آیت شمیره |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | البقره | ۱۲۴ | ۳۵ | هود | ۷۴ |
| ۲ | البقره | ۱۲۵ | ۳۶ | هود | ۷۵ |
| ۳ | البقره | ۱۲۵ | ۳۷ | هود | ۷۶ |
| ۴ | البقره | ۱۲۶ | ۳۸ | یوسف | ۶ |
| ۵ | البقره | ۱۲۷ | ۳۹ | یوسف | ۳۸ |
| ۶ | البقره | ۱۳۰ | ۴۰ | ابراهیم | ۳۵ |
| ۷ | البقره | ۱۳۲ | ۴۱ | النحل | ۱۲۰ |
| ۸ | البقره | ۱۳۳ | ۴۲ | النحل | ۱۲۳ |
| ۹ | البقره | ۱۳۵ | ۴۳ | مریم | ۴۱ |
| ۱۰ | البقره | ۱۳۶ | ۴۴ | مریم | ۴۶ |
| ۱۱ | البقره | ۱۴۰ | ۴۵ | مریم | ۵۸ |
| ۱۲ | البقره | ۲۵۸ | ۴۶ | الانبیاء | ۵۱ |
| ۱۳ | البقره | ۲۵۸ | ۴۷ | الانبیاء | ۶۰ |
| ۱۴ | البقره | ۲۵۸ | ۴۸ | الانبیاء | ۶۲ |
| ۱۵ | البقره | ۲۶۰ | ۴۹ | الانبیاء | ۶۹ |
| ۱۶ | ال عمران | ۳۳ | ۵۰ | الحج | ۲۶ |
| ۱۷ | ال عمران | ۶۵ | ۵۱ | الحج | ۴۳ |
| ۱۸ | ال عمران | ۶۷ | ۵۲ | الحج | ۷۸ |

۱تفسیر ابن کثیر ج ۲، ص ۵۲۲

۲ عزیز التفاسیر، ج ۱، ص ١٦٥

۳تفسیر القرطبي، ج ۲، ص ٩٦

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۹ | ال عمران | ۶۸ | ۵۳ | الشعراء | ۶۹ |
| ۲۰ | ال عمران | ۸۴ | ۵۴ | العنکبوت | ۱۶ |
| ۲۱ | ال عمران | ۹۵ | ۵۵ | العنکبوت | ۳۱ |
| ۲۲ | ال عمران | ۹۷ | ۵۶ | الاحزاب | ۷ |
| ۲۳ | النساء | ۵۴ | ۵۷ | الصافات | ۸۳ |
| ۲۴ | النساء | ۱۲۵ | ۵۸ | الصافات | ۱۰۴ |
| ۲۵ | النساء | ۱۲۵ | ۵۹ | الصافات | ۱۰۹ |
| ۲۶ | النساء | ۱۶۳ | ۶۰ | ص | ۴۵ |
| ۲۷ | الانعام | ۷۴ | ۶۱ | الشوری | ۱۳ |
| ۲۸ | الانعام | ۷۵ | ۶۲ | الزخرف | ۲۶ |
| ۲۹ | الانعام | ۸۳ | ۶۳ | الذاریات | ۲۴ |
| ۳۰ | الانعام | ۱۶۱ | ۶۴ | النجم | ۳۷ |
| ۳۱ | التوبه | ۷۰ | ۶۵ | الحدید | ۲۶ |
| ۳۲ | التوبه | ۱۱۴ | ۶۶ | الممتحنه | ۴ |
| ۳۳ | التوبه | ۱۱۴ | ۶۷ | الممتحنه | ۴ |
| ۳۴ | هود | ۶۹ | ۶۸ | الاعلی | ۱۹ |

د حضرت ابراهیم علیه السلام نوم او اړوند بحثونه یا کیسي چې په قران کریم راغلی دي موږ تر لاندې خبرو راخیستای شو:

الف: ابراهیم کلمه اعجمي ده په اعجمي او عربي دواړو کې د « اب رحیم » ډېر مهربان پلار معنی ورکوي.[۱]

ب: که څه هم دا نوم د ابراهیم علیه السلام د ماشومتوب نوم دی خو الله جل جلاله نوموړی په نتیجه کې د همدغه نامه مصداق وګرځاوو چې د ټولو خلکو دپاره امام جوړ شو او د ډېر مهربان پلار غونډې ورباني زړه سواندی جوړ شو.[۲]

**څلورم مطلب: د کعبې جوړونه**

حضرت ابراهیم علیه السلام که هم په فلسطین کې مقیم وو، مګر مکې مکرمې ته به د حضرت بې بې هاجرې او حضرت اسماعیل علیه السلام لیدو ته کله کله ورته، په دې وخت کې حضرت ابراهیم علیه السلام ته د پروردګار حکم وشو چې کعبه جوړه کړه، حضرت ابراهیم علیه السلام د حضرت اسماعیل سره ددې حکم یادونه وکړه، بیا دواړو د بیت الله شریف تعمیر شروع کړو، د بیت الله بنیاد د ټولو نه اول د حضرت

۱ تفسیر القرطبی، ج ۲، ص ٩٦

۲عزیز التفاسیر، ج ۱، ص ۲۴۰

آدم علیه السلام په لاس شوی وو[1]، د خدای پاک په حکم ملائکو ورته هغه ځای وښود، په الهي وحیه سره حضرت ابراهیم علیه السلام ته د دغه ځای ځرک معلوم شو او هغه د حضرت اسماعیل علیه السلام په مرسته سره د هغې کندل شروع کړل، نو مخکني بنیادونه په نظر راغلل او نوی تعمیر هم په مرسته د هغې پیل شو، لکه چې الله جل جلاله فرمایي:[ «إِنَّ أَوَّلَ بَيْتٍ وُضِعَ لِلنَّاسِ لَلَّذِي بِبَكَّةَ مُبَارَكًا وَهُدًى لِّلْعَالَمِينَ»[2]
ژباړه: بیشکه د انسانانو لپاره یې د خدای پرستي مرکز جوړ کړ، چې په مکه کې د برکت والا دی او د ټولو جهانونو لپاره هدآیت دی. د کعبې د جوړولو کار په د ذوالقعدې په لومړۍ نېټه پیل شو او په ۲۵ د ذوالقعدې ختم[3] شو

**دوهم مبحث: په پیغمبري مبعوث کېدل او د دعوت پیل**

**لومړی مطلب په پیغمبري مبعوث کېدل**

الله جل جلاله فرمایي: الله جل جلاله فرمایي: [وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّهُ كَانَ صِدِّيقًا نَبِيًّا][4]

ژباړه: او په دې کتاب کې د ابراهیم علیه السلام کیسه یاده کړه، بېشکه هغه یو رښتینی نبي و.

کوم وخت چې ابراهیم علیه السلام د الله جل جلاله له لوري په پیغمبري مبعوث کېده، په دغه وخت کې نمرود د ځمکې پاچا وو[5] او د عراق د بابل په ښار کې یې خپل مرکز ټاکلی وو، کوم چې له ابراهیم علیه السلام سره یې مباحثه کوله[6]
ابن کثیر په البداية و النهاية[7] کې لیکي چې نمرود بن کنعان بن کوش بن سام بن نوح لومړی جبار او ظالم انسان دی د ځمکې په مخ یې د خدایي دعوه یې کړې له پیغمبر (ابراهیم علیه السلام) سره یې د خدای جل جلاله په نه شتون بحث کړی او ځان یې خدای بللی.
الله جل جلاله فرمایي: [أَلَمْ تَرَ إِلَى الَّذِي حَاجَّ إِبْرَاهِيمَ فِي رَبِّهِ أَنْ آتَاهُ اللَّهُ الْمُلْكَ إِذْ قَالَ إِبْرَاهِيمُ رَبِّيَ الَّذِي يُحْيِي وَيُمِيتُ قَالَ أَنَا أُحْيِي وَأُمِيتُ قَالَ إِبْرَاهِيمُ فَإِنَّ اللَّهَ يَأْتِي بِالشَّمْسِ مِنَ الْمَشْرِقِ فَأْتِ بِهَا مِنَ الْمَغْرِبِ فَبُهِتَ الَّذِي كَفَرَ وَاللَّهُ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ ][8]

---

۱ تفسیر القرطبي، ج ۴، ص ۱۳۸
۲ ال عمران: ۹٦ ایت
۳ روح العماني، ج ۱۷، ص ۱۴۲
٤ سورت مریم: ۴۱ آیت
٥ تفسیر قاسمي، ج ۳، ص ۳۲۸
٦ الدر المنثور: ج ۲، ص ۲۵
۷ قصص الانبیاء ابن کثیر، ص ۱۸۷
۸ سورت البقره: ۲۵۸ آیت

ژباړه: ایا ته نه ګورې و هغه چاته چې د ابراهیم علیه السلام سره په خپل رب کې دلیل وایي او الله جل جلاله پاچاهي ورکړې وه، کله چې ابراهیم علیه السلام وویل: زما رب مړ کېدل او ژوندي کېدل کوي هغه پاچا (نمرود) وویل: زه هم مړ کېدل او ژوندي کېدل کوم، ابراهیم علیه السلام ورته وویل: زما رب د ختیځ لوري څخه لمر راخېژوي ته یې د لوېدیځ لوري څخه را وخېژوه. کافر (نمرود) ناتوانه شو او الله جل جلاله و ظالم قوم ته هدایت نه کوي.

**دوهم مطلب: پلار ته دعوت**

د ابراهیم علیه السلام پلار مشرک وو یعنې د بت عبادت یې کاوه. که څه هم د ابراهیم علیه السلام سره په ټولنه کې نور هم زیات بت پرستان وو خو د ده تر ټولو ښه حقداره کس د ده پلار وو چې دی نصیحت ورته وکړي، د یوه خدای جل جلاله عبادت ته یې راوبولي او د الهي عذاب څخه یې وبېروي له همدې امله ده لومړی خپل پلار دعوت کړ؛ لکه چې الله جل جلاله د دغه کیسې په اړه په سورة مریم کې فرمایي: [وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّهُ كَانَ صِدِّيقًا نَبِيًّا (٤١) إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ يَا أَبَتِ لِمَ تَعْبُدُ مَا لَا يَسْمَعُ وَلَا يُبْصِرُ وَلَا يُغْنِي عَنْكَ شَيْئًا (٤٢) يَا أَبَتِ إِنِّي قَدْ جَاءَنِي مِنَ الْعِلْمِ مَا لَمْ يَأْتِكَ فَاتَّبِعْنِي أَهْدِكَ صِرَاطًا سَوِيًّا (٤٣) يَا أَبَتِ لَا تَعْبُدِ الشَّيْطَانَ إِنَّ الشَّيْطَانَ كَانَ لِلرَّحْمَنِ عَصِيًّا (٤٤) يَا أَبَتِ إِنِّي أَخَافُ أَنْ يَمَسَّكَ عَذَابٌ مِنَ الرَّحْمَنِ فَتَكُونَ لِلشَّيْطَانِ وَلِيًّا (٤٥) قَالَ أَرَاغِبٌ أَنْتَ عَنْ آلِهَتِي يَا إِبْرَاهِيمُ لَئِنْ لَمْ تَنْتَهِ لَأَرْجُمَنَّكَ وَاهْجُرْنِي مَلِيًّا (٤٦) قَالَ سَلَامٌ عَلَيْكَ سَأَسْتَغْفِرُ لَكَ رَبِّي إِنَّهُ كَانَ بِي حَفِيًّا ][1]

ژباړه: په کتاب کې ابراهیم علیه السلام یاد کړه بېشکه دی رښتینی نبي وو. کله چې ده پلار ته وویل: اې زما پلاره! ته ولې د داسې شي عبادت کوې چې نه اورېدل کولای شي، نه لیدل کولای شي او نه ستا څخه کوم تکلیف دفعه کولای شي؟ اې پلاره! ماته داسې علم راکړل شوی دی، چې تاته نه دی درکړل شوی نو ته زما پیروي وکړه زه به تاته ډېره سیده لاره وښیم. اې پلاره! د شیطان عبادت مه کوه، شیطان د الله جل جلاله څخه نافرمانه دی. اې پلاره! زه پر تا بېرېږم چې تا به الهي عذاب مسه کړي نو ته به د شیطان دوست شې. پلار یې ورته وویل: اې ابراهیمه! ته زموږ د خدایانو څخه مخ اړوې؟ که ته ددې کار څخه منعه نشې نو زه به تا سنګسار کړم او زما سره تر ډېرې زمانې پورې ناسته مه کوه. ابراهیم علیه السلام وویل: سلام دې وي پر تا باندې، زه به د خپل رب څخه ستا لپاره مغفرت وغواړم بېشکه زما رب ډېر مهربان دئ.

---

١ سورت مریم: ۴۱-۴۷ آیتونه

ابراهیم علیه السلام د خپلې وعدې مطابق چې د پلار سره يې کړې وه د الله جل جلاله څخه يې مغفرت وغوښت او وې ويل: (وَاغْفِرْ لأَبِي إِنَّهُ كَانَ مِنَ الضَّالِّينَ)[1] یعني اې خدایه! زما پلار ته مغفرت وکړې بېشکه زما پلار د گمراهانو څخه دی. د ابراهیم علیه السلام دغه استغفار په دې هیله کاوو چې گوندي پلار به مې ایمان راوړي. کله چې ابراهیم علیه السلام په دې یقین شو چې پلار مې ایمان نه راوړي او پلار يې پر خپل شرک او بت پرستۍ باندې ټینگ شو، الله جل جلاله په دې اړه فرمايي: [وَمَا كَانَ اسْتِغْفَارُ إِبْرَاهِيمَ لِأَبِيهِ إِلَّا عَنْ مَوْعِدَةٍ وَعَدَهَا إِيَّاهُ فَلَمَّا تَبَيَّنَ لَهُ أَنَّهُ عَدُوٌّ لِلَّهِ تَبَرَّأَ مِنْهُ إِنَّ إِبْرَاهِيمَ لَأَوَّاهٌ حَلِيمٌ][2]

ژباړه: نه وو استغفار د ابراهیم علیه السلام د خپل پلار لپاره مگر د هغه وعدې څخه وو چې ده کړې وه د پلار سره، کله چې ورته ښکاره سوه چې دده پلار د الله جل جلاله دښمن دی، د خپل پلار څخه بېزاره شو. بېشکه ابراهیم علیه السلام دردمن او زيات زغم لرونکی وو.

**دوهم مطلب: د قوم دعوت**

د بابل اوسیدونکو ډېر خدايان درلودل... هغه داسې چې د هر ښار لپاره ځانگړی خدای وو چې ښارنه يې ورځنې کوله، بیا د هرې محلې او هر کلي لپاره واړه واړه خدايان وو چې عبادت يې کېده او اخلاص يې ورته درلود، پاک خدای جل جلاله حقیقت او هدایت ابراهیم علیه السلام ته په برخه کړ، چې په ځواکمن فکر او د رب په وحې سره يې خلک د يوه ريښتيني خدای یووالي ته را وبلل، او ورته ويې ويل چې همغه لوی خدای په نړۍ باندې برلاسي لري، او ټول امور د همغه په لاس کې دي، په دې لاره کې يې د ټینگ عزم څخه کار واخیست، تر څو گمراه شوي قوم ته نجات ورکړي له بدمرغیو يې وژغوري، لارښوونه ورته وکړي او له هغه څه څخه يې منع کړي چې په نا حقه پرې بوخت دي. الله جل جلاله فرمايي:[(وَلَقَدْ آتَيْنَا إِبْرَاهِيمَ رُشْدَهُ مِن قَبْلُ وَكُنَّا بِهِ عَالِمِينَ، إِذْ قَالَ لِأَبِيهِ وَقَوْمِهِ مَا هَٰذِهِ التَّمَاثِيلُ الَّتِي أَنتُمْ لَهَا عَاكِفُونَ، قَالُوا وَجَدْنَا آبَاءَنَا لَهَا عَابِدِينَ، قَالَ لَقَدْ كُنتُمْ أَنتُمْ وَآبَاؤُكُمْ فِي ضَلَالٍ مُّبِينٍ، قَالُوا أَجِئْتَنَا بِالْحَقِّ أَمْ أَنتَ مِنَ اللَّاعِبِينَ، قَالَ بَل رَّبُّكُمْ رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ الَّذِي فَطَرَهُنَّ وَأَنَا عَلَىٰ ذَٰلِكُم مِّنَ الشَّاهِدِينَ][3]

ژباړه: او موږ ابرهیم ته زیرکي (د ښه او بد د توپیر وسیله) ورکړې وه او موږ هغه ښه پېژندی، کله چې هغه خپل پلار (آزر) او خپل قوم ته (بابلیانو) ته وویل: دغه مجسمې چې تاسو يې عبادت کوئ او خدمت ته مو ځانونه تيار کړي څه دي؟ هغوی په ځواب کې ورته وویل: موږ خپل پلرونه، نیکونه ددې عبادت کوونکي موندلي دي، ابراهیم وويل تاسې هم گمراه یاست او ستاسې پلرونه هم په ښکاره گمراهي کې

١ سورت الشعراء: ٨٦ آيت

٢ سورت التوبه: ١١۴ آيت

٣ الانبياء: ٥١- ٥٦ ایتونه

غورځېدلي دي، هغوی وویل ایا ته موږ ته خپله مفکوره وړاندې کوي او که ټوکې کوې، هغه ځواب ورکړ نه بلکې په ربښتیا سره ستاسې رب هماغه ذات دی چې د اسمانونو او ځمکې رب او د هغو پیداکوونکی دی، پدې باندې زه ستاسې په وړاندې شاهد یم.
دوی د خپلو پلرونو د بوتانو عبادت کول د خپل عبادت تحلیل او دلیل بیاناوو، او ویل یې پلرونو مو په دې توګه عبادت ترسره کړی نو موږ هم په هغوی پسې اقتداء کوو. دا هغه نه منونکی دلیل دی چې تل یې فاسد خلک د نیکانو په څیره بیانوي، د څارویو په شان د خپلو تیرو مشرانو متابعت کول څومره د عقل نه لرې خبره ده، په هره زمانه کې دا رنګه ضعیف دلیلونه وړاندې کیږي، او په دې سره مفسدین ځانونه نیکان او په حقه لار څرګندوي.
کله چې دوی د بتانو له عبادت څخه تېریدونکي نه ول نو ابراهیم علیه السلام په یوه بله لاره وغوښتل تر څو دوی د بتانو له عبادت منع کړې، دا موضوع د مناقشې تر مبحث لاندې لولو.

### درېیم مبحث: له قوم سره مناقشې

### لومړی مطلب: د بتانو ماتول

د ابراهیم علیه السلام قوم یوه ورځ درلوده چې په دغه ورځ به ټول خلک د ښار څخه وتل هغه به یې د اختر جشن جوړاوه، میلې به یې کولې او څو ورځې به هلته اوسېده. کله چې دغه ورځ راورسېده دده قوم د وتلو اراده وکړه نو ده ته یې هم وویل چې ته راسره ولاړ شه او هلته زموږ سره په دې اختر کې ګډون وکړه. ابراهیم علیه السلام چې د وخته یې لا اراده درلوده چې د دوی دغه بتان چې دوی په خپلو لاسو جوړ کړي دي مات یې کړي نو ځکه یې دوی ته بهانه وکړه او ورته وې ویل چې زه نا جوړه یم. لکه چې الله جل جلاله فرمایي:[ قَالَ إِنِّي سَقِيمٌ ٨٩ فَتَوَلَّوْا عَنْهُ مُدْبِرِينَ ٩٠ فَرَاغَ إِلَى آلِهَتِهِمْ فَقَالَ أَلاَ تَأْكُلُونَ ٩١ مَا لَكُمْ لاَ تَنطِقُونَ ٩٢ فَرَاغَ عَلَيْهِمْ ضَرْبًا بِالْيَمِينِ ٩٣ فَأَقْبَلُوا إِلَيْهِ يَزِفُّونَ ٩٤ قَالَ أَتَعْبُدُونَ مَا تَنْحِتُونَ ٩٥ وَاللَّهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُونَ][١]

ژباړه: او وې ویل: زما طبیعت خراب دی، نو خلکو هغه پرېښود او په شا اړولو تر روان شول، د هغو په غیاب کې ابراهیم علیه السلام په پټه د هغوی د معبودانو درمسال ته ننوت او (بتانو ته یې) وویل: تاسې ولې خوراک نه کوئ، په تاسو څه شوي چې خبرې هم نه کوئ، له هغه وروسته یې سمدلاسه پر هغو پټه حمله وکړه او په ښي لاس سره یې ښه ګوزارونه وکړل، (بېرته په راستنېدو) هغوی په منډه منډه ابراهیم ته راغلل،

---

١ سورت الصافات: ٨٩-٩٦ آیتون

هغه وویل: ایا تاسو په خپل لاس د توږول شویو شیانو بندګي کوئ؟ په داسې حال کې چې الله تاسې هم پیدا کړي یاست او هغه شیان هم چې تاسې یې جوړوئ.

که څه هم ابراهیم علیه السلام کومه جسمي نا جوړي نه درلوده خو فکراً او روحاً نا جوړه وو. کله چې دوی په میله پسې ولاړل ابراهیم علیه السلام د بتان په وهلو او ماتولو پیل وکړ، ټول یې سره چپه کړه آخر یې تبر راواخیست د هغه لوی بت په غاړه یې ور وځړاوو کله چې یې د قوم خلک راغلل، په چټکۍ سره خپلې عبادت خانې ته ورغلل که یې وکتل ټول بتان یې ټکه، ټکه، پارچه، پارچه پراته دي یوازې لوی بت پاته دی او تبر یې په غاړه ځړېږي حیران پاته شو، بیا یې په لوړ اواز وویل: (قَالُوا مَن فَعَلَ هَذَا بِآلِهَتِنَا إِنَّهُ لَمِنَ الظَّالِمِينَ)[1] یعني چا دا کار زموږ د خدایانو سره کړی دی، بېشکه دغه کس د ظالمانو څخه دی.

د ابراهیم علیه السلام قوم تر یو وخت پورې په خپل معبد کې ګرځېده پر ټولو چوپتیا خوره وه نابېره یو اواز را پورته شو او وې ویل: [قَالُوا سَمِعْنَا فَتًى يَذْكُرُهُمْ يُقَالُ لَهُ إِبْرَاهِيمُ ][2]

ژباړه: دوی وویل: موږ اورېدلي دي چې یو ځوان دی د بتانو عیبونه یادوي ابراهیم ورته ویل کیږي.

ښایي دغه بتان هم دغه ځوان مات کړي وي آخر دا چې د دوی ټولو یقین شو چې دا کار هم ده کړی دی بیا یې په ټولو دا پرېکړه وکړه چې ابراهیم علیه السلام ته به سخت عذاب ورکو یعنې په داسې ډول به یې وژنو چې ټول خلک ورته ګوري او ټول خلک عبرت ځینې واخلي څو خلک بیا دداسې کار په کولو لاس پورې نه کړي نو ځکه یې په لوړ اواز ابراهیم علیه السلام راوبولئ څو دعامو خلکو په محضر کې حاضر سي او ددې عامو خلکو په مخ کې په قتل ورسیږي.

ټول خلک په دې لټه کې وه چې ابراهیم علیه السلام د یوې عام ټولې په وړاندې حاضر کړي او بیا یې په قتل ورسوي، دوی هڅه کول چې زیات خلک سره راجمع شي او بیا دې راولي او په سزا یې ورسوي. حال دا چې د ابراهیم علیه السلام همدغه ارزو چې ډېر خلک سره راجمع شي او بیا د بتانو پر بطلان باندې دلائل ورته ووایي. د بله پلوه زیات شمېر خلک راغلل، هر سړي کوشش کاوه چې دغه ځای ته ځان ورسوي او هغه سخت عذاب ووینې چې خلک یې ابراهیم علیه السلام ته ورکوي او دده قصاص ووینې همدا وجه وه چې زیات شمېر خلک راجمعه سوه ابراهیم علیه السلام یې منځته راویستل شو او په محکمه یې پیل وشو،

---

۱ سورت الانبیاء: ۵۹ آیت

۲ سورت الانبیاء: ٦٠ آیت

عجيبه داده چې د دوی دغه ټولېدنه ابراهيم عليه السلام غوښته. د ابراهيم عليه السلام محكمه په لاندې ډول سره ده.

**دوهم مطلب: د ابراهيم عليه السلام محاكمه**

د ابراهيم عليه السلام قوم د اختر د لمانځلو څخه وروسته بيرته را وګرځيده د بوتانو کړيدلی حالت يې وليد، له دې پيښې سخت وډار شول، په خپلو کې يې يو له بله وپوښتل چې دا ظالم څوک دی، څوک دی چې زموږ سپيڅلي ځايونه يې دا رنګه په بل مخ اړولي، د خبرو په همدې راکړه ورکړه کې ځينو وويل: موږ آوريدلي چې يو ځوان بوتانو ته بد وايي او هغه ځوان ابراهيم بولي، د هغه عادت وو چې د بوتانو عيبونه به يې يادول، تمسخر به يې پرې کولو، موږ ګمان کوو چې همغه به دا کار کړی وي. په بوتانو د تجاوز خبر ترحاکمانو پورې ورسيد، خپلو لښکرو ته يې وويل: راولئ هغه ابراهيم چې د خلکو په وړاندې يې محاکمه کړو، هغه شاهد دې را مخې ته شي چې له ابراهيمه يې د بوتانو عيبونه آوريدلي او دا چې هغه د شر تکل ورته کړی وو[1].

ابراهيم را وستل شو، حاکمانو ترې وپوښتل( آيا تا زموږ په خدايانو داسې کړي دي اې ابراهيمه؟)ابراهيم وپوهيده چې اوس د دې وخت را رسيدلی ترڅو حقيقت څرګند شي همدلته يو ځل بيا د ابراهيم يو بل لوی دليل ښکاره کيږي چې غوږونه سوري کوي او ژبې ګونګوي د دوی د خبرې په ځواب کې داسې وايي:

(أَفَتَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَنفَعُكُمْ شَيْئًا وَلَا يَضُرُّكُمْ، أُفٍّ لَّكُمْ وَلِمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ ۖ أَفَلَا تَعْقِلُونَ)[2]

ژباړه: آيا تاسې پرته له الله د هغه څيز عبادت کوئ چې نه تاسې ته ګټه رسولی شي او نه تاوان، افسوس(هلاکت) دی تاسې ته او هغه څه ته چې تاسې يې پرته له الله عبادت کوئ، آيا تاسې له عقل نه کار نه اخلئ.

خو کله چې ناپوهي په نفسونو غلبه پيدا کړي، او ړوند تعصب زړونو ته ښکته شي، نفسونه د سپکاوي داسې درجې ته رسوي چې بيا صحت د اشياوو نه ورته څرګنديږي، د همدې لپاره کله چې د ابراهيم قوم په دليلونو کې مات شو، وډار شو چې نور يې هم د شرم ټکي را برسيره کيږي، نور نو هيڅ دليل ورته پاتې نه وو، د مناظرې او مجادلې څخه تير شول او د زور او سيطرې لار يې خپله کړه ترڅو دا شرموونکې پيښه پرې پټه شي، د ابراهيم د وژلو حکم يې په اور سره صادر کړ، خو الله جل جلاله په خپل بې شانه قدرت

---

١ عزيز التفاسير، ج ٨، ص ١۴٩

٢: الانبياء ٦٦- ٦٧ ايتونه

ابراهیم ته نجات ورکړ اور ته یې داسې امر وکړ چې، اې اوره!یخني او سلامتي راوله په ابراهیم.پاک خدای وایي:[1]

(قَالُوا فَأْتُوا بِهِ عَلَىٰ أَعْيُنِ النَّاسِ لَعَلَّهُمْ يَشْهَدُونَ، قَالُوا أَأَنتَ فَعَلْتَ هَٰذَا بِآلِهَتِنَا يَا إِبْرَاهِيمُ، قَالَ بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ هَٰذَا، فَاسْأَلُوهُمْ إِن كَانُوا يَنطِقُونَ، فَرَجَعُوا إِلَىٰ أَنفُسِهِمْ فَقَالُوا إِنَّكُمْ أَنتُمُ الظَّالِمُونَ، ثُمَّ نُكِسُوا عَلَىٰ رُءُوسِهِمْ لَقَدْ عَلِمْتَ مَا هَٰؤُلَاءِ يَنطِقُونَ، قَالَ أَفَتَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَنفَعُكُمْ شَيْئًا وَلَا يَضُرُّكُمْ، أُفٍّ لَّكُمْ وَلِمَا تَعْبُدُونَ مِن دُونِ اللَّهِ أَفَلَا تَعْقِلُونَ، قَالُوا حَرِّقُوهُ وَانصُرُوا آلِهَتَكُمْ إِن كُنتُمْ فَاعِلِينَ، قُلْنَا يَا نَارُ كُونِي بَرْدًا وَسَلَامًا عَلَىٰ إِبْرَاهِيمَ)[2]

ژباړه: وویل(مشرانو د قوم) راولئ هغه(ابراهیم) د خلکو په وړاندې کیدای شي شاهدي ووایي، وویل (بابلیانو) آیا تا کړې دی دا کار زموږ په خدایانو اې ابراهیمه!، وویل (ابراهیم) دا کار دغه مشر د دوی(بوتانو) کړی پوښتنه ترې وکړئ که وي دوی چې خبرې کوي، نو را وګرځیدل(دغه کفار) خپلو نفسونو ته نو ویې ویل(ځینو ځینو نوروته) بیشکه تاسې ظالمان یئ، بیا یې سرونه ځوړند کړل(او وروسته یې بیا مجادله پیل کړه او ویې ویل) بیشکه چې ته پوه یې دا بوتان خبرې نشي کولی، وویل (ابراهیم) آیا تاسې پرته له الله د هغه څیز عبادت کوئ چې نه تاسې ته ګټه رسولی شي او نه تاوان، افسوس(هلاکت) دی تاسې ته او هغه څه ته چې تاسې یې پرته له الله عبادت کوئ، آیا تاسې له عقل نه کار نه اخلئ، وویل(نمرود) وسوځوئ دغه (ابراهیم) او ملاتړ وکړئ د خپلو خدایانو که چیرې تاسې د څه کار کوونکي یاست، وویل موږ اې اوره! شه یخ او سلامتي په ابراهیم باندې. لوی خدای د ابراهیم د محاکمې په هکله داسې وایي:[قَالُوا ابْنُوا لَهُ بُنْيَانًا فَأَلْقُوهُ فِي الْجَحِيمِ، فَأَرَادُوا بِهِ كَيْدًا فَجَعَلْنَاهُمُ الْأَسْفَلِينَ][3]

ژباړه: وویل(کفارو) جوړه کړئ دغه (ابراهیم ته) لویه کنده (او له خسو یې ډکه کړئ اور ورواچوئ) بیا وغورځوئ دغه (ابراهیم) د اور په کنده کې، دوی اراده وکړه ابراهیم ته د فریب نو ومو ګرځول دوی ټیټ(سپک خوار).

ابراهیم علیه السلام محکمې ته راوستل شو خلګو ټولو خپلې سترګې دې خواته وې چې د ابراهیم علیه السلام جواب او مناقشه واوري نو څکه دوی لومړی پوښتنه ځینې کړه: [قَالُوا ءَأَنْتَ فَعَلْتَ هَذَا بِآلِهَتِنَا يَا إِبْرَاهِيمُ، قَالَ بَلْ فَعَلَهُ كَبِيرُهُمْ هَذَا فَاسْأَلُوهُمْ إِنْ كَانُوا يَنْطِقُونَ ][4]

---

١ تفسیر ابن کثیر، ج ٣، ص ١٨٥

٢ الانبیاء: ٦١- ٧٠

٣ الصافات: ٩٤- ٩٨

٤ سورت الانبیاء: ٦٢-٦٣ آیتونه

ژباړه: دوی ورته وویل: اې ابراهیمه! دغه زموږ خدایان تا مات کړي دي؟ ده ورته وویل: بلکې هغه لوی ستاسو هغه لوی خدای مات کړي دي نو تاسو پوښتنه ځنې وکړئ که خبرې کولای سي.

د ابراهیم علیه السلام دغه دلیل داسې غاښ ماتونکی دلیل وو چې دوی هیڅ فکر نه کاوه، داسې دلیل وو چې دوی یې د خوب څخه رابیدار کړه په نتیجه کې دوی حیران پاته شو، د ویلو هیڅ توان یې نه درلود، یو د بله یې سره وکتل او یو پر بل یې ملامتیا سره وویل لکه چې الله جل جلاله یې بیان کوي: [ فَرَجَعُوا إِلَى أَنْفُسِهِمْ فَقَالُوا إِنَّكُمْ أَنْتُمُ الظَّالِمُونَ، لَقَدْ عَلِمْتَ مَا هَؤُلَاءِ يَنْطِقُونَ ][1]

ژباړه : نو دوی وګرځېدل بیا یې وویل: بېشکه تاسو خو خامخا ظالمان یاست (دوی په خپلو منځو کې سره وویل چې تاسو خو ظالمان یاست چې د داسې چا بندګي کوئ چې هغه خبرې لا هم نشي کولای )

یعني اې ابراهیمه! ته پوهېږې چې دا داسې بتان دي چې خبرې نه شي کولا ، نه سوال ته جواب ویلای شي او نه خبرې کولای شي نو موږ څنګه د داسې بتان څخه پوښتنه وکړو چې دا بتان چا مات کړل؟ ته موږ ته وایې چې د دغه بتانو څخه پوښتنه وکړه، حال دا چې دا بتان یوازې جامدې ډبرې دي هیڅ اورېدل نشي کولای. د دوی دغه خبرې اصلاً په دې اعتراف وو چې زموږ خدایان ناتوانه دي، هیڅ درک او پوهه نه لري او نه کومه توانايي لري آن تر دې چې څوک خپله پرده باندې یرغل کوي د ځان دفاع لانشي کولای نو بل چاته به څه تاوان او څه ګټه ورسوي؟ دا هغه شېبې وې چې ابراهیم علیه السلام ددغه سرکښانو راتینګ کړ او خپل دلیل یې پیاوړی او برلاسی کړئ په همدې وخت کې ابراهیم علیه السلام ته زمینه مساعده سوه او ددې فرصت په لاس ورغلی چې پر دوی باندې الزام ولګوي، دوی ته د دوی ناپوهي ور په ګوته کړي، د هغه باطل څرګندونه ورته وکړي چې دوی په اخته دي نو ځکه یې په دلیل ویلو پیل وکړئ او وې فرمایل: [قَالَ أَفَتَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ مَا لَا يَنْفَعُكُمْ شَيْئًا وَلَا يَضُرُّكُمْ (٦٦) أُفٍّ لَكُمْ وَلِمَا تَعْبُدُونَ مِنْ دُونِ اللَّهِ أَفَلَا تَعْقِلُونَ][2]

ژباړه : ابراهیم علیه السلام وویل: ایا تاسو د یوه داسې چا عبادت کوئ د الله جل جلاله ماسوا چې تاسو ته نه ګټه رسولای شي او نه تاوان درسولای شي، تاسو ته ناخوښه ده او هغه څه چې تاسو یې عبادت کوئ دالله جل جلاله ماسوا ایا تاسو نه پوهیږئ.

---

[1] سورت الانبیاء: ٦٤-٦٥ آیتونه

[2] سورت الانبیاء: ٦٦-٦٧ آیتونه

کله چې د ابراهیم علیه السلام قوم په خپل کار کې ناکامه شو د خپلې رسوایۍ څخه وبېرېده، هیڅ دلیل یې نه درلود چې په هغه دلیل سره ابراهیم علیه السلام ملزم کړي نو په زور یې لاس پورې کړ څو په دې لاره سره خپله ماته پټه کړي او پر خپله باطله عقیده باندې پرده واچوي هغه وو چې دوی وویل:[ قَالُوا حَرِّقُوهُ وَانْصُرُوا آلِهَتَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ فَاعِلِينَ][1]

ژباړه: دوی وویل: ابراهیم علیه السلام وسوځئ او د خپلو خدایانو ننگه وکړئ که تاسو کونکي یاست.

**درېیم مطلب: په اور کې سوځول**

دابراهیم علیه السلام قوم دده دسوځولو لپاره اقدام وکړ، دوی د سون توکو د ټولولو لپاره پوره هڅې کولې د ابراهیم علیه السلام سزا یې له دې وجهې څخه ځنډولې وه چې ښه ډېر بوټي ټول کړي. بوټي یې خورا ډېر سره جمعه کړل چې بیخي د دوی د اور بلولو ځای تنگ شو وروسته یې دغه اور ولگاوه، لمبې پورته شوې، ابراهیم علیه السلام یې لاس تړلی ورته راوست او اور ته یې وروغورځاوه. ابراهیم علیه السلام د خپل لوی خدای جل جلاله تر نظارت لاندې وو، کله به حقیقي خدای جل جلاله خپل رښتینی استازی د ظالمانو او گمراهانو په لاس په اور سوځي؟ کله چې ابراهیم علیه السلام اور ته وغورځول شو الله جل جلاله اور ته امر وکړ:[قُلْنَا يَا نَارُ كُونِي بَرْدًا وَسَلَامًا عَلَى إِبْرَاهِيمَ (٦٩) وَأَرَادُوا بِهِ كَيْدًا فَجَعَلْنَاهُمُ الْأَخْسَرِينَ][2]

ژباړه: موږ وویل: اې اوره! یخ او سلامت شه پر ابراهیم علیه السلام باندې، دوی و ابراهیم علیه السلام ته د چل اراده وکړې نو موږ دوی د سختو تاوانیانو څخه وگرځول.

خو دغه اور ابراهیم علیه السلام ونه سوځولای شو، (پاتې کېسه یې په معجزو کې بیانوو)

**څلورم مبحث: کتاب او معجزې**

**لومړی مطلب: صُحُف**

د حضرت ابراهیم علیه السلام د صحفیو شمېر که څه هم پورته ذکر شوی او د دغو صحیفو یادونه د قران کریم په دوو بیلا بیلو آیتونو کې ذکر شوې ده، خو مفسرینو یې زیات تشریح نه ده.
«أَمْ لَمْ يُنَبَّأْ بِمَا فِي صُحُفِ مُوسَى ٣٦ وَإِبْرَاهِيمَ الَّذِي وَفَّى»[3]
«إِنَّ هَذَا لَفِي الصُّحُفِ الْأُولَى ١٨ صُحُفِ إِبْرَاهِيمَ وَمُوسَى»[4]

---

١ سورت الانبیاء: ٦٨ آیت
٢ سورت الانبیاء: ٦٩-٧٠ آیتونه
٣سورت النجم: ٣٦ او ٣٧ ایتونه
٤سورت الاعلی: ١٨-١٩ ایتونه

په پورتنيو دوو آيتونو کې د حضرت ابراهيم عليه السلام د صحفو يادونه شوې ده او د حديث شريف له مفهوم نه هم معلومه ده چې په ابراهيم عليه السلام باندې لس صحيفې نازلې شوې دي:[1]
موږ له ډېرې پلټنې سره سره په دې ونه توانېدو تر څو د ابراهيم عليه السلام د صحفيو اړوند له دې اضافه معلومات تر لاسه کړو.

**دوهم مطلب: د حضرت ابراهيم عليه السلام معجزې**

د حضرت ابراهيم عليه السلام د معجزو څخه تر ټولو لويه معجزه يې د نمرود په لوی اور کې نه سوزيدل او هغه ورته په شنه چمن بدليدل وو لکه چې الله جل جلاله فرمايي:
«قَالُوا حَرِّقُوهُ وَانصُرُوا آلِهَتَكُمْ إِن كُنتُمْ فَاعِلِينَ **٦٨** قُلْنَا يَا نَارُ كُونِي بَرْدًا وَسَلَامًا عَلَى إِبْرَاهِيمَ **٦٩** وَأَرَادُوا بِهِ كَيْدًا فَجَعَلْنَاهُمُ الأَخْسَرِينَ »[2]
ژباړه: مشرکانو (د ناکامۍ او ملامتۍ څخه وروسته) وويل چې ابراهيم عليه السلام (په اور باندې) وسوزوئ او د خپلو معبودانو کومک وکړئ که چېرته تاسو (د کوم مهم کار) کوونکي ياست، موږ (اور ته)وويل چې: اې اوره په ابراهيم باندې يخ او سلامتيا شه (نو اور پرې سمدستې همدغسې شو) او مشرکانو د ابراهيم عليه السلام سره (په اور کې د اچولو په حيله) د چل اراده کړې وه خو موږ دوی ډېر زيانکاران جوړ کړل (چې د مسلک بطلان يې ښه څرګند او خجالت يې ښه اضافه شو).
د هغه اور د کميت او کيفيت په هکله مفسرينو کرامو ډېر معلومات ليکلي کوم چې د ابراهيم عليه السلام د سوزولو لپاره تيار شوی وو.[3]
په لومړي سر کې مشرکان مختلف وو چې ابراهيم عليه السلام قتل کړي او که يې په اور وسوزوي لکه چې الله جل جلاله د همدو د خولو څخه حکآيت کوي:
«فَمَا كَانَ جَوَابَ قَوْمِهِ إِلاَّ أَن قَالُوا اقْتُلُوهُ أَوْ حَرِّقُوهُ فَأَنجَاهُ اللهُ مِنَ النَّارِ»[4] يعنې د ابراهيم عليه السلام د قوم جواب بل نه وو مګر دا چې دوی وويل وېې وژنئ او يا يې په اور باندې وسوزوئ، خو الله جل جلاله نجات ورکړ.
خو په پای کې د فارسي کردانو له قوم څخه يوه سړي مشوره ورکړه چې په همدې باندې فيصليه وشوه بيا همدغه سړي ورته منجنق[5] جوړ کړ چې د همدې په زريعه يې د لېرې ځای څخه ابراهيم عليه السلام اور ته

١الدر المنثور: ج ٨، ص ٤٨٩
٢سورت الانبياء: ٦٨- ٧٠ ايتونه
٣زاد المسير، ج ٥، ص ٢٥٣
٤سورت العنکبوت: ٢٤ ايت
٥منجنيق داسې يوه اله ده چې په پخوانيو وختونو کې به د لويو کلاګانو د فتحه کولو په خاطر استعمالېدل له لرګيو څخه جوړېدل او ډېرې به د کلا منځ ته پرې ور غورځول کېدې.

ور گوزار کړ، که نه نو څوک خو اور ته نږدې نه شواى ورتلاى تر څو ابراهيم عليه السلام په کې ور واچوئ.[۱]

د ابراهيم عليه السلام د وخت د مشرکانو تعذيب داسې وو، لکه د په سورت البروج کې چې اشاره ورته شوې يعنې دغه تعذيب به يې د اصحاب الاخدود ته ورته وو، يعنې په خندقونو کې به يې اورونه بل کړل او هغه کسان چې د دوی د قانون خلاف به وو همدغو خندقونو ته به يې ور اچول. د سورت البروج د کېسې اړوند رسول الله صلی الله عليه وسلم يو اوږد حديث بيان کړی دی چې دلته يې له راوړ څخه تېرېږو.[۲]

خو د ابراهيم عليه السلام او اصحاب الاخدود د اور تر منځ دومره فرق وو، چې د ابراهيم عليه السلام لپاره يې يوه لويه احاطه جوړه کړه لکه چې الله جل جلاله فرمايي [قَالُوا ابْنُوا لَهُ بُنْيَانًا فَأَلْقُوهُ فِي الْجَحِيمِ][۳] يعنې مشرکانو وويل چې د ابراهيم عليه السلام د تعذيب او وژلو لپاره يوه بنا (کلا) جوړه کړئ او ښه قوي اور په کې بل کړئ او بل ابراهيم همدغه لوی او تيز اور ته ور واچوئ تر څو خلک عبرت واخلي، که څه هم مفسرينو ليکلي چې ابراهيم عليه السلام تر اوو ورځو[۴] يا څلويښتو ورځو او پنځوسو[۵] پورې په اور کې ښې په ارامي او سوکالي سره تېرې کړې، خو الله جل جلاله ښه پوهېږي چې څومره وخت به يې تېر کړی وي.

ددغه اور په بلولو او تيزولو کې شيطان او ځينو حيواناتو هم برخه اخېستې لکه چې ام شريک رضي الله عنها وايي چې نبي کريم صلی الله عليه وسلم د مځرک (کربوړي) په وژلو باندې امر کړی دی [وَ كَانَ يَنْفُخُ عَلَى اِبراهيم عليه السلام][۶]

همدا شان نبي کريم صلی الله عليه وسلم په يوه بل اوږد حديث کې فرمايلي دي چې: لومړی سړی به ابراهيم عليه السلام وي چې د قيامت په ورځ به ورته جنتي جامې اغوستل کېږي[۷]، شايد دا کار به ددې په عوض کې وي چې ابراهيم عليه السلام لومړی سړی وو چې د الله جل جلاله په لاره کې بربنډ شوی وو، دا ځکه چې ابراهيم عليه السلام په اور کې بربنډ اچول شوی وو، چې ښې او لاسونه يې ورته په پړي تړلي وو، پړی تر

---

۱تفسير ابن كثير، ج ۳، ص ۱۸۳

۲، جامع الترمذي ج ۲، ص ۱۷۱ حديث نمبر ۳۳۹۸ ،

۳سورت الصافات: ۹۷ ايت

٤تفسير القرطبي، ج ۱۱، ص ۳۰۴

۵الدر المنثور، ج ۵، ص ٦۳۹

٦ صحيح البخاري ج ۱، ص ۴۷۴: ۳۱۸۰ - حدثنا عبيد الله بن موسى، أو ابن سلام عنه: أخبرنا ابن جريج، عن عبد الحميد بن جبير، عن سعيد بن المسيب، عن أم شريك رضي الله عنها: أن رسول الله صلى الله عليه وسلم أمر بقتل الوزغ. وقال: (كان ينفخ على إبراهيم عليه السلام).

۷صحيح البخاري ج ۲، ص ٦۹۳ - ۴۴٦۳: حدثنا سليمان بن حرب: حدثنا شعبة، عن المغيرة بن النعمان، شيخ من النخع، عن سعيد بن جبير، عن ابن عباس رضي الله عنهما قال: خطب النبي صلى الله عليه وسلم فقال: (إنكم محشورون إلى الله حفاة عراة غرلا: {كما بدأنا أول خلق نعيده وعدا علينا إنا كنا فاعلين}. ثم إن أول من يكسى يوم القيامة إبراهيم، ألا إنه يجاء برجال من أمتي فيؤخذ بهم ذات الشمال، فأقول: يارب أصحابي، فيقال: لاتدري ما أحدثوا بعدك، فأقول كما قال العبد الصالح: {وكنت عليهم شهيدا ما دمت - إلى قوله - شهيد}. فيقال: إن هؤلاء لم يزالوا مرتدين على أعقابهم منذ فارقتهم).

اور وسوزاوو او لاسونه او پښې يې ور پرانستل، خو د اور په داخل کې هم الله جل جلاله بربنډ پرې نه ښود او جنتي جامې يې ور واغوستې او په جنتي فرش باندې يې کښېناوو، تا به ويل چې د ګلانو په منځ کې ناست دی.[1]

د حضرت ابی بن کعب رضي الله عنه څخه روآيت دی چې اور ته د ابراهيم عليه السلام د اچولو په وخت کې ابراهيم عليه السلام او جبرائيل عليه السلام داسې سوال او جواب سره وکړ.

جبرائيل عليه السلام: ما ته څه حاجت شته؟

ابراهيم عليه السلام: تا ته هيڅ اړتيا نه لرم.

جبرائيل عليه السلام: نو خپل رب جل جلاله ته سوال وکړه .

ابراهيم عليه السلام وويل: دا مې بس ده او د سوال څخه کفآيت کوي چې زما رب زما په حال باندې علم لري، نو څه چې يې اراده وي هغسې به وکړي.[2]

او بلاخره دغه لويه معجزه د عبدالله بن عباس رضي الله عنه په دې حديث سره پام ته رسوم چې فرمايي: په کوم وخت کې چې ابراهيم عليه السلام په اور کې واچول شو نو وروستۍ خبره يې دا وه چې الله جل جلاله مې بس دی او الله جل جلاله ډېر ښه سازګار دی.[3]

### پنځم مبحث: وفات

کله چې د حضرت ابراهيم عليه السلام عمر ۱۵۵ کاله شو نو ضعيف شو او کمزوري يې محسوس کړه، حضرت عزرائيل عليه السلام ابراهيم عليه السلام ته راغی نو حضرت ابراهيم عليه السلام ملک الموت ته وويل چې د رب جليل نه پوښتنه وکړه چې کوم دوست د دوست د ځان اخستی دی؟، بيا يې تا ته زما د ساه اخيستو حکم کړی دی، پروردګار عالم وفرمايل زما د خليل نه پوښتنه وکړه چې چا يو دوست د دوست د ملاقات نه انکار کړی دی؟ ددې خبرې له اوريدو سره حضرت ابراهيم عليه السلام وفرمايل چې حکم الهی پوره کړه، بيا حضرت عزرائيل عليه السلام دده روح مبارک قبض کړه. او د مکفيليه په غار کې چې مخکې لا بې بې سارا په کې دفن شوې وه خاورو ته وسپارل شو، دغه غار يا د غره په لمن کې جوړه شوه ګومبزه د اوسني فلسطين د الخليل ( اوس مهال يې د قبر تر څنګ يو لوی جومات هم جوړ شوی دی د ال ابراهيم په نوم[4]) په ښار کې ده او داسې ويل کې د اسحق عليه السلام، يعقوب عليه السلام قبرونه هم دلته دي.[5]

---

۱عزيز التفاسير، ج ۸، ص ۱٦۳

۲تفسير البغوي، ج ۳، ص ۲۵۰

۳صحيح البخاري ج ۲، ص ٦۵۵: (٤۲۸۸) - حدثنا مالك بن إسماعيل: حدثنا إسرائيل، عن أبي حصين، عن أبي الضحى، عن ابن عباس قال: كان آخر قول إبراهيم حين ألقي في النار: حسبي الله ونعم الوكيل.

٤اړوند معلومات او د دغه ځای او جومات عکسونه موجود دي. /www.islamweb.net

۵ قصص الانبياء ابن كثير، ص ۱٦۱

# خلورم فصل

## حضرت موسیٰ علیه السلام

### تمهید

الله جل جلاله فرمايي: [نَتْلُو عَلَيْكَ مِنْ نَبَأِ مُوسَى وَفِرْعَوْنَ بِالْحَقِّ لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ][1]

ژباړه: موږ پر تا باندې ځينې پيښې د موسی علیه السلام او فرعون بيانوو د هغه کسانو لپاره چې مؤمنان دي.

حضرت موسی علیه السلام د ترتيب په لحاظ دریم اولو العزمه پیغمبر دی. چې تر مخکنيو دوو اولو العزمه پيغمبرانو (نوح او ابراهیم علیهم السلام) ډېر ځلې په قرآن کريم کې ذکر شوی دی، ددې خبرې يو دليل دا هم کېدای شي چې د قرآن کریم د نزول په وخت کې بني اسرائيل د حجاز په خاوره کې په پريمانه اندازه موجود وو، تر څو نبي کريم صلی الله عليه وسلم د هغوی له مخکنيو واقعاتو او د هغوی له طغيان او سرکښي خبر کړای شي. الله جل جلاله خپل خواږه پیغمبر صلی الله علیه وسلم ته د قرآن کريم په پيل کې د ادم علیه السلام د خلاقت له کيسې وروسته سمدستي د بني اسرائيلو او موسی علیه السلام کيسې پيل کوي او لکه څرنګه چې البقره د قرآن کريم تر ټول اوږد سورت دی او دغه سورت کې هم د موسی علیه السلام او قوم اړوند کيسه چې د غوا (بقره) ذبحه ده راغلې ده.

### لومړی مبحث: تفصيلي پېژندنه

#### لومړی مطلب: نسب او پېژندنه

موسی علیه السلام بن عمران بن يصهر بن قاهث بن لاوې بن یعقوب علیه السلام[2]. یعقوب علیه السلام چې د اسحاق علیه السلام زوی او د ابراهيم علیه السلام لمسی دی یعني د موسی علیه السلام د نسب سلسله ابراهيم علیه السلام ته رسيږي. هارون علیه السلام د موسی علیه السلام ورور وو چې الله جل جلاله د موسی علیه السلام د مرستې لپاره ورسره پیغمبر کړی و، لکه څرنګه چې يې د نسب سلسله تر يعقوب (اسرائيل) علیه السلام پورې رسيږي نو ويلای شو چې په قوم اسرائيل او د سبطيانو له قبيلې څخه وو کومه قبيله چې د فرعون يا قبطيانو له خوا ور باندې له حده زيات ظلمونه کېدل[3].

الله جل جلاله په داسې حال کې موسی علیه السلام پيدا کړ، چې په دنيا کې ډېر لوی سرکښ فرعون په واک وو چې په طغيان او تيري سره خورا مشهور وو تر داسې بريده چې په واک يې د الله جل جلاله سره د

---

۱ سورت القصص: ۲ آيت

۲ الكامل في التاريخ: ج ۱، ص ۱۵۰

۳ عزيز التفاسير، ج ۹، ص ۲۷۲

منازعې لپاره پورته شوی وو او د خدايۍ دعوه يې کړې وه او دا ګومان يې کاوه چې زه معبود او اله يم. ددغه سرکښ اصلي نوم وليد بن مصعب بن معاويه صاحب يوسف الثاني[1] وو او لقب يې فرعون وو همدا ډول د مصر د ټولو پاچاهانو لقبونه د فرعون په نوم يادېده يعني د مصر ټولو پاچهانو ته فرعونيان ويل کيږي دا يو داسي لقب وو لکه د کسرى لقب چې د فارس ټول پاچهانو ته ورکول کېده او يا د قيصر لقب چې د روم ټولو پاچهانو ته ورکول کېده.

د فرعون ورور قابوس چې کله مړ شو نو د سلطنت چارې ده ته وسپارل سوې. قابوس هغه څوک وو چې يوسف عليه السلام د اسلام دعوت ورکړی وو او ده نه وو منلی، قابوس ډېر ظالم او بدخويه انسان وو، يوسف عليه السلام هم دده په زمانه کې وفات شوی دی. قابوس په مصر کي اوږد مهالی حکومت وکړ، تر ډېري مودې وروسته هلاک شو. کله چې فرعون ته واک وسپارل شو دی د خپل ورور په پرتله په فسق، فجور، سرکښي او ظلم کې خورا زيات وو .

يوسف عليه السلام چې کله وفات شو نو بني اسرائيلو د خپل پلار او نېکه دين تعقيبوئ کله چې فرعون واکمن شو نو پر دوی باندې يې داسې ظلمونه وکړل چې نه يې مخکې داسې ظلمونه ليدلي وه او نه به يې وروسته ويني. الله جل جلاله همدغې خبرې ته اشاره کړې ده او فرمايي: [ نَتْلُو عَلَيْكَ مِنْ نَبَإِ مُوسَى وَفِرْعَوْنَ بِالْحَقِّ لِقَوْمٍ يُؤْمِنُونَ (٣) إِنَّ فِرْعَوْنَ عَلَا فِي الْأَرْضِ وَجَعَلَ أَهْلَهَا شِيَعًا يَسْتَضْعِفُ طَائِفَةً مِنْهُمْ يُذَبِّحُ أَبْنَاءَهُمْ وَيَسْتَحْيِي نِسَاءَهُمْ إِنَّهُ كَانَ مِنَ الْمُفْسِدِينَ (٤) وَنُرِيدُ أَنْ نَمُنَّ عَلَى الَّذِينَ اسْتُضْعِفُوا فِي الْأَرْضِ وَنَجْعَلَهُمْ أَئِمَّةً وَنَجْعَلَهُمُ الْوَارِثِينَ (٥) وَنُمَكِّنَ لَهُمْ فِي الْأَرْضِ وَنُرِيَ فِرْعَوْنَ وَهَامَانَ وَجُنُودَهُمَا مِنْهُمْ مَا كَانُوا يَحْذَرُونَ][2]

ژباړه: موږ پر تا باندې ځينې پيښې د موسی عليه السلام او فرعون بيانوو د هغه کسانو لپاره چې مؤمنان دي. بېشکه فرعون په مځکه کې کبر کاوه خلګ يې ډلي ډلي کړي وه يوه يوه ډله يې د دوی څخه ډېره ضعيفه کړې وه زامن يې ور وژل او لونې به يې ژوندۍ ورپرېښودلې، بېشکه فرعون د فساد کونکو خلګو څخه وو. موږ اراده لرو چې احسان پر هغه کسانو باندې وکړو چې په مځکه کي کمزوره وي موږ يې امامان جوړ کړو، او موږ يې وراثان جوړ کړو او موږ په مځکه کې قدرت ورکړو، موږ دوی ته فرعون او هامان ښيو او لښکر د دوی چې د بني اسرائيلو څخه جوړ وو، دوی د خپل قدرت په زول باندې ببرېدل.

[1] الكامل في التاريخ: ج١، ص ١٥٠

[2] سورت القصص: ٣-٦ آيتونه

**دوهم مطلب: د زېږېدنې کیسه**

لکه څرنګه چې په پورتني مطلب کې ولوستل شو، چې فرعون خورا ظالم و، د بني اسرائیلو زامن به یې وژل او لوڼې به یې پرېښودې، فرعون ددې کار سبب مفسیرینو[1] ذکر کړی او ډېرې کیسې او معلومات یې وړاندې کړي دي چې له هغې جملې یې په لنډو ټکو کې دا وایو چې فرعون خوب ولید چې د بني اسرائیلو د یوه ماشوم له لاسه به یې حکومت له منځه ورل کېږي، یا ممکن د فرعون د خوب تعبیر د نجومیانو لخوا داسې شوی وي. په هر حال فرعون له دې خوب وروسته امر وکړ چې نوي پیدا کېدونکي ماشومان دې ټول وژل کېږي.

بیا چې کله د فرعون دغه ظلم پیل شو بیا نو مشرانو فرعون ته مشوره ورکړه تر څو یو کال وفقه وکړي او یو کال وژنه، دا ځکه چې په دې سره د نسل ختمېدل کېږي، نو څرنګه چې هارون علیه السلام د موسی علیه السلام څخه یو کال مشر وو هغه په همدې وقفوي کال کې پاتې شو.[2]

په همدې سلسله چې کله د موسی علیه السلام د ولادت وخت نږدې شو نو الله جل جلاله له لوري د موسی علیه السلام مور ته د سکون او ارامېدو الهام وشو، له دغه الهام وروسته د موسی علیه السلام د مور زړه له آرام او مطمین شو الله جل جلاله په دې اړه فرمایي: [«وَأَوْحَيْنَا إِلَى أُمِّ مُوسَى أَنْ أَرْضِعِيهِ فَإِذَا خِفْتِ عَلَيْهِ فَأَلْقِيهِ فِي الْيَمِّ وَلاَ تَخَافِي وَلاَ تَحْزَنِي إِنَّا رَادُّوهُ إِلَيْكِ وَجَاعِلُوهُ مِنَ الْمُرْسَلِينَ، فَالْتَقَطَهُ آلُ فِرْعَوْنَ لِيَكُونَ لَهُمْ عَدُوًّا وَحَزَنًا إِنَّ فِرْعَوْنَ وَهَامَانَ وَجُنُودَهُمَا كَانُوا خَاطِئِينَ]»[3]

مور د موسی علیه السلام مور ته الهام وکړ، چې ده ته تی ورکړه بیا کله چې ستا سره د هغه د سر خطر وي نو هغه په سیند کې وغورځوه، او هیڅ ویره او اندیښنه مه کوه مور به هغه بیرته همدا تاته راولو او هغه به د پیغمبرانو په ټولۍ کې شامل کړو، په پای کې د فرعون کورنۍ هغه له سیند څخه راویست تر څو د هغه لپاره دښمن او د خپګان سبب شي، خبره داده، چې فرعون، هامان او د هغو لښکر (په خپله دسیسه کې) غلط شوي ول.

د موسی علیه السلام مور هغه د ویرې په حالت کې دنیا ته راوړ، څرنګه چې د خدای جل جلاله په اطمنان ډاډه وه، هغه ته یې شیدې ورکول پیل کړل خو څرنګه چې پرې ویریده؛ هسې نه د فرعون جلادان یې وویني او ویې وژني نو هغه ته یې یو صندوق برابر کړ، پنبه یې په کې کېښوده موسی علیه السلام یې په کې کېښود او ور یې ور قولپ کړ، خپلې لور د موسی علیه السلام خور ته یې وویل هغه څاره؛ دغه ټولې کړنې

---

۱ تفسیر ابن کثیر، ج ۱، ص ۹۰ او تفسیر القرطبي، ج۱ ص ۳۵۷
۲ عزیز التفاسیر ج ۱، ص ۱۰۵
۳ القصص: ۷- ۸ ایتونه

د الله جل جلاله په الهام سره ترسره کېدې، د موسی علیه السلام مور په دې پوهیده چې الله جل جلاله به هغه بیرته سالم او محفوظ دې ته رارسوي، څرنګه چې هغه د نیل سیند ته واچوو مقرر شویو څپو هغه صندوق د فرعون مانۍ ته یووړ، دلته د فرعون غلامان او مینځې چې د اوبو په وړلو او د اشیاو په منځلو مصروفې وي صندوق ولید هغه یې له اوبو را پورته کړ او کور ته یې اسیې بې بې (د فرعون مېرمن) ته ور وړ، آسیې چې کله د صندوق سر خلاص کړ او ماشوم یې په کې ولید الله جل جلاله یې په زړه کې له ماشوم سره مینه پیدا کړه، خو کله چې یې خاوند فرعون راغی او ماشوم یې ولید غوښتل یې هغه ووژني، خو آسیې زارۍ شروع کړې تر څو د هغه له وژلو تیر شي او لکه څرنګه چې آسیه شنډه او بې اولاده وه نو له فرعون نه یې اجازه واخېسته تر څو هغه (موسی) خپل زوی وبولي.[1]

«وَقَالَتِ امْرَأَتُ فِرْعَوْنَ قُرَّتُ عَيْنٍ لِّي وَلَكَ لاَ تَقْتُلُوهُ عَسَى أَن يَنفَعَنَا أَوْ نَتَّخِذَهُ وَلَدًا وَهُمْ لاَ يَشْعُرُونَ»[2]

ژباړه: د فرعون میرمنې هغه ته وویل، دی زما او ستا لپاره د سترګو یخوونکی دی، مه یې وژنه، کېدای شي چې دی زموږ لپاره ګټور ثابت شي یا به یې موږ په زوی توب ونیسو، خو هغوی له عاقبت څخه بې خبره وه.

موسی علیه السلام د آسیې سره اوسېده هغه آسیه چې په قسم سره یې د فرعون څخه دغه ماشوم غوښتی وو او فرعون هم ورکړی وو. الله جل جلاله د آسیې په زړه کې د موسی علیه السلام محبت اچولی وو. په همدې ډول د فرعون په زړه کې هم الله جل جلاله د موسی علیه السلام محبت اچولی وو دده سره یې ښه سلوک کاوه او نرمي یې پرې کوله لکه چې الله جل جلاله فرمایي: [ يَأْخُذْهُ عَدُوٌّ لِّي وَعَدُوٌّ لَّهُ وَأَلْقَيْتُ عَلَيْكَ مَحَبَّةً مِّنِّي وَلِتُصْنَعَ عَلَى عَيْنِي][3]

ژباړه: هغه به زما دښمن او د دغه ماشوم دښمن راواخلي، ما له خپل لوري څخه پر تا مینه خوره کړه او داسې انتظام مې وکړ چې ته زما په څارنه کې وپالل شې.

اسیه د یوې دایي په لټه کې شوه چې موسی علیه السلام ته شیدې ورکړي او تربیه یې وکړي، ډول، ډول دایاني یې راوستلې خو موسی علیه السلام د یوې دایي غېږ ته هم نه ورتلئ تر داسې بریده چې آسیه پردې وېرېږېده چې دغه ماشوم هلاک نشي آخر خپله په دې کار پسي ولاړه شوه د موسی علیه السلام خور یې ولیده هغې ورته وویل ماته یوه دایي معلومه ده کېدای شي چې د هغه دایي غېږ قبوله کړي آسیې ورته وویل: ته دغه دایي راوله که یې د هغه دایي غېږ قبوله کړه او د هغې شیدې یې ورودلې زه به ډېر لوی انعام ورکړم او ښه به یې ونازوم. د موسی علیه السلام خور ولاړه خبله مور یې راوسته د موسی علیه السلام مور چې خپل زوی ولید نژدې وو چې تر خوله یې وتلي وای چې دا زما زوی دی دستي یې دغه ماشوم راپورته کړ په غېږ کې

---

1 عزیز التفاسیر، ج ۹، ص ۲۷۴
2 القصص: ۹ ایت
3 طه: ۳۹ ایت

يې ونيو او شيدې يې ورکړې موسی عليه السلام د خپلې مور شيدې په ډېر شوق سره ورودلې. د الله جل جلاله عجيب کارونه دي، د انسان عقل کار نه پکې کوي. الله جل جلاله خبل دوست بېرته خپلې مور ته هم وصلی کړ، او د خپل زوی پر روزلو يې تنخوا هم ورته مقرر کړه او هم يې خپل زوی په ښکاره روزلای شو او مخکې پر حيرانه وه چې څنګه اوچيري يې پټ کړي[1]. اسيه ډېره خوشحاله شوه چې ماشوم شيدې ورودلې او د موسی عليه السلام د مور څخه يې وغوښتل چې دلته نژدې په دغه قصر کې واوسيږي او دغه ماشوم شيدې ورکوي او روزنه يې کوي، بيا يې وعده ورکړه چې زه به تاته خورا زياته تنخوا کنبېږدم او ښه انعامونه به درکړم خو د موسی عليه السلام مور دا خبره ونه منل او و ويل: چې زه دا کار نه شم کولای ځکه زه خپل ماشومان او اولادونه پر دې هلک نه شم پرېښودلای په يوه شرط يې کوم چې دغه ماشوم ماته راکړې او زه يې خپل کور ته بوزم، هلته به يې ښه روزنه وکړم او ښه به يې نازوم. آسيې ورسره خوښه کړه په دې شرط چې تر ټاکلي وخت وروسته به دغه هلک بېرته ماته راکوې ځکه ددغه هلک محبت زما په زړه کې ځای نيولی دئ. چې الله جل جلاله د موسی عليه السلام ستر حکمت وو او د هغې ژمني پوره کېدل وه چې الله جل جلاله د موسی عليه السلام د مور سره کړې وه چې تاته به بېرته خپل زوی درکوم.[2]

موسی عليه السلام د خپلې مور سره يو ځای شو په ښه ارامه فضا او مظمئن زړه سره يې مور پالنه کول او د فرعون تر مراقبت لاندې مور شيدې ورکولې لکه چې الله جل جلاله فرمايي: [وَأَصْبَحَ فُؤَادُ أُمِّ مُوسَى فَارِغًا إِن كَادَتْ لَتُبْدِي بِهِ لَوْلاَ أَن رَّبَطْنَا عَلَى قَلْبِهَا لِتَكُونَ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ، وَقَالَتْ لأُخْتِهِ قُصِّيهِ فَبَصُرَتْ بِهِ عَن جُنُبٍ وَهُمْ لاَ يَشْعُرُونَ، وَحَرَّمْنَا عَلَيْهِ الْمَرَاضِعَ مِن قَبْلُ فَقَالَتْ هَلْ أَدُلُّكُمْ عَلَى أَهْلِ بَيْتٍ يَكْفُلُونَهُ لَكُمْ وَهُمْ لَهُ نَاصِحُونَ، فَرَدَدْنَاهُ إِلَى أُمِّهِ كَيْ تَقَرَّ عَيْنُهَا وَلاَ تَحْزَنَ وَلِتَعْلَمَ أَنَّ وَعْدَ اللهِ حَقٌّ وَلَكِنَّ أَكْثَرَهُمْ لاَ يَعْلَمُونَ][3]

ژباړه: د موسی عليه السلام د مور زړه د صبر څخه خالي وګرځېده، خامخا نژدې وه چې دغه قصه ښکاره کړي که يې مور زړه په ثبات او صبر سره نه وای ټينګ کړی ددې لپاره چې دا د باور کوونکو څخه شي. د موسی عليه السلام مور د موسی عليه السلام خور ته وويل: ورشه وې څاره، نو دې ورته کتل لکه نابلده حال دا چې دا فرعونيان نه پوهېدل. مور پر موسی عليه السلام باندې نورې دايې حرامې کړې نو خور يې وويل: ايا زه تاسو ته يوه داسې کورنۍ وښيم؟ چې ددغه ماشوم روزنه وکړي او دوی دغه ماشوم ته خير غوښتونکي وي؟ مور موسی عليه السلام خپلې مور ته رد کړ، چې ددې سترګې په يخې شي او غمګينه نه شي او ددې لپاره چې دا پوه شي د الله جل جلاله وعده حقه ده مګر ډېر خلک نه پوهيږي.

---

١ عزيز التفاسير، ج ٨، ص ١٠-١١

٢ عزيز التفاسير، ج ٩، ص ٢٧۴ - ٢٧۵

٣ القصص: ١٠ -١٣

دلته باید یوه یادونه وکړو چې آسیه کامله ښځه وه، خو لکه څرنګه چې د قرآن کریم له آیتونو څخه ددې نوم نه دی څرګند شوی بلکې د فرعون د میرمنې په نوم یاده شوې ده. مګر نوم یې آسیه وو او کامله ښځه وه لکه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي:

«کَمُلَ مِنَ الرِجالِ کَثِیرٌ وَ لَمْ یَکْمُلْ مِن النِّساءِ اِلا آسِیَةٌ امراةُ فِرْعوَن وَ مَرْیَمْ بِنتُ عِمْران وَ فَضْلُ عَائِشَه عَلٰی النِساءِ کَفَضلِ الثَّرِیْدِ عَلٰی سَائِرِ الَّطعَامِ»[1]

ژباړه: د سړیو څخه ډېر کمال ته رسیدلي دي چې نبوت یا ولآیت ورکړل شوی دی، او د ښځو څخه کمال ته نه دې رسیدلې مګر یوه د فرعون مېرمن آسیه رضي الله عنه کمال ته رسیدلې او بله د عمران لور مریم رضي الله عنه کمال ته رسیدلې وه چې دواړه د الله دوستانې وې او بلاخره عائشه کامله ښځه ده او صدیقه ده، ددې بهترې په نورو ښځو باندې داسې مثال لري لکه چې په ښوروا کې میده کړې ډوډۍ چې په نورو خوراکونو بهتري لري.[2]

د موسی کلمه له دوو برخو تشکیله شوې چې یوه یې د هغوی په سریاني ژبه «مو» د اوبو په مانا او بله برخه یې «سی» د ګیو ونو د پاره وضع شوې ده، نو څرنګه چې له اوبو څخه راپورته کړل شوی ماشوم له کوم ځای څخه چې هلته ګڼې ونې وي نو بې بې اسیې رضي الله عنه پرې دا نوم کېښود موسی.[3]

**درېیم مطلب: د قبطي وژل او مدین ته تلل**

کله چې د موسی علیه السلام عمر لږ څه د ځواني سرحد ته ورسید؛ خپل جسمي قوت او او عقلي وړتیا ته ورسید، نو یوه ورځ د فرعون له مانۍ څخه راووت او بې پامه غوندې او پرته له دې چې د هغه ځای خلک خبر شي بازار ته لاړ، نو دا چې بیا هلته څه پېښ شول او د ده د ژوند نور داستان څه ډول شو ښه به دا وي تر څو له الهي کلامه دا کېسه واورو: [«وَلَمَّا بَلَغَ أَشُدَّهُ وَاسْتَوَى آتَيْنَاهُ حُكْمًا وَعِلْمًا وَكَذَلِكَ نَجْزِي الْمُحْسِنِينَ، وَدَخَلَ الْمَدِينَةَ عَلَى حِينِ غَفْلَةٍ مِّنْ أَهْلِهَا فَوَجَدَ فِيهَا رَجُلَيْنِ يَقْتَتِلاَنِ هَذَا من شِيعَتِهِ وَهَذَا مِنْ عَدُوِّهِ فَاسْتَغَاثَهُ الَّذِي من شِيعَتِهِ عَلَى الَّذِي مِنْ عَدُوِّهِ فَوَكَزَهُ مُوسَى فَقَضَى عَلَيْهِ قَالَ هَذَا مِنْ عَمَلِ الشَّيْطَانِ إِنَّهُ عَدُوٌّ مُّضِلٌّ مُّبِينٌ ١٥ قَالَ رَبِّ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي فَاغْفِرْ لِي فَغَفَرَ لَهُ إِنَّهُ هُوَ الْغَفُورُ الرَّحِيمُ ١٦ قَالَ رَبِّ بِمَا أَنْعَمْتَ عَلَيَّ فَلَنْ أَكُونَ ظَهِيرًا لِّلْمُجْرِمِينَ ١٧ فَأَصْبَحَ فِي الْمَدِينَةِ خَائِفًا يَتَرَقَّبُ فَإِذَا الَّذِي اسْتَنصَرَهُ بِالأَمْسِ يَسْتَصْرِخُهُ قَالَ لَهُ مُوسَى إِنَّكَ لَغَوِيٌّ مُّبِينٌ ١٨ »[4]

---

١ صحیح البخاري، ج ١، ص ۴٨۴

٢ تفسیر البغوي، ج ٣، ص ٤٣٦

٣ پورتني مرجع

٤ القصص: ١۴ – ١٨ ایت

ژباړه: او کله چې موسی علیه السلام د خپلې ځوانۍ پوره عمر ته ورسیدو او د هغه وده بشپړه شوه نو موږ هغه ته حکم او علم ورکړ، موږ نیکانو ته همداسې مکافات ورکوو، (یوه ورځ) هغه (د مصر) ښار ته په داسې وخت کې ننوت چې د ښار خلک په غفلت کې ول (د غرمې وخت وو ویده وو) هلته هغه د دوو تنو جنګ ولید، دا یو د هغه د خپل قوم (سبطی) وو او دا بل د دښمن قوم (قبطی) و، نو خپل قومي د دښمن په وړاندې له ده څخه مرسته وغوښته؛ موسی هغه قبطی یو سوک وواهه او کار یې پای ته ورسیده( مړ شو) (ددې کار له کولو وروسته) موسی علیه السلام وویل دا د شیطان په لمسون کار دی، هغه سخت دښمن او سخت بې لارې کوونکی دی، بیا یې وویل زما پروردګاره! ما پر خپل ځان ظلم وکړ ماته بښنه وکړه؛ نو الله هغه ته بښنه وکړه، هغه ښه بښونکی او خورا مهربان دی. له دې وروسته موسی ژمنه وکړه چې اې زما ربه دغه احسان چې تا پر ما وکړ، له دې وروسته به زه هیڅکله د مجرمانو ملاتړ نه شم. بله ورځ هغه سهار په توره خړه ویریدونکی او له هرې خو د خطر په احساسولو څارونکی په لاره روان وو چې په ناڅاپي ډول ګوري هماغه سړی چې پرون یې له ده څخه مرسته غوښتې وه، نن بیا ده ته فریاد کوي، موسی علیه السلام وویل ته خو ښکاره ګمراه سړی یې.

الله جل جلاله کیسه بیانوي او فرمایي [فَأَصْبَحَ فِي الْمَدِينَةِ خَائِفًا يَتَرَقَّبُ فَإِذَا الَّذِي اسْتَنْصَرَهُ بِالْأَمْسِ يَسْتَصْرِخُهُ قَالَ لَهُ مُوسَى إِنَّكَ لَغَوِيٌّ مُبِينٌ (١٨) فَلَمَّا أَنْ أَرَادَ أَنْ يَبْطِشَ بِالَّذِي هُوَ عَدُوٌّ لَهُمَا قَالَ يَا مُوسَى أَتُرِيدُ أَنْ تَقْتُلَنِي كَمَا قَتَلْتَ نَفْسًا بِالْأَمْسِ إِنْ تُرِيدُ إِلَّا أَنْ تَكُونَ جَبَّارًا فِي الْأَرْضِ وَمَا تُرِيدُ أَنْ تَكُونَ مِنَ الْمُصْلِحِينَ (١٩) وَجَاءَ رَجُلٌ مِنْ أَقْصَى الْمَدِينَةِ يَسْعَى قَالَ يَا مُوسَى إِنَّ الْمَلَأَ يَأْتَمِرُونَ بِكَ لِيَقْتُلُوكَ فَاخْرُجْ إِنِّي لَكَ مِنَ النَّاصِحِينَ (٢٠) فَخَرَجَ مِنْهَا خَائِفًا يَتَرَقَّبُ قَالَ رَبِّ نَجِّنِي مِنَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ][١]

ژباړه: . بیا په ښار کې په داسې حالت کې سهار شو چې خلګ د قبطي په قاتل پسې ګرځېدل، په دغه وخت کې هغه کس بیا دده څخه مرسته وغوښته چې پرون یې مرسته ورسره کړې وه. موسی علیه السلام ورته وویل: بېشکه ته ښکاره ګمراه یې. کله چې ده اراده وکړه چې هغه کس ونیسي چې د دوی دواړو دښمن وو هغه وویل: اې موسیٰ! ته غواړې چې ما ووژنې لکه پرون چې دې هغه بل سړی وواژه. ته اراده نه لرې مګر دا چې ته په مځکه کې یو ظالم کس شې او ته اراده نه لرې چې ته د مصلحانو خلګو څخه جوړ شې. یو بل کس د ښار د پای څخه راغلی په ډېره چابکۍ سره او وې ویل: اې موسیٰ! بېشکه رئیسان مشوره کوي چې تا ووژني نو ته د ښار څخه ووزه بېشکه زه تاته د نصیحت کونکو څخه یم. نو موسی علیه السلام د ښار

١ سورت القصص: ١٨- ٢١ آیتونه

څخه ووت د ويرې څخه د هغه کسانو چې دده لټون يې کاوه. موسى عليه السلام وويل: اې زما ربه! ما ته د ظالمانو څخه نجات راکړې.

دغه کس چې موسى عليه السلام ته يې د فرعون د غونډې حال راوړ د زياتو مفسرينو[1] په نظر هغه کس دی کوم چې په دې آيت کې ذکر شوی دی [وَقَالَ رَجُلٌ مُّؤْمِنٌ مِّنْ آلِ فِرْعَوْنَ يَكْتُمُ إِيمَانَهُ أَتَقْتُلُونَ رَجُلاً أَن يَقُولَ رَبِّيَ اللَّهُ وَقَدْ جَاءكُم بِالْبَيِّنَاتِ مِن رَّبِّكُمْ وَإِن يَكُ كَاذِبًا فَعَلَيْهِ كَذِبُهُ وَإِن يَكُ صَادِقًا يُصِبْكُم بَعْضُ الَّذِي يَعِدُكُمْ إِنَّ اللَّهَ لاَ يَهْدِي مَنْ هُوَ مُسْرِفٌ كَذَّابٌ][2]

کله چې موسى عليه السلام د دغه کس په ويلو سره له ښار ووت او الله جل جلاله ته يې سوال وکړ چې له ظالمانو څخه نجات راکړه، الله جل جلاله ورته د مدين[3] لاره برابره کړه.

**څلورم مطلب: په مدين کې**

الله جل جلاله فرمايي: [وَلَمَّا وَرَدَ مَاءَ مَدْيَنَ وَجَدَ عَلَيْهِ أُمَّةً مِنَ النَّاسِ يَسْقُونَ وَوَجَدَ مِنْ دُونِهِمُ امْرَأَتَيْنِ تَذُودَانِ قَالَ مَا خَطْبُكُمَا قَالَتَا لَا نَسْقِي حَتَّى يُصْدِرَ الرِّعَاءُ وَأَبُونَا شَيْخٌ كَبِيرٌ(٢٣) فَسَقَى لَهُمَا ثُمَّ تَوَلَّى إِلَى الظِّلِّ فَقَالَ رَبِّ إِنِّي لِمَا أَنْزَلْتَ إِلَيَّ مِنْ خَيْرٍ فَقِيرٌ][4]

ژباړه: کله چې موسى عليه السلام د مدين اوبو ته ورسېده نو پر دغه اوبو يې يوه ډله خلګ وليدل چې پسونه يې اوبول. بيا يې دوې نجونې وليدې چې خپل پسونه يې منعه کول. موسى عليه السلام د دغو نجونو څخه پوښتنه وکړه چې ستاسو څه حال دی؟ هغوی ورته وويل: موږ خپل پسونه تر هغه وخته پورې نه اوبوو چې نور خلګ پسونه اوبه کړي بيا يې موږ اوبوو او زموږ پلار سپين ږيری دی. موسى عليه السلام د دغو نجونو پسونه ور اوبه کړل بيا بېرته هغې سايې ته ولاړ بيا يې وويل: اې زما ربه! بېشکه زه و هغه نعمتونو ته چې تا راکړې دي محتاجه يم.

دغه سپين ږيری يا شيخ کبير په غالبه رايه[5] شعيب عليه السلام دی، کله چې د مالونو له ابوولو وروسته موسى عليه السلام سيورې ته ولاړ او له الله جل جلاله يې د هرې ورکړې سوال وکړ، الله يې سوال قبول کړ، لکه چې فرمايي: [فَجَاءتْهُ إِحْدَاهُمَا تَمْشِي عَلَى اسْتِحْيَاء قَالَتْ إِنَّ أَبِي يَدْعُوكَ لِيَجْزِيَكَ أَجْرَ مَا سَقَيْتَ لَنَا فَلَمَّا جَاءهُ

١ تفسير الطبري ج ٢٠، ص ٥١، او تفسير البغوي، ج ٣، ص ٤٤٠

٢ سورت غافر: ٢٨ آيت

٣ له مصر څخه اته منزله ليرې دی او په دغه وخت کې د فرعون تر تسلط لاندې نه وو، موسى عليه السلام يې لار نه پېژنده، خو الله جل جلاله يې لاره ورته وښودله.[تفسير القرطبي، ج ١٣، ص ٢٦٦

٤ سورت القصص: ٢٣-٢٤ آيتونه

٥ تفسير القرطبی، ج ١٣، ص ٢٦٩-٢٧٠

وَقَصَّ عَلَيْهِ الْقَصَصَ قَالَ لاَ تَخَفْ نَجَوْتَ مِنَ الْقَوْمِ الظَّالِمِينَ ٢٥ قَالَتْ إِحْدَاهُمَا يَا أَبَتِ اسْتَأْجِرْهُ إِنَّ خَيْرَ مَنِ اسْتَأْجَرْتَ الْقَوِيُّ الأَمِينُ ٢٦ قَالَ إِنِّي أُرِيدُ أَنْ أُنكِحَكَ إِحْدَى ابْنَتَيَّ هَاتَيْنِ عَلَى أَن تَأْجُرَنِي ثَمَانِيَ حِجَجٍ فَإِنْ أَتْمَمْتَ عَشْرًا فَمِنْ عِندِكَ وَمَا أُرِيدُ أَنْ أَشُقَّ عَلَيْكَ سَتَجِدُنِي إِن شَاء اللَّهُ مِنَ الصَّالِحِينَ ٢٧ قَالَ ذَلِكَ بَيْنِي وَبَيْنَكَ أَيَّمَا الأَجَلَيْنِ قَضَيْتُ فَلاَ عُدْوَانَ عَلَيَّ وَاللَّهُ عَلَى مَا نَقُولُ وَكِيلٌ][1]

ژباړه: (له لږ ځند وروسته) له هغو دوو څخه یوه په شرم او حیا سره را روانه موسی علیه السلام ته راغله او وې ویل: زما پلار تا غواړي، تا چې زموږ لپاره څارویو ته اوبه ورکړې د هغه اجرت درکوي، موسی علیه السلام چې کله هغه ته ورغی او خپله ټوله کیسه یې ورته وویله نو هغه وویل: هیڅ مه وېرېږه؛ اوس ته له ظالمانو څخه ژغورل شوی یې، له هغو دوو یې یوې خپل پلار ته وویل: دغه سړی نوکر ونیسه؛ دی تر ټولو یو غوره څوک دی چې نوکر یې نیسې ځکه چې قوي او امانتدار دی. د هغې پلار موسی علیه السلام ته وویل زه غواړم له خپلو دوو لوڼو څخه یوه تاته په نکاح درکړم، په دې شرط چې ته تر اتو کلونو پورې له ماسره نوکري کړې، او که لس کاله پوره کړې دا نو ستا خپله خوښه ده زه پر تا سختي کول نه غواړم ته به ما ان شاء الله ښه سړی ومومې، موسی علیه السلام وویل دا خبره زما او ستا په منځ کې تصویب شوه، له دغو دواړو مودو چې هره یوه زه پوره کړم له هغه وروسته به بیا پر ما کوم زیاتی نه وی او څه لوز او ژمنه چې موږ کوو الله جل جلاله ورباندې ساتونکی دی.

د پورتني آیتونو په اړه مفسیرینو زیات تشریحات ورکړي چې له ځینو څخه یې دلته یادونه کوو:

موسی علیه السلام د هغې نجلۍ خبره ومنله او هغې ته یې وویل ته پر ما پسې وروسته راځه او د لارې ښوونه راته کوه چې دې خواته لاړ شه یا هغې خواته[2]. او د شعیب علیه السلام کور ته راغی، دلته یې له ډېرې لوږې سره سره خوراک نه کاوو، ځکه دی وېریده چې هسې نه د مالونو د خړوبولو مزدوري راکړې او ثواب مې ضایع نه شي، خو بیا شعیب علیه السلام ورته وویل چې دا اجرت نه دی بلکې مېلمه پالنه ده[3].

د لوڼو له جملې یې شعیب علیه السلام هغه مشره چې صفورا نومېده موسی علیه السلام ته ور په نکاح کړه.[4]

---

١ سورت القصص: ٢٥- ٢٨
٢ تفسیر ابن کثیر، ج ٣، ص ٣٨٥
٣ تفسیر البغوي، ج ٣، ص ۴۴٢
٤ عزیز التفاسیر، ج ٩، ص ٣٠۴

د پورتنیو آیتونو په تړاو د نبي کریم صلي الله علیه وسلم یو مبارک حدیث هم د یادولو وړ دی چې کله یې د القصص سورت تلاوت کاوو او کوم وخت چې د موسی علیه السلام کیسې ته ورسیده نو وې فرمایل[1]: یقیناً موسی علیه السلام د خپل عورت د پاک ساتلو او د خپلې ګېډې د خوراک په غرض خپل ځان اته کاله یا لس کاله د شعیب علیه السلام د پاره د شپانه په حیث مزدور وګرځاوه.

**خلورم مطلب: په قرآن کریم کې د موسی علیه السلام یادونه**

**د حضرت موسی علیه السلام** یادونه په قرآن کریم کې ۱۳۴ ځله شوې ده چې په لاندې جدول کې په ښه توګه روښانه شوې.

| ګڼه | د سورت نوم | د آیت شمېره | ګڼه | د سورت نوم | د آیت شمېره |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | البقره | ۵۱ | ۲۷ | الاعراف | ۱۱۷ |
| ۲ | البقره | ۵۳ | ۲۸ | الاعراف | ۱۲۲ |
| ۳ | البقره | ۵۴ | ۲۹ | الاعراف | ۱۲۷ |
| ۴ | البقره | ۵۵ | ۳۰ | الاعراف | ۱۲۸ |
| ۵ | البقره | ۶۰ | ۳۱ | الاعراف | ۱۳۱ |
| ۶ | البقره | ۶۱ | ۳۲ | الاعراف | ۱۳۴ |
| ۷ | البقره | ۶۷ | ۳۳ | الاعراف | ۱۳۸ |
| ۸ | البقره | ۸۷ | ۳۴ | الاعراف | ۱۴۲ |
| ۹ | البقره | ۹۲ | ۳۵ | الاعراف | ۱۴۳ |
| ۱۰ | البقره | ۱۰۸ | ۳۶ | الاعراف | ۱۴۳ |
| ۱۱ | البقره | ۱۳۶ | ۳۷ | الاعراف | ۱۴۴ |
| ۱۲ | البقره | ۲۴۶ | ۳۸ | الاعراف | ۱۴۸ |
| ۱۳ | البقره | ۲۴۸ | ۳۹ | الاعراف | ۱۵۰ |
| ۱۴ | ال عمران | ۸۴ | ۴۰ | الاعراف | ۱۵۴ |
| ۱۵ | النساء | ۱۵۳ | ۴۱ | الاعراف | ۱۵۵ |
| ۱۶ | النساء | ۱۵۳ | ۴۲ | الاعراف | ۱۵۹ |
| ۱۷ | النساء | ۱۶۴ | ۴۳ | الاعراف | ۱۶۰ |
| ۱۸ | المائده | ۲۰ | ۴۴ | یونس | ۷۵ |
| ۱۹ | المائده | ۲۲ | ۴۵ | یونس | ۷۷ |
| ۲۰ | المائده | ۲۴ | ۴۶ | یونس | ۸۰ |

[1] سنن ابن ماجه: ج ۲، ص ۴۱۶، [عَنْ عَلِيِّ بْنِ رَبَاحٍ؛ قَالَ: سَمِعْتُ عُتبَةَ بْنَ النُّدَّرِ يَقُولُ: كُنَّا عِنْدَ رَسُولِ اللهِ صلى الله عليه وسلم فَقَرَأَ طسم. حَتَّى إِذَا بَلَغَ قِصَّةَ مُوسى قَالَ((إِنَّ مُوسى صلى الله عليه وسلم أَجَرَ نَفْسَهُ ثمَانِيَ سِنِينَ، أَوْ عَشْراً، عَلَى عِفَّةِ فَرْجِهِ وَطَعَامِ بَطنِهِ. في الزوائد: إسناده ضعيف لأن فيه بقية، وهو مدلّس. وليس لبقية هذا عند ابن ماجة سوى هذا الحديث.

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۱ | الانعام | ۸۴ | ۴۷ | یونس | ۸۱ |
| ۲۲ | الانعام | ۹۱ | ۴۸ | یونس | ۸۳ |
| ۲۳ | الانعام | ۱۵۴ | ۴۹ | یونس | ۸۴ |
| ۲۴ | الاعراف | ۱۰۳ | ۵۰ | یونس | ۸۷ |
| ۲۵ | الاعراف | ۱۰۴ | ۵۱ | هود | ۱۷ |
| ۲۶ | الاعراف | ۱۱۵ | ۵۲ | هود | ۹۶ |
| ۵۳ | هود | ۱۱۰ | ۷۹ | طه | ۹۱ |
| ۵۴ | ابراهیم | ۵ | ۸۰ | الانبیاء | ۴۸ |
| ۵۵ | ابراهیم | ۶ | ۸۱ | الحج | ۴۴ |
| ۵۶ | ابراهیم | ۸ | ۸۲ | المومنون | ۴۵ |
| ۵۷ | الاسراء | ۲ | ۸۳ | المومنون | ۴۹ |
| ۵۸ | الاسراء | ۱۰۱ | ۸۴ | الفرقان | ۳۵ |
| ۵۹ | الاسراء | ۱۰۱ | ۸۵ | الشعراء | ۱۰ |
| ۶۰ | الکهف | ۶۰ | ۸۶ | الشعراء | ۴۳ |
| ۶۱ | الکهف | ۶۶ | ۸۷ | الشعراء | ۴۵ |
| ۶۲ | مریم | ۵۱ | ۸۸ | الشعراء | ۴۸ |
| ۶۳ | طه | ۹ | ۸۹ | الشعراء | ۵۲ |
| ۶۴ | طه | ۱۱ | ۹۰ | الشعراء | ۶۱ |
| ۶۵ | طه | ۱۷ | ۹۱ | الشعراء | ۶۳ |
| ۶۶ | طه | ۱۹ | ۹۲ | الشعراء | ۶۵ |
| ۶۷ | طه | ۳۶ | ۹۳ | النمل | ۷ |
| ۶۸ | طه | ۴۰ | ۹۴ | النمل | ۹ |
| ۶۹ | طه | ۴۹ | ۹۵ | النمل | ۱۰ |
| ۷۰ | طه | ۵۷ | ۹۶ | القصص | ۳ |
| ۷۱ | طه | ۶۱ | ۹۷ | القصص | ۷ |
| ۷۲ | طه | ۶۵ | ۹۸ | القصص | ۱۰ |
| ۷۳ | طه | ۶۷ | ۹۹ | القصص | ۱۵ |
| ۷۴ | طه | ۷۰ | ۱۰۰ | القصص | ۱۸ |
| ۷۵ | طه | ۷۷ | ۱۰۱ | القصص | ۱۹ |
| ۷۶ | طه | ۸۳ | ۱۰۲ | القصص | ۲۰ |
| ۷۷ | طه | ۸۶ | ۱۰۳ | القصص | ۲۹ |
| ۷۸ | طه | ۸۸ | ۱۰۴ | القصص | ۳۰ |
| ۱۰۵ | القصص | ۳۱ | ۱۲۰ | غافر | ۲۳ |

| | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱۰۶ | القصص | ۳۶ | ۱۲۱ | غافر | ۲۶ |
| ۱۰۷ | القصص | ۳۷ | ۱۲۳ | غافر | ۲۷ |
| ۱۰۸ | القصص | ۳۸ | ۱۲۴ | غافر | ۳۷ |
| ۱۰۹ | القصص | ۴۳ | ۱۲۴ | غافر | ۵۳ |
| ۱۱۰ | القصص | ۴۴ | ۱۲۵ | فصليت | ۴۵ |
| ۱۱۱ | القصص | ۴۸ | ۱۲۶ | الشوری | ۱۳ |
| ۱۱۲ | القصص | ۴۸ | ۱۲۷ | الزخرف | ۴۶ |
| ۱۱۳ | القصص | ۷۶ | ۱۲۸ | الاحقاف | ۱۲ |
| ۱۱۴ | العنكبوت | ۳۹ | ۱۲۹ | الاحقاف | ۳۰ |
| ۱۱۵ | السجده | ۲۳ | ۱۳۰ | الذاريات | ۳۸ |
| ۱۱۶ | الاحزاب | ۷ | ۱۳۱ | النجم | ۳۶ |
| ۱۱۷ | الاحزاب | ۶۹ | ۱۳۲ | الصف | ۵ |
| ۱۱۸ | الصافات | ۱۱۴ | ۱۳۳ | النازعات | ۱۵ |
| ۱۱۹ | الصافات | ۱۲۰ | ۱۳۴ | الاعلی | ۱۹ |

لكه څرنگه چې له پورتني جدول څخه معلومېږي د قرآن كريم كوم خاص سورت د موسی عليه السلام په نوم نه دی نازل شوی خو په ۳۴ بيلا بيلو سورتونو كې يې يادونه شوې ده چې له دې جملې يې يوازې ۱۳ ځله په البقره سورت، ۲۰ ځله په الاعراف، ۱۷ ځله په طه، ۹ ځله په الشعراء، ۱۸ ځله په القصص او نورو بېلابيلو سورتونو كې ذكر شوی دی[۱].

## دوهم مبحث: په پيغمبري مبعوث كېدل او د دعوت پيل

### لومړی مطلب: مصر ته تگ او په پيغمبري مبعوث كېدل

كله چې موسی عليه السلام لس كلونه په مدين كې تېر كړل زړه يې وغوښتل چې بېرته خپل وطن ته لاړ شي او خپلې كورنۍ ته ورشي له همدې وجهي څخه يې د مصر لوري ته حركت وكړ، تر څه مزله وروسته شپه شوه، د ژمي شپه وه، او د يخ د منع كولو لپاره موسی عليه السلام غوښتل چې د اور اله راوخلي يو څه اور بل كړي خو اور نه بلېده، ډېر حيران شو ددغه حيرانتيا په حالت كې كنبښناست لوړ يې كتل چې يو څه ووينې او د خپلو مشكلاتو د حل لپاره يو لاره پيدا كړي، دی په دغه فكر كې و چې د طور په غره كې يې يو نور

۱ دغه د جدولونو معلومات او د پيغمبرانو د شمېر معلومات اړوند د Quran in word فايل څخه د پلټنې او بيا د هر يوه د ځای/ سورت او ايات معلومولو لپاره هره نقطه بيرته له قرآن كريم سره كتل شوې ده.

ولید کله چې یې دا نور ولید نو دستي یې خپلې مېرمنې ته وویل[1]:[إِذْ رَأَى نَارًا فَقَالَ لِأَهْلِهِ امْكُثُوا إِنِّي آنَسْتُ نَارًا لَعَلِّي آتِيكُمْ مِنْهَا بِقَبَسٍ أَوْ أَجِدُ عَلَى النَّارِ هُدًى][2]

ژباړه: کله چې موسی علیه السلام اور ولید نو کور ته یې وویل: تاسو دلې انتظار وکړئ ما اور ولید کېدای شي چې زه به یو څه اور راوړم او یا به په اور سره لاره پیدا کړم.

کله چې موسی علیه السلام غره ته ورنږدې شو نابېره یې دومره لویه رڼا ولیده چې د اسمان کنارې یې ټولې نیولې وې لکه درخته چې ښاخونه یې اسمان ته رسېدلي وي په دغه وخت کې ده ته امر وشو چې خپل بوټونه یا څپلۍ وباسه. ده هم خپلې څپلۍ وایستې او د طور شېلې ته ورننوتی، ډېر حیران او وېرېدونکی وو او پر بدن یې لړزه راغله، الله جل جلاله خبرې ورسره وکړې او فرعون ته یې په لېږلو او هغه ته یې په دعوت کولو باندې امر کړ، الله جل جلاله یې بیان په لاندنیو ایاتونو کې کړی دی: [فَلَمَّا أَتَاهَا نُودِيَ يَا مُوسَى (١١) إِنِّي أَنَا رَبُّكَ فَاخْلَعْ نَعْلَيْكَ إِنَّكَ بِالْوَادِ الْمُقَدَّسِ طُوًى (١٢) وَأَنَا اخْتَرْتُكَ فَاسْتَمِعْ لِمَا يُوحَى (١٣) إِنَّنِي أَنَا اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا أَنَا فَاعْبُدْنِي وَأَقِمِ الصَّلَاةَ لِذِكْرِي][3]

ژباړه : نو کله چې اور ته ورغلی موږ ورته اواز وکړ چې اې موسی! بېشکه زه ستا رب یم ته خپلې څپلۍ وکاږه بېشکه ته پر یوه سپېڅلي مقام باندې یې او زه تا په رسالت باندې مختاره کوم نو غوږ و هغه څه ته کنښېږده چې تاته وحي وشي، بېشکه زه الله جل جلاله یم داسې الله چې زما پرته بل لائق د عبادت نشته نو زما عبادت وکړه او لمونځ زما د یادښت لپاره قائم کړه.

په دې مقام کې الله جل جلاله له موسی علیه السلام سره خبرې وکړې، هغه یې په رسالت مبعوث کړ او هغه ته یې د امساء او ید بیضا معجزې (په څلورم مبحث کې تشریح کېږي) وښودلې او له هغه وروسته یې ورته وویل ورشه او فرعون ته دعوت ورکړه: [اذْهَبْ إِلَى فِرْعَوْنَ إِنَّهُ طَغَى][4]

ژباړه: (اې موسی! له دغو معجزو سره) فرعون ته لاړ شه یقیناً هغه سرکشي کوي، (توحید ته یې دعوت کړه).

موسی علیه السلام له دې امر وروسته ځینې پیشنهادات یا دعاګانې وکړې چې په دې ډول دي:[ قَالَ رَبِّ اشْرَحْ لِي صَدْرِي ٢٥ وَيَسِّرْ لِي أَمْرِي ٢٦ وَاحْلُلْ عُقْدَةً مِّن لِّسَانِي ٢٧ يَفْقَهُوا قَوْلِي ٢٨ وَاجْعَل لِّي وَزِيرًا مِّنْ أَهْلِي ٢٩

---

١ عزیز التفاسیر، ج ٧، ص ٥٦٨-٥٦٩

٢ سورت طه: ١٠ آیت

٣ سورت طه: ١١-١٤ آیتونه

٤ سورت طه: ٢٤ آیت

هَارُونَ أَخِي ٣٠ اشْدُدْ بِهِ أَزْرِي ٣١ وَأَشْرِكْهُ فِي أَمْرِي ٣٢ كَيْ نُسَبِّحَكَ كَثِيرًا ٣٣ وَنَذْكُرَكَ كَثِيرًا ٣٤ إِنَّكَ كُنتَ بِنَا بَصِيرًا][1]

ژباړه: موسی علیه السلام عرض وکړ: پروردګاره زما سینه پراخه کړه، او زما کار ماته آسانه کړه، او زما د ژبې غوټه پرانېزه، تر څو چې خلک زما په خبره وپوهولای شي، او زما لپاره زما له کورنۍ څخه یو مرستیال وټاکه؛ هارون چې زما ورور دی؛ د هغه په وسیله زما مټ پیاوړی کړه، او هغه زما په کار کې برخه وال کړه، تر څو چې موږ ستا ښه پاکي بیان کړو، او ښه ستا یادونه، ستاینه خپره کړو، ته تل زموږ د حال څارونکی یې.

موسی علیه السلام د نبوت د درانه بار د پورته کولو لپاره د سینې پراخې وغوښته او د ژبې هغه غوټه چې په ماشومتوب کې یې سکروټه[2] په ژبه اېښې وه د خلاصیدو غوښتنه وکړه. او د هارون علیه السلام غوښتنه یې ځکه وکړ چې یو خو هغه تر ده په عمر مشر او بل دا چې فصیح وو او بل موسی علیه السلام یې هغه د تصدیق کوونکي په صفت هم له ځان سره ښه باله لکه په دې آیتونو کې:[قَالَ رَبِّ إِنِّي قَتَلْتُ مِنْهُمْ نَفْسًا فَأَخَافُ أَنْ يَقْتُلُونِ (٣٣) وَأَخِي هَارُونُ هُوَ أَفْصَحُ مِنِّي لِسَانًا فَأَرْسِلْهُ مَعِيَ رِدْءًا يُصَدِّقُنِي إِنِّي أَخَافُ أَنْ يُكَذِّبُونِ (٣٤) قَالَ سَنَشُدُّ عَضُدَكَ بِأَخِيكَ وَنَجْعَلُ لَكُمَا سُلْطَانًا فَلَا يَصِلُونَ إِلَيْكُمَا بِآيَاتِنَا أَنْتُمَا وَمَنِ اتَّبَعَكُمَا الْغَالِبُونَ][3]

ژباړه: موسی علیه السلام وویل: اې زما ربه! ما یو کس وژلی دی زه بېرېږم چې دوی به ما ووژني او زما ورور هارون تر ما ښه فصیح دی زما سره یې پیغمبر کړه چې زما مرسته وکړي او زما تصدیق وکړي، بېشکه زه بېرېږم چې دوی به ما درواغجن وبولي. الله جل جلاله ورته وفرمایل: ژر دی چې موږ به ستا بازو ستا په ورور باندې پیاوړي کړو او موږ به تاسو ته دلیل درکړو، هیڅوک به تاسو ته تاوان نه شي رسولای زموږ د نښانو په سبب باندې. تاسو او هغه څوک چې ستاسو پیروي کوي هغه برلاسي دي.

الله جل جلاله د موسی علیه السلام پرلپسې سوالونه قبول کړ او هغه هم مصر ته د فرعون دربار ته ورغی.

---

١ سورت طه: ٢٥-٣٥ آیتونه

٢ تفسیر البغوي، ج ٣، ص ٢١٦، دا هم د موسی علیه السلام د ماشومتوب اوږده کیسه ده کله چې یې فرعون تر ږیره کش او یا یې په سر په لرګي وواهه او فرعون غوښتل هغه ووژني نو اسیې رضي الله عنها هغه ترې په یوه چل خلاص کړ؛ داسې چې موسی علیه السلام ته یې په یوه قاب کې یاقوت او په بل کې سکروټې کېښودې، ... نو موسی علیه السلام سکروټه را واخیسته او په ژبه یې کېښوده....

٣ سورت القصص: ٣٣- ٣٥ آیتونه

**دوهم مطلب: د فرعون دعوتول**

کله چې موسی علیه السلام الله جل جلاله په پیغمبرۍ سره مبعوث کړ، نو مصر ته په رسیدو سره یې د خپل ورور هارون علیه السلام سره یو ځای د فرعون دربار ته تشریف ور ووړ او هغه ته یې د الله جل جلاله په لور دعوت ورکړ، فرعون وویل ستا رب څوک دی، موسی علیه السلام یې په ښه توګه تشریحي ځواب ورکړ نو فرعون د پسخند په ډول ورته وویل: ایا زما پرته بل لوی خدای شته؟ وروسته چې کله پوه شو چې دا هغه موسی علیه السلام ده چې دده په کور کې لوی شوی او تربیه شوی. نو یې داسې وویل الله جل جلاله یې بیان کوي:[قَالَ أَلَمْ نُرَبِّكَ فِينَا وَلِيدًا وَلَبِثْتَ فِينَا مِنْ عُمُرِكَ سِنِينَ (١٨) وَفَعَلْتَ فَعْلَتَكَ الَّتِي فَعَلْتَ وَأَنْتَ مِنَ الْكَافِرِينَ (١٩) قَالَ فَعَلْتُهَا إِذًا وَأَنَا مِنَ الضَّالِّينَ (٢٠) فَفَرَرْتُ مِنْكُمْ لَمَّا خِفْتُكُمْ فَوَهَبَ لِي رَبِّي حُكْمًا وَجَعَلَنِي مِنَ الْمُرْسَلِينَ (٢١) وَتِلْكَ نِعْمَةٌ تَمُنُّهَا عَلَيَّ أَنْ عَبَّدْتَ بَنِي إِسْرَائِيلَ (٢٢) قَالَ فِرْعَوْنُ وَمَا رَبُّ الْعَالَمِينَ (٢٣) قَالَ رَبُّ السَّمَوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا إِنْ كُنْتُمْ مُوقِنِينَ][1]

ژباړه: فرعون موسی علیه السلام ته وویل: اې موسی! ایا ته موږ تربیه نه کړې په خپل کور کې د ماشوموالي په حالت کې او تا د خپل عمر څخه څو کلونه زموږ په کور کې ګوزاره ونه کړه. او تا هغه کار وکړ چې تا کړی دی (هغه د قبطی قتل) او ته د ناشکره خلګو څخه یې. موسی علیه السلام ورته وویل: ما هغه کار وکړ زه په هغه وخت کې د لار ورکو څخه وم زه ددې وجهې څخه ستاسو څخه ولاړم چې ستاسو څخه بېرېدم الله جل جلاله ماته حکم راکړ او زه یې د رسولانو څخه جوړ کړم. دغه نعمت دی چې ته یې احسان پر ما اچوې چې بني اسرائیل دې د ځان لپاره بندګان جوړ کړي دي . فرعون ورته وویل: رب العالمین څوک دئ؟ موسی علیه السلام ورته وویل: د اسمانونو او ځمکې رب دی او د هغه شیانو رب دی چې د ځمکې او اسمان په منځ کې دي که تاسو یقین پر کوئ.

**درېیم مبحث: له قوم سره مناقشې**

**لومړی مطلب: د فرعون له ساحرانو سره مقابله**

کله چې موسی علیه السلام فرعون ته خپل رسالت وښود او هغه ته یې د حق لوري ته دعوت ورکړ، نو فرعون موسی علیه السلام ته په زورولو، عذابولو، بندېدو او تبعید سره اخطار ورکړ موسی علیه السلام ورته وویل: که زه تاته معجزه ښکاره کړم چې الله جل جلاله ماته راکړې ده بیا هم ته ایمان نه راوړې؟ فرعون ورته وویل: ته خپله معجزه ښکاره کړه، موسی علیه السلام دستي خپله لکړه وغورځوله لوی مار ځینې جوړ شو بیا یې په خپل ګرېوان کې لاس دننه کړ، ډول، ډول شغلې ځینې راووتلې. فرعون چې دغه حالت ولید

---

١ سورت الشعراء: ١٨-٢٤ آیتونه

وبېرېده؛ خپل نږدې خلگ راټول کړل او د مشورې په توگه يې د هغوی نظر واخېست هغوی ورته وويل: دا د موسی عليه السلام سحر دی خپل ساحران راټول کړه او د ده علاج په وکړه، د فرعون د دوی مشوره خوښه شوه دستي يې خپل ټول ساحران راجمعه کړل او ورته وې ويل چې تاسو د موسی عليه السلام مقابله وکړئ که مو موسی عليه السلام په مقابله کې مات کړ، زه به تاسو ته لوړ، لوړ انعامات درکړم، ښه منصب به درکړم او د مقربينو خلگو څخه به مو جوړ کړم. ساحرانو همداسې وکړل څه چې يې په توان وه هغه يې د موسی عليه السلام د مقابلې لپاره تيار کړه او د موسی عليه السلام مقابلې ته راغلل بيا يې موسی عليه السلام ته وويل چې لومړی ته خپل زور ښکاره کوې او که يې موږ ښکاره کړو. الله جل جلاله د دغه خبرې بيان داسې کوي:[قَالُوا يَا مُوسَى إِمَّا أَنْ تُلْقِيَ وَإِمَّا أَنْ نَكُونَ نَحْنُ الْمُلْقِينَ (١١٥) قَالَ أَلْقُوا فَلَمَّا أَلْقَوْا سَحَرُوا أَعْيُنَ النَّاسِ وَاسْتَرْهَبُوهُمْ وَجَاءُوا بِسِحْرٍ عَظِيمٍ (١١٦) وَأَوْحَيْنَا إِلَى مُوسَى أَنْ أَلْقِ عَصَاكَ فَإِذَا هِيَ تَلْقَفُ مَا يَأْفِكُونَ (١١٧) فَوَقَعَ الْحَقُّ وَبَطَلَ مَا كَانُوا يَعْمَلُونَ (١١٨) فَغُلِبُوا هُنَالِكَ وَانْقَلَبُوا صَاغِرِينَ][1]

ژباړه: ساحرانو وويل: اې موسی! ته خپله معجزه ښکاره کوې او که موږ خپل سحر ښکاره کړو؟ موسی عليه السلام وويل: تاسو خپل سحر ښکاره کړئ . کله چې ساحرانو خپل سحر ښکاره کړ د خلگو په سترگو باندې يې سحر وکړ خلگ څېښي وبېرېدل او دوی په يوه لوی سحر باندې راتلل وکړل. موږ موسی عليه السلام ته وحي وکړه چې خپله لکړه وغورځوه کله چې ده لکړه وغورځوله ناڅاپه يې ټول هغه شيان چې ساحرانو د مارانو په شکل ښکاره کړي وو، سره وپېچل او تېر يې کړل. نو حق ثابت شو او هغه څه باطل شو چې دوی يې عمل کړی وو. ساحران مغلوبه شو او ذليله وگرځېدل.

که څه هم د ساحرانو په سحر سره موسی عليه السلام وبېريده چې هسې نه خلک پرې وغولېږي او باور ورباندې وکړي او ماته موقع پيدا نه شي تر څو خپل نوبت تېر کړم. خو الله جل جلاله ورته وفرمايل: [فَأَوْجَسَ فِي نَفْسِهِ خِيفَةً مُوسَى (٦٧) قُلْنَا لَا تَخَفْ إِنَّكَ أَنْتَ الْأَعْلَى (٦٨) وَأَلْقِ مَا فِي يَمِينِكَ تَلْقَفْ مَا صَنَعُوا إِنَّمَا صَنَعُوا كَيْدُ سَاحِرٍ وَلَا يُفْلِحُ السَّاحِرُ حَيْثُ أَتَى][2]

ژباړه: د موسی عليه السلام په زړه کې د دوی د سحر څخه بېره پيدا شوه موږ ورته وويل: ته مه بېرېږه بېشکه ته لوړ يې او هغه لکړه وغورځوه چې ستا په لاس کې ده وبه پېچې هغه څه چې دوی جوړ کړي دي بېشکه دوی د ساحر چل جوړ کړی دی او ساحر به خلاص نه شي هر ځای چې راتلل وکړي.

---

١ سورت الاعراف: ١١٥-١١٩

٢ سورت طه: ٦٧- ٦٩ آيتونه

کله چې موسی علیه السلام په دغه ډگر کې خپله لکړه وغورځوله دده لکړه د یوه لوی مار په شکل جوړه شوه کوم پړي او رسیاني چې ساحرانو جوړ کړې وې د هغه په تېره ولو یې پیل وکړ خلکو چې دغه لوی وېرونکی او هولناک مار ولید ترې وېېریدل. لومړي کسان چې د ایمان و لوري ته راغلل او په ایمان مشرف شول هغه ساحران وو چې فرعون د خپلې مرستې لپاره راوستلي وه او د موسی علیه السلام سره یې مقابلې ته وړاندې کړي وه . دغه کسان پر سجده پرېوتل او پر حقیقي خدای جل جلاله باندې یې ایمان راوړ او خپل ایمان یې ښکاره کړ ځکه دوی چې کله د موسی علیه السلام معجزه ولیده په دې پوه شول چې دا یو الهي قدرت دی د انسان په توان دومره کار نه دی پوره ځکه د سحر او جادوگري پوره زور دوی استعمال کړی وو کله چې د موسی علیه السلام معجزه پر دوی غالبه شوه د دوی یقین شو چې دا سحر نه دی ځکه د سحر پوره زور موږ استعمال کړ، دا چې دغه معجزه پر غالبه سوه ښکاره خبره ده چې د سحر نه دی بلکې یو الهي قدرت دی نو ځکه په ایمانونو مشرف شول او وې ویل: [ قَالُوا آمَنَّا بِرَبِّ الْعَالَمِينَ (١٢١) رَبِّ مُوسَى وَهَارُونَ][1]

ژباړه: ساحرانو وویل: موږ د عالمیانو پر رب باندې ایمان راوړی دی. هغه رب چې د موسی علیه السلام او هارون علیه السلام رب دی.

فرعون چې کله ولیدل چې دده ساحرانو ماته وخوړه او حقیقت برلاسی شو نو ددې لپاره چې خپله دغه شرمونکې ماته پټه کړي او خپل هیبت او ځواک څرگند کړي په همدې موخه یې وویل:[قَالَ آمَنْتُمْ لَهُ قَبْلَ أَنْ آذَنَ لَكُمْ إِنَّهُ لَكَبِيرُكُمُ الَّذِي عَلَّمَكُمُ السِّحْرَ فَلَسَوْفَ تَعْلَمُونَ لَأُقَطِّعَنَّ أَيْدِيَكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ مِنْ خِلَافٍ وَلَأُصَلِّبَنَّكُمْ أَجْمَعِينَ ][2]

ژباړه: فرعون وویل: تاسو ایمان راوړ مخکې تر دې چې زه اجازه درکړم. بېشکه تاسو ته موسی علیه السلام خپل سحر در ښودلی دی نو ژر به تاسو پوه شئ زه به خامخا ستاسو لاسونه او پښې سره مخالف پرې کوم او تاسو ټول به اعداموم.

فرعون ساحران او جادوگران په اعدامولو، لاس او پښې پرېکولو باندې تهدید کړل او پر دوی باندې یې تور ولگاوه چې موسی علیه السلام ستاسو مشر دی تاسو ته یې سحر در ښودلی دی، خو ساحران پر خپل ایمان باندې ټینگ ودرېدل د فرعون د اخطارونو او تهدیدونو هیڅ پروا یې نه درلوده بلکې د خپل ایمان اواز یې پورته کړ، خپل شجاعت یې قائم وساته، د فرعون او دده دسرکښۍ سره یې رقابت پیل کړ. الله جل جلاله

[1] سورت الاعراف: ۱۲۱- ۱۲۲ آیتونه
[2] سورت الشعراء ۴۹ آیت

يې داسې بيان کوي: [قَالُوا لَنْ نُؤْثِرَكَ عَلَى مَا جَاءَنَا مِنَ الْبَيِّنَاتِ وَالَّذِي فَطَرَنَا فَاقْضِ مَا أَنْتَ قَاضٍ إِنَّمَا تَقْضِي هَذِهِ الْحَيَاةَ الدُّنْيَا (٧٢) إِنَّا آمَنَّا بِرَبِّنَا لِيَغْفِرَ لَنَا خَطَايَانَا وَمَا أَكْرَهْتَنَا عَلَيْهِ مِنَ السِّحْرِ وَاللَّهُ خَيْرٌ وَأَبْقَى][١]

ژباړه: ساحرانو وويل: هيڅکله موږ تا نه اختيارو پر هغه څه باندې چې موږ ته د معجزو څخه راغلي دي او پر هغه ذات باندې چې موږ يې پيدا کړي يو نو ته د هغه څه فيصله وکړه چې کوې يې، بېشکه ستا پرېکړه د دنيا په ژوند پورې اړه لري. بېشکه موږ پر خپل رب باندې ايمان راوړی دی ددې لپاره چې موږ ته مغفرت وکړي زموږ د ګناهونو او د هغه سحر چې تا په موږ په زوره اجرا کړی دی او الله جل جلاله خير او تل پاتې دی.

د همدې جادوګرانو په اړه ابن عباس رضی الله عنه فرمايي: په سهار کې ساحران وو خو د ورځې په پای کې شهيدان او نېکوکاره وګرځېدل[٢].

**دوهم مطلب: فرعون خپل کفر ته دوام ورکړ**

فرعون د موسی عليه السلام پر رښتينولۍ او دده پر حقانيت باندې ښکار معجزې او يقيني دلائل وليدل خو بيا هم پر خپل کفر باندې پاته شو او خپلې ګمراهۍ ته يې دوام ورکړ او د موسی عليه السلام سره پر دښمنۍ باندې ټينګ شو، کومې څرګندې معجزې چې موسی کليم الله عليه السلام ده ته ښکاره کړې ده هيڅ پاملرنه ورته ونه کړه. د فرعون قوم ده ته تل داسې خبرې کولې چې ته موسی عليه السلام او قوم پرېږدې چې په مځکه کې فساد وکړي او پر ده به يې نيوکې کولې چې ته ولې د دوی د بربادۍ لپاره اقدام نه کوي لنډه دا چې فرعون به يې تحريکاوو د موسی عليه السلام او د بني اسرائيلو پر ضد باندې . فرعون خپل قوم ته ډاډ ورکاوه چې تاسو فکر مه کوئ زه به د دوی نارينه وژنم او ښځې به يې پرېږدم موږ خو پر دوی برلاسي يو.

د همدې وعدې په پوره کولو دغه ظالم لاس پورې کړ، سخت ظلم يې پر بني اسرائيلو باندې پيل کړه تر داسې بريده چې د بني اسرائيلو سخت فرياد پورته شو موسی عليه السلام ته يې د دغه ظالم شکايت وکړ، موسی عليه السلام دوی ته د ډاډ، صبر او زغم تلقين ورکاوه او تل به يې امر ورته کاوه چې تاسو د صبر څخه کار واخلئ، همدا ډول به يې دوی ته زېری ورکاوه چې د الله جل جلاله له لوري څخه تاسو ته مرسته او بريالیتوب راتلونکی دی الله جل جلاله د دغه پيښې يادونه داسې کړې ده: [وَقَالَ الْمَلَأُ مِنْ قَوْمِ فِرْعَوْنَ أَتَذَرُ مُوسَى وَقَوْمَهُ لِيُفْسِدُوا فِي الْأَرْضِ وَيَذَرَكَ وَآلِهَتَكَ قَالَ سَنُقَتِّلُ أَبْنَاءَهُمْ وَنَسْتَحْيِي نِسَاءَهُمْ وَإِنَّا فَوْقَهُمْ قَاهِرُونَ (١٢٧) قَالَ مُوسَى لِقَوْمِهِ اسْتَعِينُوا بِاللَّهِ وَاصْبِرُوا إِنَّ الْأَرْضَ لِلَّهِ يُورِثُهَا مَنْ يَشَاءُ مِنْ عِبَادِهِ وَالْعَاقِبَةُ لِلْمُتَّقِينَ (١٢٨)

---

١ سورت طه: ٧٢-٧٣

٢ تفسير الطبري، ج ٦، ص ٢٤

قَالُوا أُوذِينَا مِنْ قَبْلِ أَنْ تَأْتِيَنَا وَمِنْ بَعْدِ مَا جِئْتَنَا قَالَ عَسَى رَبُّكُمْ أَنْ يُهْلِكَ عَدُوَّكُمْ وَيَسْتَخْلِفَكُمْ فِي الْأَرْضِ فَيَنْظُرَ كَيْفَ تَعْمَلُونَ][1]

ژباړه: د فرعون د قوم رئيسانو ده ته وويل: ايا ته موسی عليه السلام او دده قوم پرېږدې ددې لپاره چې په مځکه کې فساد وکړي، تا او ستا خدايي پرېږدي؟ فرعون ورته وويل: ژر دی چې زه به د دوی زامن وژنم او لوڼې به يې ژوندۍ پرېږدم او بېشکه موږ پر دوی باندې برلاسي يو. موسی عليه السلام خپل قوم ته وويل: په الله جل جلاله سره مرسته وغواړئ، صبر وکړئ، بېشکه الله جل جلاله د ځمکې وراثت هغه چا ته ورکوي چې د خپلو بندگانو څخه يې خوښ شي او ښې پايلې د پرهېزگارو خلگو دي. بني اسرائيلو موسی عليه السلام ته وويل: دغه فرعون ستا تر راتگ وړاندې هم موږ زورولي يو ستا د معجزې تر راتگ وروسته مو هم زوروي. موسی عليه السلام ورته وويل: نژدې ده چې الله جل جلاله به ستاسو دښمن هلاک کړي او تاسو ته به د ځمکې خلافت درکړي نو ودې گوري چې څنگه دوی عمل کوي.

موسی عليه السلام فرعون ته دعوت (د الله لوري ته بلنه) او له هغه څخه د بني اسرائيلو ازادي غوښتې وو، چې د همدې دوو غوښتنو له جملې يې فرعون دوهمه ومنله چې څه بني اسرائيل ازاد دي، موسی عليه السلام بېريده چې هسې نه په خپل قول ونه درېږي نو ځکه يې قوم د شپې له مخې د قلزم بحيرې په لور روان کړل.[2]

**درېيم مطلب: د فرعون هلاکت**

فرعون د الله جل جلاله د رسول سره په عناد او کفر کې پاته شو. کوم اخطارونه چې ده ته ورکړل شوو ده ته ۳۰ کلونه[3] د موسی عليه السلام لخوا ورکړل شول هيڅ گټه يې ونه کړه په همدې وخت کې الله جل جلاله موسی عليه السلام ته امر وکړ، چې يوه شپه ټول بني اسرائيل سره را يو ځای کړه ټول د شپې د مصر څخه ووزئ او د فلسطين لوري ته ولاړ شئ، لکه چې الله جل جلاله فرمايي:[وَأَوْحَيْنَا إِلَى مُوسَى أَنْ أَسْرِ بِعِبَادِي إِنَّكُم مُّتَّبَعُونَ ٥٢ فَأَرْسَلَ فِرْعَوْنُ فِي الْمَدَائِنِ حَاشِرِينَ ٥٣ إِنَّ هَؤُلَاءِ لَشِرْذِمَةٌ قَلِيلُونَ ٥٤ وَإِنَّهُمْ لَنَا لَغَائِظُونَ ٥٥ وَإِنَّا لَجَمِيعٌ حَاذِرُونَ ٥٦ فَأَخْرَجْنَاهُم مِّن جَنَّاتٍ وَعُيُونٍ ٥٧ وَكُنُوزٍ وَمَقَامٍ كَرِيمٍ ٥٨ كَذَلِكَ وَأَوْرَثْنَاهَا بَنِي إِسْرَائِيلَ ٥٩ فَأَتْبَعُوهُم مُّشْرِقِينَ ٦٠ فَلَمَّا تَرَاءى الْجَمْعَانِ قَالَ أَصْحَابُ مُوسَى إِنَّا لَمُدْرَكُونَ ٦١ قَالَ كَلاَّ إِنَّ مَعِيَ رَبِّي سَيَهْدِينِ ٦٢

١ سورت الاعراف: ١٢٧- ١٢٩
٢ عزيز التفاسير، ج ۴، ص ٥٦٥
٣ تفسير المظهري: ج۷، ص ٦٣

فَأَوْحَيْنَا إِلَى مُوسَى أَنِ اضْرِب بِّعَصَاكَ الْبَحْرَ فَانفَلَقَ فَكَانَ كُلُّ فِرْقٍ كَالطَّوْدِ الْعَظِيمِ ٦٣ وَأَزْلَفْنَا ثَمَّ الآخَرِينَ ٦٤ وَأَنجَيْنَا مُوسَى وَمَن مَّعَهُ أَجْمَعِينَ ٦٥ ثُمَّ أَغْرَقْنَا الآخَرِينَ][1]

ژباړه: او موږ موسی علیه السلام ته وحیې ولیږله چې زما بندګان درسره واخله ووځه، تاسې به تعقیب کړای شئ، پدې سره فرعون (د لښکرو برابرولو لپاره) ښارونو ته محصلان ولیږل، داسې چې دغه بني اسرائیل یو موټی لږ شان خلک دی؛ او دوی ډېر په غوسه کړي یو، او موږ داسې یوه ډله یو چې هر وخت بیدار یو، په دې ډول موږ هغوی راویستل: د هغوی له باغونو، چینو، خزانو او د هغو له ډېرو ښو هستوګنځایونو څخه، دا خو د هغو سره وشول، او بلې خواته موږ بني اسرائیل د دغو ټولو شیانو وارثان وګرځول، فرعونیانو چې بني اسرائیل تعقیب کړل چې ښېرته یې د ځان سره بوزي. کله چې فرعونیان او بني اسرائیل سره یو ځای شول. د موسی علیه السلام ملګرو وویل: موږ نیول کیږو. موسی علیه السلام ورته وویل: هیڅکله داسې نه ده زما سره زما رب دی تاسو ته به لاره ونښیي. نو موږ موسی علیه السلام ته وحي وکړې چې په خپله لکړه باندې دریاب ووهه. او دریاب وچاود هره څپه یې لکه غر داسې شوه بیا مو فرعونیان ورته رانژدې کړه، موسی علیه السلام او دده ملګرو ته مو نجات ورکړ، بیا مو هغه نور غرق کړل.

فرعون چې په کوم غرور په دوی پسې راوتلی وو، او قوم ته یې وویل چې دوی (بني اسرائیل) وړوکې ډله ده او موږ زیات یو، یا دا چې موږ ټول مسلاح یو او دوی خلع سلاح دي، مطلب دا چې مقاومت نه شي راسره کولای. نو د موسی علیه السلام په لښکرو پسې ور روان شول، د لمر خاته په وخت پسې ور ورسیدل او فرعونیان زیات خوشاله شول، خو بالمقابل بني اسرائیل زیات غمجن شول، موسی علیه السلام د دوی څخه ښېره لیري کړه، دوی ته یې ډاډ ورکړ او په دغه وخت کې یې خپله لکړه راوایستل دریاب یې په وواهه په دریاب کې کوڅې جوړې شوې، څپې، څپې شو هره څپه یې دومره لویه وه لکه غر او په اوبو کې دننه دغه کوڅې وچې شوې. بني اسرائیلو چې دا لویه معجزه ولیده چې بیخي عقل ورته حیرانیږي نو ډېر خوشاله شو او په چابکۍ سره د دریاب په منځ کې په دغه کوڅو کې روان سوه ټول بني اسرائیل و دغه دریاب ته ورننوتل آن تر دې چې تر ټولو وروستی کس د بني اسرائیلو لا هم دریاب ته ورننوت، فرعونیان هم په دوی پسي وروررسېدل فرعونیان لا په دریاب نه وه ورګډ شوي چې موسی علیه السلام اراده وکړه څو دریاب په لکړه ووهي چې دریاب ښېرته خپل حالت ته وګرځي الله جل جلاله امر ورته وکړ، چې دریاب پر خپل حال

[1] سورت الشعراء: ٥٢-٦٦ آیتونه

باندې پرېږده ستا خدای جل جلاله دغه فرعونیان په دغه دریاب کې غرقوي لکه الله جل جلاله چې یې بیان کوي او فرمایي: [وَاتْرُكِ الْبَحْرَ رَهْوًا إِنَّهُمْ جُنْدٌ مُغْرَقُونَ][1]

ژباړه: دریاب پرېږده ارامېدو ته بېشکه دا یو داسې لښکر دی چې غرقیږي.

فرعون چې کله په اوبو کې کوڅې ولېدې چې بني اسرائیل ترې تېر شول نو دوی هم په کوڅو ورمات شول او کله چې بلې غاړې ته بني اسرائیل پورې وتل او له دې غاړې د فرعون لښکر ټول په بحر کې دننه شو، نو الله جل جلاله دریاب ته امر وکړ، چې خپل عادي حالت ته وګرځي.[2]

د فرعون ټول فوج غرق شو البته فرعون چې کله د دریاب څپو واخیست او د مرګ وخت ته نژدې شو نو ایمان یې راوړ او خپل اسلام یې اعلان کړ، لکه الله جل جلاله چې بیان کوي: [إِذَا أَدْرَكَهُ الْغَرَقُ قَالَ آمَنْتُ أَنَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا الَّذِي آمَنَتْ بِهِ بَنُو إِسْرَائِيلَ وَأَنَا مِنَ الْمُسْلِمِينَ (۹۰) آلْآنَ وَقَدْ عَصَيْتَ قَبْلُ وَكُنْتَ مِنَ الْمُفْسِدِينَ][3]

ژباړه: کله چې فرعون غرقېدو ونیو، وې ویل: زه ایمان راوړم چې بل خدای جل جلاله نشته پرته له هغه خدایه چې بني اسرائیلو ایمان پر راوړی دی او زه د مسلمانانو څخه یم. ده ته وویل شول: اوس ایمان راوړې مخکې دې نافرماني کوله او ته د مفسدانو څخه وې.

دده ایمان ده ته هیڅ ګټه ونه کړه بلکې د خپلو ملګر سره د جهنم سختو عذابونو ته وصل شو چې بیا خلاصون ځینې نشته. الله جل جلاله یې بدن (بې روحه کالبوت) ته نجات ورکړ، ددې لپاره چې د نورو متکبرانو او جابرانو د پاره یوه معجزه واوسي او په راتلونکي کې بل څوک دغه ډول دریځ غوره نه کړي. ټول علماء په دې اتفاق دي چې فرعون له دې دنیا کافر تېر شوی دی او کومه ناره چې یې د مرګ په وخت پورته کړه هغه د الله جل جلاله په نزد د قبول وړ نه ده.[4]

---

۱ سورت الدخان: ۲۴ آیت

۲ عزیز التفاسیر، ج ٦، ص ۵۰

۳ سورت یونس: ۹۰ -۹۱

٤ روح المعاني، ج ۱۱، ص ۱۸۴

**ځلورم مبحث: کتاب او معجزې**

**لومړی مطلب: تورات**

لکه څرنګه چې الله جل جلاله فرمايي:[نَزَّلَ عَلَيْكَ الْكِتَابَ بِالْحَقِّ مُصَدِّقاً لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ وَأَنزَلَ التَّوْرَاةَ وَالإِنجِيلَ][1]

ژباړه: هغه پر تا دا کتاب نازل کړی، چې په حقه راغلی دی او د هغو کتابونو رښتینولي کوي چې له ده څخه مخکې راغلي دي، له ده څخه مخکې د انسانانو د هدآیت لپاره تورات او انجیل نازل کړل شوي وو.

إِنَّا أَنزَلْنَا التَّوْرَاةَ فِيهَا هُدًى وَنُورٌ[2] ژباړه: موږ تورات نازل کړ، په هغه کې لارښوونه او روښنايي وه

د تورات لفظ چې په قرآن کریم کې ۱۸ ځلې ذکر شوی دی، که څه هم په نورو نومونو سره یا نورو اشارو سره لکه (وَمَا أُوتِيَ مُوسَى وَعِيسَى) یا (کتاب موسی) (صحف موسی) ( الواح موسی) او نورو سره یاد شوی دی، د تورات لفظ د عبراني یا غیر عربي ژبې لفظ دی چې معنی یې رښا ده، خو په اصطلاحي مانا سره شریعت ویل

کېږي او په قرآن کریم کې ذکر شوی تورات هغه کتاب دی چې په موسی علیه السلام باندې نازل شوی دی[3]

او یا هم داسې تعریف شوی چې: تورات د عبراني ژبې لفظ دی چې معنی یې ده (شریعت، قانون او تعلیم) تورات یعنې قانون یا تورات د عبراني ژبې له (توره) څخه اخیستل شوی دی چې مراد ورڅخه هغه احکام او قوانین دي چې الله جل جلاله حضرت موسی علیه السلام ته د بني اسرائیلو د لارښوونې او هدآیت د موندلو لپاره نازل کړي وو، د اوسني تورات یو توری د حضر ت موسی علیه السلام په لاس نه دی لیکل شوی، او نه هم ده پخپل ټول ژوند کې یو چا ته حکم کړیدی چې یو توری ولیکه، دا چې یهود او عیسایان وایی او د (عهد نامه قدیم) پنځه لومړي کتابونه حضرت موسی علیه السلام ته منسوبوي؛ دا هر څه بې بنسټه دي او دوی هم ورباندې هیڅ کره شواهد او ثبوت نلري. نه د حضرت موسی علیه السلام تصدیق ورباندې شته او نه هم حضرت موسی علیه السلام یو توری لیکلی دی او نه هم بل صحابي[4].

هر هغه څه چې حضرت موسی علیه السلام ته د لوی الله جل جلاله له لوري ورکول شوي و، هغه حق، رېښتني او د پوره لارښوونې رڼا وه، چې عبارت ور څخه تورات دی او موږ ور باندې ایمان او باور لرو[5].

۱سورت ال عمران: ۳ ایت

۲سورت المائده: ۴۴ ایت

۳عزیز التفاسیر، ج ۲، ص ۲۲۴

٤ اسلامي، احمد (۱۳۹۷)، مقصود از تورات و انجیل در قرآن، قم: دانشگاه اسلامی، ص ۴-٦

۵ زما مناظره د یوه عیسایي راهب سره، عبدالغفار جبیر، ص ۱۴

اصلیي تورات څنګه له منځه ولاړ؟ د حضرت سلیمان علیه السلام د اولادې په وخت کې د یهودو ۱۲ مشهورو قبیلو څخه ۱۰ قبیلو بغاوت وکړ ټولې سره بیلې شوې، او د یهودو دوې پاچایانې جوړې شوې چې یو له بل سره په ټکر کې وې، یهودا(Judah) او اسرائیل، په ۷۲۲ ق م کې اسویریانو د اسرائیلو پر شمالي سلطنت چې پلازمینه یې سامریه وه، یرغل وکړ چې اسرائیل یې له منځه یووړل؛ او د اسرائیلو ټولې قبیلې ئې په قید کې واچولې، مطلب دا چې هغه اسرائېل چې پاتې شوي وه هغه یا له منځه ولاړل او یا ی‌ې ځانونه په نورو قومونو ګډ کړل او د اسرائیلو نوم او نښان ورک سو، د اسرائیلو هغه دوې قبیلې چې پاتې وې د بابل پاچا بخت نصر (بنوکد نضر) دوه ځلې په ۵۸۶ ق م کې تباه کړلې، لکه څرنګه چې په سورت اسراء کې ورته اشاره شوې په همدې حملو کې مقدس هیکل سلیماني له منځه ولاړ، د یهودو مقدس ټول کتابونه له منځه ولاړل او وسوځول شول.

ددغو دوو قبیلو څخه چې څوک ژوندي پاته شول هغه یې وبابل ته بوتلل او هلته د (۵۰) کلونو لپاره بندیان وه، ډیر پکې مړه شول، د پنځوسو (۵۰) کالو بند وروسته د ایران پاچا خسرو (سائرس) دوی خوشي کړل او دوی خپل وطن فلسطین ته راغلل، زیات اسرائیل مصر او بابل ته ولاړل په همدې بند کې هغه د مقدسو نسخو څه چې یې په ذهنو کې وه هغه هم له منځه ولاړل او ضایع شول، کله چې اسرائیل فلسطین ته راغلل پوره (۱۰۰) کاله وروسته د تورات عبراني نسخه یهودي عالم عزرا په (۴۵۸) ق م کې ولیکله نو ځکه اوسنی عهدنامه عتیق ته خلک د یوه افسانوي کتاب په سترګه ګوري.[1]

د عزرا د تورات لیکلو څخه وروسته بل ناورین اسرائیلو ته راغی هغه دا چې په (۱۶۱ق م) کې یو ظالم پاچا انطیوکس (Antiochus) پر بیت المقدس باندې حمله وکړه د یهودو مقدس کتابونه او د عبادت ځایونه یې ټول وروسوځول، له دې څخه وروسته بیا د حضرت عیسی علیه السلام د پیدایښت څخه (۷۰) کاله وروسته هغه څه چې یهودو مقدس درلودل طیطس (Titus) پاچا وسوځول، په زرهاوو یهودان یې ووژل چې له دې پیښې څخه وروسته د یهودو ټولې مقدسې نسخې له منځه ولاړې. یعنې اوس د تورات هیڅ حقیقي بڼه یا یو آیت هم شتون نه لري، یوازیني حقیقي مرجع چې د تورات په اړه معلومات لري هغه قرآن کریم دی.[2]

**دوهم مطلب: معجزې**

حضرت موسی علیه السلام ته الله جل جلاله زیاتې معجزې ورکړې وې لکه چې الله جل جلاله فرمایي:

«وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى تِسْعَ آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ»[3]

ژباړه ښېشکه چې موږ موسی ته نهه ښکاره معجزې ورکړې وې.

۱ اسلامي، احمد (۱۳۹۷)، مقصود از تورات و انجیل در قرآن، ص ۱۵

۲بایبل سے قرآن تک ج۔ ۱، ص ۳۰٦ (اظهارالحق کا اردو شرح ) لیکوال: شیخ الاسلام مولانا محمدتقي عثماني

۳سورت الاسراء: ۱۰۱ ایت

په پورتني آيت کې الله جل جلاله د موسی علیه السلام د معجزاتو شمېر نهه ښودلی دی او پوره واضحه ده تر څو پورې چې قرینه تحقق ونه لري په عدد باندې صراحت کول حصر نه فائده کوي نو د همدې کبله موږ وايو چې موسی علیه السلام ته الله جل جلاه متعددې معجزې او خوارق ورکړي وو، حتي چې ځینو علماوو[1] يې شمېر شپاړس ته رسولی. پاتې شوه دا خبره چې په آيت شريف کې کومو نهو ته اشاره شوې ده د هغو څخه اووه يې په واضح آيتونو سره تعين شوې دي لکه (۱) د لاس معجزه (۲) د همسا معجزه (۳) د طوفان معجزه (۴) د ملخانو معجزه (۵) د سپږو معجزه (۶) د چونگښو معجزه (۷) د وينو معجزه، اما په دوو نورو کې چې نهه عدد ورباندې پوره شي اختلاف شتون لري چې ددغه اختلاف اقوال اتو ته رسيږي خو غوره يې لاندې دوه دي[2]: ځينو د موسی علیه السلام د ژبې غوټه پرانستل اتمه گڼلې او د قلزم درياب څيرې کېدل يې نهمه گڼلې[3]

په هر حال لاندې هغه نهه واړه معجزې په تفصيل سره ذکر شوې دي:

١. د موسی علیه السلام د همسا (لکړې) څخه ښامار جوړېدل لکه الله جل جلاله چې فرمايي:

«فَأَلْقَى عَصَاهُ فَإِذَا هِيَ ثُعْبَانٌ مُّبِينٌ»[4]

ژباړه: موسی علیه السلام خپله همسا وغورځوله او له هغې څخه يو ژوندی ښامار جوړ شو.

٢. د موسی علیه السلام لاس به سپين وپرقېده، البته کله به چې يې له خپل گريوان ته دننه کړ او بيرته به يې راويوست. لکه الله جل جلاله چې فرمايي:

«وَنَزَعَ يَدَهُ فَإِذَا هِيَ بَيْضَاء لِلنَّاظِرِينَ»[5]

ژباړه: هغه له خپل گريوان څخه لاس راويست او ټولو کتونکو ته هغه سپين ځلېده.

٣. په فرعونيانو باندې الله جل جلاله وچکالي راوسته او باران ور باندې ودرېده لکه الله جل جلاله چې فرمايي:

«وَلَقَدْ أَخَذْنَا آلَ فِرْعَونَ بِالسِّنِينَ وَنَقْصٍ مِّن الثَّمَرَاتِ لَعَلَّهُمْ يَذَّكَّرُونَ»

ژباړه: موږ فرعونيان تر ډېرو کلونو په قحطۍ او د حاصلاتو په کموالي اخته کړل چې ښايي هغوی متوجه شي.

٤. د دوی ونو ميوجات نه نيول او ټولې ونې شنډې شوې لکه په پورته آيت کې چې ذکر شوه، دغه دواړې معجزې بېلې وې ځکه چې وچکالي د باران د نه وريدلو څخه عبارت ده چې ونې وچې شي او کښتونه

[1] التفسير الكبير، ج ۲۱ ص ٦۴
[2] زاد المسير، ج ۵، ص ٦٥
[3] عزيز التفاسير، ج ۷، ص ۳۱۹
[4] سورت الاعراف: ۱۰۷ ايت
[5] سورت الاعراف: ۱۰۸ ايت

د تندي له کبله وسوزي او حاصلات ونه کړي اما د فرعونيانو د مېوه جاتو کمبود ددې څخه عبارت وو چې ونې به ښې تر او تازه وې او ښې پاڼې به يې درلودې مگر ميوه جات به يې نه نيول، حتی داسې به هم پېښېده چې د کجورې غټې ونې به فقط يوه کجوره نيولې وه او بس.[1]

دا خبره هم څه لرې نه ده چې دغه دواړه معجزې يعنې وچکالي او د ميوه جاتو نه درلودل په هغوی باندې په يوه وخت مسلطې شوې وې چې چراگاه او بيابانونه يې د وچکالی له کبله وچ شوي وي او د نهرونو او د چينو په اوبو باندې باغونه شنه پاتې شوي وي خو ميوه جات به يې نه کول.[2]

٥. په فرعونيانو باندې الله جل جلاله طوفان ور نازل کړل. د طوفان د پاره مفسيرينو ډېرې معناوې کړې مگر کومه معنی چې د عبدالله بن عباس رضي الله عنه څخه روآيت شوې ده هغه داده چې په دوی باندې ځو ورځې مسلسل باران وريده.[3]

٦. بيا الله جل جلاله په هغوی باندې ملخان ور مسلط کړل چې کښتونه به يې ورته خوړل او د دروازو چولونه به يې هم خوړل چې له دې سره به يې د کورونو دوارزې راپرېوتلې داسې ملخان چې د اوسپنې دوازې هم ورته ټينگې نه شوې.[4]

٧. په هغوی باندې نور حشرات هم نازل شول چې قرآن کريم د القمل په نوم ياد کړي دي او مفسرينو يې تقريباً اووه ډوله تفسير کړی لکه: ورړي، وېنې، خمنډکان، سپږې، کوچني ملخان او داسې نور.[5]

٨. بيا يې په هغوی باندې چنگښې مسلطې کړي، چې په هر شي به ور پريوتلې که چا به د خبرو لپاره خوله وازه کړه نو چنگښې به ورټوپ کړل او په خوله کې به ورته کېښناسته، او فرعونيان تر ټولو ابتلاوو همدغه چنگښو سخت وزورول، الله جل جلاله چنگښې دوره ډېرې کړې چې يو فرعونی به آن تر زنې پورې په همدغو حشرات کې ډوب ناست وو.[6]

٩. بيا الله جل جلاله په هغوی باندې د وينو مصيب ورښکته کړل له وينو څخه لاندې تعبيرونه مراد دي:

الف: د فرعونيانو ټولې د څښلو اوبه وينې وگرځېدلې حتی د نيل اوبه هم د قبطيانو د پاره وينې شوي او د بني اسرائيلو لپاره رڼې اوبه وې.[7]

ب: د ټولو فرعونيانو له پزو څخه به وينې روانې وې او ټول په همدې مرض باندې اخته شوه.[8]

---

١تفسير ابن کثير ج ٢، ص ٢٣٩
٢تفسير الطبري ج ٦، ص ٢٩
٣تفسير ابن کثير، ج ٢، ٢٤٠
٤پورتني مرجع، س ٢٤٢
٥عزيز التفاسير، ج ٤، ص ٥٦١
٦تفسيرالقرطبي، ج ٧، ص ٢٧١
٧پورتنی مرجع، ص ٢٧١
٨عزيز التفاسير، ج ٤، ص ٥٦٢

د پورتنيو نهو معجزو اړوند د رسول الله صلی الله عليه وسلم يو حديث[1] هم د ذکر کولو وړ دی چې يوه ورځ رسول الله صلی الله عليه وسلم ته دوه کسان (يهودان) ورغلل او څه سوال او ځواب يې ورسره وکړ چې مضمون او وضاحت يې په لاندې ډول دی:

يهودان: اې ابو القاسمه! په « وَلَقَدْ آتَيْنَا مُوسَى تِسْعَ آيَاتٍ بَيِّنَاتٍ» کې کومې نهه معجزې مطلب دي؟

نبي کريم صلی الله عليه وسلم وفرمايل دغه نهه احکام په کې مراد دي چې (۱) د الله جل جلاله سره شريکان مه دروئ. (۲) زنا مه کوئ (۳) ناحقه قتل مه کوئ (۴) غلا مه کوئ (۵) جادو مه کوئ (۶) بې گناه سړی واکدار ته مه دروئ چې قتل يې کړي (۷) سود مه خورئ (۸) پاک لمنو ښځو ته قذف مه وايئ (۹) يا د کفارو سره په جنگ کې مه تښتئ (په نهم کې د دراوي شک دی چې همدغه به يې ښودلي وي او که بل)،

بيا نبي کريم صلی الله عليه وسلم وويل: اې يهودانو! د ذکر شوو نهو احکامو مراعات خو په ټولو باندې لازم دی مگر په تاسو باندې په خاصه توگه ددې حکم مراعات هم ضرور کړی شوی وو چې د شنبې په ورځ به ښکار نه کوئ، يهودانو د نبي کريم صلی الله عليه وسلم پښې او لاسونه مچو کړل او هم يې وويل چې موږ شاهدي وايو چې ته په حقه پيغمبر يې.

نبي کريم صلی الله عليه وسلم دوی مخاطب کړل چې نو بيا تاسو (يهودان په ايمان باندې ولې نه مشرف کيږي؟ يهودانو وويل ټول يهودان خو ځکه ايمان نه راوړي چې د (دوی په عقيده) دواد عليه السلام الله جل جلاله ته سوال کړی وو چې په دايمي توگه دې دده په اولاده کې د نبوت سلسله جريان لري دغه سوال يې (د دوی په خيال) الله جل جلاله قبول کړی دی او ته خو د دواد عليه السلام د اولادې څخه نه يې اما موږ دواړه ځکه په علني توگه ايمان نه راوړو چې که ايمان راوړو نو دستي به مو يهودان ووژني.

له ډېرې څخه د دولسو چينو بهېدل او د بني اسرائيلو له سرونو د غره پورته کېدل هم د موسی عليه السلام خوارق العاده کارونه (معجزې) بلل کيدای شي[2] په همسا سره د ډېرې وهلو وروسته دولس چينې را وخوټېدلې الله جل جلاله فرمايي: [«وَإِذِ اسْتَسْقَى مُوسَى لِقَوْمِهِ فَقُلْنَا اضْرِب بِّعَصَاكَ الْحَجَرَ فَانفَجَرَتْ مِنْهُ اثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْناً قَدْ عَلِمَ كُلُّ أُنَاسٍ مَّشْرَبَهُمْ كُلُواْ وَاشْرَبُواْ مِن رِّزْقِ اللهِ وَلاَ تَعْثَوْاْ فِي الأَرْضِ مُفْسِدِينَ»[3]

---

۱جامع الترمذي، ج ۲، ص ١٤٦ حديث نمبر۲۸۷۷- حدثنا أبو كريب، أخبرناعبد الله ادريس وأبو أسامة عن شعبة عن عمرو بن مرة عن عبد الله بن سلمة عن صفوان بن عسال قال: - "قال يهودي لصاحبه اذهب بنا إلى هذا النبي فقال صاحبه لا تقل نبي إنه لو سمعك كان له أربعة أعين فأتيا رسول الله صلى الله عليه وسلم فسألاه عن تسع آيات بينات، فقال لهم لا تشركوا بالله شيئا، ولا تسرقوا، ولا تزنوا، ولا تقتلوا النفس التي حرم الله عى بالحق، ولا تمشوا ببريء إلى ذي سلطان ليقتله، ولا تسحروا، ولا تأكلوا الربا، ولا تقذفوا المحصنة، ولا تولوا الفرار يوم الزحف وعليكم خاصة اليهود ألا تعتدوا في السبت. قال فقبلوا يديه، ورجليه، وقالوا نشهد أنك نبي. قال فما يمنعكم أن تتبعوني؟ قال قالوا: إن داود دعا ربه أن لا يزال من ذريته نبي، وانا نحاف إن تبعناك يقتلنا اليهود". وفي الباب عن يزيد بن الأسود وابن عمر وكعب بن مالك. هذا حديث حسن صحيح.

۲عزيز التفاسير، ج ۷، ص ۳۱۹

۳سورت البقره: ٦٠ ايت

**پنځم مبحث: وفات**

موسی علیه السلام له زیاتو تکالیفو، صبر او د فوعونیانو له غرقېدو ورسته وفات کېږي د وفات کېسه یې امام بخاري په دې توګه رانقل کړې ده[1]: موږ یې لږ په لنډېز سره دلته راوړو:
کله چې موسی علیه السلام ته د مرګ پرښته (عزرائیل علیه السلام) راغی او د روح د قبض کولو یې ورته وویل نو موسی علیه السلام په چپلاخه وواهه، عزرائیل علیه السلام بیرته الله جل جلاله ته ورغی او حال یې ورته ووایه الله جل جلاله ورته وویل چې موسی ته ورشه او ورته ووایه چې د غوایي په ملا لاس کېږده، تر لاندې چې څومره ویښتان وو د هر ویښته په مقابل کې یو کال عمر نور درکوم، موسی علیه السلام ورته وویل چې له هغه وروسته؟ الله جل جلاله ورته وویل چې له هغه وروسته نو مرګ دی. موسی علیه السلام ورته وویل چې بیا نو اوس مرګ ښه ده. او قبر یې د بیت المقدس ځمکې ته په دومره فاصلیه کې دی چې کاڼی بیت المقدس ته رسیږي، ابو هریره رضي الله عنه وایي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: چې که زه په هغه ځای کې وای نو قبر به مې در ښودلی وایي او چې د لارې سره په خوا او د یوې سرې غونډې تر څنګ دی.

همداشان د موسی علیه السلام د عمر په اړه دغه خبره کره دی چې[2]: موسی علیه السلام د خپل عمر ۳۰ کلونه د فرعون په کور کې تیر کړل، ۱۰ کلونه د مدین په ښار کې د شعیب علیه السلام سره و، ۳۰ کاله یې بیا فرعون ته دعوت و چلاوو، او بلاخره ۵۰ کاله د فرعون له غرقېدو وروسته هم ژوندی وو. چې ټول عمر یې ۱۲۰ کاله وو.

---

۱ صحيح البخاري، كتاب الانبيا، باب وفاة موسى ٣٤٠١/٦: ٣٢٢٦ - حدثنا يحيى بن موسى: حدثنا عبد الرزاق: أخبرنا معمر، عن ابن طاوس، عن أبيه، عن أبي هريرة رضي الله عنه قال: (أرسل ملك الموت إلى موسى عليهما السلام، فلما جاءه صكه، فرجع إلى ربه، فقال: أرسلتني إلى عبد لا يريد الموت، قال: ارجع إليه، فقل له يضع يده على متن ثور، فله بما غطت يده بكل شعرة سنة، قال: أي رب، ثم ماذا؟ قال: ثم الموت، قال: فالآن، قال: فسأل الله أن يدنيه من الأرض المقدسة رمية بحجر). قال أبو هريرة: فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم: (لو كنت ثم لأريتكم قبره، إلى جانب الطريق تحت الكثيب الأحمر). قال: وأخبرنا معمر، عن همام: حدثنا أبو هريرة، عن النبي صلى الله عليه وسلم: نحوه.
٢ تفسير المظهري، ج ٧، ص ٦٣

## پنځم فصل

## حضرت عیسی علیه السلام

### تمهید

الله جل جلاله فرمايي: [مَا الْمَسِيحُ بْنُ مَرْيَمَ إِلَّا رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِنْ قَبْلِهِ الرُّسُلُ وَأُمُّهُ صِدِّيقَةٌ][1]

ژباړه: نه دی عیسی بن مریم مگر د الله جل جلاله رسول دی تر ده وړاندې نور رسولان تېر شوي دي او مور يې نېکه رښتينې وه.

حضرت عیسی علیه السلام چې د ترتيب په لحاظ څلورم اولو العزمه پيغمبر دی او په قران کريم کې يې نوم زيات ځلې ذکر شوی او په ځينو ځاينونو کې د ابن مريم په نوم هم ياد شوي او لکه څرنگه چې لوی رب جل جلاله په خپل کامل قدرت سره بې پلاره پيدا کړ نو ځکه يې ورته د ابن مريم لقب ورکړ، بي بي مريم چې يو له لويو او غوره شويو ښځو څخه وه الله جل جلاله يې په اړه په قرآن کريم کې يو مکمل سورت د «مريم» په نوم نازل کړ چې ۹۸ آيتونه لري. لکه څرنگه چې موسی علیه السلام د بني اسرائيلو لومړی پيغمبر او حضرت عیسی علیه السلام يې وروستي پيغمبر دی[2]، «« ځينو مفسرينو[3] د بني اسرائيلو د پيغمبرانو په اړه ويلې چې ټول تعداد يې څلور زره يا اويا زره وو، خو ښه داده چې وواېو؛ يوازې الله جل جلاله ته معلومه ده چې اصلي تعداد به يې څو وي، خو سلسله يې په حضرت موسی علیه السلام پيل او په عيسي علیه السلام باندې پای ته رسېدلې.»»[4]

### لومړی مبحث: تفصيلي پېژندنه

#### لومړی مطلب: د بي بي مريم پېژندنه

مريم رضی الله عنها د عمران[5] لور وه، داسې ښځه وه چې په صديقه سره نومول سوې ده، داسي ښځه وه چې خپل رغبت يې د نارينوو څخه پرې کړی وو، پېغله وه په خپل چاپېريال کې يې په ډېر عفت، پاک لمنۍ او سپېڅلتيا سره ژوند کاوه، الله جل جلاله په څو ځايونو کې ددې يادونه کړې ده او دا يې په ثنا او مدحه سره

---

۱ سورت المائده: ۷۵ آيت

۲ صحيح الجامع: حديث رقم، ۲۱۲۷، الراوی: ابو ذر الغفاري، المحدث، الالباني.

۳روح المعاني، ج ۱، ص ۳۱٦ حواله باندې د هغو ټولو مفسرينو نومونه ياد کړي دي.

٤ عزيز التفاسير، ج ۱، ص ١٦٥

٥ که څه هم د موسی علیه السلام پلار هم عمران نومېده او د عيسي علیه السلام نيکه د بي بي مريمي پلار هم عمران نومېده خو د دواړو تر منځ ۱۸۰۰ کاله فاصله موجوده وو: روح المعاني ج ۳، ص ۱۳۱

ستايلي ده لکه چې الله جل جلاله فرمايي: [وَمَرْيَمَ ابْنَةَ عِمْرَانَ الَّتِي أَحْصَنَتْ فَرْجَهَا فَنَفَخْنَا فِيهِ مِنْ رُوحِنَا وَصَدَّقَتْ بِكَلِمَاتِ رَبِّهَا وَكُتُبِهِ وَكَانَتْ مِنَ الْقَانِتِينَ][1]

ژباړه: مريمه رضی الله عنها د عمران لور وه هغه ښځه وه چې خپل عورت يې ساتلی وو نو موږ خپل روح پکښې پوه کړ، مريمې رضی الله عنها د الله جل جلاله پر کلماتو او کتابونو باندې تصديق کړی وو او دا د قانتينو څخه وه.

د عمران مېرمن[2] لا نه وه حمل داره شوې چې نذر يې کښېښود چې که الله جل جلاله ماته اولاد راکړ، زه به يې د الله جل جلاله د رضا لپاره ازادوم او بيت المقدس خدمت ته به يې وقف کوم. الله جل جلاله ددې دعا قبول کړه او ددې مريم رضی الله عنها په نس سوه . کله چې د حمل ايښودلو وخت راغلی د زېږد په وخت کې معلومه شوه چې ددې اولاد ښځينه دی نارينه نه دی نو دې د تاسف څرګندونه وکړه او الله جل جلاله ته يې عذر وړاندې کړ لکه چې الله جل جلاله يې په اړه فرمايي: [فَلَمَّا وَضَعَتْهَا قَالَتْ رَبِّ إِنِّي وَضَعْتُهَا أُنْثَى وَاللَّهُ أَعْلَمُ بِمَا وَضَعَتْ وَلَيْسَ الذَّكَرُ كَالْأُنْثَى وَإِنِّي سَمَّيْتُهَا مَرْيَمَ وَإِنِّي أُعِيذُهَا بِكَ وَذُرِّيَّتَهَا مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ][3]

ژباړه: نو کله چې (د عمران مېرمنې ) خپل اولاد وزېږاو، وې ويل: اې زما ربه! ما ښځينه اولاد وزېږاوو او الله جل جلاله په هغه څه ښه عالم دی چې ما زېږولی دی او نارينه داسې نه دی لکه ښځينه، بېشکه زه دغه لور په مريم سره نوموم او بېشکه زه ددې او ددې د اولاد لپاره اې خدايه! په تا سره پناه غواړم د رټل شوي شيطان څخه.

الله جل جلاله ددې غوښتنه ومنل ددې اولاد يې په خپل فضل او مرحمت سره قبول کړ، [فَتَقَبَّلَهَا رَبُّهَا بِقَبُولٍ حَسَنٍ ][4] د شيطان د هر ډول چلونو څخه يې ددې اولادونه او د لور اولاد يې وروساتل.

په داسې حال کې چې مريم رضی الله عنها کوچنۍ نو مور يې مسجد ته راوړه او د مسجد خادمانو ته يې تسليم کړه. په خادمانو کې هر يوه هڅه کول څو ددې کفالت پر خپله غاړه واخلي له همدې امله د دوی په منځ کې د مريم رضی الله عنها پر کفالت باندې اختلاف پېښ شو. زکريا عليه السلام چې د مريم رضی الله عنها د مور د خور خاوند وو (د عمه خاوند يې وو)، هم وغوښته چې ددې کفالت پر غاړه واخلي. ددغه اختلاف دله منځه وړلو لپاره پر دې موافقه وشوه چې قرعه اچونه به کوي د هر چا نوم چې وخوت د مريم رضی الله عنها کفالت به هغه پر غاړه اخلي.

١ سورت التحريم: ١٢ آيت

٢ د مريمي د مور نوم د تفسير البغوي ٢٩٥/١ په حواله فاقوذا نوميده چې بله خور يې ايشاع نوميده کومه چې د زکريا عليه السلام مېرمن او د يحی عليه السلام مور وو.

٣ سورت ال عمران: ٣٦ آيت

٤ سورت ال عمران: ٣٧ آيت

[إِذْ يُلْقُون أَقْلاَمَهُمْ أَيُّهُمْ يَكْفُلُ مَرْيَمَ وَمَا كُنتَ لَدَيْهِمْ إِذْ يَخْتَصِمُونَ ][1]

ژباړه: چې د (بیت المقدس خادمانو) ددې فیصلې لپاره خپل قلمونه (په اوبو کې د قرعه کشي لپاره) غورځل چې څوک به د مریم سرپرست کیږي، او نه ته په هغه وخت کې له هغو سره موجود وې چې د هغو پرې جګړه وو.

کله چې یې قرعه اچونه وکړه نو د زکریا علیه السلام نوم راووت نو ځکه ددې کفالت زکریا علیه السلام پر غاړه واخیستی چې د یحیی علیه السلام پلار دی. [وَكَفَّلَهَا زَكَرِيَّا ][2]

مریم رضي الله عنها د زکریا علیه السلام تر نظارت لاندې پاته شوه، په دغه وخت کې زکریا علیه السلام ددې عجیبې واقعې ولیدې د بیلګې په ډول زکریا علیه السلام د مریم رضی الله عنها سره داسې مېوې ولیدې چې په بازار کې نه پیدا کېدې آن تر دې چې بیخې ددغه مېوو موسم نه وو. زکریا علیه السلام ددې سره د ژمي مېوې په دوبي کې ولیدې او د دوبي مېوې یې په ژمي کې ولیدې[3]. ددې مېوو په لیدلو سره یې د مریم رضی الله عنها ښخه په زړه کې بېره او وحشت پیدا شو او ورته وې ویل: (اني لک هذا؟) یعنې دا مېوې ستا لپاره دکومه وې؟. ددغه خبرې یادونه الله جل جلاله په لاندنې آیت کې کړې ده[ كُلَّمَا دَخَلَ عَلَيْهَا زَكَرِيَّا الْمِحْرَابَ وَجَدَ عِنْدَهَا رِزْقًا قَالَ يَا مَرْيَمُ أَنَّى لَكِ هَذَا قَالَتْ هُوَ مِنْ عِنْدِ اللَّهِ إِنَّ اللَّهَ يَرْزُقُ مَنْ يَشَاءُ بِغَيْرِ حِسَابٍ][4]

ژباړه: کله چې زکریا علیه السلام پر مریم رضی الله عنها باندې داخل شو په مسجد کې یې ددې په وړاندې د خوراک توکي ولیده. زکریا علیه السلام ورته وویل: اې مریمې! د کومې خوا تاته دا مېوې وې. دې په جواب کې ورته وویل: د الله جل جلاله د لوري ښخه دي، بېشکه الله جل جلاله هغه چاته چې خوښه یې شي بېشماره رزق ورکوي.

لنډه دا چې مریم رضی الله عنها په یوه داسې محیط کې ژوند کاوه چې د هر ډول چټلۍ او پلیتۍ ښخه پاک وو. الله جل جلاله یې یادونه په قرآنکریم کې داسې کړې ده: [إِذْ قَالَتِ الْمَلاَئِكَةُ يَا مَرْيَمُ إِنَّ اللَّهَ يُبَشِّرُكِ بِكَلِمَةٍ مِنْهُ اسْمُهُ الْمَسِيحُ عِيسَى بْنُ مَرْيَمَ وَجِيهًا فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ وَمِنَ الْمُقَرَّبِينَ (٤٥) وَيُكَلِّمُ النَّاسَ فِي الْمَهْدِ وَكَهْلاً وَمِنَ الصَّالِحِينَ ][5]

ژباړه: یاد کړه هغه وخت چې ملائکو وویل: اې مریمې! بېشکه الله جل جلاله تاته په یوه کلمة (زوی) سره زېری درکوي د خپله لوري ښخه نوم به یې مسیح عیسی د مریمې زوی وي په دنیا او اخرت کې به غوره وي

---

١ ال عمران: ۴۴ آیت

٢ ال عمران: ۳۷ آیت

٣ روح المعاني: ج ۳، ص ۱۴۰

٤ ال عمران: ۳۷ آیت

٥ سورت ال عمران: ۴۵- ۴٦ آیتونه

او د مقربينو انسانانو څخه به وي او د خلكو سره به په ځانګو او زوړوالي كې خبرې كوي او د صالحو انسانانو څخه به وي.

**دوهم مطلب: د عيسي عليه السلام زيږيدنه**

كله چې د ملايكو لخوا بې بې مريمې ته په عيسي مسيح سره زيرى وركړل شو نو يوه ورځ په داسې حال كې چې دا د بلوغ عمر ته ورسيدلې و له محراب څخه بهر شوه او د استراحت په موخه د بيت المقدس ختيځ طرف ته لاړه په داسې حال چې له قوم څخه ليرې كېده يو خوش اندامه له رنګه سپين ځوان يې په مخ كې حاضر شو، مريم په ويره او خفګان كې شوه او داسې يې وويل: البته د پيدا كېدو ټوله كېسه يې د سورت مريم په دوهمه ركوع كې په تفصيل سره راغلى غوره به وي تر څو يې لومړني آيتونه دلته ذكر كړو:

«وَاذْكُرْ فِي الْكِتَابِ مَرْيَمَ إِذِ انتبَذَتْ مِنْ أَهْلِهَا مَكَانًا شَرْقِيًّا ١٦ فَاتَّخَذَتْ مِن دُونِهِمْ حِجَابًا فَأَرْسَلْنَا إِلَيْهَا رُوحَنَا
فَتَمَثَّلَ لَهَا بَشَرًا سَوِيًّا ١٧ قَالَتْ إِنِّي أَعُوذُ بِالرَّحْمَن مِنكَ إِن كُنتَ تَقِيًّا ١٨ قَالَ إِنَّمَا أَنَا رَسُولُ رَبِّكِ لأَهَبَ لَكِ غُلامًا
زَكِيًّا ١٩ قَالَتْ أَنَّى يَكُونُ لِي غُلامٌ وَلَمْ يَمْسَسْنِي بَشَرٌ وَلَمْ أَكُ بَغِيًّا ٢٠ قَالَ كَذَلِكِ قَالَ رَبُّكِ هُوَ عَلَيَّ هَيِّنٌ وَلِنَجْعَلَهُ آيَةً
لِلنَّاسِ وَرَحْمَةً مِّنَّا وَكَانَ أَمْرًا مَّقْضِيًّا ٢١ فَحَمَلَتْهُ فَانتَبَذَتْ بِهِ مَكَانًا قَصِيًّا ٢٢ فَأَجَاءهَا الْمَخَاضُ إِلَى جِذْعِ النَّخْلَةِ
قَالَتْ يَا لَيْتَنِي مِتُّ قَبْلَ هَذَا وَكُنتُ نَسْيًا مَّنسِيًّا ٢٣ فَنَادَاهَا مِن تَحْتِهَا أَلاَّ تَحْزَنِي قَدْ جَعَلَ رَبُّكِ تَحْتَكِ سَرِيًّا ٢٤
وَهُزِّي إِلَيْكِ بِجِذْعِ النَّخْلَةِ تُسَاقِطْ عَلَيْكِ رُطَبًا جَنِيًّا ٢٥ فَكُلِي وَاشْرَبِي وَقَرِّي عَيْنًا فَإِمَّا تَرَيِنَّ مِنَ الْبَشَرِ أَحَدًا فَقُولِي
إِنِّي نَذَرْتُ لِلرَّحْمَنِ صَوْمًا فَلَنْ أُكَلِّمَ الْيَوْمَ إِنسِيًّا ٢٦ فَأَتَتْ بِهِ قَوْمَهَا تَحْمِلُهُ قَالُوا يَا مَرْيَمُ لَقَدْ جِئْتِ شَيْئًا فَرِيًّا ٢٧
يَا أُخْتَ هَارُونَ مَا كَانَ أَبُوكِ امْرَأَ سَوْءٍ وَمَا كَانَتْ أُمُّكِ بَغِيًّا ٢٨ فَأَشَارَتْ إِلَيْهِ قَالُوا كَيْفَ نُكَلِّمُ مَن كَانَ فِي الْمَهْدِ
صَبِيًّا ٢٩ قَالَ إِنِّي عَبْدُ اللَّهِ آتَانِيَ الْكِتَابَ وَجَعَلَنِي نَبِيًّا ٣٠ وَجَعَلَنِي مُبَارَكًا أَيْنَ مَا كُنتُ وَأَوْصَانِي بِالصلاَةِ وَالزَّكَاةِ
مَا دُمْتُ حَيًّا ٣١ وَبَرًّا بِوَالِدَتِي وَلَمْ يَجْعَلْنِي جَبَّارًا شَقِيًّا ٣٢ وَالسَّلاَمُ عَلَيَّ يَوْمَ وُلِدتُّ وَيَوْمَ أَمُوتُ وَيَوْمَ أُبْعَثُ حَيًّا
٣٣ ذَلِكَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ قَوْلَ الْحَقِّ الَّذِي فِيهِ يَمْتَرُونَ ٣٤ مَا كَانَ لِلَّهِ أَن يَتَّخِذَ مِن وَلَدٍ سُبْحَانَهُ إِذَا قَضَى أَمْرًا فَإِنَّمَا
يَقُولُ لَهُ كُن فَيَكُونُ ٣٥ وَإِنَّ اللَّهَ رَبِّي وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ هَذَا صِرَاطٌ مُّسْتَقِيمٌ ٣٦»[1]

ژباړه: او (اې محمد ه!) په دې كتاب كې د مريم حال در ياد كړه كله چې هغه له خپلو اړوندو كسانو څخه په بېليدو په ختيځه خوا كې ګوښه شوې وه، او پرده يې ونيوله له هغو څخه پټه ناسته وه پدغه حالت كې موږ هغې ته خپل روح (پرښته) وليږله او د هغې په وړاندې په بشپړه انساني بڼه كې څرګنده شوه، مريم ناځاپه نارې كړې «كه ته كوم له خدايه ويريدونكى سړى يې، نو زه ستا څخه د الرحمن پناه غواړم (ماته مه رانږدې كېږه) هغه وويل: زه ستا د پروردګار استازى يم او ددې لپاره راغلى يم چې تاته يو سپځلى هلک دركړم». مريم وويل: زما به څنګه هلک وشي چې كله زه كوم بشر لمس كړې نه يم او نه زه كومه بد كاره

[1] سورت مريم: ١٦ – ٣٦ ايتونه، دوهمه ركوع

ښځه یم؟ پرښتې وویل: همداسې به کېږي ستا رب فرمايي چې دغسې کول ماته ډېر اسانه دي او موږ به دا ددې لپاره وکړو چې هغه هلک د خلکو لپاره يوه نښانه شي او زموږ له لوري يو رحمت او دا کار سرته رسيدونکی دی. مريم ددغه ماشوم اميدواره (حامله) شوه او هغه له دې اميد وارۍ سره يوه ليري ځای ته لاړه، بيا د لګېدو کړاو (د ماشوم د زيږيدو په وخت کې درد) د خرما د يوې ونې لاندې ورباندې راغی هغې وويل کاشکې زه له دې څخه مخکې مړه وای او نوم نښان مې نه وای پاتې، پرښتې د لاندې خوا څخه هغې ته غږ وکړ ويې ويل مه خفه کېږه ستا پروردګار تر تا لاندې يوه چينه بهولې ده؛ او ته لږ غوندې ددغې ونې تنه وخوځوه پر تا به خوږې ښېرازه خرماې راتوې شي؛ نو وخوره، و څښه او خپلې سترګې (عيسي ته په کتو) يخې کړه، بيا که کوم يو انسان دې وليدو، نو ورته ووايه چې ما د الرحمن ذات لپاره روژه نذر کړې ده، ددې لپاره به زه نن له هيچا سره خبرې ونه کړم، بيا هغه له دې ماشوم سره خپل قوم ته راغله خلکو وويل اې مريم! دا خو تا د عادت خلاف کار وکړ. اې د هارون خورې نه ستا پلار کوم بد سړی و او نه ستا مور کومه بد کاره ښځه وه، مريم د ماشوم لورې ته اشاره وکړه خلکو وويل موږ له هغه چا سره څه، څنګه خبرې وکړو چې په زانګو کې پروت يو ماشوم دی، ماشوم غږ وکړ: زه د الله بنده يم هغه ماته کتاب راکړ او پيغمبر يې کړم. او برکتي يې کړم هر چيرته چې اوسم او د لمانځه او زکات د پابندي حکم يې راکړ تر څو پورې چې زه ژوندی اوسم او د خپلې مور د حق ادا کوونکی يې وګرځولم او زه يې سر غړونکی او بدبخته نه يم ګرځولی، پر ما دې سلام وي په هغه ورځ چې زه پيدا شوم او په هغه ورځ چې مړ شم او په هغه ورځ چې ژوندی را پاڅول شم، دغه د مريم د زوی عيسی بيان دی او دده په باب هغه خبره رښتينې ده چې خلک په کې شک کوي، د الله دا کار نه دی څوک په زويتوب ونيسي هغه پاک ذات دی هغه چې کله د کومې خبرې فيصليه کوي نو وايي چې شه هغه کېږي. ( او عيسی ويلي و چې) الله زما رب هم دی او ستاسې رب هم، نو تاسې د هغه بندګي وکړئ همدغه سم لاره ده.

مشهور قول دادی[1] چې عيسی – عليه السلام – په بيت لحم کې زيږيدلی او له ولادت وروسته بيت المقدس ته راوړل شو، د پيدا کېدو نېټه يې په لږ او کم توپير د سه شنبې په ورځ د دسمبر مياشتې په ۲۴ يانې له لږ څه زيات د رسول الله –صلی الله عليه وسلم له ولادت څخه ۶۰۰ کاله وړاندې زيږيدلی.[2] کله چې عيسی عليه السلام د مريم رضی الله عنها په نس کېده ددې عمر ۱۳ کاله وو[3]

۱ تفسير البغوي، ج ۳، ص ۱۹۲

۲ پيغمبري و پيغمبران در قران کريم ص ۳۰۰- ۳۰۱

۳ تفسير ابی مسعود، ج ۲، ص ۴۳

عیسی علیه السلام له پیدا کېدو وروسته د خپلې مور په حمآیت د بیت لحم د یوې لوړې غونډې چې له هر لحاظه ارام او مطمین وو او په څنګ کې یې یوه د اوبو چینه هم وه ژوند غوره کړ.[1] لکه چې الله جل جلاله فرمايي:

«وَجَعَلْنَا ابْنَ مَرْيَمَ وَأُمَّهُ آيَةً وَآوَيْنَاهُمَا إِلَى رَبْوَةٍ ذَاتِ قَرَارٍ وَمَعِينٍ»[2]

ژباړه: او د مریم زوی او د هغه مور موږ یوه نښانه وګرځوله او هغوی ته مو په یوه هسکه مېنه کې ځای ورکړ، چې د داړېنې ځای و او چینې په کې بهیدلې.

**درېیم مطلب: په قرآن کې د عیسې علیه السلام یادونه**

د حضرت عیسي السلام له نوم سره په قرآن کریم هر ځای د هغه د مور مبارکې (بې بې مریم رضي الله عنها) نوم هم راغلی یوازې په څو ځایونو کې یې نوم یوازې راغلی.

په قرآن کریم کې د حضرت عیسي علیه السلام «عیسی» لفظ ۲۵[3] ځلې ذکر شوی دی چې په لاندې جدول کې په ښه توګه معلومېږي.

| ګڼه | د سورت نوم | د آیت شمېره | ګڼه | د سورت نوم | د آیت شمېره |
|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | البقره | ۸۷ | ۱۴ | المائده | ۱۱۰ |
| ۲ | البقره | ۱۳۶ | ۱۵ | المائده | ۱۱۲ |
| ۳ | البقره | ۲۵۳ | ۱۶ | المائده | ۱۱۴ |
| ۴ | ال عمران | ۴۵ | ۱۷ | المائده | ۱۱۶ |
| ۵ | ال عمران | ۵۲ | ۱۸ | الانعام | ۸۵ |
| ۶ | ال عمران | ۵۵ | ۱۹ | مریم | ۳۴ |
| ۷ | ال عمران | ۵۹ | ۲۰ | الاحزاب | ۷ |
| ۸ | ال عمران | ۸۴ | ۲۱ | الشوری | ۱۳ |
| ۹ | النساء | ۱۵۷ | ۲۲ | الزخرف | ۶۳ |
| ۱۰ | النساء | ۱۶۳ | ۲۳ | الحدید | ۲۷ |
| ۱۱ | النساء | ۱۷۱ | ۲۴ | الصف | ۶ |
| ۱۲ | المائده | ۴۶ | ۲۵ | الصف | ۱۴ |
| ۱۳ | المائده | ۷۸ | | | |

۱ ابن کثیر،، قصص الانبیا، ص ۴۴۳

۲ المومنون: ۵۰ ایت

۳ دغه د جدولونو معلومات او د پیغمبرانو د شمېر معلومات اړوند د Quran in word فایل څخه د پلټنې او بیا د هر یوه د ځای/ سورت او ایات معلومولو لپاره هره نقطه بیرته له قرآن کریم سره کتل شوې ده.

له پورتني جدول پرته د عيسي عليه السلام نوم د المسيح او ابن مريم په نوم په لاندې ځايونو کې ذکر شوی.
التوبه: ۳۱ آيت کې المسيح ابن مريم په نوم ذکر شوی دی
المومنون ۵۰ آيت کې يوازې د ابن مريم په نوم ذکر شوی دی.
المائده سورت ۱۷ کې آيت دوه ځله المسيح ابن مريم ذکر شوی
المائده سورت ۷۲ او ۷۵ آيتونو کې يو يو ځل المسيح ابن مريم ذکر شوی
الاحزاب ۵۷ آيت کې يو ځل د ابن مريم په نوم ذکر شوی دی.
الزخرف ۵۷ آيت کې هم يو ځل د ابن مريم په نوم ذکر شوی دی.
له پورتينو ځايونو علاوو د بي بي مريمې نوم په لاندې ځايونو کې په يوازې ځان ذکر شوی دی.
د التحريم ۱۲ آيت کې مريم ابنت عمران
ال عمران ۳۶ آيت تر ۴۵ آيت پورې ۶ ځله يوازې مريم ذکر شوی
النساء سورت ۱۵۶ آيت کې ۱ ځل مريم لفظ ذکر شوی
النساء سورت ۱۷۱ آيت کې ۱ ځل مريم لفظ ذکر شوی
مريم سورت کې؛ ۱۶ او ۲۷ آيتونو کې يو يو ځل مريم لفظ ذکر شوی دی.

## دوهم مبحث: په پيغمبري مبعوث کېدل او د دعوت پيل

### لومړی مطلب: په پيغمبري مبعوث کېدل

لکه چې الله جل جلاله فرمايي: «وَإِذْ قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ إِنِّي رَسُولُ اللهِ إِلَيْكُم مُّصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ التَّوْرَاةِ وَمُبَشِّرًا بِرَسُولٍ يَأْتِي مِن بَعْدِي اسْمُهُ أَحْمَدُ فَلَمَّا جَاءَهُم بِالْبَيِّنَاتِ قَالُوا هَذَا سِحْرٌ مُّبِينٌ»[۱]
ژباړه: او عيسی د مريم د زوی هغه خبره ياده کړه چې ويلي يي وو« اې بني اسرائيلو زه تاسې ته د الله رالېږل شوی پيغمبر يم، د هغه د تورات تصديق کوونکی يم چې زما څخه مخکې راغلی دی او د يوه پيغمبر زيری درکوم چې زما څخه به وروسته راشي چې نوم به يې احمد وي، خو کله چې دوی ته له ښکاره څرګندو نښانو سره راغی نو دوی وويل« دا خو څرګندې ګوډې دي».
دا چې عيسي عليه السلام په څو کلني کې پيغمبر شو، نو دلته دوې خبرې دي يو دا چې ويل کېږي هغه ته د ماشومتوب په وخت کې د پيغمبري رتبه ورکړل شوې چې عمر يې درې کاله وو، خو مشهور قول دادی چط

۱ سورت الصف: ٦ ايت

هغه د خپل عمر په ۳۰ کلنۍ کې په پیغمبرۍ مبعوث شو او د رسالت موده یې درې کاله او په ۳۳ کلنۍ کې اسمان ته پورته شو[1].

همدا شان بي بي مریمه رضي الله عنها د هغه څخه وروسته چې عیسي علیه السلام د رمضان په میاشت کې اسمان ته وخېژول شو، شپږ کاله ژوندۍ وه او بلاخره په ۵۲ کلنۍ کې وفات شوه.[2]

عیسی علیه السلام د روم په امپراطورۍ او د فلسطین او د هغه په شاوخوا کې میشتو یهودانو ته مبوث شوی و، دغه خبره د ده علیه السلام د پیداکېدو، مصر ته د سفر او بېرته د راتلو او همداشان د د ده وژلو پلان تېول د فلسطین په خاوره کې تر سره شوي دي، همداشان ده به له خپلو حوارینو سره سفرونه کول، شام، مصر او نورو ځایونو ته.[3]

همداشان الله جل جلاله فرمایي: [وَقَفَّيْنَا عَلَى آثَارِهِم بِعَيسَى ابْنِ مَرْيَمَ مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ التَّوْرَاةِ وَآتَيْنَاهُ الإِنجِيلَ فِيهِ هُدًى وَنُورٌ وَمُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ مِنَ التَّوْرَاةِ وَهُدًى وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِينَ ٤٦ وَلْيَحْكُمْ أَهْلُ الإِنجِيلِ بِمَا أَنزَلَ اللّهُ فِيهِ وَمَن لَّمْ يَحْكُم بِمَا أَنزَلَ اللّهُ فَأُوْلَـئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ ٤٧][4]

ژباړه: بیا موږ له هغو پیغمبرانو وروسته د مریم زوی عیسي علیه السلام ولېږه، له تورات نه چې کوم شی د هغه په وړاندې موجود و، د هغه رښتینی کوونکی وو، او موږ هغه ته انجیل ورکړ، چې په هغه کې لارښوونه او روښنایي وو، او هغه هم د تورات د هغه څه چې په هغه وخت کې موجود وو، رښتینی کوونکی و او له خدای جل جلاله څخه د ویریدونکو خلکو لپاره له سره تر پایه هدایت او نصیحت وو.

**دوهم مطلب: د دعوت پیل**

عیسی علیه السلام خلگ د حق او الهي دین ولوري ته راوبلل هغه دین چې الله جل جلاله ورته وحي کړې وې، عیسی علیه السلام خپل دعوت یهودیانو ته پیل کړ، په یهودي ټولنه کې انحرافات، خرافات او باطل کارونو خورا په لوړه کچه دود موندلی وو، کوم دین چې پر موسي علیه السلام باندې نازل شوی هغه یې زیات ځایونه پر خپلو طبیعتونو باندې بدل کړی وو. دا چې ډېره زمانه یهودیانو ته الهي استازی نه وو راغلی ټول سخت زړه انسانان جوړ شوي وه په حقیقي دین کي یې لاس وهلی وو کوم ایاتونه چې په تورات کې موجود وه په هغو یې پسخند واهه د لهو او لعب مورد یې گرځولي وه د انبیآؤ علیهم السلام مسیر یې پرې ایښي وو پر هغه لاره به تلل چې ددوی زړونو به وغوښتل له همدې امله الله جل جلاله په دوی کې عیسی

۱ روح المعاني، ج ۳، ص ۱٦۷، او تفسیر الطبري ج ۳ ، ص ۲۷۸

۲ تفسیر البغوي، ج ۱، ص ۳۰۸

۳ شلماشي، استاد محمد، (ب ت) زندگاني پیامبران، ترجمه فارسي احمد نور بخش، ص ۱۷۹

٤ المائده: ۴۶-۴۷ آیتونه

علیه السلام  په پیغمبرۍ باندي مبعوث وګرځاوه څو دوی سیده او مستقیمې لارې ته راوبولي، هغه تحریف او تبدیل چي دوی په دین کي کړی وو هغه اصلاح کړي.
کله چي عیسی علیه السلام  د دعوت لپاره قیام وکړ، نو لومړی یې هغه تحریفات چي دوی په تورات کي کړي وه هغه یې  اصلاح کړه او ځیني شیان چي الله جل جلاله  پر دوی باندې د دوی د سرکښۍ له امله حرام کړي وه حلال یې وګرځول. الله جل جلاله  د عیسی علیه السلام  د نبوت هدف د ده د خولې څخه بیانوي او فرمايي: [وَمُصَدِّقًا لِمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ التَّوْرَاةِ وَلِأُحِلَّ لَكُمْ بَعْضَ الَّذِي حُرِّمَ عَلَيْكُمْ وَجِئْتُكُمْ بِآيَةٍ مِنْ رَبِّكُمْ فَاتَّقُوا اللَّهَ وَأَطِيعُونِ (٥٠) إِنَّ اللَّهَ رَبِّي وَرَبُّكُمْ فَاعْبُدُوهُ هَذَا صِرَاطٌ مُسْتَقِيمٌ ][1]
ژباړه: او تصدیق کونکی دی د هغه څه چې زما په مخ کي دی د تورات څخه او ددې لپاره چې زه حلال کړم ځیني هغه شیان چي حرام کړل شوي وه پر تاسو باندې او تاسو ته راتلل وکړم په معجزه سره ستاسو د رب د لوري څخه نو وېریږئ او زما اطاعت وکړئ، بېشکه الله جل جلاله  زما او ستاسو رب دی نو تاسو د همدغه الله جل جلاله  عبادت وکړئ، دا یوه سیده لاره ده.

**درېیم مبحث: له قوم سره مناقشې**

عیسي علیه السلام خپل قوم ته د رسالت په دوران کې هر ډول معجزې وښودلې او په ډول ډول لارو یې هغوی دعوت کړل، خو له دې ټولو سره سره  هغوی دده په مقابل کې یوازې دا نه چې ایمان یې نه راوړ، دده په عداوت او دښمني یې لاس پورې کړ، بیا چې کله عیسی علیه السلام د دوی څخه خطر حس کړ[٥١فَلَمَّا أَحَسَّ عِيسَى مِنْهُمُ الْكُفْرَ قَالَ مَنْ أَنصَارِي إِلَى اللَّهِ قَالَ الْحَوَارِيُّونَ نَحْنُ أَنصَارُ اللَّهِ آمَنَّا بِاللَّهِ وَاشْهَدْ بِأَنَّا مُسْلِمُونَ ٥٢رَبَّنَا آمَنَّا بِمَا أَنزَلَتْ وَاتَّبَعْنَا الرَّسُولَ فَاكْتُبْنَا مَعَ الشَّاهِدِينَ][2]
ژباړه: کله چې عیسي علیه السلام د بني اسرائیلو کفر او انکار ته چمتوالی درک کړ، نو ویې ویل څوک د الله په لاره کې زما ملاتړ کېږي، حواریانو وویل موږ د الله د دین ملاتړ یو، موږ پر الله ایمان راوړی، شاهد اوسه چې موږ مسلمان (د الله په لاره کې سرټیټوونکي) یو. زموږ ښښتنه! کوم فرمان چې تا رالیږلی دی موږ هغه منلی او د پیغمبر پیروي مو قبوله کړې ده، زموږ نوم په شاهدي ویونکو کې ولیکه.
په عیسي علیه السلام باندې د کافرانو سره وسله وال مقاومت نه وو فرض شوی[3]، ځکه چې دوی کم او کمزوري ول.

---

[1] ال عمران: ٥٠- ٥١ آیتونه
[2] ال عمران: ٥٢-٥٣ آیتونه
[3] روح المعاني، ج ٣، ص ١٧٦

ددې مبحث پاتې برخه، په پنځم مبحث (وفات او د ژوند پای) کې بیان شوی، ځکه هلته د کفار سره مناقشه او د عیسي علیه السلام د نجات بحث شوی دی،

## څلورم مبحث: کتاب او معجزې

### لومړی مطلب: کتاب

د انجیل لفظ چې په قرآن کریم کې ۱۲ ځلې ذکر شوی هم د تورات په څېر د غیر عربي یا یوناني ژبې لفظ دی چې معنا یې اصلی ده، او په اصطلاحي مانا سره بشارت ته ویل کېږي او په قرآن کریم کې چې ذکر شوی انجیل دی له هغه نه مطلب هماغه د عیسی بن مریم کتاب دی.[۱]

انجیل یو د هغه څلورو کتابونو څخه دی چې الله جل جلاله پر خپلو رسولانو باندې نازل کړي دي کوم څه چې په ربښتیني ډول په دغه کتابو کې دي پر هغوی باندې ایمان راوړل واجب دي.

الله جل جلاله فرمايي: «وَقَفَّيْنَا بِعِيسَى ابْنِ مَرْيَمَ وَآتَيْنَاهُ الإِنجِيلَ»[۲]

ژباړه: او له هغو ټولو وروسته مو عیسي بن مریم ولېږه او هغه ته مو انجیل وکړ.

د انجیل اړوند ځینې معلومات پورته د عیسي علیه السلام د پېژندنې اړوند ذکر شول غواړم دلته د اوسنیو موجوده انجیلونو اړوند معلومات وړاندې کړم[۳]:

دا یوه څرګنده مسئله ده چې هغه انجیل چې الله جل جلاله پر عیسی علیه السلام باندې نازل کړی دی د اوس انجیلونو سره زیات توپیر لري لکه چې قرآنکریم په څرګند ډول بیانوي چې نصاراوو په انجیل کې تحریف یعني لاس وهنه کړې ده . همدا ډول ددغه انجیلونو په منځ کې په څرګند ډول اختلافونه لیدل کیږي.

کوم انجیل چې قرآنکریم یې یادونه کړې ده کېدای شي چې اوس پیدا شي خو هغه انجیل چې پر عیسی علیه السلام باندې نازل شوی کټ مټ په هغه بڼه یې پیدا کېدل ممکن نه دي یوازې هغه واقعاتي چې دده شاګردانو او اصحابو یاد کړي دي تالیف شوي او لیکل شوي دي خو د تحریف او تغیر څخه سالمې او پاکې نه دي.

عیسی علیه السلام خپل قوم ته یو کتاب د انجیل په نوم باندې راوړی د وخت په تېرېدو سره دده قوم انجیل پرېښود د انجیل د ضائع کېدو او له منځه تلو یو لامل دغه هم وو. ځینې لاملونه یې نور هم وه د ساري په ډول د عیسی علیه السلام شاګردانو او یا تر دوی وروسته نورو خلګو نور کتابونه تالیف کړه خلګو په هغه سره عمل کاوه په دغه زمانه کې زیات شمېر انجیلونه منځته راغلل آن تر دې چې دانجیلو شمېر تر سلو زیات سو کنیسة هغه انجیلونه چې د دوی د عقیدې سره مخالف وه رد یې کړه یوازې څلور انجیلونه یې وټاکل او

۱ تفسیر البغوي، ج ۱، ص ۲۷۷

۲ سورت الحدید: ۲۷ ایت

۳ مقصود از تورات و انجیل در قرآن، ص ۷ – ۱٦

وې ویل چې دغه انجیلونه د تایید وړ دي. البته دغه څلور انجیلونه چې دوی تائید کړي دي سند یې درست نه دی بلکې منقطع دی، کوم کسانو چې ددغه انجیلونو تالیف کړی دی د هغوی امانتداري معلومه نه ده او نه یې ریښتینولي معلومه ده بلکې نامعلوم او ناڅرګند کسان دي همدا وجه ده چې ددغو څلورو انجیلونو ترمنځ په لوړه کچه اختلاف موجود دئ.

کوم انجیلونه چې اوس موجود دي دا تاریخي کتابونه دي چې مریم رضی الله عنها او ددې د زوی عیسی علیه السلام په اړه لیکل شوي دي بلکې د دوی ژوند یې د پیل څخه تر پای پوري لیکلی دی هغه عقیدې چې دوی د ژوند په اوږدو کې لرلې دهغوی په اړه تصنیف شوي دي همدا ډول په دغه انجیلو کې د یوحنا المعدان یعنې یحیی علیه السلام ځیني قصې هم او نور پیښلیکونه هم ذکر شوي دي.

د اوسنیو انجیلونو ډولونه په لاندې ډول دي:

**متی انجیل:** غه انجیل دقدامت له پلوه تر ټولو انجیلونو وړاندي دی کله چې عیسی علیه السلام اسمان ته پورته سو څلور کاله وروسته دغه انجیل په عبري ژبه تالیف شوی دی. کوم انجیل چې اوس د متي په نوم یادیږي دا هم د هغه انجیل څخه ژباړل سوی دی کوم چې د عیسی علیه السلام تر پورته کېدو څلور کاله وروسته تالیف شوی دی البته دا نه ده معلومه چې دغه ژباړونکی څوک دئ؟ ایا دا دغه ژباړه د خپل اصلی سره برابره ده که یا؟ په اصلی کې یې لاس وهل شوی دی که یا؟ که لاس په کې وهل شوی وي په کومه کچه به وي؟ دا هغه پوښتني دي چې د جوابو څخه یې انسان عاجزه کیږي خو یوشی ډېر څرګند دی هغه دا چې هیڅ انجیل پر خپله اصلیي بڼه پاته نه دی بلکې په غټه کچه لاسوهني پکي شوي دي.

**مرقس انجیل:** دغه انجیل اسمان ته د عیسي علیه السلام تر پورته کېدو ۳۳ کاله وروسته په یوناني ژبه تالیف شوی دی، او ددې انجیل د تالیف په تاریخ کې د نصاراوو اختلاف دی ځینې په دې آند دي چې ددې انجیل مؤلف بطرس دی چې د حوارینو رئیس وو. ځینې بیا په دې آند دي چې دا انجیل مرقس هغه وخت ولیکه چې بطرس او بولس مړه شول. ارشادالطالبین لیکي: مرقس انجیل د بطرس په تدبیر په ٦١ کال کې ولیکل شو ددې لپاره چې هغه کسان ګټه ځني واخلي چې نصرانیان شوي دي. په دې انجیل کې د عیسی علیه السلام د خدایۍ څخه انکار راغلی دی یعني ددغه انجیل په آند عیسی علیه السلام خدای نه دی.

**لوقا انجیل:** د ټولو مؤرخینو پر دې خبره باندي اتفاق دی چې دغه انجیل د عیسی علیه السلام تر پورته کېدو شل کاله وروسته لیکل شوی دی. همدا ډول ټول مؤرخین په یوه خوله وایي چې دغه انجیل نه د عیسی علیه السلام ملګري او نه شاګرد لیکلی دی بلکې دا یو داسې کس لیکلی دی چې یهودي وو چې د بولس شاګرد وو او د نصاراوو سره یې سخت تعصب درلود، نصاراوو ته یې ډول، ډول تکلیفونه او ضررونه رسولي وو، د وخت په تېرېدو سره ورته معلومه سوه چې نصاراوو ته په دغه ډول تکلیفونه رسول کومه ګټه نه لري نو

ځکه یې اراده وکړه چې دوی ته د فرېب او چل د لارې تاوانونه ورورسوي، په دې لاره کې لومړی ځان په داسې بڼه څرګند کړ، چې زه د عیسی علیه السلام په دین یم بهانه یې دا وکړه چې زه د فس په ناروغۍ اخته وم عیسی علیه السلام زه مسه کړم ناروغي مي جوړه شوه او زه یې ددې څخه منعه کړم چې نصاراوو ته به تاوان نه رسوې اوعیسی علیه السلام ماته زېری راکړ چې زه به یو انجیل لیکم او تاسو ته به یې راوړم. د ده دغه خبرې په کنیسة کې خورا اغېزمني تمامي شوې. دغه کس د شراب څښېل او مرداري خوړل جائز وګڼل، لوقا په خپل انجیل کې خورا زیاتې مسئلې درج کړې چې په متي او مرقس انجیل کې نشته او ویونکې یې ددغه مسائلو په وړاندې په زیات شک او تردید کې واچول. لوقا په خپل انجیل کې زیات علمي بحثونه تر شک او تردید لاندې راوستلي دي او خپل استاذ بولس یې دنصرایت دعقیدې په تحریف سره تورن کړی دی. ده ددغو کړنو څخه په ښکاره څرګندیږي چې دغه انجیل نه املاءً او نه کتابتاً د عیسی علیه السلام سره اړه لري.

**یوحنا انجیل:** دغه انجیل د عیسی علیه السلام اسمان ته تر پورته کېدو ۳۲ کاله وروسته لیکل شوی دی. کنیسة فکر کوي چې دغه انجیل یوحنا بن زید لیکلی دی چې د عیسی علیه السلام د شاګردانو څخه وو، مګر جمهور نصارا په دې آند دي چې دغه انجیل و عیسی علیه السلام ته منسوب نه دی بلکې په دوهمه میلادي پېړۍ کې په اسکندریه مدرسه کې لیکل شوی دی. د برطانیې په دائرة المعارف کې چې په لیکلو کې یې پنځوسوو نصراني علماوو کار کړی دی داسې لیکل شوي دي: یوحنا انجیل هیڅکله اصلیي کتاب نه دی بلکې دغه کتاب جعلي جوړ شوی دی چې لیکوال یې د متي او یوحنا سره رقابت لرلی دی او بیایې په خپل دغه جعلي کتاب کې لیکلي دي چې ما د عیسی علیه السلام سره صحبت کړی دی او زه د حواریونو څخه یم خو په حقیقت داسې نه ده.

په دغه کتاب کې فقط څو داسي جملې شته چې د عیسی علیه السلام پر الوهیت باندي دلالت کوي. عجیبه خبره داده چې نصارا سره ددې چې پر دې باور دي چې دغه کتاب جعلي دی او د هغه شریعت سره په ټکر کې دی کوم چې الله جل جلاله پر عیسی علیه السلام باندې نازل کړی دی بیا هم په دغه انجیل عمل کوي او باور پر لري.

په پای کې موږ دې نتیجې ته رسیږو چې کوم انجیلونه چې اوس شته ټول تحریف شوي دي لاسوهنه پکې سوې ده او د هغه انجیل سره مخالف دي کوم چې الله جل جلاله پر عیسی علیه السلام باندي نازل کړی دی. بله خبره دا موږ ته څرګندیږي چې دغه انجیلونه صحیح سند نه لري بلکې د ټولو سند پرې دی، په متن کې یې شک او اضطراب شته، کوم مسائل چې پکې دي د اطمینان او باور وړ نه دي کوم احکام او اخبار چې پکې دي پر هغوی باندي اعتماد کفایت نه کوي.

**دوهم مطلب معجزې**

د حضرت عیسی علیه السلام معجزې هم زیاتې وې، ځینې یې په قرآن کریم کې ذکر شوې دي. د عیسی علیه السلام معجزې هم د نورو انبیاؤ په څېر د ده پر خدایي باندې دلالت نه کاوه بلکې یوازې ددې لپاره وې چې د ده دنبوت صدق او ثبوت په وشي. د عیسی علیه السلام معجزې په لاندې ډول دي:

الله جل جلاله په دغه اړه فرمايي:

« وَيُكَلِّمُ النَّاسَ فِي الْمَهْدِ وَكَهْلاً وَمِنَ الصَّالِحِينَ ٤٦ قَالَتْ رَبِّ أَنَّى يَكُونُ لِي وَلَدٌ وَلَمْ يَمْسَسْنِي بَشَرٌ قَالَ كَذَلِكِ اللّهُ يَخْلُقُ مَا يَشَاءُ إِذَا قَضَى أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ كُن فَيَكُونُ ٤٧ وَيُعَلِّمُهُ الْكِتَابَ وَالْحِكْمَةَ وَالتَّوْرَاةَ وَالإِنجِيلَ ٤٨ وَرَسُولاً إِلَى بَنِي إِسْرَائِيلَ أَنِّي قَدْ جِئْتُكُم بِآيَةٍ مِّن رَّبِّكُمْ أَنِّي أَخْلُقُ لَكُم مِّنَ الطِّينِ كَهَيْئَةِ الطَّيْرِ فَأَنفُخُ فِيهِ فَيَكُونُ طَيْرًا بِإِذْنِ اللّهِ وَأُبْرِئُ الأكْمَهَ والأَبْرَصَ وَأُحْيِـي الْمَوْتَى بِإِذْنِ اللّهِ وَأُنَبِّئُكُم بِمَا تَأْكُلُونَ وَمَا تَدَّخِرُونَ فِي بُيُوتِكُمْ إِنَّ فِي ذَلِكَ لآيَةً لَّكُمْ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ »[1]

ژباړه: له خلکو سره به په زانګو کې هم خبرې وکړي او به زړښت کې به یې هم وکړي، او هغه به یو ښه سړی وي، مریم چې دا واورېدل ویې ویل: زما پروردګاره! زما زوی له کومه شي ماته خو چا لاس قدري هم نه دی راوړی، ویې فرمايل: همداسې به وشي الله تعالی چې چاته اراده وکړي پیدا کوي یې هغه چې کله د کوم کار کولو فیصلیه وکړي نو یوازې دومره وايي وشه او هغه کېږي، (پرښتو د خپلې وینا په لړ کې پسې وویل) او الله له هغه ته کتاب او حکمت وښيي، د تورات او انجیل علم به ور زده کړي، او بني اسرائیلو ته به یې د خپل پیغمبر په توګه وټاکي ( نو کله چې هغه بني اسرائیلو ته د پیغمبر په توګه ورغی نو ویې ویل): دا یو حقیقت دی چې زه ستاسې د رب له لوري له نښانې سره درته راغلی یم، زه ستاسې په مخ کې له ختې څخه د مرغۍ د شکل مجسمه جوړوم او په هغې کې پوکی کوم هغه د الله جل جلاله په امر الوتونکې جوړېږي، زه د الله په امر مور زاده ړوند او پيس رغوم او مړي ژوندي کوم زه تاسې ته ښیم چې تاسې څه خورئ او څه په خپلو کورونو کې ذخیره کوي، په دې کې تاسې ته پوره نښانه ده که تاسې ایمان راوړونکي یاست.

غواړم ددې آیت شریف په تفسیر کې ټول هغه څه روښانه کړم چې د عیسي علیه السلام په معجزو پورې اړوند دي.

څرنګه چې د خلکو په عادت کې زنانه وو ته منسوبیت دروند نظر نه لري، لکه پښتانه چې د کونډې زوی د تحقیر لپاره استعمالوي او همدارنګه د جنګ او جګړې په وخت کې د کنځلو په شکل وايي چې اې د

[1] سورت ال عمران:۴۵- ۴۹ ایتونه

فلانکی زویه (د مور نوم یې اخلي) نو د همدې اشتباه د پورته کولو لپاره الله جل جلاله د (ابن مریم) کلمه په « وَجِيهًا فِي الدُّنْيَا وَالآخِرَةِ وَمِنَ الْمُقَرَّبِينَ»[1] سره تعقیب کړ چې ذکر شوې اشتباه ته ځای پاتې نه شي[2].

۱. لومړی معجزه یې په ماشومتوب کې خبرې کول وو: ددې خبرې تفصیل په دې آیتونو سره شوی دی، الله جل جلاله د مریم په سورت کې فرمایي:

«فَنَادَاهَا مِن تَحْتِهَا أَلاَّ تَحْزَنِي قَدْ جَعَلَ رَبُّكِ تَحْتَكِ سَرِيًّا»[3]

ژباړه: نو (سمدستي) ددې څخه لاندې ورته عیسي علیه السلام غږ وکړ چې: (اې مورې) مه خپه کېږه بې شکه ستا رب ستا څخه لاندې (تاته نږدې) د اوبو وړوکی لښتی پیدا کړی دی (چې د خپل قدرت یو مثال در وښايي)

په پورتني آیت کې هغو خبرو ته اشاره ده چې د عیسی علیه السلام له پیدا کېدو سم دستې وروسته یې خبرې وکړې او خپلې مور ته یې ډاډ ورکړ. که څه هم د پورتني آیت په اړه علماء کرام په دوو برخو ویشل شوي:

اول گروپ: ځینې علماء وايي چې ضمیر جبرائیل علیه السلام ته راجع ده چې بې بې مریم رضی الله عنها ته یې له یوه ټیټ ځای څخه اواز وکړ او ډاډ یې ورکړ.[4]

دوهم گروپ: دغه ضمیر پخپله عیسی علیه السلام ته راجع ده چې د تولد څخه وروسته یې له خپلې مور سره خبرې وکړې او هغې ته یې ډاډ ورکړ.[5]

او کله چې بي بې مریم عیسی علیه السلام په غېږ کې قوم ته راوړ او قوم یې له پوښتنې گروېږنې ترې شروع کړې نو دې عیسي علیه السلام ته اشاره وکړه او هغه داسې په خبرو شو:

«قَالَ إِنِّي عَبْدُ اللَّهِ آتَانِيَ الْكِتَابَ وَجَعَلَنِي نَبِيًّا **٣٠** وَجَعَلَنِي مُبَارَكًا أَيْنَ مَا كُنتُ وَأَوْصَانِي بِالصلياَةِ وَالزَّكَاةِ مَا دُمْتُ حَيًّا **٣١** وَبَرًّا بِوَالِدَتِي وَلَمْ يَجْعَلْنِي جَبَّارًا شَقِيًّا **٣٢** وَالسَّلاَمُ عَلَيَّ يَوْمَ وُلِدتُّ وَيَوْمَ أَمُوتُ وَيَوْمَ أُبْعَثُ حَيًّا»[6]

ژباړه: (سمدستي) عیسی علیه السلام وویل چې: زه د الله بنده او (مخلوق) یم، ما ته الله جل جلاله (په ازل کې) کتاب (انجیل) راکړي او پیغمبر یې گرځولی یم. او زه الله جل جلاله برکتناک گرځولی یم په هر ځای کې چې زه یم (خلکو ته مې خیر رسیږي). او ماته الله جل جلاله په لمانځه او زکات باندې

---

۱سورت ال عمران: ۴۵ ایت

۲عزیز التفاسیر، ج ۲، ص ۳۱۷

۳سورت مریم: ۲۴ ایت

٤تفسیر الطبري، ج ١٦، ص ٦٨

۵عزیز التفاسیر، ج ۷، ص ۴۹۴

٦سورت مریم: ۳۰- ۳۳ ایتونه

کلک حکم کړی دی تر څو چې زه ژوندی یم (همدغه حکم به عملي کوم)، او زه الله جل جلاله د خپلې مور د پاره نیکو کار ګرځولی یم او الله جل جلاله متکبر نه یم پیدا کړی، او سلامتیا دي په ما باندې وي په هغه ورځ چې زه په کې تولد شوی یم او په هغه ورځ چې زه په کې مړ کېږم او (بلاخره) په هغه ورځ چې زه (په کې د قبر څخه) ژوندی مبعوث کېږم.

۲. د ختې مرغه به الوتنه کوله: دلیل یې لاندې مبارک آیت دی:

«أَنِّي أَخْلُقُ لَكُم مِّنَ الطِّينِ كَهَيْئَةِ الطَّيْرِ فَأَنفُخُ فِيهِ فَيَكُونُ طَيْرًا بِإِذْنِ اللَّهِ»[۱]

بني اسرائیل لکه څرنګه چې یې ایمان راوړلو ته زړه نه ښه کاوو، نو یې له عیسي علیه السلام څخه غوښتنه وکړه چې د ټولو مرغانو له جملې څخه دې ماښامک (شوپرک، یا خفاش) ژوندی کړي.[۲]

خفاش مرغه ده، خو بچیو ته تی ورکوي، غولانځه لري، د غاښونو او اوږدو غوږونو خاوند دی، حیض وربانديې راځي، هګې نه اچوي بلکې د مورک په څېر بچې زیږوي، د بڼکو څخه پرته الوتنه کوي، بلاخره نه په شپه کې الوزي او نه هم په ورځ کې بلکې د یوه ساعت لپاره ماښام الوتنه کوي او د یوه ساعت لپاره سهار غذا پیدا کوي.[۳]

لنډه دا چې دوی ذکر شوی مرغه د معجزې لپاره انتخاب کړی چې ګوندې عیسی علیه السلام به په کې ناکام شي، خو الحمدلله عیسي علیه السلام ورته همدغه معجزه وښودله او د خفاش غوندې پېچېده مرغه یې جوړ کړ، او هغه کې یې پوکی وکړ او والوت او معجزه بشپړه شوه، نور نو الله جل جلاله پوهېږي چې دغه مرغه به څومره وخت ژوندی و او که به دستي مړ شوی وي.[٤]

۳. د ناروغانو جوړېدل: ددې معجزې دلیل لاندې آیت شریف دی:

« وَأُبْرِىءُ الأَكْمَهَ والأَبْرَصَ»[٥] ژباړه: او زه به د الله په امر مور زاده ړوند او پیس رغوم.

د عبدالله بن عباس رضي الله عنه په روآیت سره اکمه هغه ړانده ته وايي چې د موره ړوند پیدا شوی وي.[٦]

دا ځکه د معجزې په توګه غوره شوه چې د عیسی علیه السلام په وخت کې د طب علم ډېر پرمختګ کړی وو او له پورتنیو دواړو علاجونو څخه ناتوانه ول، نو ځکه دغه دواړه کارونه عیسی علیه السلام

---

۱سورت ال عمران: ۴۹ ایت
۲عزیز التفاسیر، ج ۲، ص ۳۲۵
۳روح المعاني، ج ۴، ص ۹۴
٤عزیز التفاسیر، ج ۲، ص ۳۲۵
٥سورت ال عمران: ۴۹ ایت
٦الدر المنثور، ج ۲، ص ۲۱۵

وکړل او خلکو ته معلومه شوه چې دغه کار په اسبابو نه بلکې په معجزه سره شوی دی، او دی په حقه پیغمبر دی.[1]

٤. مړي ژوندي کول: ددې معجزې دلیل هم لاندې آیت دی:

«وَأُحْيِـي الْمَوْتَى بِإِذْنِ اللّٰهِ»[2] یعنې د الله جل جلاله په امر به مړي ژوندي کړم.

داسې اټکل کېږي چې عیسي علیه السلام به هغه مړي ژوندې کول چې یا به ورته الله جل جلاله وحی وکړه او یا دغسې کوم حاجت پېښ شو، که بالفرض د مریضانو د رغولو په شان یې هر مړی را ژوندی کولای نو عیسی علیه السلام به د بني اسرائیلو لجوجو خلکو د لاسه د مړو له ژوندې کولو پرته بل هیڅ کار نه وای کړی، نو ځکه د عبدالله بن عباس رضي الله عنه په روآیت سره مفسرینو لاندې څلور مړي ښودلي دي چې کوم د عیسي علیه السلام په معجزه ژوندي شوي دي[3]:

اول: یو سړی «عازر» نومېده چې درې شپې یې په قبر کې تیرې کړې وې، عیسي علیه السلام یې قبر ته ورغی او الله جل جلاله ته یې سوال وکړ، قبر وچاود عازر ژوندی شو چې ډېر وخت ژوندی پاتې شو او څه اولادونه یې هم وزیږول.

دوهم: یو بل سړی د زړې بوډۍ زوی و، چې خلکو یې جنازه په اوږو باندې اخېستې وه د عیسي علیه السلام په دعا سره ژوندی شو او په کټ کې کېښناست، کفن یې گوزار کړ او خپلې جامې یې واغوستلې او د جنازې کټ یې په اوږه کړل او کور ته ستون شو دا هم څه وخت ژوندی پاتې شو او څه اولادونه یې هم پیدا شول.

دریيم: یوه بله انجلۍ یې هم را ژوندۍ کړه چې د «عاشر» لور وه او یوه ورځ وړاندې مړه شوې وه، خو لا دفن شوې نه وه، ددې هم څه اولادونه پیدا شول.

څلورم: څلورم نفر چې د عیسي علیه السلام د معجزو په دوام ژوندی شو هغه سام بن نوح علیه السلام و، دده د را ژوندي کولو باعث دا و چې بني اسرائیلو عیسی علیه السلام ته وویل چې ته هغه مړي را ژوندي کوي چې د مرگ یې ډېر وخت نه وي وتلی، یو مړی درې ورځې وروسته بل یوه ورځ وروسته او بل دې په عین ورځ کې را ژوندی کړ، امکان لري چې هغوی هیڅ مړه شوي نه وي بلکې سکته یې کړې وي، ته که رښتیا مړي را ژوندي کولای شي نو د نوح علیه السلام زوی سام را ژوندی کړه چې د مرگ یې څلور زره کاله وتلي دي. عیسی علیه السلام د هغه قبر ته ورغی او په دعا سره یې قبر وچاود سام ترې را پورته شو او د عیسي علیه السلام سره یې لاندې سوال او ځواب وکړ:

---

١عزيز التفاسير، ج ٢، ص ٣٢٦

٢سورت ال عمران: ۴۹ ایت

٣تفسير القرطبي، ج ۴، ص ۹۵

عیسی: دا د سر ویښتان دې ولې سپین شوي، ستاسو په زمانه کې خو د چا د سر وېښتان نه سپینېدل؟
سام: اې روح الله! تا چې په ما باندې غږ وکړ نو ماته امر وشو چې د روح الله خبره ومنه ما گومان وکړ چې قیامت قائم شوی نو د قیامت د ډاره مې وېښتان سپین شول.
عیسي: د ځنکند څه حالت وو؟
سام: زما د ځنکدن څلور زره کاله کېږي خو د هغه د تریخوالی مې لا اوس هم په ستوني کې شته.
عیسي: مړه شه!
سام: په دې شرط سره مړ کېږم چې الله جل جلاله مې د سکرات الموت څخه وساتي نو عیسی علیه السلام الله جل جلاله ته د همدې خبرې سوال وکړ او سام بن نوح بېرته مړ شو.[1]

٥. د خوراک او څښاک معلومول، ددې معجزې دلیل لاندې آیت شریف دی:
«وَأُنَبِّئُكُم بِمَا تَأْكُلُونَ وَمَا تَدَّخِرُونَ فِي بُيُوتِكُمْ»
ژباړه: او خبر به کړم تاسې په هغه څه چې تاسو يې خوري او ذخیره کوي په کورونو کې.
د هغو واقعاتو څخه چې عیسي علیه السلام د خوراک او څښاک په باره کې غیبي معلومات ورکړي دي داسې معلومېږي چې لا د ماشومتوب د وخته به يې دا اخبار ورکاوو لکه په لاندې مثالونو کې[2]:
الف: عیسي علیه السلام ماشوم وو، نورو ماشومانو ته به يې ویل چې تا بیگاه دا شی خوړلی دی او تا دا خوړلی دی او تاته مور دا شی ساتلی دی او تاته دا...
ماشومانو به چې خپلو کورونو ته مراجعه کولو هر یوه به يې د خپلې مور څخه د هماغه شي غوښتنه کوله چې هغې به ورته ساتلی وو، چې پوښتنه به يې ترې وکړه چې تاته چا خبر در کړل چې ما درته دا شی ساتلی دی هغوی به ځواب ورکړ عیسی علیه السلام.[3]
ب: د عبدالله بن عباس رضي الله عنه څخه روآیت دی چې یهودان به عیسی علیه السلام ته راغونډ شول او د مسخرو په ډول به يې ترې پوښتنه کوله چې ما بېگاه څه خوړلي او څه مې ساتلي دي، عیسي علیه السلام به هر یوه ته مطابق ځواب ورکاوو او ورته زړه تنگی کېده به نه.[4]

٦. له اسمانه خوراک راتلل: د عیسي علیه السلام په دعا سره داسې هم شوي دي چې له اسمانه به د خوراک او څښاک ډک دسترخوان نازل شو لکه [ د المائده سورت په ۱۱۲ ۱۱۵ ] آیتونو کې چې راځي:

---

١تفسير المظهري ج ٢، ص ٥٣
٢عزيز التفاسير، ج ٢، ص ٣٢٨
٣روح المعاني ج ٣، ص ١٧٠
٤الدر المنثور، ج ٢، ص ٢١٦

«إِذْ قَالَ الْحَوَارِيُّونَ يَا عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ هَلْ يَسْتَطِيعُ رَبُّكَ أَن يُنَزِّلَ عَلَيْنَا مَآئِدَةً مِّنَ السَّمَاء قَالَ اتَّقُواْ اللّهَ إِن كُنتُم مُّؤْمِنِينَ ١١٢ قَالُواْ نُرِيدُ أَن نَّأْكُلَ مِنْهَا وَتَطْمَئِنَّ قُلُوبُنَا وَنَعْلَمَ أَن قَدْ صَدَقْتَنَا وَنَكُونَ عَلَيْهَا مِنَ الشَّاهِدِينَ ١١٣ قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ اللَّهُمَّ رَبَّنَا أَنزِلْ عَلَيْنَا مَآئِدَةً مِّنَ السَّمَاء تَكُونُ لَنَا عِيداً لِّأَوَّلِنَا وَآخِرِنَا وَآيَةً مِّنكَ وَارْزُقْنَا وَأَنتَ خَيْرُ الرَّازِقِينَ ١١٤ قَالَ اللّهُ إِنِّي مُنَزِّلُهَا عَلَيْكُمْ فَمَن يَكْفُرْ بَعْدُ مِنكُمْ فَإِنِّي أُعَذِّبُهُ عَذَابًا لاَّ أُعَذِّبُهُ أَحَدًا مِّنَ الْعَالَمِينَ»[1]

ژباړه: هغه وخت چې حواریینو وویل چې، اې عیسی د مریمې زویه! ایا ستا رب کولی شی پر موږ باندې د اسمانه (د خوراکي شیانو ډک) دسترخوان نازل کړي عیسي علیه السلام ورته وویل چې د الله جل جلاله څخه وویریږئ که تاسو مومنان یاست (داسې غوښتنې مه کوئ، دوی وویل چې، موږ غواړو چې د هغه (دسترخوان) څخه (د تبرک لپاره) وخورو او زموږ زړونه مطئین شي او موږ پوه شو چې یقیناً تا موږ ته رښتیا ویلي دي او په همدې (مائدې) باندې موږ د شاهدانو څخه جوړ شو( او نورو خلکو ته اطمنان او قناعت ورکړو، دا غوښتنه د شک له کبله نه کوو)، عیسي (چې کله د دوی په استدلال باندې قانع شو) ویې ویل چې اې الله جل جلاله! اې زموږ ربه! په موږ باندې د اسمانه څخه (د خوراکی شیانو ډک) دسترخوان نازل کړه چې زموږ د وړاندېنیو او وروستنیو دپاره اختر (خوشالي) شي او هم ستا د پلوه یوه معجزه (جوړه شي) او موږ ته غیبي رزق را پیرزو کړه او ته چې یې د روزي ورکوونکو خیر یې، الله جل جلاله (د عیسي علیه السلام سوال قبول کړ) او ویې ویل چې یقیناً زه په تاسو باندې ددې مائدې نازلوونکی یم، نو هر څوک چې ستاسو څخه ناشکري وکړي نو بې شکه زه به هغه په داسې عذاب باندې معذب کړم (چې د ده څخه وروسته به) د ټولو عالمونو څخه هیڅوک په هغه عذاب باندې معذب نه کړم (چې ډېر شرمونکی عذاب به وي.)

دا چې ددې واقعې او غوښتنې وروسته مائده نازله شوه او که نه، په دې اړه یو نظر دادی چې حوارین د جزا څخه و ډارېدل تر څو ناشکري ترې ونه شي نو مائده نازله نه شوه.[2]

مګر جمهور علماء کرام وایي چې مائده نازله شوه او الله جل جلاله خپله خبره رښتیا کړه چې «یقیناً زه په تاسو باندې د مائدې نازلوونکی یم.[3]

د پورتني شک د رفع کولو لپاره غوره بولم چې یو نبوي حدیث هم را نقل کړم:

نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي چې: د اسمان څخه مائده نازل کړل شوې وه چې ډوډۍ او غوښه وه او دوی (بني اسرائیلو) ته امر شوی وو چې خیانت په کې مه کوئ او د سبا د پاره یې مه ذخیره کوئ

---

[1] سورت المائده: ١١٢- ١١٥ ایتونه
[2] روح المعاني، ج ٧، ص ٦٠
[3] تفسیر الطبري، ج ٥، ص ١٣٥

نو هغوی په کې خیانت وکړ او هغه یې ذخیره کړه نو څکه دوی د بیزوګیانو او خنزیرانو په څېره واړول شول.[1]

## پنځم مبحث: وفات؛ د ژوند پای

### لومړی مطلب: د عیسي علیه السلام د وفات په اړه عقیده

د اسلام له مهمو او ضروري عقائدو له جملې څخه یوه عقیده داده چې حضرت عیسی علیه السلام اوس ژوندی دی. که څوک په دې خبره عقیده ونه لري هغه مسلمان نه دی بلکې له قرآن کریم، متواترو احادیثو او اجماع څخه د انکار له امله کافر دی. موږ مسلمانان په دې عقیده یو چې کله یهودیانو د خپل عادت مطابق چې پیغمبران یې وژل، هڅه وکړه چې حضرت عیسی علیه السلام هم ووژني خو د دوی د هڅو با وجود الله پاک دی د یهودیانو له پلانو وژغورو، ژوندی یې اسمانو ته پورته کړ او تر قیامت لږ مخکې به بیا دُنیا ته راځي څو خلګ د الله پاک لوري ته راوبولي[2] الله جل جلاله د یهودیانو په هکله فرمایي: { وَبِكُفْرِهِمْ وَقَوْلِهِمْ عَلَى مَرْيَمَ بُهْتَانًا عَظِيمًا، وَقَوْلِهِمْ إِنَّا قَتَلْنَا الْمَسِيحَ عِيسَى ابْنَ مَرْيَمَ رَسُولَ اللَّهِ وَمَا قَتَلُوهُ وَمَا صَلَبُوهُ وَلَكِنْ شُبِّهَ لَهُمْ وَإِنَّ الَّذِينَ اخْتَلَفُوا فِيهِ لَفِي شَكٍّ مِنْهُ مَا لَهُمْ بِهِ مِنْ عِلْمٍ إِلا اتِّبَاعَ الظَّنِّ وَمَا قَتَلُوهُ يَقِينًا بَلْ رَفَعَهُ اللَّهُ إِلَيْهِ وَكَانَ اللَّهُ عَزِيزًا حَكِيمًا»[3]

ژباړه: او د دوی د کفر له امله او پر مریمې د لوی تُهمت ویلو له، او دا خبره یې چې موږ د الله رسول مسیح عیسی د مریمې زوی وژلی دی، حال دا چې نه یې وژلی او نه یې په دار کړی وو، بلکې موضوع د هغو لپاره مشتبه وګرزول شوه او کوموخلګو چې د هغه په باب اختلاف کړی، هغوی هم په اصلی کې په شک کې پراته دي، د هغو سره په دې هکله هیڅ علم نشته، صرف د ګمان پیروي کوي، هغوی په یقیني توګه مسیح علیه السلام نه دی وژلی، بلکې الله – جل جلاله هغه خپل لوري ته اوچت کړو، الله ډېر زیات زورور او د حکمت څښتن دی.

په لومړني آیت کې الله جل جلاله د کتابیانو دوه بدۍ بیان کړې دي:۱: د دوی کفر ۲: پر حضرت مریم علیه السلام باندې لوی تُهمت چې هغې ته یې د بدکارۍ نسبت کړی وو.

---

۱جامع الترمذي ج ۲، ص ۱۳۶: ۵۰۵٤ - حدثنا الحسن بن قزعة البصري، أخبرنا سفيان بن حبيب، حدثنا سعيد عن قتادة، عن خلاس بن عمرو عن عمار بن ياسر قال: قال رسول الله صلى الله عليه وسلم: - "أنزلت المائدة من السماء خبزا ولحما، وأمروا أن لا يخونوا ولا يدخروا لغد، فخانوا وادخروا ورفعوا لغد، فمسخوا قردة وخنازير". هذا حديث غريب. ورواه أبو عاصم وغير واحد عن سعيد بن أبي عروبة، عن قتادة عن خلاس، عن عمار موقوفا، ولا نعرفه مرفوعا الا من حديث الحسن بن قزعة.

۲ عزیز التفاسیر، ج ۲، ص ۳۳۷

۳ النساء: ۱۵٦-۱۵۸ ایتونه

ځینو یهودو د حضرت عیسی  علیه السلام د وژلو دعوه لرله، همدا راز ځیني نصاریٰ په دې اند وو چې یهودیانو حضرت عیسی علیه السلام په دار کړی وو، بیا یې راکښته کړ، څه ساعت وروسته مړ شو، ددې لپاره چې زموږ د گناهونو لپاره کفاره شي. الله پاک په دغو دواړو خبرو رد کوي چې حضرت عیسی  علیه السلام نه وژل شوی او نه په دار شوی دی بلکې پېښه داسې رامنځ ته شوې چې دا موضوع پر دوی باندې مشتبه گرزول شوېده.

**دوهم مطلب: د وژلو پلان او د هغه شنډېدل**

یوه ورځ د یهودو یوې ډلې عیسي علیه السلام او د هغه مور بي بي مریم رضي الله عنها ته پوچ او پاش ویناوې وکړې، په مقابل کې الله جل جلاله دغه ډله د عیسي علیه السلام په ښېرا سره بیزوگان او خنزیران کړل، نو دوی په غوسه شول او دده علیه السلام د وژلو نیت یې وکړ[1]، البته داسې هم ویلای شوو چې ممکن ددې ډلې خپلوانو یا نورو یهودو به دده علیه السلام د وژلو نیت کړی وي.

خو په لنډه سړی ویلای شي چې ددې ناوړه قصد اصلي وجه به د عیسي علیه السلام دعوت وي، لکه یهودو چې نور پیغمبران هم د دعوت په دوران کې وږلي لکه زکریا او یحی علیهم السلام، یا لکه نوح علیه السلام ته چې خپل قوم وویل که له دعوت څخه منع نه شې نو سنگسار به دې کړو[2].

په هر حال کله چې عیسي علیه السلام د دوی په ناوړه قصد پوه شوو، نو د خپلو حوارینو سره چې شمیر یې ۱۲ تنه[3] یا ۱۷ تنو[4] ته رسیده  په یوه کوټه کې غلی شو، خو د همدې کسانو له جملې یې یو کس دیرش درهم رشوت واخېست[5] او د وخت یهودي ډلې یا پولیسو ته یې خبر وکړ تر دې چې پولیسو پرې سهار وختي یوه کس د تېښتې په حال کې په دې نیت چې عیسي به وي وواژه خو هغه عیسي علیه السلام نه وو[6].

کله چې الله جل جلاله عیسي علیه السلام ته په معجزانه توگه نجات ورکر نو ددې لپار چې د یهودانو مشران په خپله ناکامي باندې پرده واچوي، یو سړی یې وواژه او په دار یې کړ او په عوامو کې ډنډوره کړه چې موږ عیسي علیه السلام په دار کړی دی.[7]

حضرت عیسی  علیه السلام - خپلو حواریانو ته وویل چې په تاسو کې څوک دې ته تیار دی چې بهر ته ووزي او ووژل شي او بیا زما سره په جنت کې یو ځای وي. نو یوه سړي وویل: اې د الله پیغمبره! زه تیار یم!

---

۱ روح المعاني، ج ٦، ص ۱۰

۲ سورت الشعراء: ۱۱٦ آیت

۳ الدر المنثور: ج ۲، ص ۷۲۷

٤ تفسیر ابن کثیر، ج ۱، ص ۵۷۴

۵ تفسیر الطبري، ج ۴، ص ۱۵

٦ تفسیر ابی السعود: ج ۲، ص ۲۵۱

۷ روح المعاني، ج ٦، ص ۱۰

حضرت عیسی علیه السلام هغه ته خپله کُرته او پګړۍ ورکړله، بیا پر هغه د حضرت عیسی علیه السلام شکل واچول شو، نو هغه یهودیانو ته ورووت، نوهغه یې وواژه او په دار یې وځېړاوو او حضرت عیسی علیه السلام (اسمانونو ته)پورته کړل شو.[1]
په ځینو روایاتو کې راغلي دي چې یهودیانو مشر یهودا له خپلو ملګرو څخه یو تن چې طیطانوس ورته ویل کېدل، امر کړ چې هغې کوټې ته دي ورننوزي په کومه کې چې حضرت عیسي علیه السلام وو، څو هغه ووژني نو الله پاک حضرت عیسی علیه السلام اسمان ته پورته کړ او الله پاک عیسی علیه السلام ته ورته شکل طیطانوس ته ورکړ. کله چې طیطانوس راووت، نو یهودیانو دا ګومان وکړ چې همدا عیسی دی، نو(طیطانوس) راونیول شو او پانسۍ شو.[2]
په دې کې چې هره واقعه پېښه شوې وي کېدلای شي، قرآن کریم یو خاص صورت متعین کړی نه دی.
خو دومره خبره معلومه ده چې دوی په دې هکله ډېره سخته غلطي کړې ده ځکه عیسی علیه السلام اسمانو ته پورته شوی وو، خو دوی فکر کاوو چې موږ قتل کړ.
په ځینو روایاتو کې راغلي دي چې څه کسانو ته ته دا شک هغه وخت هم ورولوېد چې موږ خو دا خپل سړی وژلی دی ځکه دا وژل شوی سړی په مخ کې حضرت عیسی علیه السلام ته ورته وو او په نور بدن کې ورته نه وو ورته او دا که دا مقتول مسیح علیه السلام وي نو زموږ سړی چېرې دی؟ او که دا زموږ سړی وي نو مسیح علیه السلام چېرې دی؟
اسمان ته د حضرت عیسی علیه السلام پورته کول دا د الله پاک له لوري هغه وعده وه چې له مخکې یې د حضرت عیسی علیه السلام سره کړې وه او د هغې یادونه الله پاک په داسې کړې ده:[«وَمَكَرُوا وَمَكَرَ اللَّهُ وَاللَّهُ خَيْرُ الْمَاكِرِينَ، إِذْ قَالَ اللَّهُ يَا عِيسَى إِنِّي مُتَوَفِّيكَ وَرَافِعُكَ إِلَيَّ وَمُطَهِّرُكَ مِنْ الَّذِينَ كَفَرُوا وَجَاعِلُ الَّذِينَ اتَّبَعُوكَ فَوْقَ الَّذِينَ كَفَرُوا إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ ثُمَّ إِلَيَّ مَرْجِعُكُمْ فَأَحْكُمُ بَيْنَكُمْ فِيمَا كُنْتُمْ فِيهِ تَخْتَلِفُونَ»[3]
ژباړه: او دوی پټ پلانونه جوړ کړل (د عیسی علیه السلام – د وژلو لپاره) او الله پاک (د هغه د خلاصولو لپاره) پټ تدبیر وکړ او الله خو تر ټولو ښه تدبیر جوړونکی دی کله چې الله وفرمایل: اې عیسی! یقیناً زه ستا پور اخیستونکی یم او خپل لور ته ستا پورته کوونکی یم او له کافرانو ستا پاکونکی او تر قیامته پر کافرانو باندې ستا د تابعدارانو اوچتونکی یم، بیا مو زما خوا ته راتله دي نو ستاسو تر منځ به هغه څه فیصلیه کړم چې تاسو په هغه کې اختلاف کوئ.

---

۱ تفسیر القرطبی ۴ ج، ص ۱۰۱
۲ تفسیر المظري ج ۲، ص ۲۵۰
۳ ال عمران: ۵۴ او ۵۵ ایتونه

د حضرت عیسی  علیه السلام - د ژوند او د بیا راکښته کېدلو مسئله داسې ده چې یوازې یهودیان په دې عقیده دي چې هغه وژل شوی او اوس مړ دی. مسلمانان او عیسایان ټول په دې عقیده دي چې حضرت عیسی علیه السلام  اوس ژوندی دی، اسمانو ته الله پاک پورته کړی دی او په آخره زمانه کې به بیا راځي. د مسلمانانو عقیده دا ده چې نه یهودیانو هغه وژلی او نه په دار کړی دی. خو نصرانیان وایي چې یهودیانو وژلی دی، تر مرګ وروسته الله پاک ژوندی کړ او اسمانونو ته یې ژوندی پورته کړ[1].

[1] تفسير المظهري، ج ۲، ص ۲۵۱

## شپږم فصل

## حضرت محمد صلي عليه وسلم

### خخ

«مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِّن   خ خخ رِّجَالِكُمْ وَلَكِن رَّسُولَ اللَّهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ وَكَانَ اللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا»[1]

ژباړه: اې خلکو محمد صلي الله عليه وسلم ستاسې له نارينه وو څخه د هيچا پلار نه دی، هغه خو د الله جل جلاله رسول او اخرنی نبي دی او الله جل جلاله د هر شي علم لرونکی دی.

د دې کائناتو د خالق لوی احسان دا دی چې د انسانانو د هدايت لپاره يې وخت په وخت دنيا ته انبياء عليهم السلام راليږلي دي او بيا په تيره د ټولو نه اخر يې زموږ خوږ نبي کريم صلي الله عليه وسلم د رحمت اللعالمين[2] په حيث راليږلی او د هغه بلنه او د ژوند حالات يې په ښه توگه وساتل چې د هغه مثال د دنيا په يو انساني تاريخ کې هم نه شي موندل کيدی.

لله الحمد د رسول الله صلي الله وسلم د ژوند ورځې او شپې موږ ته دارنگه په حفاظت او مکمل ډول را رسيدلې دي چې له يوې خوا يې د ښتنولي تضمين په پوره توگه شوی او له بلې خوا د نورو خلکو يا نورو اديانو د لاس وهنې څخه په امن دي، لکه څرنگه چې هغوی د خپلو انبياوو د ژوند او کتابونو اړوند په دروغ کتابونه ډک کړي دي. دا ډېر زيات د خوشالي ځای دی چې موږ ته د نبي کريم صلي الله عليه وسلم مبارک سيرت او ژوند په پوره توگه رارسيدلی دی، د هغه کړه وړه، د ژوند تيرولو چارې، له اصحابو سره سلوک، له خپلو بيبيانو او نورو مسلمانانو سره د هغه صلي الله عليه وسلم چلند، د خوراک او څښاک آداب او طريقې او په ټوله کې د ژوند ټول اصول تر موږ پورې په پوره امانت سره رارسيدلي دي.

په دې فصل کې د رسول الله صلي الله عليه وسلم ژوند، سيرت او په قرآن کريم کې يادونه په پنځو مبحثونو کې په لنډه توگه اشاره شوې.

### لومړی مبحث: تفصيلي پېژندنه

حضرت محمد صلي الله عليه وسلم د الله جل جلاله استازی او د ټولو پيغمبرانو خاتم دی، الله جل جلاله نبوت او رسالت دده صلي الله عليه وسلم په واسطه پای ته ورسول، لکه څرنگه چې يې اسماني کتابونو ته د قرآن کريم په واسطه خاتمه ورکړه همداسې يې د پيغمبرانو لړۍ د محمد صلي الله عليه وسلم په رسالت سره پای ته ورسوله. څرنگه چې د وجود له مخې هغه د پيغمبرانو وروستی دی ولې د مرتبې او منزلت له مخې د هغو

---

١ سورت الاحزاب: ۴۰ ايت

٢ سورت الانبياء: ۱۰۷ آيت: وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلاَّ رَحْمَةً لِّلْعَالَمِينَ

لومړی، هغه صلي الله علیه وسلم د آدم علیه السلام له اولادې او د ټول بشریت لپاره په دنیا او اخرت کې د افتخار سمبول دی.

لکه څرنګه چې الله جل جلاله فرمایي:[ مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَكِن رَّسُولَ اللَّهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ وَكَانَ اللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا][1]

ژباړه: (اې خلکو!) محمد صلي الله علیه وسلم ستاسې له نارینه و څخه د هیچا پلار نه دی، هغه خو د الله جل جلاله رسل او اخرنی او وروستی نبی دی، الله جل جلاله د هر شي علم لرونکی دی.

او دا چې د منزلت او مرتبې له مخې د پیغمبرانو او ټول بشریت لومړی دی ددې خبرې دلیل دغه حدیث شریف دی: [«إِنَّ اللَّهَ خَلَقَ الْخَلْقَ فَجَعَلَنِى فِى خَيْرِ خَلْقِهِ وَجَعَلَهُمْ فِرْقَتَيْنِ فَجَعَلَنِى فِى خَيْرِ فِرْقَةٍ وَخَلَقَ الْقَبَائِلَ فَجَعَلَنِى فِى خَيْرِ قَبِيلَةٍ وَجَعَلَهُمْ بُيُوتاً فَجَعَلَنِى فِى خَيْرِهِمْ بَيْتاً فَأَنَا خَيْرُكُمْ بَيْتاً وَخَيْرُكُمْ نَفْساً][2]

ژباړه: الله جل جلاله خلق پیدا کړل او زه یې بهترین د هغو کړم، او هغوی یې په دوو ډلو وویشل زه یې په بهترینه ډله کې پیدا کړم، بیا یې قبیلې پیدا کړې زه یې په غوره قبیله کې وګرځولم، بیا یې هغوی کورنۍ وګرځولې او زه یې په غوره هغې کې وګرځولم، زه هم د کورنۍ او هم د وجود له مخې له تاسو ټولو بهتر او برتر یم.

او دا چې د ټول بشریت د افتخار سمبول دی ددې خبرې دلیل دغه حدیث شریف دی: «أَنَا سَيِّدُ وَلَدِ آدَمَ وَلاَ فَخْرَ وَبِيَدِى لِوَاءُ الْحَمْدِ وَلاَ فَخْرَ وَمَا مِنْ نَبِىٍّ يَوْمَئِذٍ آدَمُ فَمَنْ سِوَاهُ إِلاَّ تَحْتَ لِوَائِى وَأَنَا أَوَّلُ مَنْ تَنْشَقُّ عَنْهُ الأَرْضُ وَلاَ فَخْرَ»[3]

ژباړه: زه د آدم د اولادې سید یم، او په دې کې هیڅ فخر نشته، د حمد او ثنا بیرغ زما په لاس کې ده او دا د فخر ځای نه ده او نه به وي هیڅ پیغمبر (آدم او نورو) مګر زما تر بیرغ لاندې او زه به اولین کس یم چې ځمکه به پر ما څیرې کیږي او دا د افتخار ځای نه ده.

## لومړی مطلب: زیږیدنه او د ماشومتوب دوره

د یوه وتلي مصري هیئت پوهاند محمود پاشا فلکي د ریاضي له څیړنې سره سم رسول الله صلي الله علیه وسلم د ربیع الاول په نهمه نیټه د دوشنبې (دا چې رسول الله صلي الله علیه وسلم د دوشنبې په ورځ زیږیدلی؛ په دې خبره کې هیڅ اختلاف نشته)[4] په ورځ چې د ۵۷۱ م کال د اپریل د میاشتې له شلمې نیټې سره سمون خوري

---

۱ سورت الاحزاب: ۴۰ آیت

۲ رواه احمد: ۲۲۴/۳ الراوي: العباس بن عبدالمطلب، المحدث: احمد شاکر، خلاصة حکم المحدث، اسناده صحیح.

۳ سنن الترمذی: الصفحه او الرقم ٣٦١٥، الراوي : ابو سعید الخدری، الحدیث رقم ٦٥٤٤٨، خلاصة حکم المحدث: حسن صحیح.

٤ البدایه و النهایة: ص ٢٦٠

د مکې معظمې په ښار، او د عبدالمطلب په کورنۍ د عبدالله په کور کې زیږیدلی. پلار یې تر پیدایښت له مخې وفات شوی و. او عبدالمطلب ورباندې محمد نوم کیښود.[1]

رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دوه درې ورځې بي بي آمنې، بیا د ابو لهب وینځې (ثوبیې) او وروسته حلیمې سعدیې تی ورکړ، د عربو دا دود وو، چې خپل ماشومان به یې له ښاره د باندې ښځو ته د شیدو ورکولو لپاره ورسپارل او په دې کې دا ګټه وه چې یو خو به ماشومانو د عربي ژبې سوچه لهجه زده کوله او بل دا چې د عربو ځانګړتیاوې به پکې راتلې په همدې موخه به د کلیو ښځې په کال کې دوه ځله ښار ته راتلې او ماشومان به یې وړل[2].

د رسول الله صلی الله علیه وسلم له پیدایښت څخه څو ورځې وروسته د هوازن کورنۍ ښځې ښار ته راغلې چې په دوی کې یوه هم حلیمه وه، حلیمې بل ماشوم پیدا نکړای شو، د رسول الله صلی الله علیه وسلم مور بي بي غوښتل تر څو خپل زوی ورته وسپاري حلیمې سره له دې چې د هغوی د بې وزلۍ او د ماشوم د یتیمتوب له کبله د څه شي تمه نه درلوده، خو تر تش لاس تللو ورته ښه وبریښیدله او ماشوم یې له ځان سره واخیست.

رسول الله صلی الله علیه وسلم هلته د بني سعد (هوازن) په کورنۍ کې دوه کاله پاتې شو، خو کله چې حلیمې سعدیې هغه ښار ته راوست نو د (وبا) ناروغي ګډه وه نو بي بي آمنې ورته وویل چې محمد صلی الله علیه وسلم بیا له ځانه سره بوځه، حلیمې سعدیې ومنله[3].

## دوهم مطلب: نسب

رسول الله صلی الله علیه وسلم ټبر د عرب په بنو اسماعیل کې د قریشو د قبیلې د هاشم له کورنۍ څخه دی چې د نسب لړۍ یې داده[4]:

محمد بن عبدالله، بن عبدالمطلب، بن هاشم، بن عبدالمناف، بن قصی، بن کلاب، بن کعب، بن لؤی، بن غالب، بن فهر، بن مالك، بن نضر، بن کنانه، بن خزیمه، بن مدرکه، بن الیاس، بن مضر، بن نزار، بن معد، بن عدنان.

له تاریخي روایاتو څخه څرګندیږي چې له عدنان څخه تر حضرت اسماعیل علیه السلام پورې د څلویښتو پلرونو واټن دی خو په همدې منځ کې ټول نومونه ثبت شوي نه دي ځکه عربو به په لړۍ لیکونو کې یوازې وتلي نومونه یادول هغه نومونه چې له عدنان څخه تر اسماعیل علیه السلام پورې ثبت شوي دا دي:

عدنان، بن عدو، بن المقوم، بن تارح، بن یشحب، بن یعرب، بن ثابت، بن اسماعیل، بن ابراهیم علیهما السلام.[5]

---

۱ د ابن هشام مختصر نبوي سیرت، ص ۵۱

۲ الرحیق المختوم، عبدالرحمن المبارکپوري، ص ۷۲

۳ الرحیق المختوم، عبدالرحمن المبارکپوري، ژباړه، صلاح الدین صلاح، ص ٦۳

٤ نبوي ژوند، ابن هشام، ج۱ ، ص ۱-۲

۵ د ابن هشام مختصر نبوي سیرت، ص ۲۰

د رسول الله صلي الله عليه وسلم ټول اجداد د قوم مشران او عزتمند خلک وو، او د نسبونو په سلسله کې غوره نسب درلود، لکه څرنګه چې د بخاري په حديث[1] کې راغلي؛ کله چې هرقل له ابوسفيان نه د رسول الله صلي الله عليه وسلم نسب په اړه و پوښتل نو هر ابوسفيان ورته وويل چې هغه صلي الله عليه وسلم زموږ په منځ کې د اصيل او فاضل نسب درلودونکی دی. هرقل يې په ځواب کې وويل: (همداسې ده، انبياء د شريف ترين نسب څخه مبعوث کېږي).

## دريم مطلب: د رسول الله صلي الله عليه وسلم نومونه

که څه هم د حضرت محمد صلي الله عليه وسلم اسم کنيه ابوالقاسم او ابو ابراهيم او ... دي، مګر په قرآن کريم کې هغه صلي الله عليه وسلم د محمد، احمد، طه، يس، فاتح، خاتم النبيين او .... سره ياد شوی دی.[2]

خو د پيغمبر صلي الله عليه وسلم نوم په انجيل او تورات کې احمد ياد شوی لکه چې الله جل جلاله فرمايي:

[وَإِذْ قَالَ عِيسَى ابْنُ مَرْيَمَ يَا بَنِي إِسْرَائِيلَ إِنِّي رَسُولُ اللَّهِ إِلَيْكُم مُّصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيَّ مِنَ التَّوْرَاةِ وَمُبَشِّرًا بِرَسُولٍ يَأْتِي مِن بَعْدِي اسْمُهُ أَحْمَدُ...][3]

ژباړه: او هغه وخت چې عيسي د مريمې زوی بني اسرايلو ته وويل: زه تاسې ته د الله جل جلاله رالېږل شوی پيغمبر يم، د هغه تورات تصديق کوونکی يم چې زما څخه مخکې رالېږل شوی دی او د يوه پيغمبر زيری ورکونکی يم چې زما څخه وروسته به راشي چې نوم به يې احمد وي...

او د محمد په نوم سره چې څلور ځايه په قرآن کريم کې راغلی دی:

الف: سورت ال عمران ۱۴۴ آيت کې الله جل جلاله فرمايي:

وَمَا مُحَمَّدٌ إِلاَّ رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِ الرُّسُلُ أَفَإِن مَّاتَ أَوْ قُتِلَ انقَلَبْتُمْ عَلَى أَعْقَابِكُمْ وَمَن يَنقَلِبْ عَلَىَ عَقِبَيْهِ فَلَن يَضُرَّ اللّهَ شَيْئًا وَسَيَجْزِي اللّهُ الشَّاكِرِينَ

ب: سورت الاحزاب ۴۰ آيت کې الله جل جلاله فرمايي:

مَّا كَانَ مُحَمَّدٌ أَبَا أَحَدٍ مِّن رِّجَالِكُمْ وَلَكِن رَّسُولَ اللَّهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ وَكَانَ اللَّهُ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمًا

ج: سورت محمد ۲ آيت کې الله جل جلاله فرمايي:

وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَآمَنُوا بِمَا نُزِّلَ عَلَى مُحَمَّدٍ وَهُوَ الْحَقُّ مِن رَّبِّهِمْ كَفَّرَ عَنْهُمْ سَيِّئَاتِهِمْ وَأَصْلَحَ بَالَهُمْ

د: سورت الفتح ۲۹ آيت کې الله جل جلاله فرمايي:

---

۱ صحيح البخاري: ۱/ ۱۰٦۰ : [ .... کيف نسبه فيکم؟ قلت: هو فينا ذو نسب....]

۲ البدايه و النهايه: ص ۲۵۳

۳ سورت الصف: ٦ آيت

مُّحَمَّدٌ رَّسُولُ اللَّهِ وَالَّذِينَ مَعَهُ أَشِدَّاء عَلَى الْكُفَّارِ رُحَمَاء بَيْنَهُمْ تَرَاهُمْ رُكَّعًا سُجَّدًا يَبْتَغُونَ فَضْلاً مِّنَ اللَّهِ وَرِضْوَانًا سِيمَاهُمْ فِي وُجُوهِهِم مِّنْ أَثَرِ السُّجُودِ ذَلِكَ مَثَلُهُمْ فِي التَّوْرَاةِ وَمَثَلُهُمْ فِي الإِنجِيلِ كَزَرْعٍ أَخْرَجَ شَطْأَهُ فَآزَرَهُ فَاسْتَغْلَظَ فَاسْتَوَى عَلَى سُوقِهِ يُعْجِبُ الزُّرَّاعَ لِيَغِيظَ بِهِمُ الْكُفَّارَ وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ مِنْهُم مَّغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا.

او يو مکمل سورت هم د محمد په نوم په ۲۶ سيپاره کې دی چې ټول آيتونه يې ۳۸ دي او په دوهم آيت کې يې محمد لفظ ذکر شوی دی. که څه هم الله جل جلاله قرآن کريم ټول د حضرت محمد صلي الله عليه وسلم سره خبرې او د الله جل جلاله وحي ده چې د جبرائيل عليه السلام په واسطه په محمد صلي الله عليه وسلم باندې د ضرورت مطابق د ۲۳ کلونو په جريان کې نازل شوی، د قرآن کريم او نورو اسماني کتابونو همدا توپير هم د يادولو وړ دی چې هغه ټول په يوه وار رانازل شوي، او قرآن کريم يوازينې الهي کتاب دی، چې د اړتيا او غوښتنې په اندازه به په نبي عليه السلام باندې رانازلېده. په نزولي ترتيب کې د (العلق) لومړني ۵ ايتونه رانازل شوي، او د بقرې ۲۸۱ ايت چې د (واتقوا يوما ترجعون فيه الى الله......) تر آخر پورې هغه آيت دی، چې له ټولو څخه وروسته نازل شوې دی.

## څلورم مطلب: تر پنځه ويشت کلنۍ پورې د ژوند لويې پېښې

۱. رسول الله صلي الله عليه وسلم يتيم دنيا ته تشريف راوړ؛ تر پيدا کېدو وړاندې محترم پلار وفات شوی وو.
۲. ماشومتوب او تر څلور کلنۍ پور دور يې له بي بې سعديې سره تېر کړ او له هغه وروسته تر شپږ کلنۍ پورې په مکه کې د مور له سيورې سره د ژوند شپې سبا کړې.
۳. کله چې شپږ کلنۍ ته ورسيده، له خپلې مور سره مدينې منورې ته د خپلو ماماگانو کره لاړ ، د بيرته راتگ په وخت کې يې د ابوا نومې سيمې سره مور وفات شوه او له دغه لوی نعمت څخه محروم شو.

د مور له وفات وروسته د خپل نيکه عبدالمطلب تر کفالت لاندې وو، په عبدالمطلب خورا گران وو او په خپل ځای به يې کښېناوو، د کعبې سيورې ته به يې د خپل ځای تر څنگ هغه صلي الله عليه وسلم ته ځای برابر کړ، په داسې حال کې چې د عبدالمطلب اولادونه به د خپل پلار د احترام په خاطر په هغه فرش نه کښېناستل او که به هغه صلي الله عليه وسلم راغلی او ترونه به يې د کښېناستلو مخالف کاوو نو عبدالمطلب به ورته ويل: زما زوی پرېږدی په خدای قسم هغه د لوړ شان او مرتبې

لرونکی دی، لکه چې الله جل جلاله فرمايي: [أَلَمْ يَجِدْكَ يَتِيمًا فَآوَى][1] يعنې هغه ته يتيم و نه موندلې؟ او بيا يې هستوګنځی درته برابر کړ.

د نيکه له دوه کلن کفالت وروسته د هغه له سيوري هم محروم شو او له هغه وروسته د خپل تره ابوطالب په کفالت کې شو. که څه هم په دې ټوله دوره کې هغه لره کوم ښوونکی پيدا نه شو تر څو ورته ادب او علم زده کړي خو لوی رب جل جلاله تر خپل ځانګړې عنايت لاندې هغه ورزوه او ادب يې ورکړ «أَدَّبَنِيْ رَبِّيْ فَأَحْسَنَ تَأْدِيْبِيْ»[2] يعنې رب ماته په ښه توګه ادب ښودلی دی.

د عمر په دولس کلنۍ کې له خپل تره ابوطالب سره شام ته د تجارت په موخه لاړ، په لاره کې له بحيرا راهب سره مخ شول؛ هغه رسول الله صلي الله عليه وسلم د نښو او صفاتو څخه وپېژانده او په داسې حال کې چې دده صلي الله عليه وسلم لاس يې نيولی وو ويې ويل: دا د ټول عالم سيد او پېشوا دی، الله تعالی به دا د عالميانو لپاره رحمت رالېږي ... بيا يې له ابوطالب نه وغوښتل تر څو هغه بېرته مکې ته بوزي.[3]

د ۱۵ کلنۍ په عمر يې له خپلو ترونو سره د فجار په مشهوره جګړه کې ګډون وکړ او خپلو ترونو ته غشي ورکول. له دې جګړې وروسته يې د حلف الفضول په تړون کې برخه واخېسته.

### پنځم مطلب: کورنی ترتيب (مېرمنې او اولادونه)

رسول الله صل الله عليه وسلم د ځواني په لومړيو کلنو کې کوم خاص کار او عمل نه درلود، د ابن هشام په حواله چې بني سعد مېږې يې څرولې[4]، خو کله چې يې عمر ۲۵ کلنۍ ته ورسيده نو بې بې خديجې رضي الله عنها (بنت خويلد) مال يې د تجارت لپاره شام ته يووړ، هغه مال، شرف او عزت خاوند وو، کله چې د رسول الله صلي الله عليه وسلم د تجارت ګټه او د هغه اخلاق چې له ميسره (د بې بې خديجې غلام) څخه اوريدلې وو نو هغه صلي الله عليه وسلم ته يې د نکاح خبر ولېږه هغه صلي الله عليه وسلم هم قبوله کړه او تر منځ يې د نکاح خطبه ابوطالب ولوسته د رسول الله صلي الله عليه وسلم لومړنۍ مېرمن همدا باعزته او با وقاره مېرمن وو، چې رسول الله صلي الله عليه وسلم يې په اړه فرمايي: [خيرُ نسائِها خديجةُ][5]

١ سورت الضحىٰ: ٦ آيت

٢ الراوي: /المحدث: الالباني، المصدر: السلسلة الضعيفة ص ٧٢ خلاصة حكم المحدث: ضعيف.

٣ ابن هشام ١٨٠/١

٤ ابن هشام ١٦٦/١

٥ صحيح البخاري ٣٤٣٢، و صحيح المسلم ٢٤٣٠

او همداشان دا هغه بشر دی چې الله جل جلاله ورته سلام رالېږي [جاء جبريلُ إِلی النبي صلي الله عليه وسلم و عنده خديجةً، و قال: انَّ الله يقرئُ خديجةَ السَّلام، فقالت: انَّ الله هو السَّلام، و على جبريلَ السَّلامُ، و عليکَ السَّلامُ ورحمة اللهِ][1]

د رسول الله صلي الله عليه وسلم اولادنو له جملې یې له ابراهيم پرته چې د ماريه قبطيه له بطنه وو، نور شپږ واړه اولادونه یې د همدې محترمې بي بي له بطنه شوي دي چې لومړی یې قاسم (چې په ماشومتوب کې وفات شو) بيا زينب، رقيه، ام کلثوم او فاطمه رضي الله عنهما لوراني او له هغو وروسته دوهم زوی عبدالله (په ماشومتوب کې وفات شو) چې په طيب او طاهر لقبونو سره هم يادېده.

قاسم: د رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلم مشر زوی قاسم نوميده چې تر بعثت يوولس دوولس کاله وړاندې زيږيدلی وو او په کوچنيتوب کې وفات شوی دی، قاسم ته په نسبت کولو سره د رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلم کنيت ابو القاسم وو او دا کنيت يې ډير خوښيده، د(څه مهال لپاره يې ) ددې کنيت له ښودلو څخه نور خلك راګرځولي وو.[2]

حضرت زينب رضي اللّٰه عنها: د رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلم په لوڼو کې زينب مشره او تر بعثت لس کاله وړاندې زيږيدلې وه، حضرت زينب رضی اللّٰه عنها د خپل خاله زوی ابوالعاص ته واده شوې وه[3]، ابو العاص چې د بدر په جنګ کې بندي شو ژمنه ور څخه واخستل شوه چې زينب به مدينې ته راولي او د ژمنې د تر سره کولو په موخه پريښودل شو هغه خپله ژمنه پوره کړه او زينب رضی اللّٰه عنها يې له خپل ورور کنانه سره مدينې ته راواستوله په لار کې قريشو بريد ورباندې وکړ او هبار بن اسود په نيزه ووهله چې زينب رضی اللّٰه عنها په ځمکه ولويده چې د همدې پيښې له امله يې حمل هم تاوان شو. د ابو سفيان په منځګړيتوب دا جګړه پای ته ورسيده او کنانه بالآخر زينب رضی اللّٰه عنها حضرت زيد رضی اللّٰه عنه او يو بل انصاري صحابي ته چې په همدې موخه رسول اللّٰه صلي اللّٰه عليه وسلم را استولي وو او ورته ويل شوي وو چې په ياجج[4] سيمه کې اوسئ تر څو زينب درته راولې. هغو زينب په لاره کې زيد او د هغه ملګري صحابي ته وسپارله او هغو له ځانه سره مدينې ته بوتله. ابو العاص بيا په يوه سريه کې ونيول شو، کله چې يې مدينې ته راوست نو حضرت زينب رضی اللّٰه عنها ورته پناه ورکړه، بيا مکې ته ولاړ خپل حسابونه يې خلاص کړل، اسلام يې ومانه او بيرته مدينې ته راغی او د زينب رضی اللّٰه عنها نکاح بيا ورسره نوي شوه[5]. د هجرت په

---

١ الصحيح المسند، ص ١١٦، الراوی: انس بن مالک، خلاصة المحدث: حسن.

٢ الرحيق المختوم، عبدالرحمن مباركپوري، ص ٨١

٣ تراجم أعلام النساء، اداره البحث و الاعداد فی دار الرساله، ص ١٧٧

٤ صحيح ابی داود: حديث رقم ٢٦٩٢ و قال الالباني حسن.

٥ سنن الترمذی، ٤٣٩/٣ و قال الالباني: ضعيف

اووم کال[1]، او بلاخره حضرت زینب د هجرت په اتم کال وفات شوه[2] رسول الله صلي الله علیه وسلم یې د جنازې لمونځ اداکړ.

حضرت رقیه رضی الله عنها: حضرت رقیه رضی الله عنها هم تر بعثت له مخه زیږیدلې وه، لومړی نکاح یې د ابو لهب له زوی عتبه سره شوې وه[3]، د رسول الله صلي الله علیه وسلم بله لور حضرت ام کلثوم رضی الله عنها هم د ابو لهب نږور وه، خو له رسول الله صلي الله علیه وسلم سره د دښمني له امله ابو لهب خپل دواړه زامن ددې بیبیانو طلاقولو ته اړ ایستل. حضرت رقیه رضی الله عنها وروسته حضرت عثمان رضی الله عنه ته په نکاح شوه او ورسره یو ځای یې حبشې ته هجرت وکړ، بیا مکې ته راغلل او مدینې ته مهاجر شول، حضرت رقیه رضی الله عنها د بدر د غزا په مهال ناروغه او وفات شوه[4].

حضرت ام کلثوم رضی الله عنها: حضرت ام کلثوم رضی الله عنها د حضرت رقیې رضی الله عنها تر وفات وروسته د هجرت په دویم کال حضرت عثمان رضی الله عنه ته په نکاح شوه، شپږ کاله وروسته د هجرت په نهم کال د شعبان په میاشت کې وفات شوه.[5]

د جنتي ښځو سرداره[6] حضرت فاطمة الزهرا رضي الله عنها: حضرت فاطمة الزهر رضی الله عنها تر بعثت وړاندې زیږیدلې او د هجرت په دوهم کال حضرت علي رضی الله عنه ته ور واده شوه. تر واده وروسته حضرت علي رضی الله عنه او حضرت فاطمة الزهرا رضی الله عنها له نبوي حرم څخه د باندې په یوه گوښه کور کې اوسیدل.

د حضرت فاطمې رضی الله عنها پنځه ماشومان شوي. دجنتي ښځو نومورې سرداره د نهه ویشتو کلونو په عمر د هجرت په یوولسم کال د روژې په میاشت کې د رسول الله صلي الله علیه وسلم تر وفات شپږ میاشتې وروسته وفات شوه[7].

ابراهیم: د رسول الله صلي الله علیه وسلم وروستی زوی ابراهیم دی، چې له ماریه قبطیې څخه شوی و. په ماشومتوب کې د لسم هجري کال د شوال په ۲۸ یا ۲۹ وفات شوو.[8]

---

١ أنساب الأشراف للبلاذری ٣٩٨/١

٢ أنساب الأشراف للبلاذری، ٤٠٠/١

٣ الطبقات، لابن سعد، ٣٦/٨

٤ رواه الطبراني، ٤٣٤/٢٢ و مجمع الزاوید، ٢١٩/٩ اسناده حسن.

٥ الطبقات، لابن سعد، ٣٨/٨

٦ رواه الحاکم، ١٦٤/٣

٧ السحیمی، سلیمان بن رجاء، العقیدة فی اهل البیت بین الافراط و التفریط، ص ١٣١

٨ الرحیق المختوم، ص ٧٠٣

رسول الله صلي الله عليه وسلم د حضرت خديجې رضي الله عنها په ژوند کې له بلې مېرمنې سره نکاح نه دې کړې[1] خو د هغې له وفات وروسته يې له يو مېرمنو سره نکاح کړې چې په لاندې ډول يې څېړو:

۱ ـ ام المؤمنين حضرت بي بي سوده (رضي الله عنها): د بي بي سودې رضي الله عنها شمار له لومړنيو مسلمانانو کيږي. دې هغه مهال له خپل مېړه سکران بن عمرو سره حبشې ته هجرت وکړ، او د سکران له وفات وروسته د سودې رضي الله عنها د پلار زمعه په خوښه او شته والي کې د دې نکاح د اُم المؤمنين بي بي خديجې رضي الله عنها له وفاته وروسته له حضرت رسول اکرم صلي الله عليه وسلم سره وشوه. د اُم المؤمنين سوده رضي الله عنها د وفات په کره نېټه کې اختلاف دی خو دا خبره باوري ده چې د حضرت عُمر رضي الله عنه د خلافت پر مهال لا ژوندۍ وه[2].

۲ ــ اُم المؤمنين حضرت بي بي عايشه رضي الله عنها: حضرت بي بي عايشه رضي الله عنها د مسلمانانو د لومړني خليفه او د رسول الله صلي الله عليه وسلم د غار د ملګري حضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه لور وه. د مور نوم يې زينب وو او د اُم رومان په نامه يادېدله. حضرت بي بي عايشه رضي الله عنها د بعثت په څلورم کال زيږيدلې او په شپږ کلنۍ کې يې له رسول الله صلي الله عليه سره نکاح شويده، او له نبوي هجرت وروسته د نهو کلونو په عُمر واده کړی شوه. په اته پنځوسم هجري کال د روژې مياشتې په اوومه شپه کې نژدې د شپږ شپيته کلونو په عُمر وفات شوه او د دې له وصيت سره سم په جنت البقيع کې د شپې خاورو ته و سپارل شوه[3].

له عايشې رضي الله عنها نه ډيری نبوي احاديث روايت کړل شويدي. د حديثو ځيني څېړونکي پدې باور دي چې په شرعي احکامو کې له دې څخه څلورمه برخه روايتونه شويدي . نوموړې بي بي ته خدای پاك بې ساری ذکاوت ور په برخه کړی وو. هغې د تفسير، حديثو، د شريعت په اسرارو، خطابت، ادب او د نسبونو په فن کې لوی لاس درلود.

ددې رضي الله عنها د پاکي په اړه د قرآن کريم يو مکمل سورت (سورت النور) نازل شوی دی.

۳ ــ اُم المؤمنين حضرت بي بي حفصه رضي الله عنها: دغه بي بي د اسلام د دوهم خليفه حضرت عُمر رضي الله عنه لور وه. په لومړي سر کې د حضرت خنيس بن حذافة رضی الله عنه په نکاح کې وه. خو هغه د بدر په غزا کې شهيد شو او بي بي مبارکه کونډه شوه. حضرت عُمر رضي الله عنه له حضرت عُثمان رضي الله عنه نه وغوښتل چې له هغې سره نکاح وکړي خو هغه ونه منله . حضرت عُمر رضي الله عنه خورا غمجن شو او رسول الله مبارك ته يې ګيله وکړه. رسول الله صلي الله عليه وسلم د دې لپاره چې هغه خوشاله ساتلې وي د ځان له لورې

---

۱ فقه السيرة، محمد الغزالي، ص ۵۹

۲ الطبقات، لابن سعد، ۵۷/۷

۳ پورتنی ماخذ، ۵۹/۷

يې ورته له بي بي حفصې رضی الله عنها سره د نکاح ست وکړ . هماغه وو چې له پاك رسول سره يې نکاح وشوه.[1]

بي بي حفصه رضي الله عنها په نبوي حرم کې يوازينۍ لوستې ميرمن وه او د رسول الله په ژوند کې يې د ځان لپاره پخپل لاس قرآنکريم ليکلی وو. دغه بي بي د حضرت امير معاويه رضي الله عنه د خلافت په وخت ۴۵ هجري کال په شعبان مياشت کې وفات شوه[2].

٤ ــ اُم المؤمنين حضرت بي بي اُم سلمه (رضي الله عنها): د دغې پاکې بي بي خپل نوم هند د پلار نوم يې سهيل او د مور نوم يې عاتکه وو. نومورې په لومړني سر کې د خپل اکا د زوی او د رسول الله صلي الله عليه وسلم د رضاعي ورور عبدالله بن عبدالاسد په نکاح کې وه. نومورې له خپل ميړه سره يو ځای حبشې ته هجرت وکړ. هلته يې د سلمه په نوم زوی وزيږيد. وروسته مکې ته راغله او بيا يې د لومړنيو مسلمانو ميرمنو په کتار کې مدينې منورې ته هجرت وکړ. ميړه يې عبدالله د خپل وخت له وتليو آس زغلونکو شميرل کيده.د بدر او اُحد په غزاگانو کې يې برخه اخيستې وه. دا ُحد په جگړه کې د خوړلو ټپونو له امله يې د هجرت په څلورم کال سترگې له نړۍ پټې کړې.[3]

رسول الله صلي الله عليه وسلم وروسته اُم سلمه ته د نکاح وړانديز وکړ خو هغې عذر ووايه. رسول الله صلي الله عليه وسلم ته يې وويل چې يو خو زه خورا قهرجنه ميرمن يم، ډير اولادونه لرم، او بله دا چې عُمر مې ډير دی. خو رسول الله صلي الله عليه وسلم د دغو عذرونو سربيره له هغې سره نکاح وکړه.[4]

نومورې يوه پوهه اوهوښياره ميرمن وه. د حديثونو له مخې دغه بي بي له عايشې رضي الله عنه نه وروسته دا د فضليت دوهمه درجه لري. اُم سلمه رضي الله عنها د ٨٤ کلونو په عُمر تر ټولو بيبيانو وروسته وفات شوه. د جنازې لمونځ يې حضرت ابوهريره رضی الله عنه ادا کړ.

٥ ــ ام المؤمنين حضرت بي بي زينب رضي الله عنها: حضرت زينب رضي الله عنها د رسول الله صلي الله عليه وسلم د ترور لور وه، دا بي بي لومړی حضرت زيد رضي الله عنه ته واده شوې وه، خو دا چې حضرت زيد رضي الله عنه يو آزاد شوی مريی وو نو ځکه ورسره د دې وخت نه تيريده، حضرت زيد د رسول الله صلي الله عليه وسلم په خوښه دې ته طلاق ورکړ، وروسته ورسره رسول الله صلي الله عليه وسلم نکاح وکړه. په اړه يې د قرآن کريم دغه ايت نازل شوی [وَإِذْ تَقُولُ لِلَّذِي أَنْعَمَ اللَّهُ عَلَيْهِ وَأَنْعَمْتَ عَلَيْهِ أَمْسِكْ عَلَيْكَ زَوْجَكَ وَاتَّقِ

١ رواه بخاري: ج ٢، ص ٩٨۴، حديث رقم: ٥١٢٢

٢ معرفتة الصحابة، لابی نعيم. ٣٢١٣/٦

٣ البداية و النهاية: ٢١٧/۴

٤ صحيح المسلم: حديث رقم ٩١٨

اللَّهَ وَتُخْفِي فِي نَفْسِكَ مَا اللَّهُ مُبْدِيهِ وَتَخْشَى النَّاسَ وَاللَّهُ أَحَقُّ أَن تَخْشَاهُ فَلَمَّا قَضَى زَيْدٌ مِّنْهَا وَطَرًا زَوَّجْنَاكَهَا لِكَيْ لاَ يَكُونَ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ حَرَجٌ فِي أَزْوَاجِ أَدْعِيَائِهِمْ إِذَا قَضَوْا مِنْهُنَّ وَطَرًا وَكَانَ أَمْرُ اللَّهِ مَفْعُولاً][1]

ژباړه: [اې پېغمبره (ص)!] هغه وخت (یاد کړه) چې تا هغه چا ته چې پر هغه باندې الله او تا لورېنه کړې وه، ویل: "خپله مېرمن مه پرېږده او له الله څخه ووېرېږه." - په هغه وخت کښې تا پخپل زړه کښې هغه خبره پټه کړې وه چې الله د هغې ښکاره کول غوښتل. ته له خلکو څخه وېرېدلې، په داسې حال کښې چې الله ددې زیات حقدار دی چې ورڅخه ووېرېږې. بیا کله چې زید له هغې څخه خپل حاجت پوره کړ، نو موږ هغه (طلاقه شوې مېرمن) تا ته په نکاح کړه، تر څو چې پر مؤمنانو د خپلو په خوله بللیو زامنو د مېرمنو په باب څه ستونزه پاتې نشي کله چې هغوی خپل حاجت ترې پوره کړی وي. او د الله حکم خو باید عملي شوی وای.

د نکاح په مهال یې عمر ۳۵ کاله وو، دا دومره پرهیزگاره مېرمن وه چې کله ورته رسول الله صلي الله علیه وسلم د نکاح پیغام ورواستاوه نو دې په ځواب کې ورته وویل چې زه به استخاره وکړم.

د رسول الله صلي الله علیه وسلم له وفاته وروسته په بیبیانو کې حضرت زینب رضي الله عنها تر ټولو لومړی د هجرت په شلم کال د خپل عمر په ۵۳ کلنۍ کې وفات شوه. حضرت زینب رضي الله عنها پخپل لاس کفن او نور لوازمات برابر کړي وو، خو ورسره یې دا وصیت هم کړی وو چې یو کفن دي حضرت عمر رضی الله عنه هم راکړي او بیا دي له دې دوو نه یو خیرات کړل شي هماغسې وشو، د جنازې لمونځ یې حضرت عمررضي الله عنه ادا کړ[2].

٦ ــ ام المؤمنین حضرت بي بي جویریه رضي الله عنها: حضرت جویریه رضي الله عنها د حارث بن ضرار لور وه، حارث د بنو مصطلق د کورنۍ مشر وو، حضرت جویریه لومړی د مسافع په نکاح کې وه، هغه د بنو مصطلق یا مریسیع په غزا کې مړ شو، په نوموړې جګړه کې مسلمانانو ته ډېری مرییان او مینځې په لاس ورغلل، جویریه رضي الله عنها د ثابت بن قیس په برخه شوه، خو جویریې د نهو اوقیو سرو زرو په بدل کې د مکاتبت تړون وکړ، هغه هم راضي شو، جویریه رضي الله عنها د رسول الله صلي الله علیه وسلم حضور ته راغله او د مرستې غوښتنه یې ورڅخه وکړه، رسول الله صلي الله علیه وسلم ورته و فرمایل چې که زه دا بیه پرې کړم او تا په نکاح کړم نو ښه به نه وي ؟ جویریې دا خبره خوښه کړه، رسول الله صلي الله علیه وسلم په هغې اندازه سره زر ورکړل او دا یې ازاده بیا یې په نکاح کړه. د همدې نکاح له برکته د جویریې رضي الله عنها د کورنۍ ټول غړي مرییونه او مینځې ازادې شوې، ځکه چې صحابهٔ کرامو وویل چې دا

[1] سورت الاحزاب: ۳۷ آیت

[2] الطبقات، لابن سعد، ۱۰۵/۸

کورنۍ د رسول الله صلي الله علیه وسلم خسرګنۍ شوه ځکه یې نو ټول ازاد کړل. حضرت جویریه رضي الله عنها د هجرت په پنځوسم کال د٦٥ کلونو په عمر وفات او په جنة البقیع کې خاورو ته و سپارل شوه.[١]

٧ ــ ام المؤ منین حضرت ام حبیبه رضي الله عنها: د دې بي بي نوم رمله او کنیت یې ام حبیبه وو، د ابو سفیان لور وه، تر بعثت ١٧ کاله وړاندي زیږیدلې وه، ام حبیبه رضي الله عنها لومړی عبدالله بن جحش ته واده شوې وه، دواړه مسلمانان او حبشې ته مهاجر شول، عبدالله هلته عیسایي شو خو دا په اسلام پاتې شوه، د دین دا ختلاف له امله عبدالله ام حبیبې ته طلاق ورکړ. د هجرت په اووم کال رسول الله صلي الله علیه وسلم یو تن (عمر بن امیه) نجاشي ته واستاوه، څو ام حبیبې ته د رسول الله صلي الله علیه وسلم د نکاح پیغام وروړسوي، نجاشي خپله مینځه ابرهه ور واستوله، حضرت ام حبیبې رضي الله عنها دا پیغام قبول کړ، او د دې خبر د زیري د ورکولو په ډول یې ابرهه ته دسپینو زرو دوه بنګړي او دوه ګوتمنۍ(انګشتري) ورکړې. ام حبیبه رضي الله عنها د هجرت په ٤٤ کال په مدینه منوره کې وفات شوه.[٢]

٨ ــ ام المؤمنین حضرت بي بي میمونه رضي الله عنها: حضرت میمونه رضي الله عنها چې د پلار نوم یې حارث او د مور نوم یې هند او وتلې میرمن وه، میمونه رضي الله عنها د حضرت عباس رضي الله عنه د میرمنې خور وه، او نوري اووه خویندې یې هم د قریشو د سردارانو په نکاح کې وې، د نبوي عمرې (اووم هجري کال) د عمرې تر ادا کولو وروسته د حضرت عباس رضي الله عنه په تشویق د حضرت میمونې رضي الله عنها نکاح له رسول الله صلي الله علیه وسلم سره وشوه. حضرت میمونه رضي الله عنها لومړی مسعود بن عمرو ثقفي ته واده شوه، کله چې هغه طلاقه کړه نو بیا ابو درهم بن عبدالعزی ته واده شوه، د هغه تر مړینې وروسته حضرت رسول الله صلي الله علیه وسلم په نکاح کړه. حضرت میمونه رضي الله عنها د هجرت په یو پنځوسم کال په سرف نومې ځای کې وفات شوه[٣].

٩ ــ ام المؤمنین حضرت صفیه رضي الله عنها: د نومونړې نوم زینب، د پلار نوم یې حیي بن اخطب، او د مور نوم یې ضره وو. کله چې په عربو کې د امام یا پاچا په نوم له ولجې څخه کومه ښه برخه بیله شوه هغه به د صفیې په نوم یادیدله، حضرت زینب رضي الله عنها په همدې توګه د خیبر په وتلي غزا کې د رسول الله صلي الله علیه وسلم په نکاح کې راغله، ځکه خو هم د صفیې په نامه یادیدله.

رسول الله صلي الله علیه وسلم له حضرت صفیې سره خورا مینه درلوده، یوه ورځ یې ولیده چې صفیه ژاړي نو رسول الله صلي الله علیه وسلم ورڅخه وپوښتل ولې ژاړې؟ صفیې ورته وویل چې عایشه او زینب رضي الله

---

١ پورتنی ماخذ، ١٢٠/٨

٢ سیر أعلام النبلاء، ٢١٩/٢

٣ الطبقات، لابن سعد، ١٢٦/٨

عنهما وايي چې مونږ په ټولو بيبيانو کې غوره يو مونږ د رسول الله صلي الله عليه وسلم سره په نکاح سر بېره د هغه د تره لونې هم يو. رسول الله صلي الله عليه وسلم ورته وفرمايل چې تا هغوي ته ولي ونه ويل چې حضرت هارون عليه السلام زما پلار، حضرت موسى عليه السلام زما تره او حضرت محمد صلي الله عليه وسلم زما خاونددی، نو په څه شي تاسي له ماڅخه ښې کيدلای شي؟[1] حضرت صفيه رضي الله عنها د هجرت په پنځوسم کال وفات شوې او د جنت البقيع په هديره کې خاورو ته سپارل شوي ده.

۱۰ ــ ام المؤمنين حضرت زينب رضي الله عنها: حضرت زينب رضي الله عنها لومړی د عبدالله بن جحش رضی الله عنه په نکاح کې وه کله چې حضرت عبدالله رضی الله عنه د احد په غزا کې شهيد شو نو رسول الله صلي اله عليه وسلم په نکاح کړه، خو دوه درې مياشتې وروسته وفات شوه. د جنازې لمونځ يې رسول الله صلي الله عليه وسلم اداکړ، او په جنت البقيع کې خاورو ته وسپارله شوه، د وفات په مهال ديرش کلنه وه. حضرت زينب رضي الله عنها دوهمه ميرمنه وه چې د رسول الله صلي الله عليه وسلم په ژوند وفات شوه، د ام المساکين په نامه هم يادېدله[2].

۱۱ ــ حضرت ماريه قبطيه رضي الله عنها: د رسول الله صلي الله عليه وسلم د ليك په ځواب کې د مصر مقوقس دوه انجونې (ماريه او نسرين) هم له نورو سوغاتونو سره يو ځای را واستولې، او په ليك کې يې ليکلي وو چې دا دواړه د قبطيانو وتلې انجونې دي. هغوی د رسول الله صلي الله عليه وسلم حضور ته تر راتلو د مخه لا مسلمانې شوې وې، څنګه چې دا انجونې دواړه سره خويندې وې، ځکه نو رسول الله صلي الله عليه وسلم ماريه ځان ته او نسرين حضرت حسان رضی الله عنه ته په نکاح ورکړه. د رسول الله صلي الله عليه وسلم د يوه زوی ابراهيم مور هم همدا ماريه قبطيه رضی الله عنها وه[3].

۱۲- حضرت ريحانه بنت زيد نضری رضي الله عنها: د بني قريظه په غزا کې نيول شوې وو، او رسول الله صلي الله عليه وسلم د ځان لپاره غوره کړه.[4]

## دوهم مبحث: په پيغمبري مبعوث کېدل او د دعوت پيل

کله چې د نبي کريم صلي الله عليه وسلم عمر څلويښت کلني ته ورسيد، او لکه څرنګه چې دغه د ذهني او عقلي کمال عمر دی او ډيری رسولان په دې عمر کې په نبوت مبعوث شوي دی، نو نبي کريم صلي الله عليه وسلم به خوبونه ليدل او هغه به واضح او ښکاره وو (خوبونه يې حقيقت وو)، دې حالت شپږ مياشتې دوام

١ رواه الترمذی، حديث رقم: ۳۸۹۴

٢ الرحيق المختوم، مبارکپوری، ص ۷۰۱

٣ الرحيق المختوم، ص ۷۰۳

٤ پورتنی ماخذ.

وکړ، او په دې عمر کې ډېر وخت د حرا په غار کې تېراوو، یوه شپه (چې د رمضان میاشت وو) حضرت جبرائیل علیه السلام ورته راغی او د وحی پیل وشو.[1]

د لومړي ځل لپاره چې کوم آیتونه نازل شول هغه د سورت العلق لومړني پنځه ایتونه وو: [اقْرَأْ بِاسْمِ رَبِّكَ الَّذِي خَلَقَ ١ خَلَقَ الإِنسَانَ مِنْ عَلَقٍ ٢ اقْرَأْ وَرَبُّكَ الأَكْرَمُ ٣ الَّذِي عَلَّمَ بِالْقَلَمِ ٤ عَلَّمَ الإِنسَانَ مَا لَمْ يَعْلَمْ ٥][2]

ژباړه: (اې پیغمبره) ولوله د خپل رب په نوم چې هغه (ټول مخلوقات) پیدا کړل، د کلکې شوې وینې له یوې ټوټې څخه یې انسان هست کړ، ولوله او ستا رب ډېر مهربان دی، چې هغه د قلم په واسطه انسان ته علم وښود، انسان ته یې هغه علم ورکړ، چې هغه پرې نه پوهېده.

رسول الله صلي الله علیه وسلم ددې آیتونو له اوریدو وروسته کور ته را وګرځېده او بې بې خدیجې رضي الله عنها ته یې وویل ما ونغاړئ ما ونغاړئ[3]...

له دې وحي وروسته د څو ورځو لپاره وحي بنده و[4]. او له هغه وروسته بیا د المدثر سورت دغه لاندیني آیتونه نازل شول، [يَا أَيُّهَا الْمُدَّثِّرُ ١ قُمْ فَأَنذِرْ ٢ وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ ٣ وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ ٤ وَالرُّجْزَ فَاهْجُرْ][5]

ژباړه: اې (په جامه کې) ځان نغښتونکي، څملاستونکیه!، پاڅه! او (نړیوالو) ته خبرداری ورکړه او د خپل رب لویي اعلان کړه، او خپل جامې پاکې کړه، او له چټلې څخه په څنګ اوسه.

د پورتنیو آیتونو له نزول وروسته رسول الله صلي الله علیه وسلم دعوت پیلوي او په لومړي سر کې د خپلې کورنۍ، دوستانو او نږدې ملګرو بلنه ته بلنه کوي، هغه کسان عبارت دي له[6]: حضرت خدیجه الکبرئ رضي الله عنه، زید بن حارث رضي الله عنه، حضرت علي رضي الله عنه، او حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه. له دوی وروسته ابوبکر صدیق رضي الله عنه دعوت پیلوي او د هغه په دعوت سره د اسلام دغه لوی سپه سالاران ایمان راوړي: عثمان بن عفان، زبیر بن عوام، عبدالرحمن بن عوف، سعد بن ابي وقاص او طلحه بن عبیدالله رضي الله عنهم اجمعین او ورپسې حضرت بلال، عبیده بن جراح، ابو سلمه، ارقم بن ابی الارقم، عثمان بن مظعون ... چې په دې ډله کې تر څلویښتو پورې کسان راځي.[7]

---

١ فتح الباري، ابن حجر، ٢٧/١

٢ سورت العلق: ١-٥ آیتونه

٣ صحیح البخاري: ۴۹۵۷ و مسلم ١٦٠: [فرجع النبي صلي الله علیه وسلم الي خدیجه فقال: زملوني زملوني ..] الراوي: عایشه رضي الله عنها

٤ ابن هشام ١٣٨/١

٥ سورت المدثر: ١-۴ آیتونه

٦ ترمذی: ٣٧٣۵، النسایي ٨٣٩٢، مسند احمد ١٩٣٠٦

٧ سیرة ابن هشام ١/ ٢۴۵-٢٦٢

### لومړی مطلب: خپلې کورنۍ ته دعوت

پورتینو کسانو د پټ دعوت په مرحله کې ایمان راوړ، خو کله چې دغه مبارک آیت نازل شو چې خپل نږدې خپلوان وبېروه [وَأَنذِرْ عَشِيرَتَكَ الأَقْرَبِينَ][1]

ژباړه: او ویروه ته (له عذابه اې محمده! هغه) خپلوان د تا چې ډېر نږدې دي (درته).

د پورتني آیت له نزول وروسته رسول الله صلي الله علیه وسلم خپل کورنۍ (بني هاشم) راوبلل، هغوی بلنه ومنله او ټول ۴۵ کسان راټول شوي ول، مخکې له دې چې رسول الله صلي الله علیه وسلم بلنه ورکړي ابولهب را وړاندې شو او داسې خبرې یې وکړې چې رسول الله صلي الله علیه وسلم مناسبه و نه لیده چې څه ووایي ځکه نو چوپ پاتې شو.[2]

همداشان یې یو ځل راوبلل او خبرې یې ورته وکړې د قیامت، جنت او دوزخ بحث یې ورته وکړ، ابو طالب یې خبرې تائید او د رسول الله صلي الله علیه وسلم ملاتړ یې اعلان کړ، او د هر څه تیر یې ورته وواهه خو دا یې وویل چې نفس او طبیعت مې اجازه نه را کوي چې د عبدالمطلب دین پرېږدم. دلته یې ابولهب بیا خبرې رد او ویې وویل چې تاسو (بني هاشم) باید رسول الله صلي الله علیه وسلم له دې خبرو منع کړئ خو ابوطالب یې په ځواب کې وویل چې تر څو ژوندی وم دفاع به یې کوم.[3]

### دوهم مطلب: قریشو ته دعوت

کله چې رسول الله صلي الله علیه وسلم د ابوطالب له ملاتړ برخمن شو نو یوه ورځ یې د صفا پر غونډۍ ناري کړې «یا صباحاه» او بیا یې د هر قبیلې په نوم غږ وکړ؛ چې ددې غږ په اوریدو سره قریش را ټول شول، رسول الله صلي الله علیه وسلم هغوی توحید، په رسالت او اخرت باندې ایمان ته راوبلل، خو بیا دلته هم ابولهب وویل (ټوله ورځ هلاک اوسې، همدا نن هلاک شې، آیا تا ددې لپاره را ټول کړي وو٤، چې د ابولهب ددې خبرو په مقابل کې د المسد سورت نازل شو: [تَبَّتْ يَدَا أَبِي لَهَبٍ وَتَبَّ ١ مَا أَغْنَى عَنْهُ مَالُهُ وَمَا كَسَبَ ٢ سَيَصْلَى نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ ٣ وَامْرَأَتُهُ حَمَّالَةَ الْحَطَبِ ٤ فِي جِيدِهَا حَبْلٌ مِّن مَّسَدٍ ٥][5]

١ سورت الشعراء: ۲۱۴ آیت

٢ الرحیق المختوم، ص ۱۸۰

٣ ابن الاثیر، فقه السیرة، ص ۷۷- ۷۸

٤ صحيح البخاري: ج ٢، ص ٩٨٤، : ٤٤٩٢ - حدثنا عمر بن حفص بن غياث: حدثنا أبي: حدثنا الأعمش قال: حدثني عمرو بن مرة، عن سعيد بن جبير، عن ابن عباسرضي الله عنهما قال: لما نزلت: {وأنذر عشيرتك الأقربين}. صعد النبي صلى الله عليه وسلم على الصفا، فجعل ينادي: يا بني فهر، يا بني عدي، لبطون قريش، حتى اجتمعوا، فجعل الرجل إذا لم يستطع أن يخرج أرسل رسولا لينظر ما هو، فجاء أبو لهب وقريش، فقال: (أرأيتكم لو أخبرتكم أن خيلا بالوادي تريد أن تغير عليكم أكنتم مصدقي). قالوا: نعم، ما جربنا عليك إلا صدقا، قال: (فإني نذير لكم بين يدي عذاب شديد). فقال أبو لهب: تبا لك سائر اليوم، ألهذا جمعتنا، فنزلت: {تبت يدا أبي لهب وتب. ما أغنى عنه ماله وما كسب}.

٥ سورت المسد: ۱-۵ آیتونه

ژباړه: د ابي لهب لاسونه مات شول او دی خپله هم هلاک شو، د هغه شتمني او هغه څه چې يې ګټلي وو، هغه ته په در دوا نه شول، هرو مرو به هغه په تاوجن بځري لرونکي اور کې ننوځي، او (له هغه سره به) د هغه ښځه هم د خسو د پنډونو راوړونکې، د هغې په غاړه کې (د خرماو د پوستکو څخه اوبدل شوې) غټه کلکه رسۍ ده.

## دریيم مبحث: له قوم سره مناقشې

کله چې د صفا د غونډۍ له بلنې وروسته د نبوي رسالت انګازې د مکې شاوخوا ته ورسېدې او له دې سره سره يو بل الهي امر هم نازل شو چې [فَاصْدَعْ بِمَا تُؤْمَرُ وَأَعْرِضْ عَنِ الْمُشْرِكِينَ][1]
ژباړه: نو (اې محمده!) د کوم شي چې تاته حکم کېږي هغه په لوړ آواز ووايه او د مشرکانو يو بخرى پروا مه کوه.
ددې آيت له نزول وروسته نبي کريم صلي الله عليه وسلم د بتانو او نورو شرکي افعالو له مخ نه پرده پورته کړه او د هغوی ضررونه يې په ګوته کړل، کله چې د مکې قريشو دا خبرې واورېدې نو د خپلو الهه وو په دفاع کې ودريدل او له رسول الله صلي الله عليه وسلم سره يې د دښمني لاره ونيوله، که څه هم دوی ښه پوهېدل چې نبي کريم صلي الله عليه وسلم په حقه دی او هيڅکله دروغ نه وايي، نو له هر څه وړاندې يې د نبي کريم صلي الله عليه وسلم تره او قوي ملاتړ کوونکي ابوطالب ته جرګه واستوله، خو هغه په ښه توګه رخصت کړل او نبي کريم صلي الله عليه وسلم همداسې خپل دعوت جاري ساتلی وو.[2]
قريشو ابوطالب ته له جرګې لېږلو وروسته؛ دا فکر وکړ چې د حج موسم راتلونکی دی او دلته نبي کريم صلي الله عليه وسلم خپل دعوت جاري ساتي او د نورو سيمو خلک راتلونکي دی، نو له ډېرو مشورو، تدبيرونه او نظرونو وروسته دې نتيجې ته ورسيدل او د وليد بن مغيره خبره يې ومنله چې خلکو ته وايو چې دا کس (رسول الله) جادوګر دی. دا چې وليد د دوی (قريشو) هره خبره باطلوله او دليل يې ورته وايو نو بيا يې له ښه سوچ او فکره وروسته وويل چې د جادوګر نوم به پرې کېږدو په دې اړه قرآن کريم کې راځي چې [إِنَّهُ فَكَّرَ وَقَدَّرَ ١٨ فَقُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ ١٩ ثُمَّ قُتِلَ كَيْفَ قَدَّرَ ٢٠ ثُمَّ نَظَرَ ٢١ ثُمَّ عَبَسَ وَبَسَرَ ٢٢ ثُمَّ أَدْبَرَ وَاسْتَكْبَرَ ٢٣ فَقَالَ إِنْ هَذَا إِلاَّ سِحْرٌ يُؤْثَرُ ٢٤ إِنْ هَذَا إِلاَّ قَوْلُ الْبَشَرِ][3]
ژباړه: هغه فکر وکړ او د څه خبرې جوړولو هڅه يې وکړه، نو خدای دې هغه ووهي د څنګه خبرې جوړولو هڅه يې وکړه، هو هغه دې خدای ووهي د څنګه خبرې جوړولو هڅه يې وکړه، بيا يې (د خلکو

---

۱ سورت الحجر: ۹۴ آيت
۲ سيرت ابن هشام، ۲٦٥/۱
۳ سورت المدثر: ۱۸-۲٥ آيتونه

لوري ته) وکتل، بیا یې تندی تریو کړ او خوله یې بوسه کړه، بیا یې شاه واړوله او تکبر یې وکړ، په پای کې یې وویل: دا (قرآن) خو بې له کوډو بل هیڅ نه دی، چې له پخوا څخه را رواني دي، دا خو یو انساني کلام دی.

خو بیا هم کله چې د حج په موسم کې د نورو سیمو خلک راغلل رسول الله صلی الله علیه وسلم خپل دعوت روان ساتلی وو، په مقابل کې قریش چې ابولهب یې په سر کې وو، په خلکو گرځېدل او خلکو ته یې ویل چې ددې سړي خبرې مه منئ هغه دروغجن دی او له خپل دین نه اوښتی دی.[1]

## لومړی مطلب: د رسول الله په وړاندې د قریشو رنګارنګ کړنې

د مکې قریشو نه یوازې دا چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم دعوت یې نه قبلاوو، له دې سربېره یې په هغه صلی الله علیه وسلم رنګارنګ نومونه اېښي وو، کله به یې لیونی باله لکه په دې آیت کې [وَقَالُواْ يَا أَيُّهَا الَّذِي نُزِّلَ عَلَيْهِ الذِّكْرُ إِنَّكَ لَمَجْنُونٌ][2]،

ژباړه: دوی وایي: اې هغه سړیه چې ذکر (قرآن) پرې نازل شوی، ته په رښتیا سره لیونی یې.

کله به یې ساحر او دورغجن ورته ویل لکه په دې آیت کې [وَعَجِبُوا أَن جَاءهُم مُّنذِرٌ مِّنْهُمْ وَقَالَ الْكَافِرُونَ هَذَا سَاحِرٌ كَذَّابٌ][3]

ژباړه: دوی په دې خبره سخت تعجب وکړ چې پخپله د همدوی څخه یو ویروونکی ورته راغی. کافرانو وویل: دی کوډګر دی، ډېر درواغجن دی.

کفارو ددې نومونه سره سره له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره زیاته کینه لرله، لکه چې په دې اړه الله جل جلاله فرمایي: [وَإِن يَكَادُ الَّذِينَ كَفَرُوا لَيُزْلِقُونَكَ بِأَبْصَارِهِمْ لَمَّا سَمِعُوا الذِّكْرَ وَيَقُولُونَ إِنَّهُ لَمَجْنُونٌ][4]

ژباړه: او بېشکه نږدې وه هغه کسان چې کافران شوي دي، خامخا وبه ښویوي تا (وبه دې غورځوي پر ځمکه) پخپلو سترګو هر کله چې وارویده دوی قرآن (ستا ل ژبې) او وایي دوی (د کینې له مخې) بېشکه دغه (محمد) لیونی دی.

له دې ټولو سربېره به یې په رسول الله او اصحابو باندې خنداوې کولې، اشارې به یې کولې او د ملنډو په اندازه به یو بل ته د هغوی کیسې ویلې لکه چې الله جل جلاله فرمایي: [إِنَّ الَّذِينَ أَجْرَمُوا كَانُواْ مِنَ الَّذِينَ آمَنُوا

---

١ الرحیق المختوم: ص ١١۴

٢ سورت الحجر: ٦ آیت

٣ سورت ص: ۴ آیت

٤ سورت القلم: ۵١ آیت

يَضْحَكُونَ ٢٩ وَإِذَا مَرُّواْ بِهِمْ يَتَغَامَزُونَ ٣٠ وَإِذَا انقَلَبُواْ إِلَى أَهْلِهِمُ انقَلَبُواْ فَكِهِينَ ٣١ وَإِذَا رَأَوْهُمْ قَالُوا إِنَّ هَؤُلَاء لَضَالُّونَ ٣٢ وَمَا أُرْسِلُوا عَلَيْهِمْ حَافِظِينَ][1]

ژباړه: مجرمانو په دنيا کې په مومنانو باندې ملنډې وهلې دي، چې کله به د هغوی تر څنګ تېريدل، نو د هغوی لوري ته به يې په تمسخر سترګکونه وهل، کله چې به خپلو کورونو ته ستنېدل نو (د ملنډو وهلو) د د خوندونو په اخېستلو به ورستنېدل، او کله به چې يې مومنان ليدل نو ويل به يې چې دا لار ورکي سرګردان خلک دي، په داسې حال کې چې دوی د هغو څارونکي نه ول لېږل شوي.

کله نا کله به يې د رسول الله صلي الله عليه وسلم په ذات او شخصيت باندې نيوکه کوله، تر څو عام او کم فهمه خلک دده خبرې ونه مني، نو د قرآن په اړه به يې ويل چې دا هسې کيسې دي[2]، يا به يې ويل چې رسول الله صلي الله عليه وسلم له ځانه جوړې کړې دي[3]، يا به يې ويل چې کوم انسان ورته ښوودنه کوي.[4]

## دوهم: مطلب: په رسول الله او صحابه وو ظلمونه

د نبوت په څلورم کال قريشو دا پريکړه وکړه، چې نور بايد د اسلامي دعوت مخه ونيول شي هغوی يوه کوميټه جوړه کړه او مشر يې ابی لهب وو له اوږد بحث وروسته يې د رسول الله صلي الله عليه وسلم، صحابوو او اسلام په خلاف له زور زياتي، وحشت او تيري نه کار اخېستل پيل کړل. که څه هم پر مسلمانانو د ظلمونو کيسې خورا زياتې او غمجنونکې دي له هغې جملې پر بلال رضي الله عنه، ال ياسر کورنۍ او نورو باندې شوي ظلمونه بيخي د انسانيت له دايرې بهر دي.

موږ دلته غواړو په لنډه توګه هغو ظلمونو ته اشاره وکړو چې پر رسول الله صلي الله عليه وسلم باندې شوي دي .

الف: د اميه بن خلف د استهزا، اشارو او سترګکونو په اړه دغه آيت شريف نازل شو[وَيْلٌ لِّكُلِّ هُمَزَةٍ لُّمَزَةٍ][5]

ب: اخنس بن شريق الثقفي به هم رسول الله صلي الله عليه وسلم ته زيات تکليف ورکاوو، چې هغه خورا ناوړه صفتونه درلودل کوم چې په دې ايتونو کې روښانه شوي دي.[ وَلاَ تُطِعْ كُلَّ حَلاَّفٍ مَّهِينٍ ١٠ هَمَّازٍ مَّشَّاء بِنَمِيمٍ ١١ مَنَّاعٍ لِّلْخَيْرِ مُعْتَدٍ أَثِيمٍ ١٢ عُتُلٍّ بَعْدَ ذَلِكَ زَنِيمٍ][6]

---

١ سورت المطففين: ٢٩-٣٣ آيتونه

٢ الفرقان: ۵ آيت

٣ الفرقان: ۴ آيت

٤ النحل: ٣ آيت

٥ سورت الهمزه: ١ آيت

٦ سورت القلم: ١٠-١٣ آيتونه

ج: ابوجهل چې یو له خورا لویو ظالمانو څخه وو او رسول الله صلي الله علیه وسلم ته یې په ډول ډول تکلیفونو سره ازار ورکاوو، یو له هغو یې هغه چې یوه ورځ یې رسول الله صلي الله علیه وسلم د مقام ابراهیم سره په لمانځه کولو ولید، نو ورته ویې ویل آیا ته مې له دې کاره نه وې منع کړی؟؛ اخطارونه او او تهدیدونه یې ورته شروع کړل، او رسول الله صلي الله علیه وسلم ته یې وویل ته مې په څه شي ویروې، په دې سیمه کې هیڅوک تر ما زیات زور او ځواک نه لري[1] چې دده د دې خبرو په مقابل کې دغه ایتونه نازل شول:
[كَلاَّ لَئِن لَّمْ يَنتَهِ لَنَسْفَعًا بِالنَّاصِيَةِ ١٥ نَاصِيَةٍ كَاذِبَةٍ خَاطِئَةٍ ١٦ فَلْيَدْعُ نَادِيَه ١٧ سَنَدْعُ الزَّبَانِيَةَ][2]
ژباړه: هیڅکله داسې نه ده که هغه لاس وانخلي، نو موږ به یې د تندي له ویښته ونیسو او راکش به یې کړو، هغه تندی چې (څښتن) یې درواغجن او ډېر زیات خطا کار دی، هغه دې خپلې د مجلس ملاتړ کوونکې ډلې ته بلنه ورکړې، موږ به هم د عذاب پرښتې راغواړو.
حضرت عبارس رضي الله عنه وايي چې: که ابوجهل خپل د مجلس غړي وربللي وای نو نوموړی به سم دستي د عذاب پرښتو نیولی وای[3].
بیا چې کله د کفارو ظلمونو زیات شول او خپل اوج ته ورسیدل نو مسلمانان حبشې ته په هجرت کولو سره امر شول د سورت کهف له نازېلیدو سره مسلمانان وپوهول شول چې که د دین له پلوه خطر وي نو د امن ځای ته دې هجرت وکړي او په دې پسې د الزمر سورت نازل شو او دایې وښوده چې د الله جل جلاله ځمکه پراخه ده [قُلْ يَا عِبَادِ الَّذِينَ آمَنُوا اتَّقُوا رَبَّكُمْ لِلَّذِينَ أَحْسَنُوا فِي هَذِهِ الدُّنْيَا حَسَنَةٌ وَأَرْضُ اللَّهِ وَاسِعَةٌ إِنَّمَا يُوَفَّى الصَّابِرُونَ أَجْرَهُم بِغَيْرِ حِسَابٍ][4]
ژباړه: اې (پیغمبره! صلي الله علیه وسلم) ووایه: اې د الله بنده ګانو چې ایمان راوړی دی، د خپل رب څخه وبېرېږئ، کومو کسانو چې په دې دنیا کې غوره چلند غوره کړی دی، د هغو لپاره ښېګڼه ده او د خدای ځمکه پراخه ده، صبر کوونکو ته به خپل اجر بې حسابه ورکړل شي.
په دې ترتیب د لومړي ځل لپاره د نبوت په پنځم کال ۱۲ نارینه او ۴ ښځې د عثمان بن عفان رضي الله عنه په مشري حبشې ته مهاجر شول[5]، د دوهم ځل لپاره بیا ۸۳ نارینه او ۱۸ یا ۱۹ ښځینه مهاجر شول[6].

---

۱ ترمذي: ج ۲، ص ۱۷۳:[ "كانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عليهِ وسلَّم يصلِّي فجاءَ أبو جهلٍ فَقَالَ: ألَم أنهكَ عَن هَذَا؟ ألم أنهكَ عَن هَذَا؟ ألم أنهكَ عَن هَذَا؟ فانصرفَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عليهِ وسلَّم فزَبَرَهُ، فَقَالَ أَبُو جَهْلٍ إنَّكَ لتعلمُ ما بها نادٍ أكثرَ منِّي، فأنزلَ اللَّهُ تَبَارَكَ و تَعالَى: {فليدْعُ ناديه. سَنَدْعُ الزَّبَانِية} . قَالَ ابن العَبَّاس "واللَّهِ لو دعَا ناديهُ لأخذتهُ زبانيةُ اللَّهِ". هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ غَرِيبٌ صَحِيْحٌ. وفيه عَن أَبِي هُرَيْرَةَ.]
۲ سورت العلق: ۱۵-۱۸ آیتونه
۳ مجمع زاوید، الهیثمی، ۲۳۱/۸
٤ سورت الزمر: ۱۰ آیت
٥ الرحیق المختوم: ص ۱۳۱
٦ رحمة للعالمین: ج ۱، ص ٦۱

## درېیم مطلب: د رسول الله او بني هاشمو محاصره

کله چې د کفارو ټول اقدامات له ماتې سره مخ کېدل، ابوطالب د رسول الله صلي الله علیه وسلم کلک ملاتړ کاوو، حمزه او عمر رضي الله عنهم ایمان راوړی وو، نو کفارو داسې پرېکړه وکړ، چې له بني هاشمو سره هر ډول اړیکې بندې دي تر هغه وخته پورې چې محمد صلي الله علیه وسلم یې موږ ته د قتل لپاره نه وي سپارلی، دغه لیک یې په کعبه شریفه کې ځوړند کړ، له ابولهب پرته ټول بني هاشم که مسلمانان ول او که کافران په شعب ابوطالب کې محاصره شول دا وخت د نبوت اووم کال د محرم د میاشتې لومړنۍ شپه وه.[1] دغه ترون پوره درې کاله وروسته مات او صحیفه نقض شوه (صحیفه ټولو وینو خوړلې وه، یوازې باسمک اللهم لفظ پاتې وو)[2].

له دې محاصرې وروسته د بعثت په لسم کال د رسول الله ملاتړ ابوطالب او ام المؤمنین خدیجه الکبری رضي الله عنه وفات شول.[3] په همدې کال د شوال په میاشت کې رسول الله صلي الله علیه وسلم له مکې بهر دعوت پیل کړ او د طائف په لور روان شو، خو د طایف خلکو نه یوازې دا چې ایمان یې نه راوړ، بلکې رسول الله یې په کاڼو وویشت تر داسې اندازې چې ښپلۍ یې په وینو لمدې شوې، او د ملګري زید بن حارث رضي الله عنه سر هم مات شو، رسول الله صلي الله علیه وسلم ددې خفګان په حالت کې دا دعا ویله[4] چې مستضعفینو په دعا سره مشهوره ده.

## ځلورم مطلب: پیریانو ته قرآن اورول

له طایف نه د بیرته را ګرځېدو په وخت کله چې رسول الله صلي الله علیه وسلم نخله نومي ځای ته راورسیده او هلته یې د سبا لمونځ کاوو[5]، نو ځینو پیریانو یې تلاوت ته غوږ نیولی وو، او بیا یې په خپل قوم ته حال ووایو لکه چې قران کریم کې راځي: [وَإِذْ صَرَفْنَا إِلَيْكَ نَفَرًا مِّنَ الْجِنِّ يَسْتَمِعُونَ الْقُرْآنَ فَلَمَّا حَضَرُوهُ قَالُوا أَنصِتُوا فَلَمَّا قُضِيَ وَلَّوْا إِلَى قَوْمِهِم مُّنذِرِينَ ٢٩ قَالُوا يَا قَوْمَنَا إِنَّا سَمِعْنَا كِتَابًا أُنزِلَ مِن بَعْدِ مُوسَى مُصَدِّقًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهِ يَهْدِي إِلَى الْحَقِّ وَإِلَى طَرِيقٍ مُّسْتَقِيمٍ ٣٠ يَا قَوْمَنَا أَجِيبُوا دَاعِيَ اللَّهِ وَآمِنُوا بِهِ يَغْفِرْ لَكُم مِّن ذُنُوبِكُمْ وَيُجِرْكُم

---

١ الرحیق المختوم: ص ١٥٦

٢ پورتنی ماخذ، ص ١٥٩

٣ رحمة للعالمین: ج ٢، ص ١٦۴

٤ فقه السيرة، المحدث الالباني، ص ١٢٦، حكم خلاصة ضعيف: [اللَّهمَّ إليكَ أشكو ضَعفَ قوَّتي ، وقلَّةَ حيلَتي، وَهَواني علَى النَّاسِ . . . أنتَ أرحمُ الرَّاحمينَ ، أنتَ ربُّ المستضعفينَ ، وأنتَ ربِّي. . . إلى من تكِلُني؟ إلى بعيدٍ يتجَهَّمُني أَمْ إلى عدُوٍّ ملَّكتَهُ أمري . إن لم يَكُن بكَ غضبٌ عليَّ فلا أبالي ، غيرَ أنَّ عافيتَكَ هيَ أوسعُ لي . . أعوذُ بنورِ وجهِكَ الَّذي أشرَقت لهُ الظُّلماتُ ، وصلُحَ علَيهِ أمرُ الدُّنيا والآخرةِ ، أن يحلَّ عليَّ غضبُكَ ، أو أن ينزلَ بي سخطُكَ . لَكَ العُتبى حتَّى تَرضى ، ولا حولَ ولا قوَّةَ إلَّا بِكَ ]

٥ صحيح البخاري : ج ٢، ص ٧٣٢

مِّنْ عَذَابٍ أَلِيمٍ ٣١ وَمَن لاَّ يُجِبْ دَاعِيَ اللَّهِ فَلَيْسَ بِمُعْجِزٍ فِي الأَرْضِ وَلَيْسَ لَهُ مِن دُونِهِ أَولِيَاء أُوْلَئِكَ فِي ضَلاَلٍ مُّبِينٍ][1]

ژباړه: (او هغه پېښه هم د يادوني وړ ده). كله چي موږ د پېريانو يوه ډله ستا خوا ته راوستې وه، تر څو چي قُرآن واوري؛ كله چي هغوى هغه ځاى ته ورسېدل (چي هلته تا قُرآن لوسته) نو هغوى پخپلو منځو كښي سره وويل چوپ شئ! بيا كله چي هغه ولوستل شو، نو دوى خبرداروونكي د خپل قوم لوري ته ستانه شول. هغوى (پيريانو) خپل قوم ته په ورتلو سره وويل: "اې زموږ قومه! موږ يو كتاب اورېدلى دى، چي له موسى عليه السلام څخه وروسته نازل كړى شوى دى، د هغو كتابونو تصديق كوونكى دى چي له ده څخه مخكي راغلي دي. د حق او د سمي لاري خوا ته لارښوونه كوي. اې زموږ قومه! د الله خوا ته د بلونكي بلنه قبوله كړئ او پر هغه باندي ايمان راوړئ. الله به ستاسي له گناهونو څخه در تېر شي او تاسي به له دردناك عذاب څخه وژغوري." او څوك چي د الله د بلونكي خبره ونه مني، هغه نه پخپله په ځمكه كښي څه قوت لري چي الله بېوسى كړي او نه د هغه داسي ملاتړ سر پرستان شته چي د الله څخه هغه وژغوري. دغسي خلك په څرگنده گمراهۍ كښي غورځېدلي دي.

## پنځم مطلب: مدينې ته هجرت

د مدينې منورې له خلكو سره د عقبې د لومړي او دوهم تړون وروسته د نبوت په دیارلسم كال چې د مدينې نژدې په هر كور كې د اسلام رڼا ځلېدلې وه او د مكې ډېرى مسلمانان هم مدينې ته كډه شوي وو او پيغمبرصلى الله عليه وسلم د هجرت لپاره د الله پاک اجازې ته سترگې په لار و، د مكې مشركانو پرېكړه وكړه چې بايد د ټولو قومونو د ځوانانو يو ټولى پر رسول الله صلى الله عليه وسلم بريد وكړي او (نعوذ بالله) شهيد يې كړي؛ خو وړاندې له دې چې هغوى د شپې له مخې د پيغمبرصلى الله عليه وسلم پر كور چپاو ور وړي الله پاک رسول الله صلى الله عليه وسلم ته امر وكړ چې خپل خوږ وطن پرېږدي او مدينې ته كډه شي، هماغه و چې رسول الله صلى الله عليه وسلم او ابوبكر صديق رضى الله عنه د شپې د ثور غره پر خوا له مكې نه ووتل او له اتو ورځو ستونزمن سفر وروسته مدينې ته ورسېدل.

---

[1] سورت الاحقاف: ۲۹-۳۲ آيتونه

## څلورم مبحث: کتاب او معجزې

### لومړی مطلب: کتاب

الله جل جلاله فرمايي: « إِنَّ الَّذِينَ كَفَرُوا بِالذِّكْرِ لَمَّا جَاءهُمْ وَإِنَّهُ لَكِتَابٌ عَزِيزٌ **٤١** لاَ يَأْتِيهِ الْبَاطِلُ مِن بَيْنِ يَدَيْهِ وَلاَ مِنْ خَلْفِهِ تَنزِيلٌ مِّنْ حَكِيمٍ حَمِيدٍ»[١]

ژباړه: هغه کسان (زموږ څخه پټ نه دي) چې کله د نصيحت کلام (قرآن کريم) ورته راغی، نو د هغه له منلو څخه يې انکار وکړ خو حقيقت دادی چې دا کتاب (قرآن) يو پياوړی کتاب دی. باطن نه مخامخ پرې راتلای شي نه د شا له خوا، دا د حکمت څښتن د يوه ستايل شوي ذات نازل کړل شوی کتاب دی.

سپېڅلی قرآن د کائناتو د خالق جل جلاله وروستنی کتاب دی، ددې کتاب د تقدس او فضيلت لپاره دا کافي ده، چې تر ټولو د ستر ذات فرمان دی، تر ټولو د مقربې ملکې حضرت جبريل په لاس، په تر ټولو مقدسه ځمکه مکه مکرمه کې، په تر ټولو مقدس وخت رمضان کريم کې، په تر ټولو مقدس بشر حضرت محمد صلي الله عليه وسلم باندې، تر ټولو د بهتر امت د لارښودنې لپاره نازل شوی دی.[٢]

د قرآن بله ځانګړنه داده، چې اعجاز يې د بل هر کتاب په نسبت منل شوی او مشهود دی، قرآن د حضرت نبي کريم صلي الله عليه وسلم د ګڼو معجزاتو په کتار کې تر ټولو ستره معجزه بلل کيږي، دا د بشر په تاريخ کې تر ټولو ډېر ليکل شوی، تر ټولو ډېر تلاوت شوی، او تر ټولو ډېر حفظ شوی کتاب دی، د وروستيو سروې ګانو له مخې په نړۍ کې همدا (١٣٩٩) کال د قرآن د حافظانو شمير تر يوولس ميليونو اوړي، د بشر په زړه باندې د مخامخ اغيز له اعجاز پرته که چيرې د قرآن ادبي، بلاغي، معنوي، اخلاقي، نحوي او . . . معجزات راسپړو ښايي خبره خورا درازه شي، د قرآن کريم د زرګونو تفسيرونو له جملې هر ليکل شوی تفسير د قرآن کريم لآيتناهي مفاهيم او محتويات رابرسيره کوي چې دا لړۍ د قرآن د نزول له ورځې راپيل شوي ده، لا هم روانه ده او د قيامت تر ورځې به روانه وي.

الله جل جلاله فرمايي: [فَلاَ أُقْسِمُ بِمَوَاقِعِ النُّجُومِ ٧٥ وَإِنَّهُ لَقَسَمٌ لَّوْ تَعْلَمُونَ عَظِيمٌ ٧٦ إِنَّهُ لَقُرْآنٌ كَرِيمٌ ٧٧ فِي كِتَابٍ مَّكْنُونٍ ٧٨ لاَّ يَمَسُّهُ إِلاَّ الْمُطَهَّرُونَ ٧٩ تَنزِيلٌ مِّن رَّبِّ الْعَالَمِينَ][٣]

ژباړه: نو نه ده داسې (د قرآن په حقانيت کې هيڅ شک نشته) زه د ستورو د پريوتلو پر ځای قسم خورم، او که وپوهېږئ نو دا ډېر لوی قسم دی، چې ښکه ا يو لوړ مقامی قرآن دی، په يوه محفوظ کتاب کې ثبت،

---

١ سورت فصلت: ٤١- ٤٢

٢ صمد، نثاراحمد، (ب ، ت) د قرآن سره مرکه، کابل، لر او بر سايټ، ص ٢- ٥

٣ سورت الواقعه: ٧٥- ٨٠ آيتونه

له پاکانو پرته يې بل څوک نه مسح کوي (نه دې مسح کوي مگر پاکان)، دا د عالميانو پروردگار نازل کړی دی.

او همداشان په بل ځای کې الله جل جلاله فرمايي: [فِي صُحُفٍ مُّكَرَّمَةٍ ١٣ مَّرْفُوعَةٍ مُّطَهَّرَةٍ ١٤ بِأَيْدِي سَفَرَةٍ ١٥ كِرَامٍ بَرَرَةٍ ١٦][1]

ژباړه: دا قرآني آيتونه په مبارکو صحيفو کې نغښتي دي، لوړه مرتبه لرونکي دي پاکي دي، د عزتمندو (پرښتو) په لاسونو کې دي، او د غوره او نېکو ليکونکو (په لاسونو کې).

قرآن کريم د الله تعالى له خوا په حضرت محمد صلي الله عليه وسلم راليږل شوی پيغام دی، الفاظ يې معجزه، تلاوت يې عبادت او موږ ته په متواتر ډول رسيدلی له سورت فاتحې څخه تر والناس پورې په پاڼو کې ليکل شوی او د مسلمانانو قانون دی. د لومړي ځل لپاره د الله جل جلاله له لوري د جبرائيل عليه السلام په وسيله د محمد صلي الله عليه وسلم زړه ته راکوز شو بيا د محمد صلي الله عليه وسلم له مبارکې سينې څخه د اصحابو کرامو زړونوته انتقال او بيا له اصحابو کرامو څخه امت ته په پوره امانت دارۍ رارسېدلی دی.[2]

قرآن کريم ټول ۱۱۴ سورتونه، چې دوه اتيا (۸۲) يې په مکه، شل (۲۰) مدني او پاتې دولس اختلافي دي چې ځيني علماء يې مدني او ځيني يې مکي گني. د آيتونو شمېر يې هم څه اختلافي دي خو دقيق شمېر يې (۶۲۳۵) آيتونو ته رسيږي او د آيتونو په حساب يې (۴۴۷۵) آيتونه مکي او باقې (۱۷۶۱) يې مدني دي.[3]

د قرآن د کليمې په مانا کې د اسلامپوهانو تر منځ لږ څه اختلاف دی، او دا اختلاف هم نه د قرآن په لفظ کې دی، او نه هم د هغې په مانا کې، بلکه دا اختلاف د قرآن په اشتقاق، او جوړښت کې چې آيا مهموز دی يا که غير مهموز او يا هم د جوړښت لمخې مصدر دی، که صفت. خو دغه اختلاف د قرآن د نومونو له يادولو وروسته له منځه ځي ځکه دغه الهي کلام زيات نومونه لري چې هر نو يې په بېلې مانا سره راغلی دی. الله جل جلاله په خپل کلام کې قرآن کريم په ۵۵ نومونو سره يادی کړی لکه فرقان، صحف، قران، ذکر او نور خو د مصف نوم ورته د ابوبکر صديق رضي الله عنه د خلافت په دوره کې ورکړل شو.[4]

د قرآن کريم نزول د لوح محفوظ څخه بيت العزه ته چې د نړۍ اسمان کې دی، په يوه وار سره. او بيا د نړۍ له اسمان څخه په نبي عليه السلام د وحې نزول د جبرييل عليه السلام په واسطه د اړتيا په وخت، د غوښتنې سره سم، د غوښتنې په اندازه، د خلکو د غوښتنو او د پېښو په رامنځته کېدو سره به کېده.

---

۱ سورت عبس: ۱۳-۱۶ آيتونه

۲ پورتني مرجع، ص ٦

۳ تفسير القرطبي، ج ۱، ص ٦٥

٤ عزيز التفاسير، ج ۱، ص ۱۳

الله جل جلاله فرمايي: [وَقَالَ الَّذِينَ كَفَرُوا لَوْلاَ نُزِّلَ عَلَيْهِ الْقُرْآنُ جُمْلَةً وَاحِدَةً كَذَلِكَ لِنُثَبِّتَ بِهِ فُؤَادَكَ وَرَتَّلْنَاهُ تَرْتِيلاً][1]

ژباړه: منکران وايي په دې سړي باندې ټول قرآن په يوه وار ولې نه نازل نه کړای شو؟ هو داسې ځکه شوي دي چې موږ په ښه شان ستا په ذهن کې هغه کښېنوو او د (همدې غرض لپاره) موږ هغه په يوه ځانګړې ترتيب سره د بېلابېلو برخو په بڼه په کراره درته لوستی دی.

ټول علماء په دې خبره موافق دي چې نور درې واړه کتابونه؛ تورات، انجيل او زبور په يو ځل نازل شوي دي.[2] او دا ځکه چې موسی، عيسي او داود عليهم السلام درې واړو ليک او لوست کولای شوای.[3]

د وحې د نزول په موده کې اسلامپوهان لږ څخه اختلاف لري: ځينې وايي، چې د وحې د نزول موده ۲۰ کاله وه، ځينې وايي چې ۲۳ کاله وه، او ځينې وايي چې ۲۵ کاله وه. او ددې اختلاف اصلي وجه دا ده، چې نبي عليه السلام په مکه معظمه کې څو کاله تېر کړي، څوك وايي چې ۱۰ کاله، څوك وايي ۱۳ او ځينې وايي چې ۱۵ کاله. خو لدې ټولو څخه هماغه منځنۍ لار سهي ده، چې قرآن کريم پکې رانازل شوي، او هغه د ۲۳ کلو موده ده. چې له جملې يې د قرآن کريم لومړنۍ ايتونه چې نازل شوي، هغه د سورت (العلق) لومړني ۵ آيتونه دي او وروستې ايت چې د قرآن کريم څخه نازل شو هغه د بقرې ۲۸۱ آيت دی.[4]

## دوهم مطلب: معجزې

قران کريم د محمد صلي الله عليه وسلم تر ټولو لويه او تر قيامته پورې پاتې کېدونکې معجزه ده، که څه هم د رسول الله صلي الله عليه وسلم نورې معجزې هر خورا لويې وې لکه شق القمر، اسراء او معراج او داسې نور خو هغه د هغه وخت مربوط او هغه وخت ښکاره او پاې ته ورسيدې خو قرآن کريم د قيامت تر لويې ورځې پورې باقي پاتې معجزه ده.

لومړۍ لويه معجزه قرآن کريم: قران کريم د اخيرني پيغمبر حضرت محمد صلي الله عليه وسلم معجزه ده، چې د الله له لورې ورکړل شوې ده. قران کريم د الله تعالی کلام دی، چې د حضرت جبرئيل عليه السلام پواسطه پر محمد صلي الله عليه وسلم په مختلفو زماني او مکاني پړاوونو کې په درنه عربي ژبه نازل شوی. همدا قران ددې ويناوو شاهد او ښه ثبوت دی لکه چې الله جل جلاله فرمايي:

---

۱ سورت الفرقان: ۳۲ آيت

۲ روح المعاني ج ۱۹، ص ۱۵

۳ تفسير الكشاف: ج ۳، ص ۲۷۸

٤ تفسير القرطبي، ج ۱، ص ۴۹

«وَإِنَّهُ لَتَنزِيلُ رَبِّ الْعَالَمِينَ ١٩٢ نَزَلَ بِهِ الرُّوحُ الأَمِينُ ١٩٣ عَلَى قَلْبِكَ لِتَكُونَ مِنَ الْمُنذِرِينَ ١٩٤ بِلِسَانٍ عَرَبِيٍّ مُّبِينٍ ١٩٥ وَإِنَّهُ لَفِي زُبُرِ الأَوَّلِين»[١]

ژباړه: دا (قرآن) د مخلوقاتو د پالونکي لخوا نازل شوى دى، امانتدار روح (جبرائيل عليه السلام) له دې سره نازل شوى دى، ستا پر زړه باندې تر څو ته له هغو خلکو څخه اوسې چې تنبه کوونکي دي، په روښانه درنه عربي ژبه کې، او د مخکنيو خلکو په کتابونو کې هم داشته.

قران کريم د پيغمبر صلي الله عليه وسلم معجزه ده په خپل ذات کې هم ګڼ علمي اعجازونه لري لکه: معنوي اعجاز، بياني اعجاز، لغوي او ترکيبي اعجاز... ددې هر يو بيانول او پرې تفصيلا غږيدل عادي خبره نده هر يو يې علمي تخصصي ساحه ده چې ګنې درنې ليکنې پرې شوي دلته بحث پرې کول زما مسلک هم ندى (د پنځم فصلي په پنځم مبحث کې پرې اوږد بحث کېږي ان شاء الله). خو د يو تولیز اصلي په توګه يې همدومره يادول کافي ګنم. د قران کريم همدې اصلي او خاصيت په لرلو سره دا د پيغمبر صلي الله عليه وسلم لپاره معجزه شوه، ځکه چې محمد صلي الله عليه وسلم نالوستى (امى) انسان وو، هغه صلي الله عليه وسلم يتيم او اطرافي شخص وو، په داسې مغلق او پيچلي (د مختلو علمي اعجازونو) لرونکي الهي کلام / کتاب باندې يو ناڅاپه پوهېدل ربښتيا هم معجزه ده، چې دا د هر چا د وس کار نه وو[٢]، لکه چې الله جل جلاله فرمايي:

«وَإِن كُنتُمْ فِي رَيْبٍ مِّمَّا نَزَّلْنَا عَلَىٰ عَبْدِنَا فَأْتُوا بِسُورَةٍ مِّن مِّثْلِهِ وَادْعُوا شُهَدَاءَكُم مِّن دُونِ اللَّهِ إِن كُنتُمْ صَادِقِينَ»[٣]

او يا لکه په دې آيت کې چې الله جل جلاله فرمايي:

«قُلْ لَئِنِ اجْتَمَعَتِ الإِنْسُ وَالْجِنُّ عَلَى أَنْ يَأْتُوا بِمِثْلِ هَذَا الْقُرْآنِ لاَ يَأْتُونَ بِمِثْلِهِ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيرًا»[٤]

د قران همدا اعجاز و، چې نړۍ کې انقلاب راوست، جهالتونه يې محوه کړل او د اسلام په نوم يې په نړۍ کې د سعادت رڼاکانې خورې کړې . د قران کريم د تلاوت په اوريدو سره هغه وخت هم ډير ستر ستر کافران بيا د حضرت عمر رضي الله عنه په څېر د اسلام ستر ستر رهبران شول. او اوس يې هم په ښه غور اوريدل د انسان په زړه خاصه اغيزه کوي په اصطلاح(غونې ورته ځيږيږي!) همدا د قران اعجاز دى.[٥]

دوهمه معجزه شق القمر: يا د قمر (سپوږمۍ) دوه ځايه کېدل چې يوه له لويو نبوي معجزو څخه شمېرل کېږي، الله جل جلاله فرمايي:

---

١سورت الشعراء: ١٩٢- ١٩٦ ايتونه

٢عزيز التفاسير، ج ٩، ص ١۴٩، په لږ څه لنډېر او غورچاڼ سره.

٣سورت البقره: ٢٣ ايت

٤سورت الاسراء: ٨٨ ايت

٥د قرآن قسمونه، ګلبدين حکمتيار، ص ٨ .

«اقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانشَقَّ الْقَمَرُ ۱ وَإِن يَرَوْا آيَةً يُعْرِضُوا وَيَقُولُوا سِحْرٌ مُّسْتَمِرٌّ»[1]

ژباړه: د قيامت ورځ ډېره نږدې شوه او سپوږمۍ وچاوده (دوه ټوټې شوه)، او که چيرته مشرکان يوه نښه وګوري نو سمدستي ترې اعراض کوي او وايي چې دا دومداره جادو دی.

د پورتني آيت او ټول سورت القمر د شان نزول په اړه حضرت انس بن مالک رضي الله عنه وايي چې يوه شپه د مکې خلکو له رسول الله صلي الله عليه وسلم څخه وغوښتل تر څو د خپل نبوت يوه معجزه ورته وښيي نو نبي کريم صلي الله عليه وسلم هغوی ته سپوږمۍ دوه پرقه وښودله[2] او بيا همدغه موضوع الله جل جلاله د القمر سورت په دوو لومړنيو آيتونو کې ياده کړه.

که څه هم د پورتني آيت د تفسير په اړه د مفسرينو نظريات بيل بيل دي لکه په لاندې ډول چې يې لولو:

الف: کله چې يو شی خپل نهآيت عمر ته ورسيږي نو د زوال نښې په کې ښکاره شي، لکه چې د ځوان سړي ويښتان سپينږي او په ملا کړوپيږي، نو په دې آيت کې هم د قيامت د نږدې کېدو لپاره د سپوږمۍ انشقاق يوه نښه ګڼل شوې يعنې د دنيا لږ عمر پاتې دي او ژر به قيامت شي.[3]

ب: لږ شمېر مفسيرين انشقاق القمر پېښه تېره شوې نه بولې بلکې له اينده (راتلونکې) سره تړلې پېښه يې بولې.[4]

ج: د جمهورو مفسرينو نظر او زياتو احاديثو کې هم روآيت شوی چې که متواتر نه وي لکه ځينې مفسرين چې وايي نو شهرت خو رسيدلی دی ددې احاديثو راويان دولس تنه عظيم الشان صحابه کرام رضي الله عنهم اجمعين دي چې عبدالله بن عباس او عبدالله بن عمر هم په کې شامل دی.[5]

ددې معجزې د اثبات او منلو لپاره د لاندې صحابه کرامو احاديث راوړو:

اول: عبدالله بن مسعود رضي الله عنه وايي: «اَنْشَقْ الْقَمَر عَلَى عَهْدِ رَسُولِ الله حَتى رَآيت الْجَبَل منْ بَيْنِ فُرجَتِيْ القَمَر»[6] يعنې د نبي کريم صلي الله عليه وسلم په زمانه کې سپوږمۍ په دوو ټوټو سره وچاوده حتی چې ما د سپوږمۍ د دواړو ټوټو تر منځ غر وليد (چې په منځ کې يې حائل شوی وو او واضحه ليدل کېده. دوهم: ددې معجزې تر ټولو ښه تشريح د عبدالله بن عباس رضي الله عنه په روآيت سره ښه خلاصه کېدای شي، هغه وايي، چې اهل مکه رسول الله صلي الله عليه وسلم ته ورغلو او ويې ويل چې ايا داسې کومه

---

۱سورت القمر: ۱-۲ ايتونه

۲صحيح البخاري، ج ۲، ص ۷۲۲: ٤٥٨٦ حدثنا عبد الله بن محمد: حدثنا يونس بن محمد: حدثنا شيبان، عن قتادة، عن أنس رضي الله عنه قال: سأل أهل مكة أن يريهم آية، فأراهم انشقاق القمر.

۳عزيز التفاسير، ج ۱۲، ص ۳۴

٤تفسير القرطبي، ج ۱۷، ص ۱۲٦

٥تفسير ابن کثيرج ۴، ص ۲٦۱

٦مسند احمد بن حنبل، ج ۲، ص ۸۷

معجزه شته چې موږ ورباندې ستا نبوت تصدیق کړو چې ته په حقه پیغمبر یې؟ په دغه وخت کې جبرائیل علیه السلام راکښته شو او نبي کریم صلي الله علیه وسلم ته یې وویل چې اې محمده! اهل مکه وو ته ووایه چې که راتلونکې شپه تاسو له خپلو ځایونو بې ځایه شئ (بېدیا ته ووځئ) نو د نبوت غټه معجزه به ووینئ، کله چې نبي کریم صلي الله علیه وسلم دوی خبر کړل نو د میاشتې په څوارلسم شپه باندې دوی ټول بیدیا ته ووتل او سپوږمۍ د صفا او مروه په مقام کې ولیدل شوه چې دوه پرقه شوه، اهل مکه وو ورته ښه په ځیر سره کتل خو سترګې یې واړولي او ویې موښلې چې ایا رښتیا سپوږمۍ دوه پرقه شوې ده که نظر کې نقصان راغلی دی، نو له موښلو وروسته ورته بیا متوجه شول چې سپوږمۍ دوه پرقه شوې ده، هغوی (مشرکینو) دریم ځل هم د سترګو مښل تکرار کړل نو دریم ځل یې چې بیا هم سپوږمۍ د انشقاق په حالت کې ولیده نو ویې ویل (( یَا مُحَمد! مَا هذا الاْ سِحرٌ ذَاهب)) یعنې اې محمده! دغه خو انشقاق نه دی روان جادو دی چې ډېر ژر به تېر شي.[1]

ددغې لویې معجزې کال د بعثت پنځم کال دی او د مینا په سیمه کې رامنځته شوه.[2]

دریمه لویه معجزه اسراء او معراج: د رسول الله صلي الله علیه وسلم دغه معجزه دوه برخې لري چې یوه یې اسراء (له بیت الحرام څخه تر بیت المقدس پورې سفر) په قرآني آیت سره ثبوت او بل یې دوهمه برخه معراج (اسمانونو ته د پیغمبر صلي الله علیه وسلم سفر) دی، چې دغه واقعه د هجرت څخه یو کال وړاندې د بعثت په ۱۲ کال پېښه شوه.[3] الله جل جلاله فرمایي:

«سُبْحَانَ الَّذي أَسْرَى بِعَبْدِهِ لَيْلاً مِّنَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ إِلَى الْمَسْجِدِ الأَقْصَى الَّذي بَارَكْنَا حَوْلَهُ لِنُرِيَهُ مِنْ آيَاتِنَا إِنَّهُ هُوَ السَّمِيعُ البَصِير»[4]

ژباړه: پاکي ده هغه ذات لره چې بنده (محمد) یې د شپې په یوه برخه کې د مسجد حرام څخه هغه مسجد اقصی ته بوته د کوم په شاوخوا کې چې موږ (ظاهري او معنوي) برکتونه خواره کړي دي دې لپاره چې موږ خپل بنده ته د خپلو (معجزانه) دلایلو څخه څه برخه په سترګو ور ووینو، یقیناً الله جل جلاله ښه لیدونکي او اوریدونکی دی.

اسراء یا سری د شپې تللو ته ویل کېږي چې د شپې (لیلاً) معنې په کې پرته ده، او له عبد څخه بنده محمد صلي الله علیه وسلم دی ټول علماء په دې متفق دي او مخالفت په کې شتون نه لري، او دا هم ویل شوي چې په دې خارق العاده بیولو سره محمد د بنده ګي څخه نه اوچتېږي.[5]

---

۱الدر المنثور، ج ۷ ص ٦٧٢

۲روح المعاني، ج ۲۷، ص ۷۴

۳روح المعاني، ج ۱۵، ص ٦

٤سورت الاسراء: ۱ ایت

٥روح المعاني، ج ۱۵، ص ۴

د اسراء واقعي په اړه هيڅ شک او شبهه وجود نه لري ځکه دليل يې قرآني آيت دی او مکمل سورت په دې نوم سره نازل شوي او ددې خبرې هم هيڅ اختلاف شتون نه لري چې محمد صلي الله عليه وسلم د مسجد الحرام څخه تر مسجد الاقصی پورې جسماً او روحاً بيول شوی دی او هلته يې د ټولو پيغمبرانو امامت کړی دی لکه چې دغه معجزه په صحيح حديث[1] سره هم روښانه شوې.[2]

دوهمه برخه يې معراج دی چې له عروج څخه اشتقاق شوی لفظ دی د پورته ختلو په معنی او په اصطلاحي تعريف سره له مسجد الاقصی څخه تر سدرة المنتهی پورې رسول الله صلي الله عليه وسلم سفر ته ويل کېږي. چې دغه معجزه د صحيح البخاري په يوه اوږده حديث سره ثابته چې رسول الله صلي الله عليه وسلم صحابه کرامو ته د ټول سفر جريان ووايو، له پيغمبرانو سره د لېدنو، جنت، دوزخ او نورو عجائبو ليدلو او بلاخره د پنځو لمونځونو فرضيت هم په دې معجزانه يې سفر کې وشو، ددغه معجزې تفصيل بيخې زيات دی موږ يې يوازې په پورته خبرو بسنه کوو.[3]

د رسول الله صلي الله عليه وسلم له پورتنيو معجزو څخه پرته نورې معجزې هم خورا زياتې دي غواړم په لنډه توگه يې وړاندې کړم:

څلورم: د رسول الله صلي الله عليه وسلم په دعا سره باران وشو: په مدينه منوره کې سخته وچکالي راغله، داسې يوه ورځ چې رسول الله صلي الله عليه وسلم په منبر خطبه ويل يو کس مسجد ته راغی او د محمد صلي الله عليه وسلم له څنگ سره ودرېده او ويې ويل اې د الله رسوله! د وچکالۍ په وجه زموږ مالونه هلاک شول، له الله جل جلاله وغواړه چې باران ووروي، رسول الله صلي الله عليه وسلم لاسونه پورته کړل او ويې ويل (خدايه پر موږ باران ووروه)) دغه دعا يې درې ځلې تکرار کړه، انس بن مالک رضي الله عنه وايي چې زه په جومات کې وم په خدای قسم چې په اسمان کې هيڅ وريځ نه وو، يعنې زموږ او سلع غره تر منځ هيڅ نه وو چې يو ناڅاپه د غره له هغې بلې خوا د لمر د سترگې په اندازه وريځ راښکاره شوه د اسمان منځ ته راغله او باران پيل شو

---

١ صحيح البخاري، ج ١، ص: ١٠٦٤: وقول الله تعالى: {سبحان الذي أسرى بعبده ليلا من المسجد الحرام إلى المسجد الأقصى} /الإسراء: ١/.
٣٦٧٣ - حدثنا يحيى بن بكير: حدثنا الليث، عن عقيل، عن ابن شهاب: حدثني أبو سلمة بن عبد الرحمن: سمعت جابر بن عبد الله رضي الله عنهما: أنه سمع رسول الله صلى الله عليه وسلم يقول: (لما كذبني قريش، قمت في الحجر، فجلا الله لي بيت المقدس، فطفقت أخبرهم عن آياته وأنا أنظر إليه).

٢ عزيز التفاسير، ج ٧، ايت ١٧٨

٣ صحيح البخاري، ج١، ص ١٠٦٥ او ١٠٦٦: ٣٦٧٤ - حدثنا هدبة بن خالد: حدثنا همام بن يحيى: حدثنا قتادة، عن أنس بن مالك، عن مالك بن صعصعة رضي الله عنهما: أن نبي الله صلى الله عليه وسلم حدثهم عن ليلة أسري به: (بينما أنا في الحطيم، وربما قال في الحجر، مضطجعا، إذ أتاني آت فقد - قال: وسمعته يقول: فشق - ما بين هذه إلى هذه - فقلت للجارود وهو إلى جنبي: ما يعني به؟ قال: من ثغرة نحره إلى شعرته، وسمعته يقول: من قصه إلى شعرته - فاستخرج قلبي، ثم أتيت بطست من ذهب مملوءة إيمانا، فغسل قلبي، ثم حشي ثم أعيد، ثم أتيت بدابة دون البغل وفوق الحمار أبيض - فقال له الجارود: هو البراق يا أبا حمزة؟ قال أنس: نعم - يضع خطوه عند أقصى طرفه، فحملت عليه، فانطلق بي جبريل حتى أتى السماء الدنيا فاستفتح، فقيل: من هذا؟ قال: جبريل، قيل: ومن معك؟ قال: محمد، قيل: وقد أرسل إليه؟ قال: نعم، قيل: مرحبا به فنعم المجيء جاء ففتح، فلما خلصت فإذا فيها آدم، فقال: هذا أبوك آدم فسلم عليه، فسلمت عليه، فرد السلام، ثم قال: مرحبا بالابن الصالح والنبي الصالح، ثم صعد حتى إذا أتى السماء الثانية فاستفتح، قيل: من هذا؟ قال: جبريل، قيل: ومن معك؟ قال: محمد، قيل: وقد أرسل إليه؟ قال: نعم، قيل: مرحبا به فنعم ....)

په خدای قسم تر شپږو ورځو مو د لمر مخه نه ده ليدلي، او تر راتلونکي جمعې پورې چې لا وريده او رسول الله صلي الله عليه بيا د جعمې په خطبه مشغول و چې بل کس راغی او ويې ويل: اې د الله رسوله د زيات باران له وريدو مو مالونه هلاکېږي له خدايه وغواړه چې باران ودرېږي نو رسول الله صلي الله عليه وسلم داسې دعا وکړه( خدايه! باران زموږ پر شاوخوا وورو‌ه، به غرونو او غونډيو چې اوبه يې پر موږ راشي).[1]

پنځم: د خوراک او څښاک ډېريدل: زيات وختونه د نبي کريم صلي الله عليه وسلم په دعا سره لږ خوراک او لږ څښاک زيات شوي او د زيات شمېر خلکو لپاره بس شوې موږ ددغه نوع معجزو له جملې څخه يوازې د خندق غزا په جريان کې هغه معجزه په اختصار سره رانقلوو کومه چې بخاري د جابر بن عبدالله رضی الله عنه څخه روآيت کړېده: هغه وايي چې ما د رسول الله صلي الله عليه وسلم په څېره کې د لوږې نښې وليدي نو ما يو سيرلی حلال کړ او مېرمنې مې د يو چارک وربشو ډوډۍ پخه کړه او په پټه مې حضرت محمد صلي الله عليه وسلم ته وويل د يو څو گوته په شمار اصحابو په شمول زما ميلمانه شئ نو حضرت محمد صلي الله عليه وسلم مې دعوت ومانه او د خندق د ټول لښکر چې تعداد يې زر تنه وو زموږ کور ته راغلل، زه په وراخطايي سره مېرمنې ته راغلم چې رسول الله صلي الله عليه وسلم او ټول اهل خندق را روان دي، هغې وويل چې ايا رسول الله صلي الله عليه وسلم ته ته دې د خوراک د اندازې ويلي دي، جابر رضي الله عنه وويل هو نو مېرمنې يې وويل بس غم مه کوي. هماغه وو چې دغه خوراک د ټول اهل خندق بس شو، خو لا پاتې وو.[2]

د نورو انبياوو معجزې د همهغه مهال لپاره وې، خو محمدي معجزه د تل لپاره ده. که قرآنکريم په هغه مهال د عربو د ادب او شاعرۍ په ډگر کې معجزه وه، خو نن د ژوند په هر ډگر کې معجزه ده، د انساني ماغزو نوې لاس ته راوړنه (کمپيوټر) هم نن نارې وهي چې قرآنکريم يوه معجزه او له هر ډول لاس وهنې څخه خلاص يو

په هغه ورځ چې انسانان د مايوسۍ په حالت کې حضرت آدم عليه السلام، حضرت نوح عليه السلام، حضرت ابراهيم عليه السلام، حضرت موسی عليه السلام، او حضرت عيسی عليه السلام ته ورشي او د شفاعت غوښتنه ترينه وکړي، هر يوبه خپل خپل عذر ورته ووايي او په نفسي نفسي نارو به سر وي خو چې د دواړو کونو سردار محبوب رب العالمين حضرت محمد مصطفی صلي الله عليه وسلم ته ورشي نو رسول الله صلي الله عليه وسلم به د لوی پالونکي په دربار کې عرض وکړي، دخدای جل جلاله له لورې به ورته د شفاعت کولو اجازه ورکړل

---

1صحيح البخاري ج ١، ص ٢٦٨: - ٩٦٧: حدثنا محمد قال: أخبرنا أبو ضمرة أنس بن عياض قال:حدثنا شريك بن عبد الله بن أبي نمر: أنه سمع أنس بن مالك يذكر: أن رجلا دخل يوم الجمعة من باب كان وجاه المنبر، ورسول الله صلى الله عليه وسلم قائم يخطب، فاستقبل رسول الله صلى الله عليه وسلم قائما، فقال: يا رسول الله، هلكت المواشي، وانقطعت السبل، فادع الله يغيثنا. قال: فرفع رسول الله صلى الله عليه وسلم يديه فقال: (اللهم اسقينا، اللهم اسقنا، اللهم اسقنا). قال أنس: لا والله، ما نرى في السماء من سحاب، ولا قزعة، ولا شيئا، وما بيننا وبين سلع من بيت ولا دار. قال: فطلعت من ورائه سحابة مثل الترس، فلما توسطت السماء انتشرت ثم أمطرت. قال: والله ما رأينا الشمس ستا....)

2 صحيح البخاري: ج ٢، ص ٥٨٨-٥٨٩

شي او دې ته مقام محمود ویل کیږي د کوم چې له رسول الله صلي الله علیه وسلم سره د قرآنکریم په سورة اسراء کې ژمنه شویده.[1]

## پنځم مبحث: وفات

### لومړی مطلب: ناروغي

کله چې نبوي دعوت د پای شیبو ته نږدې شو، اسلام حاکم او مسلط شو نو د رسول الله په زړه کې له ژوند او فاني دنیا څخه د رحلت کولو آثار او احساس پیدا شو، د هجرت په لسم کال رسول الله صلي الله علیه وسلم د نورو کلونو په خلاف شل ورځې اعتکاف وکړ، په همدې کال یې د روژې په میاشت کې دوه ځلې له جبرائیل علیه السلام څخه قرآن کریم واوریده، او همداشان د حجة الوداع په مراسمو کې یې وویل: [ښایي له سږني کال وروسته د تل لپاره تاسې په دې ځای کې ونه وینم][2]

د همدې حج د تشریق په ورځو کې سورت النصر نازل شو[3]: [إِذَا جَاءَ نَصْرُ اللَّهِ وَالْفَتْحُ ١ وَرَأَيْتَ النَّاسَ يَدْخُلُونَ فِي دِينِ اللَّهِ أَفْوَاجًا ٢ فَسَبِّحْ بِحَمْدِ رَبِّكَ وَاسْتَغْفِرْهُ إِنَّهُ كَانَ تَوَّابًا ]٤

د ۱۱ هجري کال په صفره میاشت کې د احد شهیدانو ته ورغی او هغوی ته یې داسې دعا وکړه لکه له ژوندو سره چې خبرې کوي

د چهارشنبې په ورځ چې د صفر د میاشتې اتلسمه یا نولسمه نیټه وه، رسول الله صلي الله علیه وسلم جنت البقیع ته چې د عامو مسلمانانو هدیره وه ولاړ، کله چې له هغه ځایه راستون شونو ناروغه شو، د حضرت میموني رضی الله عنها کره یې شپه تیره کړه، د دوشنبې په ورځ د رسول الله صلي الله علیه وسلم ناروغي زیاته شوه، او د نورو بیبیانو په خوښه د حضرت عایشې رضی الله عنها کره ولاړ، تر څو پورې چې یې د ګرځیدو ځواك درلود نو مسجد ته به یې تشریف وړلو، وروستنی لمونځ د ماښام لمونځ وو چې مسلمانانو په رسول الله صلي الله علیه وسلم پسې ادا کړ[5].

دا مهال د رسول الله صلي الله علیه وسلم سر خوږیده او تږلی یې وو، همدا شپه ماخوستن وار په وار بې هوښې ورباندې راتله او امر یې وکړ چې حضرت ابو بکر صدیق رضی الله عنه دې لمونځ ورکړي[6]

---

۱ ریان، عبدالله گل (۱۳۹۵)، نبوي ژوند، کویټه: صدیقي خپرندویه ټولنه. ص ۱۳

۲ ابن ماجه، حدیث نمبر: ۲۴۶۷، خلاصة حکم المحدث: صحیح.

۳ تفسیر القرطبی: ج ۲۰، ص ۲۳۳

٤ سورت النصر: ۱-۳ آیتونه

٥ الرحیق المختوم: ص ٦٨٧

٦ الرحیق المختوم، ص ٦٩۴

